چې د کلهمو پښتنو تنده پرې ماته کړمه
شیخه په دې وجه ناول پسې ناول لیکمه

# د پښتو ناول

# ګړګوزي


**مصنف**

**پرویز شیخ**

**(ایم اے اردو، انگلش)**

Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)


ګړګوزي (پښتو ناول) — پرویز شیخ

**ټول حقوق محفوظ دي**


د کتاب نوم: ګړګوزي

لیکوال: پرویز شیخ

اشاعت: مئی 2013ء

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پېښور
+92-91-2580006

بیعه: (200) روپۍ

**د موندلو درکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پېښور

یونیورسټی بک شاپ

دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پېښور

**ټرون :**

د نوموړی شاعر، ادیب ، نقاد په پښتو او پښتنو
مئین دَ ښاغلی **سیدولی خیال** مهمند په نوم
چې دَ پښتو ناول په لیکلو کښې یې زما
ډاډګیرنه کړې ده او ژۀ یې ناول
لیکلو ته مجبور کړې یم۔

پرویز شیخ



## ړومبې باب

دَ شګفتې نه پس فرحان دَ زنده باد کاکا دویم یا دریم اولاد وو۔ دَ دویم ، دریم خبره شکی په دې ده چې دَ هغۀ ځائیګون دَ پیښور دَ لیډی ریډنګ هسپتال دَ ګائنی وارډ په لیبر روم کښې خپلې خور نګینې سره غبرګونې شوې وو نو په دې وجه دَ هغۀ او دَ نګینې مشری کشری په همځولتیا کښې راځی خو دَ نګینی په نسبت دَ هغۀ وجود خیرازه او سکختې ښکاریدو ۔ بهرحال هغه دَ مور پلار ایکے یو نارینه اولاد وو او په دې وجه په هغوی دَ ځانه ګران وو ۔ زنده باد کاکا او دَ هغۀ ښځې افروزې بی بی دَ خپل غبرګونی اولاد خبره په دې غرض دَ خلقو نه پټه ساتلې وه چې هغوی یا دَ هغوی اولاد دَ نظره نشی ، خو داسې خبره چرته پټه پاتیکیدیشی ۔ چې کله هغوی دَ هسپتال نه راغلل او دَ ښځو مبارکۍ شروع شوې نو جانۍ ترور ړومبۍ ښځه وه چې په ړومبۍ ورځ ئې په ړومبی نظر دَ افروزې بی بی غلا هغه وخت اونیوه چې هغه په غولی کښې ناسته وه او نګینه یې سینې ته اچولې وه ۔ هغوی لا خپلو کښې خبرې کولې چې په کوټه کښې دَ زانګو نه دَ چا دَ ژړا اواز راغی۔ ۔ جانۍ ترور په حیرانیتا افروزې بی بی ته اوکتل ، هغه مسکۍ شوه او کوټې ته لاړه ۔ هلته یې نګینه په زانګو کښې واچوله او فرحان یې ترینه راواخستو ۔ جانۍ ترور ته دَ هغې دَ غبرګونی اولاد پته اولګیده خو افروزه بی بی مطمئنه په دې وه چې هغې نه یې ښۀ پخه وعده اخستې وه چې دَ هغې دَ غبرګونی اولاد



www.pukhto.net

خبره بـه چاتـه نـه کـوی ـ افروزې بی بی جانۍ ترور په هغه آزمائش کښـی واچـولـه چې هغې ته دَ لويو سينو خلق هم نشی تينګيدې او اکثـر پـکښـې نـاکـام شـی او ښـځې او ماشومان خو دا بوجهـ چرې هم نشـی بـرداشـت کـولې ـ هم دغه وجه وه چې هغه دَ کوره اووته نو زړهٔ يـې اوپـړسيـدو ، سـريې دروند شو، سترګی پرې تورې شوې ، اوکريې بـدل شـو او دومره بدحاله شوه چی سپينه ورځ پرې تور شپه شوه ـ په ځان پـو هـ نشوه او دَ خپل کور په ځاې په ادلو بدلو قدمونو دَ افروزې بی بی نزدې ګوانډی بدری کره لاړه او هله يې په سترګو رڼا شوه چې دَ افـروزې بـی بـی دَ غبرګونی اولاد تهوله پټه خبره يې هغې ته سرګنده کـړه ـ چـی لږ ساعـت تيريدو نو هغه پټه خبره په شيرخان کلې کښې ډنډوره شوه او کور په کور خوره شوه ـ شيرخان کلې دَ لوې سړک نه پر تيـزتـه دَ درې درې نيـم کـلـو ميټـره پـه فـاصـلـه باندې دَ سيند په شاړه زمـکـه دَ يوې اوږدې کرښې په شکل کښې دَ بهيدونکی سيند او دَ يو وړوکـی پـوخ سـړک پـه ميـنـځ کښـې تر لرې لرې پروت وو۔ دَ سړک په دواړو غـاړو غـتـې ، اوچتـې اوګـورې اونـې دَ کـلـی اخری بريد پورې په قـطـار قـطـار ولاړې وې ـ دَ دواړو غـاړو دَ اونـو ښاخونو او ثانګو خپلو کښـې داسـې غـاړې ورکـړې وې لـکـه چـې خپلو کښې ګنډلې شوې وی۔ دَ هـغـوی ښاخونه ، ثانګې او تنکۍ غندلې غيږ په غيږ او سينه پـه سيـنـه داسـې پرتې وې لکه دَ سرانديپ ماران چې دَ صندل دَ ثانګو نه ول په ول تاؤ شوے وی او دَ هغوی په وړو مدهوشه پراتهٔ وی ـ دَ هوا



www.pukhto.net



په چلاند به دَ هغوی ثانګو يو بل تښنوو او دَ پاڼو په ژبو به يې يو بل ښـکـلـوو ـ دَ هـوا پـه تيز چلاند سره به چې کله هغوی دَ يوې لحظی نيمې دَ پاره جُدا کيدې نو دَ هغوی په مينه کښې به هيجانی کيفيات پيدا کيدل او په جذباتی انداز به ترغاړه وتې ـ

دَ اونـو دا منظر دومره حسين ، پُرکشش او رومانی وو چې هرکتونکې بـه دَ هـغـې دَ بيـا بيا ليدو ارمانی وو۔ سم دَ مازيګره به دَ اونو دې شين بـڼ ته دَ چنچڼو ، طوطيانو ، خاروګانو او دَ نورو مارغانو سيلونه راتلل او پـه دغـه اونـو کښـې بـه ډلې ډلې کيناستل ـ په سترګو به دَ هغوی مستـۍ ليـدې شـوې او په غوږونو به دَ هغوی نغمې اوريدې شوې ـ اګر چهٔ دغه ټولې به په خپلو خپلو ژبو کښې ګويان وې خو دَ چڼچنو چـغـار او مستۍ پکښې نمايان وې۔ دَ کلی سړک اګر چهٔ پوخ وو خو دَ ګـاډو آمـد ورفـت پرې دَ نيشت برابر وو ځکه چې دا سړک صرف د دې کـلـې پـورې راغلې وو ـ او دې نه اخوا ابادی نه وه ، البتـه دَ کلی ټانګې بـه پـرې تـلـې راتـلـې ـ دَ سـړک پورې غاړې ته زرعی زمکه وه چی په هـغـې کښـې بـه ګـنـی کـرلـې کيدل او دَ هغې غاړې ته ترلرې پورې دَ کيـکـر بوټی دَ شپول دَ پاره کرلی شوی وو ـ دَ دې کلی هرکور ته دَ تلو راتـلـو دَ پاره دوه ، دوه ورونـه وو ، يـو ور بـه دَ سړک نه کور ته وو او بل دَ کـور نـه سيند اړخ ته ـ دَ کورونو او دَ سيند دَ روانو اوبو په مينځ کښې اوچ ځـايـونـو کښې دَ هر کور مالک دَ خپل کور مخې ته دَ لوخې سپر جـوړ کـړے وو او دَ کورونو خوا کښې يې دَ سيوری دَ پاره سپيدې کرلې

وې ـ دَ هغې دَ سیوری لاندې به یې څاروی تړل او په سپرونو کښې به دَ اوړی په غرمه کښې سړی په کټونو کښې دَ سیند یخی هوا ته بربنډ یې خیټې پراتهٔ وو او دَ سیند "چلې" ته به یې په خوند خوند کاتهٔ وو۔ د دې کلی ټول خلق غریبانان او مزدوران وو۔ په دغه مزدورانو کښې دَ هرې پیشې او طبقې سړے موندې شو ـ په هغوی کښې مچهیران ، ګلکاران ، ترکاڼان، لو هاران ، نایان ، دوکانداران او دَ نورو پیشو خلق هم وو خو زیاته رنګه ډهنګه پکښې دَ کوچوانانو جوړه وه ـ دغه ټول مزدوران به سحر وختی دَ کورونو نه وتل ، دَ ډلو په شکل کښې به پیاده او په ټانګو کښې بازار ته تلل او دَ خپلې مزدورۍ نه پس به غرمه ، مازیګر او ماښام کورونو ته راتلل ـ دَ زنده باد کاکا پلار شیرخان بابا رومبې سړے وو چې دَ برکلی دَ خانانو نه یې دغه شاملاتی زمکه کښې ځان له څه ټل ټکړه واخسته او په هغې کښې یې دَ خټو لوټو کور جوړ کړو۔ چې هغهٔ پچه غونډه ماته کړه نو وریسې نور دین کاکا او کرم دین کاکا راغلل ـ دغلته میشته شو او هغوی پسې بیا دَ بے جالو مارغانو سیلونه رامات شو ـ په دے کلی کښې دَ خواؤ شا ټولو سیمو یوه یوه ، دوه دوه کورنۍ آبادې شوې وې خو کلې دَ شیرخان بابا په نوم یعنی په شیرخان کلی مشهور شو۔ د دې کلی خلق اګر چه غریبانان وو خو په خپلو مټو او مشقت نازان او حرامان وو۔ هغوی په دې خوشحاله وو چې دَ چا اواز پرې نه وو ځکه چې هر سړے دَ خپل کور خاوند وو او دَ چا بند بیګار پرې نه وو ـ البته


www.pukhto.net



نه یې خپله هدیره وه او نه یې خپل جمات وو ـ هغوی به عام نمونځونه په کورونو کښې یا دَ سیند په غاړه ځان ځان له کول او دَ جمعے نمانځه دَ پاره به دَ خواؤ شا کلو جماتونو ته تلل ـ دَ هدیرې احساس هغوی ته هغه وخت اوشو چې کله شیرخان بابا مړ شو او دَ کلی خلق دَ قبر ویستلو دَ پاره دَ برکلی هدیرې ته لاړل ـ هغوی چې دَ قبر په ویستلو شروع اوکړه نو دَ برکلی خلق وریسې وسله په لاس په افه را اووتل او هغوی یې دَ هدیرې نه پاره کړل ـ چې هلته ناکام شو نو بیا یې دَ لرکلی هدیرې ته مخه اوکړه ـ چې دَ لرکلی خلق پرې خبر شو نو هغوی وریسې ورغلل او په سوک سپیړه او بے عزتۍ یې دَ هدیرې نه اوویستل ـ چې دَ دواړو هدیرو نه په ماتې واپس شو نو بیا یې ورله دَ خپل کور مخې ته په سپیدو کښې قبر اوویستلو او په هغې کښې یې ښخ کړو۔ دې نه پس به چې څومره مړی کیدل نو خپلو وارثانو به دَ کور مخې ته ښخول ـ نتیجه دا شوه چې دَ قبرونو یوه کربښه دَ کلی دَ یو سر نه بل سر ته دَ هدیرې په شکل کښې اورسیده ـ دَ هدیرې نه پس هغوی له دَ جمات جوړولو خیال ورغی۔

دې دَ پاره هغوی ټول دَ زنده بابا کاکا په مشرۍ کښې راغونډ شو او مشترکه طور یې دَ روان سیند او دَ یوې چرې په مینځ کښې په یوه چکۍ کښې دَ خپله خاؤره ، خپل اختیار دَ نظریے په بنیاد دَ یو جمات جوړولو فیصله اوکړه ـ

اګر چهٔ دا ټول خلق غریبانان وو خو دَ جمات په جوړولو کښې یې دَ

خپـل وس نـه زياتـه مـالـی قربانی ورکړه او په هنګامی بنياد او دَ شب وروز پـه مـحـنت يې يو ښکلې جماعت په داسې انداز جوړ کړو چې دَ اوبـو پـه ميـنـځ کښـې وو. دَ جمات جوړولو نه پس يې په چره باندې دَ لـرګـو پُـل جـوړ کـړو او دَ خلقو دَ تلو راتلو لاره يې جوړه کړه ـ دَ جمات جـوړيـدو نـه پـس ګـڼـو طـالـع آزمامُليانو دَ پيش امام په حيث دَ خپلو خدمـاتـو پيشـکشـونـه اوکړل خو مشترکه فيصله دَ هغه مُلا په حق کښـې اوشـوه چـا چـې دَ جـمـات پـه جـوړولو کښـې او دَ چندې پـه راغـونـډولو کښې هلې ځلې کړې وې. دَ جمات په جوړولو دَ شيرخان کـلی نر ، ښځې او واړهٔ زاړهٔ ټول ډير خوشحاله وو. د دې جماعت نظاره دَ لـرې نـه ډيره خائسته ښکاريده ـ په اوړی کښې به چې کله سيند په مـوجـونـو او ټـپـونـو روان وو نو دَ کلی اکثر مشران به دَ غرمې او شپې پـه جـمـات کښې پراتهٔ وو ځکه چې ماشی ، مچان پکښې نه وو او که وو نـو دَ يـخـې هـوا چپـو ته ټينګيدے نشو ـ دَ کلی مشرانو به اکثر دَ جـمـات دَ چار ديـواری، پـه وړو ديوالونو خيتې اچولې وې او دَ سيند دَ چلې او ګنګخړو سيلونه به يې کول ـ دَ هديرې او جمات مسلې چې حـل شـوې نـو دَ هـغوی زړونه په قلار شو او خپلې مزدورۍ ته اوزګار شـو. دَ کلی ځينې مشران يا بے روزګاره ځوانان کوم چې به په کورونو کښې وو نو هغوی به دَ ژمی په موسم کښې ټوله ورځ په سيند کښې لـګيـاوو ، غـټې او واړهٔ ، نـرې کانی به يې غونډول او دَ سړک په غاړه به يې دَ خپلو خپلو کورونو مخې ته ډهيری کول ـ بيا به يې دَ غټو کاڼو



www.pukhto.net



نه پړی، جوړې کړې او په وړو کاڼو کښې به يې دَ رنګونو مطابق چهاڼ کـوو ـ دَ بيـلـو بيـلـو رنګونو به يې بيلی بيلی ټوپنی جوړولې او بيا به يې دَ قبـرونو دَ پاره خرڅولې ـ څهٔ موده پس دَ هغوی په کاروبار کښې هـم تـرقـی اوشـوه او دَ هـغـوی په مهارت کښې هم ـ په مهارت کښې داسې چې خلقو به دَ قبرونو جوړولو ، دَ کاڼو په لګولو او په هغوی دَ مـختـلف رنګونو دَ کاڼو نقش نګار جوړولو دَ پاره بوتلل ـ دَ غټو کاڼو دَ لـګـولـو نه پس به هغوی نری کاڼی دَ رنګونو په مناسبت سره داسې لـګـول او داسی ګـلـکـاری، بـه يـې پـرې کـولې چی دَ مـانی وبهزاد دَ شاګردانو ګمان پرې کيديشو ـ

دَ شيـرخـان کـلـی مچهيرانو به چی کبان اونيول نو دَ خرڅولو دَ پاره به يـې بـازار تـه اوړل او ټـوله ورځ به بانګی، په اوږو بازار کښې ګرځيدل. چی کـوم کبان به خرڅ نه شو نو هغه به يې دَ پيکوړو دوکاندارو له په نيـمـه بيـعـه ورکړل ـ هغوی به هغه په کړاهو کښې سرهٔ کول او يو په څـلـور ګټـه بـه يـې پـکښـې کـولـه ـ دَ هغوی دې ظلم ته چې هغوی، اوکتـل نـو بيا يې ورته په خپل کلی کښې کړاهی کيښودل او هلتـه به يـې خـرڅـول ـ څـهٔ موده دَ هغوی کاروبار مټه وو خو بيا روستو دومره مشهـور شـو چـې دَ لرې لرې نه خوش پوشه او خوش خوراکه خلق په اوږدو اوږدو ګاډو کښې سره دَ خپلو يارانو دوستانو او بال بچ دَ پکنک دَ پـاره راتـلـل ، دَ سيند په غاړه به ګرځيدل ، په سيند کښې به يې لامبل او چـې اوږی به شو نو دَ کبانو کړاهی له به راتلل ، دې نه علاوه دَ لويو

لـويـو پارټيو او فنکشنز دَ پاره به ورته آرډرونه هم ملاويدل ـ دَ کبانو دَ کـړاهو نه علاوه دَ پيکوړو او سموسو کړاهی هم پکښی اولګيدل او دَ چـائے ، قهـوې او بـوتـلـو کـاروبـار هـم پکښی شروع شو ـ دَ پيکوړو دوکـانـداران پـه خپـل کسب کښې دومره ماهران شو چې دَ مرچکې ، پيـاز ، آلـو ، بـاټنګڼ او دَ ګوبهی دَ پيکوړو نه علاوه دَ کبانو ، قيمې ، دَ چـرګانو ، دَ اګو ، دَ چنچڼو او نور نوې نوې قسمونو احتراعات يې هم اوکړل ـ دَ مچهيرانو نه علاوه نورو خلقو هم دې کسب ته مخه اوکړه۔ هـغه دَ لوخی سپرونه چې هغوی دَ خپل ارام او خوب دَ پاره جوړ کړی وو هـغـه پـه دوکـانـونـو کښـې بدل شو او هغه سپيدې چې دَ هغې په سيـوری بـه دَ اوړی پـه غـرمـه کښې دَ هغوی څاروی ولاړ وو هغه لری کړې شوې ، هغه ځايونه صفا کړی شواو په هغې دَ ميلمنو دَ ناستې دَ پـاره ځـايـونه جوړ شو ـ دې نه علاوه دَ معززنينو او شرفاء دَ بيګماتو دَ پـاره دَ پـړدې بـنـدوبسـت هـم اوشـو ـ دې سره سره دَ هغوی دَ پاره وړې وړې کـوډۍ جوړې شـوې ـ هـغـوی بـه خپـلـو نـارينو ۇ سـره هلتـه کيناستې او دَ آرډر مطابق به ورله خوړه هلته اوړلې کيده ـ

څۀ مـوده پـس دَ سيـل کونکو دَ سيل سپاټې دَ پاره مانګيانو خائسته خائسـتـه رنګينې کشتۍ واخستې ، په هغې کښې يې سرې ، شنې ، تـورې ، زيـړی او نـوری رنګينې جهنډې اولګولې ، دغه کشتۍ به په جنـريټـرو چـليـدې ، مـاه پيـکـرې ، نيـازبيـنـې او نـازنينې بـه پکښې کيـنـاسـتـې او دَ سيـنـد سيل ته به وتې ځينو به دَ سرک په غاړو ، دَ اونو



www.pukhto.net



پـه سيـوری دَ قـدرت د دې شهـکـار سيـلـونه کول او دَ مرغو هرکلی او نـغـمـې بـه يې اوريدې ـ شيرخان کلی اوس يو زبردست پکنک سپاټ جـوړ شـوې وو۔ ډکـې ډکـې ټانګې به راتلې او دلته به تشيدې ـ لوې لـوې ګـاډی به راتلل او دلته به اودريدل ـ دَ کبانو او پيکوړو نه علاوه دَ کبـابـو کـړاهی هـم اولـګيـدل او دَ چـائے ، قهوې وړې وړې هوټلے هم جوړے شوے ـ دې سره پکښې دَ کريانې ، کپړې ، کاسټميټک ، ميوې ، شـاتـو او دَ عـام ضـرورت دَ څيـزونـو دوکـانـونه هم جوړ شول ـ دی نه عـلاوه افـغان مهاجرينو پکښې دَ چائنه کپړې کاروبار هم شروع کړو۔ دغه دوکانونه په مزه مزه يو خائستۀ بازار کښې بدل شو ـ دَ سيند بلې غـاړې تــه دَ لـرکـلـی خـانـانـو پــه خپـلـو خپلو زمکو کښې دوکانونـه جـوړکـړل ـ پـه لږو ورځو کښې هلتـه هم يو خائسته بازار جوړ شو ـ دَ تجاوزاتو په وجه بازار او دوکانونه لوی شول او سيند راغونډ شو۔

## دويمه برخه

پـه شيـرخان کلی کښی دَ هر رنګ ، نسل ، عمر ، جسامت وقامت او دَ هـر مـزاج سـړے مـونـدې شو۔ په دغه کسانو کښې ځينے دَ اور نه ګرم وو، ځيـنـے دَ وورې نـه سـاړۀ وو ، ځيـنـے دَ مرچکی نه تراخۀ وو ، ځينے دَ ګوړې نه خواږۀ وو، ځينے دومره ساده وو چی په درې شلې او شپيتۀ نه پـو هيـدل او ځيـنـے پـکښـی دومره مټه کور وو چې شګې به چڼولے او ځيـنـے پکښې داسے وو چې نه په خپله حياوو او نه دَ بل په حيا او عزت وو۔ دَ خپـلـې خندا او ټوقو مسخرو دَ پاره به يې دَ سړی سم دم نوم وران

کړو او بیا به یې ورپوری خندا کوله ، لکه مبارک شاه کاکا ته به یې "مبارک شه کاکا"، او رضا شاه کاکا ته به یې "رضا شه کاکا" ویلے ، که هغوی به ورته سپورې ستغې وے او که کنځل به یې ورته کول خو دَ هغوی پرې هیڅ پروا نه وه ـ بلکه چې څومره به دَ هغوی غصه زیاتیده هومره به دَ هغوی په خندا کښې اضافه کیده او دغه نامه به پرې شتۀ کیده او پخیده ـ دغسې یونس لوهار دَ کچنو او خیرنو جامو اغوستو په وجه په خیرن استاذ مشهور شو ـ ګل دین کولال دَ خپل اخلاق او تابعدارۍ په وجه دَ "سینه ټک کهولال" په نوم مشهور شو ـ دَ هغۀ ګناه دا وه چې هر مشر کشر ته به یې دَ تابعدارۍ په انداز کښې خپله سینه ټپوله ـ دغه رنګې دَ جمات استاذ دَ خپل شرافت او اخلاق په وجه دَ "سلام علیک استاذ" په نامه مشهورشو ـ دَ هغۀ قصور دا وو چې هغه به هر مشر کشر لاروی ته سلام کوو ـ دغه شان زنده باد کاکا هم وو ـ دَ هغۀ خپل نوم زرستان وو ـ خو دَ خپلې خوش اخلاقی او تکیه کلام په وجه په زنده باد او بیاروستو په زنده باد کاکا مشهور شو ـ زنده باد کاکا دَ پنځوستو ، شپیتو کالو ترمینځه یو پوخ عمره سړے وو ـ غم رنګې رنګ ، خنده رویه څهره ، تورې سترګې ، لوړه پوزه ، پراق تندې ، میانه قد ، تکه سپینه لویه ږیره او په سر دَ کپړې سپینه ټوپۍ ، دا وو دَ زنده باد کاکا دَ ظاهری شکل وصورت او پیژندګلو یو څو نښنخې ـ خو کوم څیز چې دَ هغۀ عزت اووقار له دوام ورکړې وو هغه دَ هغۀ سیرت او اخلاق وو ـ دومره



www.pukhto.net



نرم خویه او خوږ زبانه سړے وو چې چابه ورسره دوه خبرې اوکړې نو هغه به یې داعی او شیدائی شو ـ دې نه علاوه دومره مړه خوا وو چې دَ موجوده زمانې دَ زر پرستۍ ، ځان خانۍ ، طمعې لالچ او دَ حرص هوا پرې نه وه لګیدلې ـ په خپله موړ سترګې او قناعت پسند وو او دغه تلقین به یې نورو ته هم کوو ـ دا خو بۍ دَ هغۀ په ختۀ کښې اخلې شوې وې او دَ هغۀ ځیګون سره دَ هغۀ په شکل کښې راغلې وې ـ

دَ کلی خلق دَ زنده باد کاکا نوم سره بلد شوی وو چې دَ هغۀ خپل نوم چاته هم معلوم نه وو ـ تر دې چې کله کله به دَ هغۀ هم په خپل نوم کښې شک پیدا شو ـ دَ هغۀ نوم صرف دَ هغه په شناختی کارډ کښې او دَ فرحان دَ سکول په ریکارډ کښې زرستان وو ، دې نه علاوه هیڅ ـ دَ خوش اخلاقۍ نه علاوه هغه دومره عاجز طبیعته سړے وو چې په معمولی معمولی خبره به یې دَ هر چا شکریه ادا کوله او دَ هر چا پوټې پوټې نیکی به یې په مودو مودو یادوله ـ چې کله به په ډله کښې دَ ویلو موقع راغله نو هغه زړه او هیره تیره قیصه به یې په داسې انداز کوله چې دَ هر اوریدونکی په زړۀ کښې به هغه سره دَ نیکۍ جذبه پیدا کیده ـ

زنده باد کاکا دَ پیشی په لحاظ کوچوان وو خو چې کله یې دوه اسپې پرله پسې مړې شوې نو ټانګه یې هم ورپسې خرڅه کړه او تیارې ته کیناستو ـ بیا به هره ورځ سحر وختی دَ کور مخې ته ناست وو او دَ نورو کوچوانانو اسپو ټانګو ته به یې کتل ـ چې کوچوان یا سورلۍ

به ورته دَ سلام لاس اوچت کړو نو هغه به ورته پاڅيدو ، دَ هغهٔ دَ سلام جواب به يې په ولاړه اوکړه او په خندا خندا کښې به يې ورته "زنده باد" ويلې ـ دَ سحرنـه ترماښامه پورې دَ سړک په غاړه کيناستل ، پردو اسپـو ټانګو ته کتل او دَ کوچوانانو پيرې شميرل دَ هغه معمول شو۔ چې کـله په اوزګاره تنګ شو نو بيا يې دَ ښځې په مشوره لکه دَ نورو دوکاندارانو دَ کبانو او پيکوړو پخولو کړاهي اولګولو ـ ښځې او لونړو بـه ورلـه پـه کـور کښـې دَ ويسـړو خمبيرتياره وو، پياز ، الوګان او مرچ مسالـه بـه يې ورلـه تيارولـه او هغه به پخلې کوو ـ چې کله به فرحان دَ کالج نه راغلې نو هغه به هم ورغلې او پلار سره به يې لږ ډير لاس کوو۔

فـرحان لـه خـداې ډير خائسته شکل وصورت ورکړې وو۔ سور سپين مـخ ، غټې شهلا سترګې ، ډک بريت او کوټلې لوړ دنګ فولادي بدن ، دا وې دَ هـغـهٔ دَ زلـميتوب يوڅو نښخې ، دغه شان په خوی خصلت کښـې هـم خاموش طبعه او خندرويه وو ـ نه يې ډيرې خبرې کولې او نـه يـې ډيرې خبرې اوريـدې ـ کيـديشی دَ هغهٔ په شخصيت دَ هغهٔ دَ تـعـليـم اثـر هم وی خو په هلکانه هم هغه کم ګو ، بردباره ، متحمّله او صابره وو۔ اګر چهٔ هغهٔ سره دَ نور اولاد په نسبت دَ مور پلار مينه دَ حد نـه زياتـه وه خـو دَ حيـرانتيـا خبـره دا ده چې دَ پرائمرۍ نـه واخلـه تر يونيورستۍ پورې هغهٔ دَ مور پلار نه دَ جيب خرچ دَ پاره پيسې نه وې غـوښتـې ـ که هغوی به دَ خپلې ياندې ورکړې خو جيب کښې به يې واچولې ګينې غوښتې يې ترينه نه ـ


www.pukhto.net



هغه دومره خائسته وو چې چابه ورته يو ځل اوکتل نو سترګې به يې پرې داسې ښخې شوی چې بيا به يې ترينه ويستلې نشوې ـ هم دغه وجـه وه چـې هـر سړی او هـرې ښـځې به وې چې هغه دَ هغوی ځوے شی او هرې پيغلې به وې چې دَ هغې رور شی او دَ هغې په کور شی۔ دَ هـغـه ټـول عـادتونه دَ نورو ماشومانو نه مختلف وو۔ البته يو عادت يـې نـورو سره مشترک وو او هغه دا چې هله به اودهٔ کيدو چې مور به ورتـه قيصـۍ اووې ـ چې هغې به قيصۍ شروع کړه نو هغه به دومره پـه غـور سره اوريدله چې خپل توخې به پرې هم بد لګيدو ـ کله کله بـه يـې لـکـه دَ نـورو ورو غـونـدې دَ قيـصـی پـه مينځ کښې تپوسونه شروع کـړل او چې ښهٔ به مطمئن شو نو بيا به يې ورته اووې "ښه نو بيـا ؟ " چې کـلـه به يوه قيصۍ ختمه شوه نو بيا به يې ورته وې "ښه اوس بله اووايه " چې هغې به بله شروع کړه نو قيصۍ به يې لانيمۍ تـه نـه وه رسـولـې چـې هـغـه به اوده شو ـ چې کله به هغه په څهٔ وجه قيـصـۍ ويلو ته جوړه نشوه نو بيا به يې ټوله شپه رينګه ،رينګه کول او پـه دغـه ژړا ژړا کښـې بـه اودهٔ شو ـ افروزه بی بی دَ هغهٔ نه پوزې له راغـلـې وه ـ هرشپه به يې ورته نوې نوې قيصۍ کولې او که هغې به چرته په هيره کښې زړه قيصۍ شروع کړه نو هغه چغې به يې وهلی چـی بهـر بـه خـلـقو اوريدلې ـ " دا نه ، دانه ، دا قيصۍ تاويلې ده او ما اوريدلې ده "۔ په دې دې کښې ورته هغې دَ چتی او پتی ، دَ طوطی او خـارو ، دَ کـوړ کوړې او اور اورکی ، دَ ښکاری او ميږی او دَ نيکی ، بدی

غوندی او نورې علاقائی قیصې ټولې اوویلې ـ بیا یې ورته دَ توربان دَ یو او ګل اندامې ، دَ سیف الملوک او بدری جمالې او نورې داستانی قیصې یې ورته ټولې اوکړې ـ چې دغه ختمې شوې نو بیا به یې ورته اسلامی حکایات او نورې اخلاقی خبرې دَ قیصې په توګه کولې ـ چې کومه قیصی به ختمه شوه نو هغې به ورته په مسکا اووې " قیصې لاړه ګوواټې له او فرحان راغی پراټې له " دې سره به هغه په خندا شو او خوشحاله خوشحاله به اودهٔ شو ـ چی دغه ټولې قیصې ختمې شوې نو بیا به یې دَ ځان نه قیصی جوړولې او هغهٔ ته به یې اورولې ـ چې کله به قیصې جوړولو ته جوړه نشوه نو هغې به ترینه دَ ځان خلاصولو دَ پاره دَ پوندانې قیصې شروع کړه ـ دې سره به هغهٔ هغه چغې جوړې کړې چې ټول کور به یې په سر راواخستو ـ

افروزه بی بی معمولی لیک لوست وه خو هغې به یوه عامه خبره یا څهٔ واقعه په داسې خوږ انداز کښې کوله چې دَ فرحان ، نګینې او شګفتې نه علاوه زنده باد کاکا به هم دَ هغې قیصې په مسکا مسکا اوریدله ـ یوه شپه ورسره قیصې نه وه نو یوه واقعه یې ورته دَ قیصې په شکل شروع کړه ـ هغې وې چه " دَ اوړی دَ ماسپخین دوه بجې وې ـ دَ لیډی ریډنګ هسپتال پیښور په ګائنی وارډ کښې مکمله خاموشی وه ـ نرسانې په خپل کاؤنټر کښې ناستې وې او میاندې خپلو خپلو بچو سره په کټونو کښې پرتې وې ـ په هغوی کښې څهٔ ویښې او څه اودې وې ـ په دیکښې یونابینا موذن چې حافظ جی



www.pukhto.net



استاذ مشهور وو ، همسا په لاس وارډ ته دننه شو ـ دَ هغهٔ دَ همسا دَ "ټک ټک " دَ اواز په وجه ځینې ښځی ویښې شوې او ځینې اودهٔ پاتې شوې ـ په دغه ویښو زنانهٔ کښې دَ نورو نه علاوه یو پری ګل هم وه او په اودهٔ زنانه ؤ کښې دَ نورو سره سره دَ پری ګل یوه ګوانډې سوراج هم وه ـ دَ حافظ جی استاذ په راتلو باندې پری ګل دَ خپل کټ نه پاځیده ، لوپټه یې دَ ځان نه تاؤ کړه ، خپله ماشومه لوریې راواخسته او دَ بانګ دَ پاره یې حافظ جی استاذ ته غیږ کښې اونیوه ـ دَ حافظ جی استاذ دا عادت وو چې هره ورځ به دَ ماسپخین دَ نمانځه نه پس ګائنی وارډ ته راتلو ـ "فرحان نه صبر اونشی او دَ هغې په قیصې کښې را اودانګی او وائی "مورې ګائنی وارډ څهٔ ته وائی ؟ "

افروزه بی بی :ـ ګائنی وارډ په هسپتال کښې داسې ځای وی چرته چې نوې پیدا شوې ماشومان او دَ هغوی میاندې وی ـ

فرحان :ـ ښه نو بیا ؟

افروزه بی بی :ـ بیا دا چې قیصې دې راباندی ګډه وډه کړه ـ هغه لاړه زمانه هیره شوه ـ

فرحان :ـ مورې تا وې چې حافظ جی استاذ به هره ورځ ګائنی وارډ ته راتلو ـ

افروزه بی بی :ـ هاؤ ، هاؤ ، او چې کوم نوې ماشومان به پیدا شوې وو نو دَ هغوی په غوږونو کښې به یې بانګ وې ـ دَ حافظ جی استاذ په راتلو باندې پری ګل دَ خپل کټ نه پاځیده ، لوپټه یې ځان نه تاؤ کړه ،

خپـلـه مـاشـومه لوریې را واخسـتـه او دَ بانګ دَ پاره یې هغه ته په غیږ کښې اونیـوه ـ چې هـغۀ ورته غوږ کښې بانګ اووې نو هغه یې په کټ کښې سـمـلـوله او هغه له یې پیسې ورکړې ـ دَ پری ګل لور او دَ سوراج ځوې په یوه شپه پیدا شوی وو ـ هغې غوښتل چې دَ سوراج دَ ځوی په غوږ کښې هم بانګ اوویلې شی خو هغه اوده وه نو په دې وجه یې دَ هغې ویښـول او پاڅول مناسب اونه ګڼل او د دې کارِ خیر ذمه واری یې په خپل سر واخسته ـ هغې دَ سوراج ځوې اوچت کړو او دَ بانګ دَ پاره یې حافظ جی استاذ ته په غیږ کښې اونیوو ـ هغۀ دَ هغه ماشوم په غوږ کښې بانګ شروع کړو ـ دَ بانګ اخری ټکی سره سوراج هم ویښـه شـوه او دَ هغې خاوند هم دَ بهر نه وارډ ته راغی ـ سوراج چې خپل ځوې دَ پری ګل پـه غیږ کښې بانګ تـه نیولې اولیـدو نـو شـور ژوږ یې جوړ کـړو ـ هـلتـه دَ هغې خاوند ته چې کله معـلـومـه شوه چې دَ هغۀ ځوې دَ پردې ښځې په غیږ کښې دې او په غـوږ کښـې ورته بانګ ویلې کیږی نو هغه دَ اور لمبه شو او چغې یې جوړې کړې ـ دَ هغۀ نه یې دَ هغۀ همسا واخسته او په هغۀ یې لاندې باندې یو څو ګزارونه اوکړل ـ بیا یې هغه همسا پری ګل له راواچوله ـ دې نـه پـس پـه خپـلـه ښـځـه سـوراج ورغـی او په هغې یې هم یو څو ګزارونـه اوکړل ـ په وارډ کښې لویه هله ګوله او ژړا انګولا جوړه شوه ـ په دغه شور ژوږ نرسیانې او ډاکټران هم دَ هغوی خواله ورغلل ـ دې نـه عـلاوه دَ بهـر نه سړی هم رااوچلیدل ـ په دغه سړو کښې دَ پری ګل



www.pukhto.net



خـاونـد هم وو ـ هغۀ چې دَ خپلې ښځې ژړا ته اوکتل نو دَ هغۀ نه نور صبـر اونشـو ـ دَ سـوراج دَ خـاونـد نه یې همسا واخسـته او هغه له یې راواچـولـه ـ بیـا دواړه اونـختـل او درز دروز شـروع شو ـ یو خوا سړی انختی وو او بل خوا ښځې په ښځې خپلو کښې ورلاندې اوتې وې ـ دَ ډیـر کـوشش نه پس دَ ښځو او سړو خلاصې اوشو ـ چې قلاره قلاری شوه نو دَ سوراج خاوند ښځې ته په غصه اووې راځه پاځه چې ځو ـ دا هـر څۀ سـتـا دَ غـفلت په وجه اوشو "ـ هغې خپل ځوې په غیږ کښې اونیـوو او چې رانیده نو خاوند ورپسې راستون شو ـ هغه ماشوم یې دَ هغې دَ غیـږ نـه واخسـتـو ، دَ پری ګل په کټ کښې یې کیښودو او په قهـر یـې ورته اووې ، " دا واخله ستا شو ، دا پلیت زمانه دې پکار " دې سره هـغـوی ښـځـه او خاوند ډیر په غصه اوغړمبیدلی بهر اووتل ـ دَ هغوی دَ تلو نه پس پری ګل هغه ماشوم راواخستو ، ښکل یې کړو او پـه بسـم الله یې خپلې سینې ته واچوو ـ بیا هغه ماشوم دَ هغې ځوی شو ـ قیصی لاړه ګوواتی له او فرحان راغی پراتې له "ـ

فـرحـان ډیر په غور او ساه نیولې انداز دا قیصی اوریده ـ چې قیصی ختـمه شوه نو بیا دَ هغۀ تپوسونه او سوالونه شروع شو او وې وئیل " هـغـة سـړے او هـغـه ښـځـه پری ګل ته ولې غصه شو ـ هغې خو څۀ غلط کار نه وو کړې ـ

افـروزه بـی بـی :ـ هـغـه غریبه ساده او نیکه ښځه وه ـ هغې وې ګینې دغه ښځه او خاوند مسلمانان دی ځکه هغې غوښتل چې دغه نیکی

په خپله اوګټې خو هغه دواړه غیر مسلم وو۔ زمونږ دَ عقیدې مطابق چې ماشوم ته په غوږ کښې بانګ اوویل شی نو هغه مسلمان شی ۔ هغه ماشوم واقعی مسلمان شو خو دَ هغوی په مذهب خو نشو کنه ۔ دے دَ پاره هغوی دواړه په دې غصه وو ۔ دَ هغوی دَ تلو نه پس خلقو بیا پری ګل له مبارکی ورکوله چې دَ هغې په وجه هغه ماشوم خدای دَ دوزخ دَ اور نه بچ کړو ۔

فرحان :۔ هغه ماشوم خپلی مور پسې ژړل ؟

افروزه بی بی :۔ خپلی مور خو پریښودو ۔ پری ګل یې مور شوه ، دې سره فرحان په ژړا شو او په ژړا ژړا کښې اوده شو۔ مور هغه په اودو کښې ښکل کړو ۔ فرحان ډیر مینه ناک ماشوم وو خو هغه دومره بدقسمته وو چې دَ وړوکوالی نه تر زلمیتوب پوری درې ځله اغوا شو ۔ په ړومبی ځل هغه دَ څلور ، څلورنیم کالو وو چې په رڼا ورځ دَ خپلې کوځې نه اوتختولې شو۔ افروزه بی بی ورسپې بورقه په سر اووته او شیرخان کلی کښې کوځه په کوځه او کور په کور په یوه خپه ګرځیده خو هغه یې اونه موندلو ۔ زنده باد کاکا ، دَ هغهٔ دَ خپلوانو او دَ کلی نورو خلقو ورپسې دَ سیند غاړې ، شاړې او خواؤ شا تهولې سیمې اوکتې خو پیدا نشو ۔ په دریمه ورځ ماسخوتن تیارهٔ په داسے وخت کښې دَ هغوی په کوځه کښې پریښودې شو چې زنده باد کاکا په جمات کښې او افروزه بی بی کور په مصله ناسته وه او دَ هغه دَ سلامتۍ دعاګانې یې غوښتلې ۔ په دغه درې ورځو کښې هغه



www.pukhto.net



دومره کمزورې شوې او ژړیدلې وو چې په مخ یې اوښکو لارې جوړې کړې وې او سترګی یې په قوغاتو کښی ننوتې وې ۔ دې نه پس په دویم ځل هغه وخت اغوا شو چې دَ برکلی په پرائمری سکول کښې یې په دویم جماعت کښې سبق ویلے ۔ چې دَ سکول چهټی شوه نو نور هلکان خپلو خپلو کورونو ته لاړل خو هغه دَ هغوی په ډله کښې نه وو۔ دَ هغهٔ مور پلار ورپسې بیامنډې تړړې اووهلې خو هغه یې اونه موندو ۔ دَ هغوی منډه لاجاری وه چې په دویمه ورځ ماسخوتن تیر په خپله کورته راغی ۔ دَ هغهٔ مور پلار ،خویاندې ، خپل خپلوان او دَ کلی خلق حیران وو چې اخر دا څوک دی چې هغه اغوا کړی خو نه دَ پیسو مطالبه اوکړی او نه څهٔ بله مطالبه کوی ، نه څهٔ نقصان ورکوی او نه څهٔ زیان، په خپله یې راولی او په کوځه کښې یې پریږدی ۔ هغوی تهولو اجتماعی طور هغه اولټوو او ډیر تپوسونه یې ترینه اوکړل خو هغه څهٔ زړه پورې جوابونه ورنکړل ۔ بیا هغوی په دې خیال په خپلو تپوسونو زور وانه چوو چې کیدیشی هغه یې قسمی کړې وی یا یې څهٔ دهمکی ورکړې وی ۔ بهرحال هغوی په دې مطمئن وو چې هغه له یې څهٔ نقصان نه دې ورکړې ۔

په دریم ځل هغه دَ برکلی دَ هائی سکول نه اغوا شو ۔ په هغه وخت کښې دَ هغهٔ شونډه شنه شوې وه او دَ زلمیتوب نښخې پکښې پیدا شوې وې ۔ هغه دوه ورځی عدم پته وو خو په دریمه ورځ ماښام تیارهٔ کورته راغی ۔ دې نه پس ورله زنده باد کاکا موبائیل واخستو او ورته

يې اووې چې کله هغه څۀ خطره محسوس کړی نو هغوی له دې خبر ورکوی ، دَ موبائیل راتلو سره قلاره قلاری شوه او دې نه پس ترکالج او یونیورسټۍ پورې ورته بیا څۀ واقعه پېښه نشوه ۔ دَ هغۀ دَ هلکانې خاموشۍ ، کم ګوئۍ او دَ هغۀ پرله پسې اغوا دَ هغه شخصیت پُر اسرار کړو ۔ دَ کالج او یونیورسټۍ نه پس دَ هغۀ دَ موندلو ځایونه یو کور وو او بل جمات چې کله یې دَ شپاړسم امتحان ورکړو او دَ تعلیم نه فارغ شو نو بیا به یې کله کله شیبه نیمه پلار سره دَ هغۀ په کاروبار کښې لاس کوو خو چې کله یې شپاړسم پاس کړو نو دَ نوکرۍ په تلاش کښې دَ کوره اووتو ۔ دَ پېښور نه تر کراچۍ پورې اوګرځیدو او په دغه ګرځیدو ګرځیدو کښې یې پوره یو کال ضائع شو خو دَ خپل تعلیمی حیثیت مطابق نوکری یې اونه موندله ۔ دې نه پس په کلی کښې ډیره شو او دَ دنیا نه کناره شو ۔ بیا به ټوله ورځ په خپله کوټه کښې پروت وو ، کتابونه به یې کتل یا به یې په جماعت کښې تلاوت کوو

هغۀ په خپل کور کښې داسې وخت تیره وو لکه دَ یو ښو ورځو میلمه چې په پردی کور کښې ډیره وی ۔افروزې بی بی به چې دَ هغه تعلیم او ښه سرټیوب ته کتل نو هغه دَ چا خبره چې من من به غټیده خو چې دَ هغۀ بے روزګارۍ او خفګان ته به یې کتل نو نیمه نه پاتیکیده۔ هغې غوښتل چې هغه څۀ کار کښې مصروف شی او غم یې غلط شی ۔ هم په دې خیال یوه ورځ په داسې وخت کښې دَ هغۀ کوټې ته ورغله چې هغه په خپله مطالعه کښې مصروف وو۔ هغۀ چې هغه



www.pukhto.net



اولیده نو کتاب یې یو خوا ته کیښودو او ورته یې اووې ، "راځه مورې ماسره کینه ، ولې ولاړه یې ؟

افروزه بی بی :۔ کینم نه ځویه ډیر کار راته پروت دې خو هسې تانه مِ یو تپوس کوؤ۔

فرحان (مسکے شی )مورې تپوس په ناستې هم کیدیشی۔

افروزه بی بی مسکۍ شی او هغه سره په کټ کښې کینی ۔

فرحان :۔ ښه اوس راته وایه په زړۀ دې څه دی ؟

افروزه بی بی :۔ په زړۀ مِ ډیرې خبری دی ځویه خو په دې نه پوهیږم چې کومه مخکښې او کومه روستو کړم ۔

فرحان :۔ مورې چې کومه ډیره ضروری وی هغه مخکښې کړه ۔ هغې پسې بله اوکړه او بلې پسې بله ۔

افروزه بی بی :۔ ځویه تعلیم خو دې دَ خیره ختم کړو خو دَ نوکرۍ دې څۀ اوشو ؟

فرحان :۔ هیڅ اونشو مورې ۔ ځو ځو ځایونه کښې مِ درخواستونه ورکړل ، انټرویوګانې م ورکړې خو کار اونشو ۔

افروزه بی بی :۔ اوس دې څۀ خیال دې ځویه ؟

فرحان :۔ اوس دَ خداې اسرې او ستا دعا ته ناست یم۔ دعا راته کوه چې خداې ښۀ غوندې نوکری راکړې ۔

افروزه بی بی :۔ ځویه داسې مور به هم وی چې اولاد ته به دعا نه کوی ؟ او بیا ستا غوندې نیک اولاد ته ؟ زۀ خو ویم چې خداې دې دَ

Pukhto.Net

سرو او سپینو خاوند کړه ـ

فرحان :ـ سرۀ او سپین مِ نه دی پکار موريِ ـ ستا دعا مِ پکار ده ـ ښه او س ته خپله مدعا اووایه ، څۀ ویل غواړې ؟

افروزه بی بی :ـ ځویه په دې یریږم چې بد اونه ګڼې ـ

فرحان :ـ نه موری نه ـ مور خو دَ خوږو نه ډکه وی ، او خوږه خبره په چا بده نه لګی ـ ښه وایه ماته څه حکم دې ؟

افروزه بی بی :ـ ځویه زۀ دا ویم چې پلار دې ډیر یواځې دې ـ چې ترڅو درته نوکری نه وی ملاؤ شوې نوتر هغې دوکان ته ځه راځه ، که څۀ کار کوې او که نه کوې خو چې هغه ته وړاندې روستو کیږې نو زړۀ به یې دریاندې راغونډ وی ـ

فرحان (خاندی) مورې دَ بابا زړۀ خو به راغونډ شی خو په دې یریږم چې ستا زړۀ راپسې خور نشی ؟

افروزه بی بی :ـ یَه ځویه زماخپل زړۀ کوم دې ؟ زما زړۀ خو ته یې ـ چې ته خوشحاله یې نو زۀ به خوشحاله یم ـ

فرحان :ـ ښه موريِ بله خبره به بیا شی اوس زۀ ورځم چې ستا دَ ړومبی حکم تعمیل اوکړم "هغه پاځی "ـ

افروزه بی بی :ـ چرته ځې ځویه (هغۀ ته په حیرانتیا ګوری)

فرحان :ـ دوکان ته ځم موريِ ـ دې سره هغه مسکی شی او هغه ته دعاګانې کوی ـ په دغه دعاګانو کښې هغه دَ کوره اووتو او دوکان ته لاړو ـ چې دوکان ته اورسیدو نو متې یې اونغښتې او پلار ته یې


www.pukhto.net



اووې "بابا تۀ لږ دمه شه ـ کړاهی ته به زۀ کینم " زنده باد کاکا چې هغۀ ته اوکتل نو مسکے شو او ورته یې اووې : نه بچې نه ځه بچې دا ستا دَ کولو کار نه دې او نه مِ په دې پیروز شی ـ (خاندی) تۀ جوړ مور رالیږلې یې ـ هغه هسی زوروره ده ـ ځه بچې ته خپل سبق وایه ماسره شاګردان شته کار چلیږی ـ ځه بچې ځه ـ

فرحان :ـ نه بابا واپس نه ځم ، بیا خو به مِ دَ مور حکم عدولی اوشی ـ څۀ کار راته اوښایه چې هغه کوم ـ

زنده باد کاکا :ـ چې زړۀ دې نه صبریږی نو دغلته په کرسۍ کینه او زمونږ تماشه کوه ـ

فرحان :ـ دا خو کار نشو بابا ـ زۀ کار له راغلې یم تماشې له نه یم راغلې ـ

زنده باد کاکا :ـ ښه نو چې کار له راغلې یې نو دغه میلمنو ته اوړه راؤړه او چی دَ هغوی څۀ ضرورت وی نو په دې شاګردانو یې ورله راغواړه ـ دې سره فرحان مسکے شو او دَ دوکان مخې ته اوختو را اوختو ـ زنده باد کاکا په هغۀ باندې کار کول نه غوښتل ځکه چې دا کار دَ هغۀ تعلیم سره مناسب نه وو ـ هغه سره دا یره هم ملګرې وه چې هسې نه څوک کلاس فیلو یا څوک یار دوست یې اووینی ، هغه شرمنده شی او دَ هغۀ انا مجروح شی خو فرحان په زړۀ کښې سوچ اوکړو چې آیا هغه دَ خپل پلار نه غټ سړے دې ؟ چې دَ هغه په سپینه ږیره بوډا پلار کړاهی ته ناست دے او هغه په سپینه جامه کښې لکه دَ دوکان دَ مالک دَ هغۀ مخې ته اوړی راؤړی ـ نه داسې

نشې کيدې ـ څۀ وخت پورې دَ دوکان مخې ته اوختو راؤختو خو نه يې مزدورانو له چهټې ورکولې شوه او نه دَ هغۀ دَ کولو کار وو نو غلې غوندې يو طرف ته اوخويدو او ښار ته لاړو ـ هلته يې دَ دوکان دَ پاره دوه بورډونه جوړ کړل او په هغې يې اوليکل ''یہاں پر ہر قسم کی تازہ، لذیذ مچھلی اور ٹھنڈے مشروبات بارعایت ملتے ہیں۔کوئی چیز آپ کے مزاج گرامی پر ناگوار گزرے تو پیسے واپس۔(خواتین کے لئے پردے کا اعلیٰ انتظام) ایک بار آزما کر کھایئے، پھر بار بار آیئے۔آپ کی اپنی دوکان ہے۔دوکان کا نام نہ بھولیئے زندہ باد ماہی کڑاہی شاپ شیر خان کلے'' ـ چې بورډونه تيار شو نو يو يې دَ هغه سړک په خوله کښې اولګوو کوم چې دَ هغوی کلی ته راغلې وو او بل يې خپل دوکان سره اولګوو ـ بيا يې په کپړا ، زنده باد ماهی کړاهی شاپ اوليکلو او دَ دوکان دَ پاڅۀ يې دَ جهنډې په شکل اولګوو ـ زنده باد کاکا به چې دَ هغۀ دې نوې کار ته کتل نو ځان سره به يې غلې غلې خاندل ـ صبا سحر په خړه ، دَ مور پلار نه په پټه پاڅيدو ـ ځان سره يې دَ کبانو جال واخستو او دَ سيند غاړې ته لاړو ـ چې نور مچهيران راتلل نو هغۀ تهوکړې ډکه کړې وه او لا لګياوو ـ چې ځاښت وخت کيدو نو دومره کبان يې نيولې وو چې ايله په خوارو يې دوکان ته اورسول ـ زنده باد کاکا چې هغۀ ته اوکتل نو ډير خفه شو او هغۀ ته يې اووې ، ''ګوره ځويه ، په دې کار دې ډير خفه کړم ـ دا کار دې نن اوکړو خو که بيا دې اوکړو نو هرڅۀ به درته په ځاې پريږدم او زۀ به درنه لاړ شم'' ـ



www.pukhto.net



فرحان (مسکے شی) ولې بابا کبان نيول ښۀ کار نه دې ؟

زنده باد کاکا:ـ ښۀ او بد سره به کتې شی خو تاسره مناسب نه دې ـ تا دا شپاړس جماعتونه ايله دَ مچهيرۍ دَ پاره پاس کړل ؟ داسې مه کوه ځويه ـ

فرحان :ـ بابا چې ترڅو نوکری نه وی ملاؤ شوې نو دا زما ډيوټی او نوکری شوه ـ

زنده باد کاکا:ـ نه کنه ځويه ـ دې دَ پاره خپل کسان شته ـ هغوی روزانه تازه کبان راوړی ـ ستا دَ نيولو ضرورت نيشته ـ

فرحان :ـ دا ټيک ده بابا چې هغوی کبان نيسی او راوړی خو ويړيا خو يې نه درکوی ـ په بيعه يې درکوی ـ دا ښۀ نه ده چې په زرګونو روپۍ درته په کورپاتې شی ـ په مزدورۍ کښې څۀ شرم دې بابا او که تۀ غواړې نو زما کبان ځان ته تله او ماله پيسې راکوه ـ تانه به يې اخلم او مور له به يې ورکوم داسې دې خوښه نه ده بابا''؟ دې سره زنده باد کاکا مسکے شو او مخ يې ترينه واړه وو ـ فرحان هم مسکے شو او کورته روان شو ـ دې نه پس دا دَ فرحان معمول شو چې هره ورځ به يې کبان نيول ، دوکان ته به يې راوړل ، پلار ته به يې تلل او هر ماښام به يې ترينه دَ هغې پيسی اخستلې او مور له به يې ورکولې ـ چې لس پنځلس ورځې يې کار اوکړو نو هغه ټولې پيسې يې دَ مور نه واخستې او په هغې يې ځان له کشتۍ واخسته ـ بيا به دَ معمول مطابق هره ورځ په خړه پاڅيدو او کشتی کښی به يې دَ سيند په دواړو

غاړو تر لرې لرې پورې ګرځيدو ـ چې کبان به يې نيول نو هغه به يې کشتۍ ته ويشتل او پلار له به يې راؤړل ـ چې کبان به يې پلار له ورکړل نو کور ته به لاړو ، جامې به يې بدلې کړې ، شپبه نيمه به يې ارام اوکړو بيا به يې ناشته اوکړه او دَ کشتۍ مزدورۍ له به روان شو ـ څۀ دَ هغۀ تندې بل مثال وو ، څه ورسره دَ مور دعا وه او څۀ يې ځان ته ځان نه وې په يو کال کښې دننه دننه يې دَ دواړو خويانډو دَ وادونو داج برابر کړو او ښۀ په خوشحالۍ يې پرله پسې واده کړې ـ چې کله هغوی وادۀ شوې نو دَ سکون او اطمينان يوه لويه ساه يې واخسته ـ اوس مور او پلار دَ هغۀ نه دومره خوشحاله وو چې دَ هغۀ لاسونه يې ښکلول ـ وخت تيريدو سره دَ هغوی دوکان دَ ترقۍ په لور روان وو ـ دَ زنده باد کاکا او دَ هغه دَ دوکان نوم تر لرې لرې مشهور شو ـ دې سره دَ کبانو لګښت او خرڅ نور هم زيات شو ـ هغۀ دَ پخو کبانو نه علاوه دَ کچه کبانو خرڅ هم شروع کړو ـ دې سره سره به ورته دَ يو ځاې بل ځاې نه آرډرونه هم ملاويدل ـ چې کله دَ هغه نه ناپوره شوه نو ځان سره يې دَ کبانو نيولو دَ پاره په دياړې يو مزدور هم اونيوو او که څۀ کمې به راتلو نو دَ نورو مچهيرانو نه به يې په بيعه اخستل او خپل کمې به يې پوره کوو ـ دَ فرحان په دومره محنت او مشقت به دَ هغه مور کله کله هغه ته غصه شوه خو هغه به ورته په خندا خندا اووې :ـ مورې چې ډهول دې راپه غاړه کړو نو په وهلو کښې يې څۀ شرم دې" دَ کبانو نيولو او کشتۍ چلولو نه علاوه هغۀ ورسره دَ ګنګخړو نيولو


www.pukhto.net



کار هم شروع کړو ـ په لږه موده کښې يې په کور کښې دَ ګنګخړو غټې غټې ټوپښې جوړې کړې ـ بيا يې دغه اوچ خشاک دوکان ته اوړۀ او دَ کړاهۍ کار به پرې چليدو ـ څۀ موده پس يې په دوکان کښې دوه فريزرې هم اولګولې ـ دَ معززينو دَ بيګمات دَ ناستې دَ پاره يې بيلې بيلې کوډې هم جوړې کړې ، يو بل کړاهې يې هم اولګوو او دَ مزدورانو تعداد يې هم زيات کړو ـ

مابنام ، ماسخوتن به چې پلار او ځوې کور ته راغلل نو دواړه به يو بل ته مخامخ په کټونو کښې کيناستل ـ دواړو به خپلې خپلې پيسې دَ جيبونه را اوويستلې او هغه به يې شمارلې ـ دَ هغوی راتلو سره به افروزې بی بی هم خپل ضروری مصروفيات پريښودل ، غلې غوندې به راغله او فرحان سره به کيناسته ـ دَ هغوی پيسو ته به پسخيده اوموسيده ـ زنده باد کاکا به چې خپلې ټولې پيسې اوشمارلې نو بيا به يې ترينه دَ مزدورانو مزدورۍ ، دَ تيلو ، مسالو خرچه او خپل مول اوويستلو ـ هغه به يې په جيب کښې واچوو او دَ ګټې روپۍ به يې يو ځل بيا اوشمارلې ـ بيا به يې ترينه دَ فرحان دَ کبانو پيسې اوويستلې او هغه له به يې ورکړې ـ دې نه پس به يې دَ ګټې پيسې يو ځل بيا اوشمارلې ـ چې ښۀ به يې کهره کړې نو هغه به يې افروزې بی بی ته اونيوې او ورته به يې اووې "هن خزانچی صيبې دا واخله زما دَ ننۍ ورځې خالصه اوچه کلکه ګټه "ـ دې سره به افروزه بی بی مسکۍ شوه دَ هغۀ نه به يې روپۍ واخستې او دَ

فرحان هغې ته به يې سترګې اونيوې ـ دَ فرحان په مونې. کښې مول نه وو بلکه ټوله ګټه وه ـ هغهٔ چې به دَ کشتۍ دَ مزدورۍ پيسې اوشمارلې نو يو خوا ته به يې کيښودې ـ بيا به يې دَ کبانو دَ مزدورۍ پيسې اوشمارلې ـ که څهٔ کمې به پکښې وو نو دَ پلار نه به يې پوره کړې او که په تير کښې به څهٔ زياتې راغلې وې نو هغه به يې ورله ورکړې ـ بيا به يې هغه دَ کشتۍ دَ مزدورۍ په پيسو کيښودې او غونډې به يې مور ته په لاس کښې کيښودې ـ زنده باد کاکا اګر چې په دوکان ناست وو او دوه کړاهۍ يې چليدل خو ګټه به ترينه هميشه دَ فرحان زياته وه ـ هم دغه وجه وه چې فرحان به په ګټه کښې اول پوزيشن اخستو او زنده باد کاکا دويم ـ دې نه پس به پلار او ځوې ډوډۍ ته کيناستل او ښهٔ په مړه خيټه به يې ډوډۍ اوخوړه ـ دَ ډوډۍ نه پس به دواړه نمانځه دَ پاره جمات ته لاړل ـ دَ نمانځهٔ نه پس به خپلو خپلو کوټو ته لاړل او پرانستې ټنې به خپلو خپلو کټونو کښې پريوتل ـ دَ ټولې ورځې دَ محنت او مشقت په وجه به هغوی دومره ستړي وو چې دَ ملاستې سره به اودهٔ وو ـ افروزې بي بي ته د دنيا ټولې خوشحالۍ حاصلې وې ـ کاروبار چليدو او هره ورځ به ګيډۍ ګيډۍ روپۍ راتلې او دَ هغې په لاس به سمباليدې ـ خاوند او ځوې دواړه دَ هغې په خوله او زړهٔ وو ـ هغه په هرڅهٔ کښې خپلو ، خپلوانو سره نه صرف سياله شوه بلکه دَ هغوی نه په هرڅهٔ کښې مخکښې شوه ځکه چې دَ لګښت په نسبت يې ګټه ډيره وه ،خو دَ دې هرڅه


www.pukhto.net



باوجود دَ هغې زړهٔ خوشحاله نه وو ـ دَ شګفتې او نګينې دَ وادونو نه پس هغه په کور کښې داسې يوائې پاتې شوه چې دَ کور کاروبار خو لا لويه خبره ده چې دَ خبرو اترو يې هم څوک پاتې نشو ـ چې زنده باد کاکا او فرحان به خپلو خپلو کارونو له لاړل نو هغه به په کور کښې ماښام، ماسخوتن پورې يوائې ناسته وه ، کله به يې دَ هغه کوځې ورته کتل او کله بل ته ـ هغې غوښتل چې فرحان له چرته نيوکه اوکړي او چې هغه خبرېږی خبرېږی چې هغې دَ هغهٔ ناوې راوستې وي ـ په دې غرض هغې زنده باد کاکا ته هم اورونه اوکړه ـ هغه اجازت ورکړو خو دَ فرحان نه دَ تپوس او دَ هغهٔ دَ خوښې ناخوښې شرط يې پکښې کيښودو ـ چې دَ زنده باد کاکا دَ طرفه ورته اجازت ملاؤ شو نو هغه مطمئنه شوه او په خپل خيال کښې يې دَ مناسبې رشتې کتون او لټون شروع کړو ـ يوه ورځ هغې لوښې وينځل او په خيال کښې يې دَ شيرخان کلي دَ ګوټې ګوټې ټولې پيغلې ځان ته مخکښې کړې ـ بيا يې پکښې دَ قام قبيل ، کورنۍ او دَ خائست په لحاظ چهاڼ کوو ـ دَ خپلې خوښې يوه يوه پيغله به يې دَ لاس نه نيوله ، هغه به يې دَ هغوی دَ ډلې نه ويستله او يو طرف ته به يې اودروله ـ په دغه ګڼو جينکو کښې هغې دَ پنځو جينکو انتخاب اوکړو ـ په دغه پنځو کښې يوه دَ خيرن استاذ لور نورين وه ـ دويمه دَ مبارک شاه کاکا لور اصيله وه ـ دريمه دَ کرم دين کاکا لور شکيله وه ، څلورمه دَ نور دين کاکا لور شاذيه وه ، پنځمه دَ اعوذ باالله لور فوزيه وه

ـ دَ خیرن استاذ لور خائسته وه خو هغه دَ پلار په تس کښې لاړه دَ ډلې نه اووته څکه چې دَ خیران استاذ نوم دَ هغې نه وو خوښخ او په زړهٔ کښې یې وې چې څنګه یې پلار خیرن دې دغسی به یې لور هم وی ـ دَ مبارک شاه لور اصیله اګر چهٔ ښهٔ خاموشه او حسینه جینۍ وه خو دَ هغې دَ پلار خولهٔ ښهٔ نه وه ـ دَ هغهٔ دَ بدو ،ردو چغې به هغې اکثر خپل کور هم اوریدې ـ په دې وجه هغه هم آؤټ شوه ـ دَ کرم دین کاکا لور شکیله اګر چهٔ غنم رنګې وه خو دَ هغې سترګی دَ فرحان دَ سترګو غوندې شهلاوې ـ هغهٔ یې زړهٔ ته پریوته ، ځان ته یې رانزدې کوله او زړهٔ پورې یې نیوه چې دَ هغې پلار کرم دین کاکا دَ هغې مخې ته اودریدو ـ دې سره ورته هغه متل هم راياد شو چې دَ هغهٔ دَ بے کارۍ او بے روزګارۍ په وجه هغهٔ پورې جوړ کړې شوې وو چی " دَ کوره کرم دینه او دَ بهره کرم دینه " په دې وجه هغه هم پاتې شوه ـ دَ نوردین کاکا کورنۍ یې هم خوښخه شوه او دَ هغه لور شاذیه یې هم خوښخه شوه ـ دَ هغې پوستکې هم سپین وو او رنګ ډهنګ یې هم برابر وو خو چې دَ هغې یې پوره جائزه واخسته نو دَ هغې خبرې غټې او درنې وې ـ چې کله به هغې خبرې کولې نو داسی به محسوسیده لکه چې ښوک خُوم کښې لګیا وی خبرې کوی ـ په ګڼو جینکو کښې اوس یوه دَ اعوذ باالله لور فوزیه پاتې شوه ـ هغې لا دَ هغې دَ حسن جائزه اخستله، په ځیر ځیر یې ورته کتل، دَ هغې دنګه ځوانی ، هسکه غړې ، کټارۍ لیچې ، خمارۍ سترګې تورې



www.pukhto.net



الوول زلفی او پوزه ، غوړونه یې ورله کتل چې دیکښې دَ بدرۍ لور سعیده راغله او هغې ته یې اووی ، "وییی ترورې دا څهٔ کوی ؟ دَ سعیدې په غلې راتلو او په دې ناګهانی اواز هغې داسې اوچت ټوپ کړې لکه په بے خیالۍ کښې چې په چا دَ "باؤ" اواز اوشی ـ افروزه بی بی هم دَ خیالونو دَ دنیا نه اووته او فوزیه هم اوشرمیده ، مخ یې پټ کړو او لاړه غیبه شوه ـ هغې چې په سوالیه نظر دې ناګهانی آفت ته اوکتل نو مسکۍ شوه ـ سعیدې ورته په زورلی انداز اووې " ترورې تهٔ لوښی په خپله وینځې ؟ دا مونږ څهٔ شوی یو ـ دا څکه خو مِ راته موروې چې ورشه هغه یواځې ده دَ کور کار ورسره راغونډ کړه ـ تهٔ پاڅه ترورې ، دغلته مخامخ کټ کښې کینه دا به زهٔ اووینځم ـ

افروزه بی بی :ـ نه لورې نه ـ دا څهٔ دومره کار نه دې ـ سعیدې هغه دَ لاس نه اونیوه ، مخامخ کټ کښې کینوله ټول لوښی یې راغونډ کړل او شوړه یې ورته اونیوه ـ سعیده څهٔ ناموسی خائسته نه وه بلکه سکنړی وه خو په اننګو کښې یې دَ ځوانۍ مستۍ غوړځنګونه کول ـ دې نه علاوه چالاکه ، چُسته او بے کچه خدمتی جینۍ وه ـ هغې لوښی وینځل او افروزی بی بی ورته په چپه خوله کتل ـ په دغه کتو کتو کښې هغې ته په هغې کښې دَ نورین نزاکت دَ اصلیې شرافت ، دَ شکیلې شهلا سترګې ، دَ شازیې نفاست ، او دَ فوزیې دَ زلفو کشش ښکاره شو ـ بیا به هغې دَ هغې دَ یو یو اندام ستاینه کوله ـ چې هغې لوښی اووینځل نو په زوړندی کښی یې کیښودل ـ بیا

یې مخ لاس اووینځل او په خپله لوپټه یې اوچ کړل ـ افروزه بی بی لا هغسې په کټ کښې ناسته وه چې هغې دَ بل کټ نه بالخت راواخستو ، دَ کټ سر ته یې کیښودو او هغې ته یې اووې ، سمله تروري چې په سر درله زور وکړم "ـ

افروزه بی بی :ـ نه لورې نه ، تهٔ په خپله ستړې شوې یې ـ راځه ماسره کینه لورې ـ

سعیده :ـ نه تروري ، داسې نشی کیدې ، تهٔ سمله ـ دی سره یې هغه دَ اوږې نه اونیوله ، په کټ کښې یې سملوله او دَ هغې سر او اوږې یې مندلې ـ افروزی بی بی سترګې پټې کړې وې او هغې ورله په سر او اوږو زور کوو ـ دَ هغې په لاسونو کښې دومره خوند وو چې دَ هغې اثر دَ هغې دَ بدن رګ رګ ته اورسیدو ـ دَ هغې په ټول بدن کښې وینه په غورځنګ شوه او دَ مودو اوچ رګونه یې تاند شو ـ د سر او اوږو نه پس یې دَ هغې متې او لیچې منډلې ـ هغې به ورته بیا بیا وې "بس دې لوری ستومانی مِ اووته خو هغې دَ هغې یوه خبره هم نه اوریده ـ دې نه پس یې ورله خپې منډل شروع کړل ـ چې خپې یې ورله اومنډلې نو بیا یې پړمخ کړه او دَ ملا نه واخله تر لاندې پنډو پورې یې ټوله اومنډله ـ چې ستومانی یې اووته نو بیا یې دَ لاس نه اونیوه او ورته یې اووې "بس کړه لورې ، ستومانی مِ اووته ، خداې دې دَ سرې ډولۍ ارمان پوره کړه ـ دې سره افروزه بی بی مسکۍ شوه او هغه بړق بړق په خندا شو ـ بیا یې مخ په لوپټه کښې پټ کړو او ډیره شیبه یې ځان


www.pukhto.net



سره پټ پټ خاندل ـ داسی معلومیده چې افروزې بی بی هغې ته هغه دعا اوکړه کومه چې دَ هغې دَ زړهٔ ارمان وـ

په دغه خندا خندا کښې هغې دَ افروزې بی بی دَ سر نه لوپټه لرې کړه ـ دَ هغې کمسۍ یې اوسپړده ، ټول ویښتهٔ یې ورله په ګوتو خوارهٔ کړل ـ بیا یې تیل راواخستل او هغه یې ورله په سر په داسې انداز مږل چې دَ ویښتو جرړو ته اورسی ـ دَ تیل لګولو نه پس یې هغه دَ ګوتو په سوکو مږل او دَ هغې دَ ویښتو جرړو ته یې رسول ـ دې سره دَ هغې دَ ویښتو جرړې هم غوړیدې او دَ هغې دَ سر مالش هم کیدو ـ دې نه پس یې دَ هغې ویښتهٔ په دواړو لاسونو کښې اونیول او خپلو کښې ښې اومږل چې پاستهٔ شی ـ چې دَ ویښتو جرړې اوتنې غوړې شوې نو بیا یې دَ ویښتو سوکی او ژیې غوړې کړې ـ چې دا کار یې اوکړو نو بیا یې څو څو ځله ګمنز کړل او دَ ګمنزولو نه پس یې ورله کمسۍ کړل ـ چې دا کار اوشو نو بیا یې ورله غوړ لاسونه په مخ ، تندی ، روځو ، پوزه او غوږونو اومږل ـ دې سره دَ هغې دَ مخ څرمن پسته شوه ـ دَ هغې په مخ کښې تازګی راغله او هغې ته دَ سکون احساس اوشو ـ بیا یې دَ هغې چاؤدې خپې ، لاسونه غوړ او مالش کړل ـ دې سره سره یې ورله دَ لاسونو او دَ خپو دَ ګوتو نه ټکونه اوویستل ـ بیا ورته مسکۍ شوه او وې وئیل " تروري اوس څهٔ کار اوکړم " ـ افروزه بی بی دَ هغې دَ مسکا په جواب کښے مسکۍ شوه او ورته یې اووی " اوس دوه پیالۍ مزیداره غوندې چاے پخه کړه ـ یوه

ځان دَ پاره او بله ما دَ پارهٔ ۔ د افروزې بی بی په دې خبره هغه په خندا شوه او وې وئیل "تروري تاخو په ړومبۍ ورځ زهٔ دَ خپل کور میرمن کړم "۔

افروزه بی بی :۔ تا په ړومبۍ ورځ په خپل خدمت ځان د دې مستحق کړو ۔ اوس دا کور ستا دې او تهٔ به یې چلوې ۔" دَ هغې په دې خبره هغه دومره خوشحاله شوه چې د ډیرې خوشحالۍ نه کړه وړه شوه ، په خندا خندا کښې زمکې له لاړه او بیانیغه شوه ۔ ولې نه ، دا څه عامه خبره نه وه ۔ په دې یوه خبره کښې هغې ته خپل ټول مستقبل بلکه روښانه مستقبل او دَ مستقبل خوشحالۍ ښکاره شوې ۔ هغه خوشحالۍ چې دَ هرې پیغلې ارمان وی ، هغه خوشحالۍ چې دَ هغې دَ مینې جهان وې ، هغه خوشحالۍ چې هره مور دَ خپلې پیغلې لور دَ پاره غواړی ۔ سعیدې چائے هم پخوله او په زړهٔ کښې یې وې چې "خدایه زر ماښام کړې چې زهٔ کور ته لاړه شم او خپلې مور ته دا ټولې خبرې اوکړم "۔ ظاهره خبره ده چې دَ خوشحالۍ دا دومره لوې پیټې هغې چرته برداشت کولې شو ۔ سعیده دَ تازه ګل لیونی لور وه ۔ تازه ګل په اصل کښې لیونے نه وو خو څهٔ خپل مرض لیونے کړے وو ، څهٔ غریبۍ لیونے کړے وو او څهٔ دَ دنیا خلقو لیونے کړے وو۔ هغه دَ میرګی مریض وو او د دې موذی مرض په وجه به کله یو ځاې بے هوشه پروت وو او کله بل ځاې ۔ اخر دا چې لس کاله اګاهو یوې ځوانی مرګې چیچې داسې یوړو چې ځوانه جانه ښځه ترینه هم پاتې شوه او دوه واړه بال بچ هم ترینه پاتې شو ۔ په دغه وړو ماشومانو



www.pukhto.net



کښې یوه دَ هغهٔ دَ دریو کالو لور سعیده وه او بل دَ هغهٔ دَ یو کال ځوے نورګل وو۔ نورګل ایله دَ لسو کالو وو چې دَ کبانو په دوکانونو به ګرځیدو او دَ کبانو سرونه او کولمې به یې غونډولے ۔ هغه به یې کور ته راؤړے او مور به ورله په ټوکیه قیمه کولې ۔ هغهٔ به هغه قیمه دَ چرګانو فارم ته اوړه او دَ فارم په مالک به یې خرڅوله ۔ څهٔ موده یې دغه کاروبار کوو خو چې خوند یې ورنکړو ۔ نو بیا به دَ کلی په ډهیرانونو ګرځیدو او په هغې کښې به یې دَ کاغذونو او پلاسټک ټکړې ، پلاسټکی بوتلې ، دَ شیشې بوتلې ، میخونه ، دَ اوسپنې ټکړې ، زاړهٔ سیرنجونه او زاړهٔ ټیمګی غونډول او هغه به یې دَ کباړ په ټیکیدار خرڅول ۔ په دې باندې دَ هغوی دَ کور هټۍ بټیارۍ چلیده او دَ هغوی په ډهانچو کښې دَ ژوند ساه غړیده ، څهٔ موده پس په ښار کښې دَ کباړ یو ټیکیدار سره یې دَ هغهٔ په دوکان کښې دَ کباړ چهانټی کوله او هغه به دیاړی ورکوله ۔ هفته په هفته به کور ته راتلو او ځان سره به یې کور له سودا راؤړله خو دَ تیرو دووکالو راسې داسې غیب وو چې دَ مړ ژوندی پته یې نه لګیده ۔ دَ هغهٔ دَ غیبیدو نه پس دَ هغه مور او خور دَ خداې اسرې ته کیناستل ۔ چې اونشوه نو بیا بدرۍ دَ کلی دائی توب شروع کړو ۔ چې سحر به دَ کوره اووته نو غرمه به راغله ۔ ځان سره به یې دَ پردو ماشومانو اورنی او زړوکی هم راؤړل او ډوډۍ هم ۔ چې ډوډۍ به یې اوخوړه نو بیا به بدرۍ بل کور ته لاړه او سعیدې به هغه ټول زړوکی او اورنی اووینځل او نمر ته به یې خوارهٔ

کړل ـ ماښام به چې بدرۍ کور ته راتله نو ځان سره به يې دَ نورو ماشومانو اورنې او زړوکي هم راؤړل او ډوډۍ هم ـ دا دَ هغوی کاروبار وو او په دې دَ هغوی دَ معاش دارومدار وو ـ دَ بدرۍ بوغرکې ځوے نورګل ژوندے ژاړ غیب شو خو دَ هغهٔ ورسره دومره غم نه وو لکه څومره چې ورسره په کور کښې دَ پيغلې لور سعيدې وو ـ دَ هغې همځولې جينکۍ لاړې په ډنګ ډهونګ وادهٔ شوې خو دَ هغې چا تپوس هم اونه کړو ـ هغې به چې هغې ته او دَ هغې مستقبل ته کتل نو نيمه نه پاتيکيده ـ هغې ته پته وه چې دَ ځوانې لور، خور ساتنه دَ خطرې نه خالي نه وی ـ چې دَ کوره به اووته نو زړهٔ به په ډکو بانړه وو او دَ يرې ، ترهې چپو سره به تلوراتلو او خکته پورته به کيدو ـ هغې سره دا يره هم ملګرې وه چې دَ جينکو دَ پيغلتوب عمر ډير کم وی ـ چې په ځوانی کښې وادهٔ نشی نو بيا لکه دَ پخې ميوې په بوټی کښې دَ هوا دَ مارغانو ښکار شی يا په زمکه راګزار شی ، څهٔ دَ ميږو او چنجو خوراک شی او څهٔ دَ زمکې ـ هغې ځو ځو کورونو کښې ځو ځو ځله دَ خپلې لور دَ خائست ، قابليت خدمت ، تابعدارۍ او وفادارۍ ذکر اوکړو خو دَ هغې په خبره چا هم غوږ اونه ګره وو ـ دَ خپل خوريې علی اکبر دَ پاره يې خپلی خور ته ځو ځو ځله اوسنډله خو هغې پرې ځان پوهـ نکړو ـ خپل اورارهٔ ګل بادشاه ته يې دَ خپلې یاندې اووې خو هغه مسکے شو او روان شو ـ دَ خپل ترهٔ ځوی طاهر ته يې هم په خندا خندا کښې اورونه اوکړه خو هغه تندې داسې تريو



www.pukhto.net



کړو او داسې اغيړلې روان شو لکه چې ډيره ناانډوله خبره يې ورته کړې وی ـ

پښتنه مور داسې چرې هم نه کوی لکه هغې چې اوکړل ـ اولاد دَ سترګې بڼه وی ـ نه سترګه په بڼه درنيږی او نه مور په خپل اولاد تنګيږی هغه په خپله لور تنګه نه وه خو هغې سره دَ هغې دَ مستقبل يره وه ـ دغه ټولو ته هغې دَ خپلې ياندې ځکه اووې چې ټول دَ يوتالی او يونغری خلق وو ـ هغې ته پته وه چې خداې مهٔ که که صبا له څهٔ توره ناتوره اوشی نو هم دغه ټول خپلوان به هغې له په خوله کښې سپقونه منډی او دَ هغې دَ لور وژلو پسې به نچه بريت او سرې سترګې ګرځی ـ هغې ته دا هم معلومه وه چې که دَ لوړې نه مرې خو تربوران درياندې زړهٔ نه سيزی بلکه التهٔ درپورې خندا کوی خو که بل چا درپوری خندا اوکړه نو بيا دې په عزت ځان وژنی ـ

چې د دغه ټولو نه نااميده شوه نو بيا يې سعيدې له دَ افروزی بی بی کور ته دَ تلوراتلو اجازت ورکړو ـ

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★

## دويم باب

فرحان دَ شير خان کلي په مچهيرانو او مانګيانو کښې شامل شوې وو۔ ښۀ مزدوري يې کوله ډېل شفتهونه يې کول ، ښۀ ډيرې پيسې يې ګټلې خو دَ هغۀ زړۀ نه په پيسه خوشحاله وو او نه په دې پيشه ۔ دَ هغۀ دَ ژوند مقصد هر څۀ چې وو دا هغۀ ته نه وو معلوم خو بهرحال پيسه ګټل ، خيټه ډکول او ګمنام وخت تيرول دَ هغۀ دَ ژوند مقصد نه وو۔ هغه به ټوله ورځ مزدوري کوله ، ښځې ، سړی او واړۀ زاړۀ به يې کشتې کښې کينول او په هغوی به يې سيلونه کول خو خپل زړه يې نه خوشحاليدو په ګڼو خلقو او آباده ابادۍ کښې هغۀ ته ځان يوائې او په خوشې بيديا کښې ښکاريدو ۔ دَ هغه دَ ژوند سرور دَ هغۀ نه مرور ښکاريدو ۔ دَ وخت تيريدو سره هغه په خپلو سوچونو ، فکرونو او خيالونو کښې داسې روک شو او دومره لرې به پکښې لاړو چې کله کله به دَ خپل وجود دَ موجودګۍ نه هم غافل شو ۔ سعيده به دَ معمول مطابق هره ورځ سحر وختې دَ هغوی کور ته راتله او ماښام په خړه به خپل کور ته تله ۔ دَ راتلو سره به يې دواړه کوټې ، برنډه ، چارګې بيهټک او ټول غولې جهارو کړو ۔ دَ هغوی دَ خوراک څښاک بيګانې او سحرنی لوبنی به يې يو ځاې ته راغونډ کړل ۔ هغه به يې اووينځل او چې صفا به شو نو په زوړندی کښې به يې کيښودل ۔ دَ هغوی خيرنې جامې به يې اووينځلې او وينځلې شوې اوچې جامې به يې استرې کړې ۔ دَ افروزې بی بی او زنده باد کاکا جامې به يې په



www.pukhto.net



هينګر کښې دَ هغوی په کوټه کښې کيښودې او دَ فرحان بابو (فرحان) جامې به يې دَ هغۀ په کوټه کښې په هينګر کښې آويزانده کړې ۔ بيا به يې دَ هغۀ څپلۍ دَ ختهو ، دوړو نه صفا کړې ، هغه به يې پالش کړې او دَ هغۀ دَ کټ لنګې سره به يې کيښودې ۔ هغه نه سترې کيده ، نه کيناسته بلکه کار پسې به ګرځيده ، ځکه چې دَ هغې په زړۀ کښې دَ چا دَ مينې شمع بليده ۔ دَ افروزې بی بی نه هغې واقعی بی بی جوړه کړې وه ۔ چې هغه به څۀ کار ته نزدې کيده او هغې به اوليده نو زر به يې ورمنده کړه ، هغه به يې دَ لاس نه اونيوه ، کټ له به يې راوسته او ورته به يې اووې "ترورې تۀ به کار نه کوې ۔ دې کټ کښې ناسته اوسه چې څۀ کار وی نو ماته يې په ګوته ښايه ، زۀ به يې کوم" ۔ چې دَ کټوۍ دَ پخلي وخت به راغی نو هغې به سبزی پريکړه ، غوړی ، مالړه ، مرچکې ، مساله به يې ورته کيښوده ، کټوۍ به يې ورته په نغرۍ کيښوده او ورته به يې اووې ، "راشه ترورې دا اوس په خپله پخه کړه ۔ هسې نه چې زمانه پکښې مالړه ، مرچکې کم ، زيات شي او فرحان بابو راته غصه شی ۔ دَ فرحان بابو په نوم به هغه هم مسکۍ شوه او افروزه بی بی ۔ چې دَ نمانځه وخت به شو نو ډک بالټې اوبۀ به يې ورته واش روم کښې کيښودې او هغې ته به يې اووې " څه ورشه ترورې اوبه مِ درته ايښې دی ، دَ نمانځه تيارې اوکړه " چې افروزه بی بی به واش روم ته لاړه نو هغه به ورته توليه په لاس اودريده او دَ هغې دَ راوتو انتظار به يې کوو ۔ چې هغه



Pukhto.Net

بـه دَ واش روم نـه را اووتـه نـو هغې به ورله دَ ډېرې مينې نه لکه دَ وړو مـخ لاس پـه توليه اوچ کړل ، مصله به يې ورته کېښوده ، کيږې به يې ورته سمې کيښودې او توليه به يې نمر ته خوره کړه ۔ داسې جېنۍ ته بـه هغې دعا ولې نه کوله او په هغې به يې خپله پيرزونه ولې نه کوله چې پـه خپـل کـور کښـې يـې هـغـې له دومره عزت ورکړې وو چې دَ هغې په خيال وګمان کښې هم نه وو۔

چې فـرحـان بـه کـور تـه راغـی او څۀ غوټه به ورسره وه نو هغې به زر ورمـنـډه کـړه هـغـۀ ته به يې سلام اوکړو ، غوټه به يې دَ هغۀ دَ لاس نه واخستـه افـروزې بـی بـی لـه به يې ورکړه او هغۀ ته به يې دَ چاے اوبو ست اوکـړو ۔ هـغـې به دَ جواب په غرض دَ هغۀ خولې ته داسې کتل لـکه يوه وينځه چې مالک ته ګوری ۔ دَ فرحان نه به تپوس هغې کړې وو او هـغۀ به فرمائش مور ته کوو ۔ هرڅۀ به هغې کول او کوټې ته به ورله مور اوړل ۔

ويـلـې کيږی چې زړه ته يوه لاره دَ خولې نه تلې ده ۔ دا مقوله څۀ حده پـوری صـحـی هم ده ځکه چې ډيرو پوهانو د دې تائيد کړې دې خو دا مـعـلـومـه نه ده چې دَ فرحان زړۀ ته دَ خولې لاره ولې بنده وه ۔ يو ځل دَ بهـر نـه سـتـړی سـتـومـانـه کـورته راغـی ۔ دَ راتلو سره يې مورته اووې "مـورې يـوه پيـالـۍ چاے کوټې ته راوړه "۔ چې هغه کوټې ته لاړو نو سعـيـدې ورلـه زر زر چائے تيـاره کـړه او افروزې بی بی له يې ورکړه ۔ هغې ورله چاے يوړه او تر هغې ورته ولاړه وه چې هغۀ چائے اوڅکله ۔



www.pukhto.net



هـغـۀ چې چاے اوڅـکـلـه نـو مور ته يې په مسکا اوکتل او ورته يې اووې "شاباش مورې ، نن خو دې په چاے باندې کمال کړې دې ۔ هغه مسـکـی شـوه او ورته يې اووې ، " ځويه دا مانه وه پخ کړې ، سعيدې پخ کړې وه "۔ دې سره افروزه بی بی مسکی شوه ۔

فـرحـان :۔ اوه ، دا هـغـې پـخ کړې وه ، دا ځکه داسې پيکه سيکه او بے خـونـده بے رنـګه وه " دې سره افروزه بی بی يوځل بيا مسکی شوه ۔ پيالی يې ځان سره واخسته او بهر اووته ۔

دَ سعـيـدې خـوراک څـڅـاک ، الـنه پالـنه او استوګنه دَ افروزې بی بی په کـور وه صـرف شپـې تيرولو لـه به خپل کور ته تله ۔ دواړه به ټوله ورځ لـکه دَ مور او لور يا خواښې اينګور ناستې وې او دَ دنيا خبرې به يې کـولـې ۔ سعـيـدې به په هره خبره کښې هغې ته کتل چې آيا دَ هغې څـۀ خبـره خـو دَ هـغـې دَ مـزاج يـا دَ ادابـو خـلاف نه ده ؟ په خبرو خبرو کښـی افـروزی بـی بـی ته پوره اندازه اولګيده چې هغه فرحان سره بے کـچـه مـيـنـه کـوی ۔ هغې ته دا هم معلومه شوه چې هغه به يوه مينه ناکه او وفاداره ښځه او يوه مثالی اينګور ثابته شی ځکه چې په هغې دَ غـريبـی تـړسـکې تيـرې شـوې وې او دَ دنيـا دَ بے رخی سپيړې يې خـوړلې وې ۔ هغه دَ هر چانه مايوسه شوې وه او دَ حال په آئينه کښې يـې پـه رڼا ورځ دَ مسـتـقـبـل تيرې ليدلې وې هغې په خپل زړۀ کښې فـرحان خپـل سرتاج خوښ کړې او تسليم کړې وو ۔ دَ هغۀ بے اعتنائی يـا دَ هـغـۀ رټـلې خبرې هغې چرې هم زړۀ ته نه اچولې بلکه دَ هغۀ په

غصه به مسکې شوه ـ
يو ځل افروزې بی بی ځۀ کار پسې دَ هغۀ کوټې ته ليږلې وه ـ هغۀ چې اوليده نو دَ کوټې نه يې بوټه اوويستله او ورته يې اووې " زما کوټې ته بيا رانشې "بلـه ورځ هغې چې دَ هغۀ دَ لاس نه سودا اخستـله نو هغۀ ورته اووې ، " ماته به ډيره نيغه نيغه نه کيږې "ـ بل ځل دَ ځۀ کار کولو دَ پاره دَ هغۀ مخې ته تيريده نو هغۀ ورته اووې، "زما مخې له به نۀ راځې "ـ افروزې بی بی دَ هغوی چيږ چاړته غلې غلـې کتـل ، ځان سره بـه يې غلې غلې خاندل او هغوی به يې دَ بڼو لانـدې ساتـل ـ چې هغـه بـه ورتـه سختـه خبره اوکړه نو هغې به دَ سعيدې رد عمل ته کتل خو هغه به دَ هغۀ په غصه مسکې شوه او دَ افروزې بی بی خوا له به ورغله ـ چې ماښام به کورته شپې دَ پاره تله نو افروزې بی بی تـه به يې روستو روستو کتل ـ هغې ته دَ هغې دَ تلو احساس وو او هغې غوښتل چې که چرې دَ هغې شپه هم دَ هغې په کور شی نو هله به دَ هغې کور په کور شی ـ دې دَ پاره هغې فرحان په اعتماد کښې اخستل غوښتل خو خوله يې ورته نه جوړيده ـ اخر دا چې يـوه ورځ يې سترګی کلکې کړې او هغه ته يې اووې ، " ځويه تـه هم دَ خيره زلمې يې اوسعيده هم پيغله ده تهوله ورځ غريبه مونږ له کار اوکړی او شپې دَ پاره خپل کورته ځی ـ زۀ غواړم چې هغه بيخی زمونږ دَ کور شی او دلته پاتې کيږی ـ
فرحان :ـ دا خو ډيره ښۀ خبره ده مورې ـ خو دَ مور نه يې تپوس اوکړه



www.pukhto.net



چې هغه ځۀ وائی ؟
افروزه بی بی :ـ هغـه غـريبـه ځۀ وائـی ـ هغـه خو زمونږ خولې ته ګوری چې مونږ ځۀ غواړو هغسې به کوی ـ ستا ځۀ خيال دی ؟
فرحان :ـ ديکښې به زۀ څه اوويم مورې ـ دَ پلار نه مِ تپوس اوکړه چې هغه څه وائی ؟ که هغه اجازت درکوی نو زما پرې اعتراض نيشتـه ـ
افروزه بی بی :ـ مـا دې دَ پـلار نه تپوس کړې دې هغه اجازت راکړې دې خو تاته خبره بنده ده ـ
فـرحان :ـ مورې ماته خبره ولې بنده وې ـ ستاسو کور دې چې څنګه مـو خـوښخه وی هغسې کوی ـ ستاسو په کوټه کښې به يو ګوټ ته پرته وی ـ
افروزه بی بی (مسکـې شی ) ځـويه تۀ زما په خبره پوهـ نشوې که هسې دې ځان ناجانه کړو ؟
فرحان :ـ ستا په خبرې پوهـ شوم مورې خو دغه دَ شپې مسله ده ورته کنه ـ په دې کښې نور ځۀ دی ؟
افروزه بی بی :ـ نه ځويه ، مونږ سره په کوټه کښې ځای نيشته ـ زۀ ويم چې ستا کوټه ورته سمه کړم او دلته يې راولم ـ
فـرحان :ـ نـه مـورې نـه ـ داسې مۀ کوه ـ هغه پردی جينی ده ، هم تا سره هلته ښۀ ده ـ
افروزه بی بی (مسکـې شی ) ځـويــه هم داسې پردی خپليږی او دَ ښځې خاوند رشته ترينه جوړيږی ـ



Pukhto.Net

فرحان :- (په حيرانتيا ) دَ ښځې او خاوند رشته ؟ دَ ښځې خاوند خبره پکښې څنګه راغله -

افروزه بي بي :- راغلې نه ده خو زه غواړم چې راشي - زۀ غواړم چې په غړيدلو سترګو تاسو دواړه دَ ښځې خاوند په شکل کښې اوينم“-

فرحان ځۀ ويل غواړي خو دَ هغۀ په موبائيل رنګ راشي - دَ هغۀ خبره دَ هغۀ په خوله پاتې شي - موبائيل او- کے کړي او دَ هيلو سره بهر اوځي -

## دويمه برخه

په فضا دَ زيړ مازيګر دَ طلائي پلوشو جال خور شوې وو- دَ شين اسمان په وسيع سمندر کښې دَ وريځې سپينې ، سرې ، زيړې او الواني ټوپنې دَ هوا په ناليدونکی سنګاوڼ ديکه کيدې ، چليدی او تلې راتلې - ډلې ډلې مارغان په مستۍ او خوشحالۍ راتلل او دَ اونو په شين بڼ کښې کيناستل - په هوا کښې ډلې ډلې توتاکرکی ګرځيدل ، سانتۍ په سانتۍ اوختل را اوختل ، کله کله به په سيند کښې غوپه کيدل او بيا به بره ختل - تور کچکی دَ خوراک په تلاش کښې دَ سيند په غاړو په منډه منډه ګرځيدل - بغان او ډينګان په اوږدو خپو او مرو دَ چيندخو او وړو کبانو په لټون کښې دَ سيند په دواړو غاړو ، شاړو ، ټاپوانو او جبئين ځايونو کښې انفرادی او اجتماعی طور تر لرې لرې خوارۀ شوی وو - دَ کلی او دَ يو ځاې بل ځاې ځينے هلکانو په سيند کښې لامبل او ځينو ځاې په ځاې دَ



www.pukhto.net



مختلف رنګونو او قسمونو باد يوې اولوځولے او خيژولے هغه به يې يو بل سره مقابله کښې بره بره زغلولے او جنګولے - دَ سيند يخې اوبه په موجونو ، ټوپونو ، په مستۍ او ګډا روانې وې - ډکې ډکې کشتۍ لکه دَ رنګينو هيلو دَ سيند په سپينه سينه خو پدې اوخکته پورته تلې - دَ نمر پلوشو په خپلو نازکو ګوتو دَ اوبو چپې تښتولې- هغوی به خنديدلې خنديدلې په يو بل ورختلې او په مستۍ مستۍ به بهيدلې -

موسم انتهائی پُرکيفه ، خوشګواره ، دلفريبه او رومانی وو خو فرحان د دې هرځۀ نه بے نيازه په خپله کشتۍ کښې په دروند خوب اودۀ وو لکه چې دَ څو څو شپو شوګيره وی - فرحان ته څو څو کړمې پيښې وې او په څو څو آزمائشونو کښې ګير شوے وو- يو خوا هغه نه په خپله پيشه خوشحاله وو او نه دَ سعيدې په رشته - بل خوا هغۀ ته خپل مستقبل په تيرو کښې ښکاريدو - هغه نه غوښتل چې هغه دَ ټول عمر دَ پاره په دې پيشه او دَ سعيدې په رشته کښې اوتړلې شی - هغه نه غوښتل چې دَ هغۀ بال بچ دې هم دَ هغۀ غوندې مچهيران او ماهګيان شی - سعيده اګر چۀ ښۀ ايمانداره ، تابعداره او خدمتی جينۍ وه خو دَ هغۀ آئيډيل نه وه - دَ هغۀ په خيال کښې دَ کوهِ قاف ښاپيری ګرځيدې او په دغه ښاپيرو کښې هغۀ خپله خوښخه ناخوښخه کوله خو هغۀ نه مورته انکار کولې شو او نه يې ورسره اقرارکولې شو- هغۀ نه مورخفه کولې شوه او نه يې خپل مستقبل

تباه کولې شو۔ دَ ټولو نه لويه مسله چې کومې دَ هغۀ خوب حرام کړې وو او ساعت په ساعت به يې دَ هغۀ احساسات او جذبات سکوندل هغه هاغه کالونه او پيغامونه وو چې دَ سکول ، کالج او دَ يونيورستۍ دَ وخت نه به هغه ته کيدل ۔ هغۀ به دَ موبائيل په ذريعه جوابونه هم ورکول او ملاقاتونه به يې ورسره هم کول ۔ په دغه ملاقاتونو کښې به خوږې پستې هم ويلې کيدی او سپورې ستغې او ترخې خبرې به هم راتلې خو اوس هغه ټولې خبرې په دردېدلی فريادونو کښې بدلې شوې وې ، په هغه فرياد او زارۍ کښې بدلې شوې وې چې دَ هغې اوريدل دَ هغه دَ برداشت نه بهر وې ۔دَ دغه ژړا فرياد په بدل کښې به دَ هغۀ اواز هم ډډ شو او سترګې به يې هم ډکې شوې ۔ کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې هغه مور ته دغه ټول رازونه او دَ دغه پټ ملاقاتونو په باره کښې هرڅه اووائی ۔ دې خيال سره به دَ هغۀ بدن اوړچيدو او دَ يرې ، ترهې برقی سړيکې به يې دَ وجود نه پوری راپورې اووتې ۔ هغۀ نه غوښتل چې دَ هغۀ دَ خوږې مور زړۀ ته خفګان اورسی يا دَ هغې په زړۀ کښې څۀ شکوک وشبهات پيدا شی نو په دې وجه به هغه چپ پاتی شو او لا تراوسه چپ دې۔ هغۀ ته پته وه چې دَ هغۀ په يو تپوس دَ هغوی په کور کښې لوې طوفان راتلې شی هغه طوفان چې دَ هغې تباه کاری او بربادی يقينی وه ، نو په دې وجه به هغه چپ وو او لا تراوسه چپ دې ۔ دَ ژوند په سمندر کښې دَ هغۀ يوه خپه په يوه کشتۍ پرته وه او بله خپه يې په



www.pukhto.net



بلې کشتۍ ۔ دغه دواړه دَ بيلو بيلو کسانو وې او په بيل بيل اړخ روانې وې۔ دغه دواړه دَ هغۀ دَ فيصلې په انتظار کښې يو ځاې او جختې جختې ولاړې وې او دَ دواړو نه پرله پسې دا اوازونه راتلل ، "ته زما يې ، ماله راشه" ۔ هغۀ ته په خپل انتخاب کښې دومره کړی پيښې وې چې نه يې انکار کولې شو او نه اقرار ۔ هغه لا په درونډ خوب اودۀ وو چې په ديکښې دَ يو پرائيويټ T.V چينل يو ګاډې راغۍ او دَ سړک په غاړه اودريدو ۔ يو ښکلی خائسته ځوان او يوه خائسته جينۍ ترينه کوزه شوه او دواړه ګاډی سره اودريدل ۔ جينۍ دَ T.V چينل رپورټره او کومنټيټره (Commentator) وه او هلک ورسره کيمره مين وو ۔ هغوی په شيرخان کلی يو Documentary film جوړول غوښتل ۔ هغوی خلقو ته يو نظر اوکتل او بيا يې خپلو کښې څۀ اووې ۔ دې سره هلک دَ ګاډی نه کيمره راواخسته ، په اوږه يې اولګوله او جينۍ يو وړوکې ريکارډنګ مشين او مائيک راواخستو۔په يو لاس کښې يې ريکارډنګ مشين اونيوو او په بل کښې يې مائيک۔ هلک تصوير کشی کوله او جينۍ ورسره کمنټری هم کوله ، ريکارډنګ يې هم کوو او دَ خلقو نه يې انټرويوز هم اخستلې ۔ هغوی دَ خلقو ، دَ اونو دَ شين بڼ ، دَ ماهی فروشو ، دَ سيلانيانو ، مزدورانو ، مانګيانو او دوکاندارانو تصوير کشۍ هم اوکړې او دَ هغوی انټرويوز يې هم واخستې ۔ دې نه پس هغوی دَ سيند نه دَ کلی او دَ چاپيريال منظر کشی کول غوښتل ۔ دې دَ پاره

هغوی دَ یوی تشی کشتۍ تکل شروع کړو۔ دَ ډیر کوشش نه پس هغوی یوه کشتۍ اولیده چې دَ سیند په غاړه ولاړه وه او یو موړې سره تړلې شوې وه ۔ مخکښې دَ هغوی دا خیال وو چې کشتۍ کښې څوک نیشته خو چې نزدې ورغلل نو یو زلمې پکښې اوده پروت وو او په مخ یې څادر اچولې وو ۔ هغوی چې زلمی ته اوکتل نو مسکی شو۔ هلک دَ هغهٔ تصویر کشی کوله او جینۍ په هغهٔ کمنټری کوله ۔ هغې اووې "ناظرین وسامعین کرام ! ویلې کیږی چې خوب یو داسې څیز دې چې څوک هم دَ دهٔ مقابله نشی کولې ۔ چې کله دا راشی نو دَ راتلو سره لوې لوې ستې پتې سترګې اوغورځوی ۔ که ستاسو اعتبار نشی نو دې زلمی ته اوګورۍ چې دَ ژوند په دې هنګامو او رومانی موسم کښې اوده پروت دې "۔ هغې لا کمنټری کوله چې هغه ویښ شو ، دَ مخ نه یې څادر لرې کړو او کیناستو ۔ په خوبولو سترګو یې په نیم کښو کښې هغوی ته اوکتل او مسکے شو ۔ جینۍ چې هغه ته اوکتل نو په خندا شوه ۔ مائیک یې دَ هغهٔ خولې ته اونیوو او تپوس یې ترینه اوکړو " ستا څهٔ نوم دې " ؟

فرحان :۔ زما نوم فرحان دې ۔

جینۍ :۔ تهٔ څهٔ کاروبار کوی ؟

فرحان :۔ زهٔ ماهګیر یم او دا کشتۍ چلوم ۔

جینۍ :۔ ته په یوه ورځ کښې څومره روپۍ ګټې ؟

فرحان :۔ ښه ډیرې ۔



www.pukhto.net



جینۍ :۔ تهٔ په دې پیشه خوشحاله یې ؟

فرحان :۔ نه چرې هم نه ۔

جینۍ :۔ په دې پیشه ولې خوشحاله نه یې ؟

فرحان :۔ دَ ولې تپوس مه کوه بی بی ۔ ډیرې خبرې دی ، زهٔ به تاته کومه کومه خبره کومه ، خو که چرې دواړه ځان له کیناستو نو بیا به درته ټولې خبرې اوکړم ۔ دَ هغهٔ په دې ساده او سپینه خبره هغه مسکۍ شوه او کیمره مین ته یې اوکتل ، دواړو اوخاندل ، په خندا خندا کښې هغې تپوس اوکړو ، "ته په مونږ دَ سیند سیل کولې شې؟

فرحان :۔ ولې نه بی بی تابعدار "۔ دې سره هغهٔ دَ کشتۍ نه اوبو ته ټوپ کړو ، په مخ یې یو څو لپې اوبهٔ واچولې او په څادر یې اوچ کړو۔ بیا یې کشتۍ دَ موړی نه پرانسته او مخه یې ورله سیند ته کړه ۔ دې نه پس به کشتۍ کښې کیناستو ، جنریټرې سټارټ کړو او هغوی ته یې اووې "کشتۍ کښې کینۍ صیبانو "۔ چې کشتۍ روانه شوه نو دَ هغوی دَ خبرو نه معلومه شوه چې دَ هلک نوم زیاد او دَ جینۍ نوم فرزانه دے ۔ چې کشتۍ دَ سیند مینځ ته شوه نو زیاد په اوږه باندی کیمره سیټ کړه ۔ هغه منظر کشی کوله او فرزانې ورسره رننګ کمنټری کوله ۔ زیاد په اوبو کښې دَ نمر عکس ته کیمره سیټ کړه او فرزانې اووې ، " ناظرین وسامعینِ کرام ! مونږ دَ شیرخان کلی په سیند کښې په یوه کشتۍ کښې ناست یو او دَ نمر ، دَ نمر دَ پلوشو او په روانو اوبو کښې دَ دغه منظر عکس بندی کوو۔ زیړ مازیګر دے ،

موسم خوشګوار ، سازګار او روماني دے ۔ دَ نمر پلوشې دَ سیند په روانو اوبو پرېوځي ۔ په دغه پلوشو کښې مختلف رنګونه ښکاري۔ په کشتو خائسته خائسته جهنډې لګیدلې دي ۔ دَ کشتو دَ زغل مقابلې کیږي او دَ یو بل نه دَ مخکښې کیدو مقابلې روانې دي ۔ کومه کشتۍ چې مخکښې شي نو نور ورپسې " الا " اوباسي او دَ خوشحالۍ چغې وهي ۔ناظرین ! هغه ده یوه کشتۍ دَ نورو کشتو نه مخکښې شوه ۔ په هغې کښې سوارهٔ کسان خندیږي ، ګډیږي دَ وکټرۍ " V " ګوتې نیسي او مخکښې زغلي ۔ یو خوا ډلې ډلې مارغان پاس په فضا کښې خورې وزرې ګرځي بل خوا رنګارنګ باد یوې په فضا کښې یوه خوش رنګه نظاره پیش کوي ....ناظرین ! دَ سیند په غاړو دَ سپینو بغانو او ډینګانو سیلونه ګرځي ....هاغه دې یو توتاکهرکې ډیر په تیزۍ سره لاندې راروان دي ....اوه په سیند کښې غوپه شو او هغه دې روان دي ، بره خیژي او نورو ملګرو سره یو ځائیکیږي ۔ ناظرین یو شعر دې چې،

ے زهٔ دَ جنت قائله ځکه یمه    چې نظارې یې په دنیا وینمه

دا ښکلې نظارې دَ جنت دَ نظارو یوه نقشه پیش کوي نو ځکه پرې دَ جنت ګمان کیږي ۔ دې سره هغه تبصره ختمه کړي او دواړه خپلو کښې خبرې کوي ۔ په دغه خبرو خبرو کښې دَ هغوي کشتۍ په سیند کښې روانه وه ۔ سرکښې هوا دَ فرزانې زلفو سره لوبې کولې او دَ هغې دَ مینې خزانې یې سکونډلې او تښنولې ۔په دغه روانه روانه



www.pukhto.net



کښې هغوی ډیر لرې لاړل ۔ فرحان فرزانې ته اوکتل او تپوس یې ترینه اوکړو ، بی بی مونږ ډیر لرې راغلو ، تاسو به کوم ځای پورې ځې"۔

زیاد:۔ مونږ موسم او دا نظارې انجوائې کوو۔ مونږ د دې خلقو نه لرې بوځه ، چرته چې هیڅوک نه وي او مونږ دواړه په ازاده فضا کښې اوګرځو ۔ داسې ځای درته معلوم دې ؟

فرحان :۔ هاؤ صیب ولې نه ، ( هغه یو ټاپو ته اشاره کوي ) " صیب هغه ټاپو ډیرخائسته منظر پیش کوي "۔ هغوی چې هغه ټاپو ته اوګوری نو فرزانه په جذباتي انداز وائی " واؤ هری اپ ، شابه هلته مو اورسوه "۔

چې هلته اورسی نو هغوی دَ کشتۍ نه کوز شی او ټاپو ته اوخیژی، هغوی ځان سره کیمره هم کوزه کړې او ریکارډنګ مشین هم ۔ دَ هغوی دَ کوزیدو نه پس فرحان فرزانې ته وائی ، " بی بی ماتهٔ څهٔ حکم دې ؟ زهٔ لاړ شم او که تاسو ته انتظار اوکړم "۔ هغهٔ له دَ فرزانې په ځای زیاد جواب ورکوی اووائی "تهٔ لاړ شه او مونږ له دوخوراکه شیرماهی او دوه بوتلې راؤړه "۔

فرحان :۔ ډیره ښه ده صیب ، دې سره هغه ډیر په تیزۍ سره کشتۍ روانه کړي ۔ زیاد هغهٔ ته کیمره سیټ کړي او دَ روستو نه دَ هغهٔ تصویر کشی کوي ۔ دَ فرحان دَ تلو نه پس هغوی دواړه په ټاپو کښې منډې وهي ۔ چې فرزانه منډه کړي نو زیاد دَ هغې دَ نیولو کوشش

کوی او چې زیاد منډه کړی نو فرزانه هغهٔ پسې منډې وهی ۔ زیاد او فرزانه یوه مینه ناکه جوړه اویک جان ودوقالب وو۔ دَ هغوی په زړونو کښې دَ یو بل دَ پاره دومره مینه وه چې لکه دَ سیوری به یوبل پسې ګرځیدل ۔ دواړه به دفتر ته په یو وخت یوځاې راتلل او دواړه به په یو وخت یوځاې تلل ۔ دواړه به یو میز ته کیناستل او په یو آئتم به یې کار کوو۔ هغوی دواړه په عمرونو ، فیشن او مینه محبت کښې یوه مثالی جوړه وه ۔ هغوی به هله دفتری کار کوو چې مخکښې به یې دَ نوې سحر دَ تحفو تبادله اوکړه ۔ هغوی دَ ډیرې مودې نه دَ یو بل په مینه اورک لیونی وو۔ هغوی دَ یو داسې ځاې په لټون کښې وو چرته چې مکمل سکون او خاموشی وی او دَ هغوی په مینه کښې څوک حائل نشی ۔ چې هغوی یو بل ته دَ خپلې مینې اظهار اوکړی ۔ دَ هجر دَ لمحاتو دَ ستمګرۍ شکایت اوکړی ، یو بل ته دَ زړونو پټې خبرې اووائی او یو بل سره از سرِ نو عهد وپیمان اوکړی ۔ دَ مستقبل په منصوبو غور اوکړی ، دَ هغې دَ تکمیل دَ پاره هلې ځلې اوکړی او دَ ټولو نه لویه خبره دا چې دَ مینې جواب په مینه او دَ مینې بدل په مینه اوکړی ۔ هغوی دَ ډیری مودې نه دَ یو ډاکومنټری فلم جوړولو په بهانه دَ داسې ځاې او د داسی ماحول په تلاش کښې وو۔

هغوی چې په منډو تړرو او پټ پټاؤنی سترې شو نو دَ تاپو په واخو باندی سملاستل ۔ دواړه ډیره شیبه خاموش وو او خپلو خپلو خیالونو کښې ډیر لرې تلی وو۔ فرزانې ناګهانه سر اوچت کړو او هغه



www.pukhto.net

ګړګوزې (پښتو ناول) پرويز شيخ

ته یې اووې ”زیاد څهٔ سوچ کوې “؟ هغه مسکے شو او وې وئیل ، ”ما هم ستا په باره کښې سوچ کوو“۔

فرزانه (مسکۍ شی ) زما په باره کښې دې څهٔ سوچ کوو“؟

زیاد :۔ ما دا سوچ کوو چې مونږ به هنی مون دلته او هم په دې سپاټ کښې ، کوو ۔ دا هلک ، فرحان به دَ یو څو ورځو دَ پاره هائر کړو ۔ دې به مونږ دَ پاره دلته خیمه اولګوی ، دَ ضرورت سامان به پکښې کیږدی او که نور څهٔ ضرورت پیښیږی نو دې به یې راوړی ۔ داسې دې خوښخه نه ده ؟

فرزانه (خاندی ) اوه ، هنی مون ؟ ښهٔ نو جناب عالی په خپل تصور کښې دومره لرې لاړو چې وادهٔ هم اوشو او خبره لاړه هنی مون له؟

زیاد:۔ دا خو زما خیال وو ، ستا څهٔ خیال دې ؟ آیا دا سپاټ دَ هنی مون دَ پاره ښهٔ نه دې ؟

فرزانه :۔ زیاد صاحب ، دَ واده او هنی مون نه مخکښې ډیر رکاوټونه دی ۔

زیاد:۔ نه ، نه ، *کوئی بہانہ نہیں چلے گا*۔ ماته به دَ مایوسۍ خبرې چرې هم نه کوې ۔

فرزانه :۔ زیاد ، دَ یو څو ورځو نه زهٔ داسی محسوسوم لکه چې خداې مهٔ که ستا او زما ترمینځه دَ یو خلیج پیدا کیدو امکان دې ۔

زیاد:۔ دا ستا وهم دې ۔ دَ دنیا یو طاقت ، هم تا زمانه نشی جدا کولې۔

فرزانه :۔ Are you sure



Pukhto.Net

زیاد:۔ Quite sure ، دې سره هغوی یو بل ته اوګوری او دواړه په خندا شی ۔ هغوی لا خاندل چې په دیکښې یوه اواره باد یوه پاس په هوا کښې دَ هغوی طرف ته رارవانه وه ۔ هغوی چې باد یوې ته اوګوری نو زیاد کیمرې پسې منډه کړی او دَ هغې عکس بندی کوی۔ فرزانه په اواره بادیوه باندې رننګ کمنټری هم کوی او هغې پسې منډی هم وهی ۔ بادیوه دَ هغې خوا له راغله او چې هغې دَ هغې نیولو کوشش کوو نو دَ هوا دَ چپې په وجه یې دَ سیند غاړې ته مخه اوکړه ۔ هغه ورسره دَ سیند په جی جی روانه وه خو چی کله یې ورته لاس اچوو او هغې پسې یې ورټوپ کړو نو دَ ټوپ سره دَ کمرنه سیند ته پریوته ۔ هغې لاس خپې وهل او دَ اوبو نه یې دَ وتلو کوشش کوو خو دَ اوبو یوه لیونۍ چپه پری راغله او ځان سره یې په مخه کړه۔ هغې زیاد ته دَ مدد دَ پاره چغې وهلې خو دَ هغې دَ مدد په ځای هغه دَ هغی په تصویر کشۍ کښې مصروف وو ۔ اوبو هغه یوې خطرناکی غولۍ ته اورسوله ۔ هغه په غولۍ کښې ګیره شوه او لکه دَ ګنګخړی پکښې تاویده ۔ هغې زیاد ته چغې وهلې ، زیاده اوبه مې ډوبوی ، مابچ کړه زیاده غرقیږم ، خدای دَ پاره راشه زیاده ،، های . . . . های " زیاد دَ هغې چغې او ژړا فریاد اوریدو خو په خپله اوبو ته کوزیدې نشو ځکه چې هغهٔ له لامبو نه ورتله او که هغهٔ داسې کړې وې نو دَ هغهٔ مرګ یقینی وو ۔ او فی الحال هغه دَ مرګ په موډ کښې نه وو ځکه چې دَ هغهٔ په زړهٔ کښې ډیر ارمانونه وو۔ په دې وجه هغهٔ دَ



www.pukhto.net



هغې هیڅ مدد نشو کولې البته دَ هغهٔ کوشش دا وو چې دَ هغې دَ زیات نه زیات تصویرونه اوباسی دَ هغې دَ مرګ نه پس هغه تصویرونه خپلو یارانو ،دوستانو ته ښائی او دَ هغې په افسوسناک مرګ باندې دَ خپل خفګان اظهار اوکړی ۔

هلته فرحان ډیر په تیزۍ سره دَ هغوی طرف ته راروان وو او چی کله یې فرزانه په سیند کښې په غورځیدو اولیده نو بیا خو دومره په سپیډ کښې ور روان وو چې دَ هغهٔ کشتۍ هوا سره خبرې کولې او دَ اوبو روستۍ او مخکښې دَ هارې په هغهٔ پریوتې ۔ کله چې دَ هغې خوا له اورسیدو او هغې ته یې اوکتل نو هغه په غولۍ کښې انختې وه په اوبو کښې غوپه کیدوه ، ډوبیده او بیا ښکاره کیده ۔ هغهٔ کشتۍ غاړې ته کړه او هغې پسې یې ورټوپ کړو خو چې هغه ورته لاس اچوو نو هغه ډوبه شوه او لاندی لاړه ۔ هغه هم ورپسې غوپه شو او لاس خپې یې ورپسې اوبو کښې وهل ۔ دَ ډیر کوشش او لټون نه پس دَ هغې لاس هغهٔ له په ګوتو ورغی ۔ هغهٔ په ډوبه ساه په اوبو کښې دننه دننه هغه ځان ته راخکله او دَ غولۍ نه یې بهر کړه چې دَ غولۍ دَ ګرفت نه دواړه خلاص شو او دَ روانو اوبو چپو ته مخامخ شو نو اوبو په مخه کړل ۔ فرحان په یو لاس هغه نیولې وه او په بل لاس یې لامبلو وهله ۔ کله کله به دَ اوبو چپو هغه لاندې کړه او فرحان به پرې دَ پاسه شو او کله به هغه لاندې شو او هغه به پرې دَ پاسه شوه ۔ یو وخت داسې راغی چې یوې مستې چپې دَ هغې لاس دَ فرحان دَ

لاس نه خلاص کړو او په خپله غيرته کښې يې واخسته ـ هغه ورپسې ډير په تيزئ سره راتاؤ شو او هغه يې بيا اونيوه ـ دَ هغۀ په زړۀ کښې دا يره پيدا شوه چې هسې نه بلې چپې سره هغه بيا ځان سره يوسي ـ دې دَ پاره هغۀ هغه په دواړه لاسه اونيوه ـ دَ هغۀ دواړه لاسونه بند شو او دَ لامبو څۀ ذريعه پاتې نشوه ـ هغه ډير په مشکله کښې ګير وو ـ يو خوا دَ روانو اوبو زور وو، بل خوا په هغۀ دَ هغې دَ وجود بوجهه وو ـ دريمه دا چې لاسونه يې بند وو او لامبو يې وهلې نشوه ـ هغۀ دَ لاسونو کار دَ خپو نه اخستو او په ډوبه ساه يې دَ خپو کښې وهلو ـ کله کله به يې ساه بنده شوه نو سر به يې دَ اوبو نه بهر کړو يوه لويه ساه به يې واخسته او بيا به ډوب شو ـ دَ ډير کوشش نه پس هغه دَ سيند دَ مينځ نه غاړې پلو روان وو ـ دَ هغۀ دَ خپو کښې لا شروع وو چې دَ هغۀ خپې په زمکه اولګيدې ـ دَ هغۀ په زړه کښې دَ اميد پلوشه پيدا شوه ـ چې خپې يې لاندې په زمکه اولګولې نو اوبۀ يې ترمرئ مرئ راغلې ـ دې سره هغه خوشحاله شو او هغه يې دَ سر نه شاته کړه ـ خو مسله دا وه چې هغې کښې نه خپل حس وو او نه حرکت ـ هغۀ دَ هغې لاسونه، خپلې سينې ته راواړول او خپل لاسونه يې دَ هغې دَ شانه تاؤ کړل ـ په دې دې کښې يې هغه دَ سيند غاړې ته يوړه ـ دَ لاسونو قينچي يې پرانسته او په کمرې واچوله ـ هغه يوه لويه ساه واخسته او چې هغې ته يې اوکتل نو هغه لکه دَ مړې ډکه خيټه پړسيدلې پرته وه ـ چې هغه اوچې ته ووختو نو هغه


www.pukhto.net



يې په غيږ کښې اوچته کړه او هغه ټاپو او هغه ځاې ته يې يوړه چرته چې هغوی ناسته او ملاسته کړې وه ـ هلته يې په موړه کيښوده او چې دَ هغې په نبض يې ګوتې کيښودې نو هغه لکه دَ مړې يخه پخه پرته وه او دَ هغې دَ نبض په چلاند پوهه نشو ـ دې سره هغه اويريدو او سترګې يې ډکې شوې ـ هغه بيا هغه په غيږ کښې اوچته کړه او په يوه غټه ګټه يې په داسې انداز واچوله چې دَ هغې سر او خپې لاندې شوې او ګيډه يې اوچته پاتې شوه ـ دَ هغې ګيډه دَ اوبو په وجه لکه دَ شناز پړسيدلې وه خو چې کله هغې له زور ورغئ نو دَ هغې په خوله او دَ سپيږمو په موړرو دَ اوبو چينې راماتې شوې ـ او چې څومره څومره به دَ هغې ګيډې نه اوبۀ وتې هومره دَ هغې ګيډه کيناسته ـ فرحان هغې ته خفه ولاړ وو او دَ هغې دَ خولې او دَ سپيږمو زيړو، شنو او خړو اوبو ته يې کتل ـ زياد لګياوو دَ هرې زوايې نه يې دَ هغې دَ بيل بيل فوز فوټو ګرافي کوله ـ نمر په غرغره وو او دَ هغوی په تماشه وو چې دَ هغې دَ سپيږمو او خولې اوبۀ بندې شوې ـ فرحان هغه اوچته کړه، په هواره زمکه يې واچوله او هلته يې په ډډه کړه ـ دې سره دَ هغې په لاندې وخکې او لاندې سپيږمې تيرې پاتې اوبۀ راماتې شوې ـ چې کله اوبۀ بندې شوې نو بيا يې په بله ډډه واړوله ـ دغه رنګې دَ هغې دَ ګيډې تولې اوبۀ اووتې ـ بيا دَ يې کشتې نه خپل څادر راواخستو او دَ هغې خوله او سپيږمې يې اوچې کړې ـ دَ هغې ګل بدن زيړ شوې او شين شوې وو ـ يو ساعت پس چې هغۀ دَ هغې په

نبض لاس کېښودو نو دَ هغې نبض ډير په مزه مزه چليدو ـ دَ نمر پريوتوسره تيارۀ خوريده ـ دَ فرحان په زړۀ کښې دا يره پيدا شوه چې هسې نه په تياره کښې څۀ مار لړم ياڅۀ بل زهريله څيز ټک ورکړي۔ دې دَ پاره هغۀ د دې ځاې نه زر تر زره تلل غوښتل ـ هغۀ يو ځل بيا هغې ته لاسونه ورلاندې کړل ـ په غيږ کښې يې اوچته واخسته او په کشتۍ کښې يې په ارام سملوله ـ بيا يې دَ هغې مائيک او ريکارډنګ مشين راواخستو او هغې سره يې کشتۍ کښې کېښودو۔ جنريټر يې سټارټ کړو او کشتۍ يې روانه کړه ـ دَ تيرې په وجه دَ سيند غاړې خوشې او تش پرتې وې ـ مانګيانو خپلې خپلې کشتۍ دَ سيند په غاړې اودرولې او تړلې وې او خپلو خپلو کورونو ته تلي وو۔

زنده باد کاکا دَ فرحان په انتظار کښې دَ سيند په غاړه دَ غصې نه پړسيدلی ولاړ وو ـ معلومه نه ده چې هغۀ به هغۀ ته څۀ څۀ خو چې دَ فرزانې حالت ته يې اوکتل نو غصه يې په يره کښې بدله شوه ـ زنده باد کاکا او فرحان لا دَ فرزانې په باره کښې خپلو کښې خبرې کولې چې زياد دَ کشتۍ نه کوز شو او ګاډی له ورغی۔ خپله کيمره يې په ګاډی کښې کېښوده او بيا ريکارډنګ مشين او مائيک پسې راغی۔ چې هغه يې ګاډې کښې کېښودل نو بيا يې فرحان ته دَ هغې دَ راؤړلو او په ګاډی کښې دَ ايښولو اشاره اوکړه ـ فرحان هغې ته يو ځل بيا لاسونه ورلاندې کړل ، هغه يې اوچته کړه او په ګاډی کښې



www.pukhto.net



يې کېښوده ـ دَ هغې دَ ايښودو نه پس فرحان دَ ګاډی نه کوز شو او زياد ګاډی ته اوختو ـ ګاډی يې سټارټ کړو ، هغوی ته يې په تندی دَ شکريی لاس کېښودو ـ دَ هغۀ دَ سلام په جواب کښې زنده باد کاکا او فرحان هم هغۀ ته دَ سلام لاسونه اوچت کړل ـ دَ هغوی لاسونه تر هغې اوچت وو چې ګاډی دَ نظره پناه شو۔ دې سره هغوی يو بل ته اوکتل او کورته روان شو۔

Pukhto.Net پښتو

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★

## دریم باب

دَ زنده باد کاکا په تپوس باندې فرحان مور پلار ته دَ فرزانې دَ حادثې واقعه په داسې دلسوزه انداز بیان کړه چې یو خوا هغوی له دَ هغې په قابلِ افسوس حالت رحم ورغی ، بل خوا دَ خپل ځوی په کارکردګۍ او مړانې ډیر خوشحاله شو ۔ هغوی هغه له شابشې هم ورکړو او ډیرې دعاګانې یې هم ورته اوکړې ۔ البته دَ هغهٔ مور هغهٔ ته دَ هغهٔ یوه کوتاهی په ګوته کړه او ورته یې اووې ، " په ځویه که دغه جینۍ دې کورته راوستې وې نو مابه ترینه دَ خاؤرو ، شګو لوندې جامې لرې کړې وې او خپلې صفا جامې به مې ورته اغوستې وې "

هغه دَ هغې په خبره مسکے شو او دَ هغې دَ سوال په تائید او تردید کښې یې اووے "مورې ستاخبره صحی ده ، مابه واقعی داسې کړے وے خو بیا به مِ دَ چا چا خولې له برغولې جوړه وو۔ مونږ به دَ همدردۍ په غرض کړے وو او خلقو به ترینه نورې نورې خبرې جوړولې "۔

زنده باد کاکا :۔ هاؤ ځویه ، ستا دا خبره مِ خوښه شوه ۔ ډیر ښه سوچ دې کړے دے ۔

افروزه بی بی :۔ په ځویه که کور کلی یې درته معلوم وی نو زهٔ به یې پوښتنې له ورشم ۔

فرحان :۔ نه مورې زما ورسره هیڅ پیژندګلو نیشته ۔ ما دَ یو انسان په حیث دَ یو انسان مدد کړے دے ۔ دې نه علاوه هیڅ نه ۔

هلته فرزانه په یو پرائیویټ هسپتال کښې داخله کړې شوې وه او دوه



www.pukhto.net



ورځې په آئی سی یو کښې پټې سترګې پرته وه ۔ په دې دوران کښې دَ هغې مرۍ ، دَ خوراک نالۍ او معده واش کړې شوې وه ۔ شګې او ګنده مادې ترینه ویستلې شوې وې او ډریپونه او آکسیجن ورته لګیدلې وو۔ په دریمه ورځ چې هغې سترګې اوغړولې نو خپله مور میډم نسرین ورته مخکښې ولاړه وه ۔ هغې چې هغې ته اوکتل نو مسکۍ شوه ، ورمخکښې شوه او هغه یې په دواړه مخه ښکل کړه۔

دَ فرزانې مور میډم نسرین یوه معمره خاتون او دَ یو ډګری ویمن کالج نه ریټائر ډ پرنسپله وه ۔ هغه په ډیفنس کالونی پیښور کښې اوسیده ۔ دَ میډم نسرین خاوند سلیم ملک دَ ملک یو لوې او نوموړے وکیل وو او دَ پیښور ډسټرکټ بارکونسل سابقه صدر هم وو۔ دَ هغې ایکے یو ځوئے سرفراز خان لا په اسلامیه کالج کښې دَ دویم کال طالبِ علم وو چې دَ هغهٔ پلار دَ سړک په یوه حادثه کښې مړ شو ۔ دَ هغهٔ په دې ناګهانه مرګ ، مور او ځوی ته لوې غم اورسیدو او دواړه څو څو ورځې پریشان وو۔ په دې دوران کښې دَ سرفراز خان دَ دولسم جماعت نتیجه اووته او هغه په ډیرو ښو نمبرو پاس شو ۔ دَ پاس کیدو نه پس هغه په آرمی کښی لانګ کمیشن واخستو او دَ دوکاله کیډټ ټریننګ دَ پاره کاکول ته اوغوښتے شو۔ میډم نسرین اګر چه دَ هغهٔ په دې سروس خوشحاله نه وه خو انکار یې ورته ځکه نشو کولې چې دَ ارمی سروس دَ هغهٔ ارمان وو او هغې دَ هغهٔ دَ ارمان په لاره کښې خپل ځان خنډ جوړیدل نه غوښتل نو په مات زړهٔ یې اجازت ورکړو ۔ دَ

هغۀ دَ تلو نه پس هغه په خپل کور کښې یو اځې پاتې شوه ۔ چې کله به دَ کالج نه راغله نو باقی پاتې ټوله ورځ به یې دَ ځوی او خاوند تصویرونو سره په خبرو تیروله ۔ هر ماسخوتن به یې ځوی ته ټیلیفون کوو خو کله به یې ورسره خبرې اوشوې او کله به پاتې شوې ۔ چې کله هغه په میډټرم کښې دَ لسو ورځو په چھټی راغی نو هغه ټوله چھټی یې هغې سره په کور تیره کړه او دَ هغې دَ مینې تنده یې تر ډیر حده پورې ماته کړه ۔ چې کله یې چھټی ختمه شوه نو هغې په ډکو سترګو رخصت کړو او تر ډیر وخته یې دَ هغۀ لار ته کتل ۔

هغې دَ هغۀ دَ ټریننګ ورځې شمیرلې ، او چې څومره به دَ هغۀ دَ ټریننګ ورځې کمیدې ، هومره به هغه خوشحالیده ۔ هغه دَ هغې ورځې په طمعه وه چې هغه دَ خپل ځوی او په اوږو دَ افسرۍ کراؤنونه اووینی ۔ هغې دَ هغۀ دَ پاره دَ هغۀ دَ ژوند ملګرې هم خوښه کړې وه ۔ او دَ هغې ورځې انتظار یې کوو چې دَ هغۀ ټریننګ ختم شی او کور ته په وردۍ کښې راشی نو هغه به ورته په مینه او مسکا ګلدسته پیش کړی ، هغه به دَ هغې پیرزونه په مینه قبوله کړی ۔ دواړه به ډرائینګ روم کښې کینی او خپلو کښې به خوږې خوږې خبرې کوی ۔

دَ هغۀ دَ ټریننګ په ختمیدو کښې صرف دوه میاشتې پاتې وې ۔ په دې دوو میاشتو کښې دَ پروګرام مطابق دَ هغوی دوه هفتې ټریننګ په سیاچین کښې وو، په واپسۍ کښې یوه هفته پرله پسې فائرنګ



www.pukhto.net



پرکټس وو او دغه نورې پاتې ورځې دَ پاسنګ آؤټ تیارې وو۔ سیاچین ته دَ تلو نه مخکښې دَ هغۀ مور سره خبرې اوشوې او هغې له یې ښۀ تسلی ورکړې وه چې هغه په مقرره تاریخ خامخا کورته ورځی ۔ دَ نومے کال دویمه میاشت په وتو او دریمه په راتلو وه ۔ په موسم دَ کچه سپرلی مینه ماتیده خو دَ یو څو ورځو دَ پرله پسې دَ جړی ، دَ بادوباران او ږلۍ او دَ ترخې سیلۍ په وجه یخنی انتها ته رسیدلې وه ۔ لارې کوڅې خوشې او تشې پرتې وې ۔ ټول خلق په خپلو خپلو کورونو کښې په ګرمو بسترو کښې پراتۀ وو خو دَ یخنۍ نه یې ګړګوزې کولې او په خپلو بسترو کښې لنډ اوږدۀ کیدل ، راغونډ دیدل او خوریدل ۔ داسی معلومیده چې دَ سیاچین دَ وورې ټول غرونه ویلی شوی دی او هغه یخې اوبۀ هوا په وزرو کښې دَ پېښور میدانی علاقې ته راؤړې دی ۔ میډم نسرین هم په خپله بستره کښې پرته وه او دَ خپل ځوی په باره کښې یې سوچ کوو ۔ دَ هغې یوه سترګه په مخامخ دیوال لګیدلے دَ هغۀ په تصویروه او بله سترګه یې دَ ټی ۔ وی په سکرین وه ۔ په ټی ۔ وی دَ نهو بجو خبرنامه چلیده چې دَ خبرنامې په دوران کښې ناګهانه یو خصوصی بلیټن راغی ۔ دې سره نیوز کاسټر اووې ، ''سامعین ایک خصوصی بُلیٹن سنئیے ۔ابھی ابھی آئی ایس پی آر کے دفتر سے ایک افسوسناک خبر آئی ہے کہ سیاچین گلیشیر کا بڑا حصہ پھسل کر بڑی تیزی کے ساتھ نیچے کی طرف آ گیا۔ جسکے نتیجے میں ہمارے 186 زیرِ تربیت کیڈٹ اسکی زد میں آ کر اسکے تلے دب گئے''۔ د دې خبر اوریدو سره هغې ته داسی محسوسه شوه

لکه چې دَ سیاچین ګلیشیر په زلمو کیډټانو نه بلکه دَ هغې په سر پریوتوی وی ـ څهٔ دَ یخنۍ اثر وو او څهٔ دَ هغې دَ ځوی غم شو نو دی سره دَ هغې په ګړګوزو کښې نوره هم اضافه اوشوه ـ هغې په ریګدیدلے وجود او په لړزیدلے لاسونو دَ آئی ایس پی آر دفتر ته فون اوکړو او دَ خپل ځوی په باره کښې یې ترینه معلومات اوغوښتل ـ دَ متعلقه افسر په تپوس باندې هغې ورته په ګړبیدلې ژامو او رپیدلې شونډو دَ هغهٔ نوم او فوجی نمبر اوښودو او دَ هغهٔ دَ جواب انتظار یې کوو ـ لږه شیبه پس چې هغې دَ هغهٔ جواب وواریدو نو بیا په ځان پوهـ نشوه او په شالاړه ـ دَ هغې دَ کور څوکیدار انورعلی که دَ ټیلیفون دَ سیټ او دَ هغې دَ غورځیدو اواز نه وې اوریدلې نو معلومه نه ده چې هغه به تر کومې پورې دَ بیهوشۍ په حالت کښې پرته وه ـ

دَ سیاچین دَ حادثې او دَ کیډټانو دَ شهادت نه پس دَ هغوی وارثانو دَ هغوی دَ لاشونو دَ مطالبې دَ پاره ارمی چیف سره ملاؤ شو ـ دَ ارمی چیف له خوا هغوی ته اوویلې شو چې دَ هغوی هلې ځلې جاری دی او ډیر زر به دَ هغوی لاشونه هغوی ته حواله کړی شی ـ دَ هغهٔ خبرې امید افزا په دې وې چې د دې مقصد دَ پاره دَ بهر ملکونو نه غټې غټې مشینرۍ هم را اؤغوښتلې شوی او ماهرین هم ـ دَ هغې ځوی تقریبا یونیم کال پس دَ وورې دَ غر نه را اوویستلی شو او هغې کره راؤړې شو ـ دَ هغهٔ دَ شهادت یو کال شپږ میاشتې اولس ورځے شوې وې خو دَ هغهٔ لاش داسې پروت وو لکه چې دَ ځوانۍ په دروند خوب


www.pukhto.net



اودهٔ وی ـ دَ هغهٔ دَ لاش دَ فوجی اعزاز سره خاؤرو ته اوسپارلے شو او ښهٔ درنه فوجی سلامی ورکړې شوه ـ دَ هغهٔ دَ مرګ نه پس هغه بیخی یواځې پاتې شوه ـ دَ هغهٔ دَ څلویښتۍ نه پس دَ هغې ځینې سهیلو ،، ملګرو او خپلوانو هغې ته دَ بل خاوند کولو مشوره ورکړه ـ په رومبو ورځو کښې دَ "بل خاوند" نوم په هغې لکه دَ ټوپک دَ ګولۍ لګیدو ـ پوره دوه کاله هغې دَ ځوی په یاد کښې او دَ هغهٔ په ماتم کښې تیرکړل خو چې کله یې سوچ اوکړو نو دَ هغوی مشوره یې قبوله کړه او وادهٔ ته یې په دې غرض غاړه کیښوده چې دَ سرفراز خان نعم البدل پیدا کړی او دَ هغهٔ ځای اونیسی ـ کله چې خلقو ته دَ هغې دَ ارادې پته اولګیده نو ګڼو طالع آزما امیدوارانو هغې سره دَ وادهٔ کولو اظهار اوکړو ـ په دغه امیدوارانو کښې دَ شپیتو کالو مجرّد بوډاګان هم وو، دَ بال بچ پلاران هم وو، بے اولاده مشران هم وو، دَ نفسانی لذت ښکاریان هم وو او دَ هغې دَ ځوی په عمر ځوانان هم وو ـ دَ دغه ټولو سترګې دَ هغې نه زیاتې دَ هغه په بنګله ، ګاډی ، نوکرۍ او دَ هغې په مال ودولت لګیدلې وی ـ هغې سره وادهٔ کول دَ کروړونو روپو دَ فرسټ پرائز بانډ دَ وتو نه کم نه وو او هریو غوښتل چې هغه شپه په شپه کروړپتی شی خو چې کله هغې دَ ټولو جائزه واخسته نو ټول یې جوابی کړل او هغوی سره یې دَ وادهٔ کولو نه انکار اوکړو ځکه چې په هغوی کښې څوک هم دَ هغې په معیار پوره نه وو ـ هغې هغه چا سره وادهٔ کول غوښتل چې هغه دَ هغې نوکر هم وی او

شو هر هم ، دَ هغې خادم هم وی او مخدوم هم وی ، دَ هغې ملازم هم وی او ملزوم هم وی ۔ دَ ډیر سوچ او فکر نه پس هغې دَ نظریۀ ضرورت په بنیاد دَ خپل کور دَ څوکیدار انور علی سره پټ په پټه وادۀ اوکړو ځکه چې هغه ټول صفات په هغۀ کښې موجود وو کوم چې هغې غوښتل ۔

دَ وادۀ نه پس چې کله دَ یو نوے میلمه دَ راتلو امید پیدا شو نو هغه ډیره خوشحاله شوه ۔ هغې به کله کله دَ تصور په آئینه کښې دَ خپلې ګیډې په محافظ خانه کښې په څو څو پړدو کښې پټ د دغه ماشوم دیدار هم کوو او دَ هغۀ دَ راتلو انتظار به یې هم کوو۔ چې څومره به دَ دغه میلمه دَ راتلو ورځې نزدې کیدې هومره به دَ هغې وسوسې زیاتیدې ۔ آخر دا چې یوه ورځ دَ انتظار لمحې ختمې شوې خو دَ هغې دَ توقع خلاف دَ میلمه په ځاې میلمنه راغله ۔ هغه اګر چۀ دَ هغې په راتلو باندې خوشحاله نه وه خو دَ الله په رحمت یې ناشکری هم نشوه کولې نو هغه یې دَ تحفۀ خداوندی په طور قبوله کړه او دَ هغې نوم یې فرزانه کیښودو ۔ وخت تیریدو سره فرزانه هم لوئیده او دَ هغې تعلیمی سرګرمۍ هم مخ په بره روانې وې۔ میډم نسرین غوښتل چې هغه دَ هغې غوندې تعلیمی میدان ته لاړه شی خو دَ هغې رجحان ومیلان صحافت طرف ته وو نو په دې وجه یې په جرنلزم کښې داخله واخسته ۔ دَ ایم ۔ اے کولو نه پس هغه په یو پرائیویټ ټی وی چینل "صداے خیبر" کښې دَ اسسټنټ منیجر په


www.pukhto.net



حیث نوکره شوه او دَ هغې په خوښخه ورته دَ فیلډ ډیوټی ورکړې شوه ۔ دَ هغې ډیوټی اګر چۀ دَ اسسټنټ منیجروه خو هغې به دَ رپورټر ، انټرویور او کومنټیټر په حیث کار کوو او په یو وخت کښې به یې درې ډیوټۍ کولې ۔ اګر چۀ دَ هغې کار زیات هم وو ، خطرناک هم وو او مشقت طلب هم وو خو هغه دَ فیلډ په ډیوټۍ کښې په دې وجه خوشحاله وه چې یو خوا د دفتر دَ پابندۍ نه خلاصه وه ، بل خوا یې په فیلډ کښې سیل سپاټه هم کیده ، ټی ، اے ، ډی ، اے یې هم جوړیده او اعزازیه هم ورته ملاویده ۔ دې نه علاوه مختلف شخصیات سره یې پیژندګلو هم کیده او تعلقات ورابطې هم جوړیدې۔

زیاد دَ یو نوموړی اینکر پرسن ځوے وو او دَ هغۀ په اثر رسوخ په دغه چینل کښې یې دَ یو کیمره مین په حیث کار کوو۔ چې کله فرزانه راغله او خپله ډیوټی یې سمباله کړه نو هغۀ ورسره دَ کیمره مین په حیث دَ فیلډ ډیوټی شروع کړه ۔ دَ فوټو ګرافۍ نه علاوه هغۀ به هغې سره دَ ډرائیور په حیث ګاډې هم چلوو ۔ دَ هغوی یو ځاې ناسته پاسته او روانه ولاړه په باهمی قربت کښې بدله شوه او دغه باهمی قربت په مزه مزه په مینه ، محبت کښې بدل شو ۔

فرزانه په خپل فیلډ کښې ډیره ماهره وه ۔ دَ رپورټنګ او انټرویوز دَ کامیاب سیریز نه علاوه هغې دَ چینل دَ مالک او دَ جنرل منیجر په صلاح ډاکومنټری فلمونه جوړول هم شروع کړل ۔ دَ سوات ، دیر ، لواری ټاپ ، لواری ټنل مری ، ایبټ اباد ، کاغان ، ناران ، ګلګت او دَ

چترال په دیهاتو علاقو یې هغه کامیاب ډاکو منټری فلمونه جوړول چې ټولې چینلې ورته ګوته په خوله وې ـ دَ هغې ډاکو منټری فلمونه به اکثر بهر ملکونو ته تلل او خلقو به په ډیر شوق کتل او خوښخول۔ هم دغه وجه وه چې دَ هغې اکثر فلمونه The world geography series کښې شامل شو۔ یو خوا دَ صدائے خیبر نوم ترلرې لرې اورسیدو ، بل خوا دَ ملک په زر مبادله کښې اضافه اوشوه او دَ غیر ملکی سیلانیانو په زړونو کښې دَ پاکستان او دَ دغه علاقو دَ سیل خواهش هم پیدا شو۔

## دویمه برخه

کله چې فرحان ، فرزانه دَ کشتۍ نه په غیږ کښې اوچته کړه ، پتې سترګې یې په ګاډی کښې کیښوده او هغه ترینه کوز شو نو هغۀ ته داسې محسوسه شوه چې هغۀ هغه په خپل لاس په قبر کښې کیښوده او خاؤرو یې پرې واړولې ـ دَ ګاډی دَ تلو نه پس هغۀ ته په دې ډیر افسوس وو چې هغه هغې سره هسپتال ته ولې لانه ړو۔ اګر چۀ هغۀ خپل ځان په خطره کښې واچوو او هغه یې دَ مرګ دَ کومی نه را اوویستله خو هغه دومره زوریدلې او دړدیدلې وه چې دَ مرګ او ژوند یې هیڅ پته نه لګیده ـ هغۀ ته په دې هم ډیر افسوس وو چې هغۀ دَ زیاد نه دَ هغې دَ کور کلی او پتې معلومات ولې اونکړو۔ هغه څو څو ځله هغه ټاپو ته لاړو چرته چې هغوی دمه کړې وه او په دې نیت پکښې اوګرځیدو چی که چرې دَ هغوی دَ نښخې پتې څۀ کاغذ په



www.pukhto.net



ګوتو ورشی نو هغه به په هغه پته دَ هغې پوښتنې له ورشی او دَ هغې دَ صحت په باره کښې به معلومات اوکړی ـ نن ټوله ورځ هغه دَ هغۀ په زړۀ کښې ناسته وه او هغۀ سره یې خبرې کولې ـ هغه به خپل کار هم کوو او په تصوّر کښې به یې هغې ته هم کتل ـ دَ هغې ټولې خبرې ګیلې مانې وی او دَ هغۀ ټول جوابونه دَ معافۍ خواستونه وو۔ په دغه خیالونو او فکرونو کښې چې کله هغه دَ کار نه اوزګار شو او کور ته راغی۔ نو جامې یې بدلې کړې او په کټ کښې سملاستو ـ هغۀ چې کټ کښې ډډه واچوله نو دَ خوږو یادونو او دَ پُرامیده خیالونو په سازونو دَ مخې سره اودۀ شو ـ دَ اودۀ کیدو سره هغۀ خپل ځان په یو وسیع ، حسین او ښکلې باغ کښې محسوس کړو ـ موسم ټول بهار بهار وو ، ماحول نغمه زار وو ، لولکې په ګډاوې ، بلبلې په صدا وې ګلونه په خندا وو ـ رنګونه په ځلاوو ، دَ فطرت هر څیز په سینګار وو ، ټول دَ مینې کاروبار وو، خو دَ مینې په دغه کاروبار کښې هغه ایکے یواځے په باغ کښې ګرځیدو ـ چې په ګرځیدو ګرځیدو ستړے شو نو دَ کبلو په شین قالین کیناستو او دغه رنګین منظر ته یې کتل ـ هغه لا دَ دغه نظارو په تماشه وو چې دَ سرې یاقوتی مخوکې یوه سپینه پاغونده کونتره راغله ، دَ هغۀ خوا کښې کیناسته او دَ هغۀ مخې ته په کبلو کښې یې ټونګې وهلې ، هغۀ چې ورته اوکتل نو په ړومبی نظر یې ترینه زړۀ یوړو او سترګې یې پرې داسې ښخې شوې چې نه یې ترینه ویستلې شوې او نه یې ترینه

اړولې شوې ـ هغه دومره اصليه او اموخته ښکاريده چې دَ هغهٔ نه نه يريده بلکه دَ هغهٔ خوا خوا کښې به ګرځيده ـ دَ هغهٔ زړه پرې داسې ورغلے وو چې دَ سترګو په کتو يې مينه نه ماتيده ـ هغهٔ دا غوښتل چې هغه په خپلو لاسونو کښې اونيسي ، دَ هغې په مهينو سپينو ښو دَ مينې لاس راکاږي ، دَ هغې ياقوتي مخوکه په خپله خوله کښې کيږدي او دَ خپلې خولې لاړې ورکړي ....دَ هغې مرجاني خپو ته سپينې پائيلې واچوی او دَ هغې دَ سينې په ښو دَ خپل نوم مهر ثبت کړي ـ په دې غرض چې هغهٔ دَ هغې دَ نيولو هڅه اوکړه نو هغه يې دَ لاس نه اووته او لاړه په هوا شوه ـ دَ هغې دَ الوتو سره هغهٔ ورپسې دَ خپل نظر شاهين پرېښودو خو هغه په فضا کښې دومره بره اوخته چې دَ هغه رسائی ورته مشکله شوه ـ

هغه لا پټې سترګې پروت چې افروزه بی بی دَ هغهٔ کوټې ته ورغله ، هغهٔ ته اودريده او غلې غوندې اووې ، "ځويه تهٔ وِيښ يې که اودهٔ" دَ هغې په تپوس باندې هغهٔ سترګې اوغړولې او هغې ته يې اووې "ولې مورې څهٔ دی " ؟

افروزه بی بی :ـ ځويه يو دوه ببيانې راغلی دی او ستا تپوس کوی ـ

فرحان ( په حيرانتيا ) ببيانې ؟ "څوک دی مورې "؟

افروزه بی بی :ـ ځويه داسی معلومېږی چې يوه هغه ډوبه شوې جينۍ ده او کيديشی بله يې مور وی ، راپاسه ځويه سترې مشی ورته اووايه ـ



www.pukhto.net



فرحان :ـ مورې ته ورله دَ چايو بندوبست اوکړه ، زهٔ درځم ـ

افروزه بی بی :ـ ځويه بوتلې څکی او چاے مِ ورله باندې کړې ده ـ زر راځه ځويه ، هغه بهر اوځی او فرحان پاځی دَ بهر تلو تيارې کوی ـ هغه چې دَ کوټې نه اووتو او دَ هغوی طرف ته روان شو نو فرزانه او ميډم نسرين پاڅيدې او دَ هغهٔ په احترام کښې اودريدې ـ هغه چې دَ هغوی خوا له ورغی نو په مسکا مسکا يې هغوی ته هرکلی اووې ـ فرزانې په ولاړه دَ خپلې مور تعارف داسی اوکړو ، "فرحانه ، دا زما امّی ده او زما دَ محسن ليدو او شکريه ادا کولو دَ پاره راغلې ده " فرحان مسکے شی او يو ځل بيا هغې ته وائی "سلام عليکم ميډم "ـ ميډم نسرين دَ هغهٔ په سر لاس اړدی او وائی ، "وعليکم سلام ، لوی شې ځويه ، کامياب او کامران شې ـ مور پلار درباندې دومره خوشحاله شه لکه زهٔ چی دې خوشحاله کړم "ـ

سعيده او افروزه بی بی ـ آمين ـ

فرحان :ـ ډيره مهربانی ميډم ـ ستاسو دَ راتلو ، نيکو پيرزونو او د دې تکليف ډيره ډيره شکريه ـ

ميډم نسرين :ـ ځويه زمونږ دَ راتلو څهٔ تکليف دې ـ تکليف خو تا کړې دې چې خپل ځان دې په خطرو کښې واچوو او زما لور دې دَ مرګ دَ خولې نه را اوويستله او نوې ژوند دې ورکړو ـ

فرحان :ـ ميډم ، مرګ او ژوند دَ الله په لاس کښې دی ـ ژوند الله ورکړې دې ، زهٔ يې صرف يوه ذريعه اوګرځولم ـ بهرحال زهٔ يو ځل بيا

Pukhto.Net

ستاسو شکريه ادا کوم ـ ميډم ماته ځان ډير ملامته ښکاری چې مونږ دَ بی بی پوښتنه اونکړه خو زمونږ مجبوری دا وه چې مونږ سره دَ بی بی ايډريس نه وو۔

ميډم نسرين :ـ هاؤ ځويه ، دَ ايډريس تبادله خو په تعلق کيږی ـ چی ستاسو يو بل سره تعلق نه وو نو ايډريس به څنګه وو ـ

فرحان (فرزانې ته) بی بی تۀ په دې يو څو ورځو کښې ډيره کمزورې شوې يې ؟

فرزانه خاندی او په خندا خندا کښې وائی " هاؤ فرحانه ، دغه دَ مرګ يره مِ چې ليدلې ده نو خوله مِ لا تراوسه پورې ترخه ده "۔ (ټول خاندی)

فرحان (مسکے شی) ميډم دَ بی بی دَ سرصدقه دې ورکړې ده ؟

ميډم نسرين :ـ يَه ځويه چې رشتيا خبره درته اوکړم نو ستاسو دَ دواړو دَ سرونو صدقه مِ ورکړې ده ـ

فرحان :ـ زمونږ دَ دواړو ؟ دا خو دې لور ده د دې درباندې حق دې خو زما دَ سر صدقه ....؟ ميډم زۀ خو تا ليدلې هم نه ووم ـ

ميډم نسرين :ـ هاؤ ځويه چې کله د دغه منظر ريکارډنګ ما په ټی وی اوليدو نو سترګې راباندې تورې شوې ـ ځويه دا چې غولۍ تاؤله راتاؤله نو زما زړۀ هم ورسره تاويدو ـ دا چې غولۍ ډوبه کړه او تۀ ورپسې غوپه شوی ( ژاړی ) لاړې په اوبو کښې غيب شوې.....چې ډيره شيبه پس راښکاره شوې او دا دې ځان سره دَ غولۍ نه را اوويستله ....بيا چې درنه اوبويوړه ...ته ورپسې تاؤ شوې او اودې


www.pukhto.net



نيوله .....شاته دې راوړوله ...په کمردې واچوله ....په ګټه دې واچوله او د دې دَ خولې او سپيږمونه اوبه بهيدې ـ ( خپلی اوښکې اوچوی ) ...ځويه دغه ټوله نظاره چی ما اوليده نو ستا دَ سر صدقه به مِ څنګه نه ورکوله ـ هغه لا لګياوه چې سعيدې چاے راؤړه او په ميز يې کيښوده ـ بيا هغوی چاے هم څکله او خبرې يې هم کولې ـ چې چاے اوڅکلې شوه نو فرزانې فرحان ته اووې ، " فرحانه ، امّی ستا په کشتۍ کښې هغه ځاې ليدل غواړی ، چرته چې زۀ ډوبه شوې ووم "۔

فرحان :ـ ډيره ښه ده بی بی ، ځۍ چی ځو ، دې سره هغوی پاځی ـ افروزه بی بی او سعيده هم ورسره دَ ور پورې لاړې شی او هغوی ته رخصت ورکړی ـ

فرحان هغوی په کشتۍ کښې کينولې او هغه ټول ځايونه يې ورته اوښودل چرته چې هغې ته حادثه پيښه شوې وه ـ ميډم نسرين به يو يو ځاې ته کتل او ژړل ـ هلته فرزانه په ټاپو کښې په هغه ځايونو ګرځيده او هغه ځايونو ته به يې کتل چرته چی هغوی منډې وهلې وې ـ هغې به يويو ځاې ته داسې په غور کتل لکه چې دَ هغې نه څۀ روک شوې وی او دَ هغې لټون کوی ـ فرحان دَ هغې خواله ورغۍ او غلی غوندې ورته اووې ، " ولی بی بی څۀ لټوی ؟ څۀ درنه روک شوی دی "؟ هغې په راز دارانه انداز غلې غوندې اووې ، " هاؤ فرحانه زما دَ حادثې په ورځ زما دَ غاړې نه ډائمنډ اميل پريوتې دې خو دا معلومه

نه ده چې دلته پريوتې دې او که اوبو کښې پريوتې دې ـ

فرحان :ـ اوه ستا اميل ؟ هغه تانه پريوتې نه دې بی بی بلکه ستاپه غاړه کښې وو۔ ما چې تۀ دَ کشتۍ نه اوچته کړې او په ګاډی کښې م واچولې نو تر هغه وخته پورې ستا په غاړه کښې وو۔

فرزانه ( په حيرانتيا ) ريیلی ؟ تۀ رشتيا وايې فرحانه ؟

فرحان :ـ بالکل رشتيا بی بی ـ ستا په غاړه کښې وو۔

فرزانه :ـ فرحانه ، دا خبره دَ امّی نه پته ده۔امّی درنه خبر نشی ...ځه چې ځو ـ

دې سره هغوی دواړه روان شی او دَ ميډم نسرين خوا له ورشی ـ فرحان او فرزانه ميډم نسرين دَ دواړو لاسونو اونيسی او په کشتۍ کښې يې کينوی ـ چې پورې غاړې ته اورسيدل نوفرحان او فرزانې ميډم نسرين دَ دواړو لاسونو نه اونيوه ـ په مزه مزه مې دَ کشتۍ نه کوزه کړه او ګاډی پورې يې بوتله ـ چې هغه يې په ګاډی کښې کينوله نو فرزانه ډرائيونګ ته کيناسته ـ فرحان دَ هغوی الوداع ته ولاړ وو او په مسکا مسکا يې ورته لاس اوچت کړو۔ دَ هغې په جواب کښې هغوی هم دَ سلام لاسونه اوچت کړل او ګاډی روان شو ـ

فرزانه دَ اميل روکيدو په وجه ډيره پريشانه وه ـ هغه به دَ مور خوا له ډيره نه ورتله چې هسې نه هغه ترينه دَ اميل په باره کښې تپوس اوکړی ځکه چې دغه اميل دَ فرزانې نه بلکه دَ هغې دَ مور وو او هغې له خپل خاوند سليم ملک دَ وادۀ په ړومبۍ سالګره دَ تحفې په



www.pukhto.net



طور ورکړې وو ـ په هغه وخت کښې دَ هغې قيمت پنځه لاکهه روپۍ وو ـ دَ هغۀ په ژوند به دَ هغۀ په خواهش هغې کله کله اچوو خو چې هغه مړ شو نو بيا يې دَ سرفراز خان دَ ناوې دَ پاره کيښودو ـ چې کله هغه شهيد شو نو بيا يې ښه په پخه سمبال کړو۔ چی کله فرزانه پيدا شوه او پيغله شوه نو بيا يې هغې له ورکړو ـ چې هغې له اورسيدو نو بيا دَ هغې دَ غاړې شو او هر وخت به يې په غاړه کښې زانګيدو ـ فرحان ته هغې دَ اميل روکيدو خبره ځکه اوکړه چې کيديشی هغه له په ګوتو ورغلی وی ـ خو دَ هغۀ په يقين دهانۍ باندې يې دَ هغۀ نه اميد قطعی شو البته يو زياد پاتې وو خو په هغۀ يې شک ځکه نه راتلو چې دغه اميل څو څو ځله دَ هغې نه يو ځاې بل ځاې پريوتې وو، څو څو ځله هغه موندلې وو او هغې ته يې واپس کړې وو۔ د دغه موندلو په خوشحالۍ کښې يې دَ هغې نه څو څو ځله شيرينی هم خوړلې وه ـ کله کله به دَ هغې په زړۀ کښې راغله چې په تړوقه تړوقه کښې ترينه په داسې انداز تپوس اوکړی چې هغه خفه نشی خو دَ هغې په زړۀ کښې نه په هغۀ شک راتلو او نه يې ترينه تپوس کولې شو ـ هغې لا دَ زياد په باره کښې سوچ کوو چې په زړۀ کښې يې راغله چی کيديشی دَ هغی مور دَ هغې دَ جامو بدلولو په وخت کښې دَ هغې دَ غاړې نه ويستلې او سمبال کړې وی ـ بهرحال هغې خبره پټه پريښوده او دَ تپوس ضرورت يې محسوس نکړو ـ

هلته دَ هغې ډاکو منتړی فلم چې کله ريليز شو نو دَ چينل مالک ،

منيجر او ټولې عملې دَ فرزانې دَ کارکردګۍ او دَ زياد دَ فوټو ګرافۍ ډيره ستاينه اوکړه ـ

فرزانې او دَ هغې مور ميډم نسرين به کله کله فرحان ته کال کوو او چې هغۀ سره به يې خبرې اوشوې نو بيا به دَ سعيدې او افروازې بي بي وار راغې ـ دَ هغوی خبرې بـه کله کله دومره اوږدې شوې چې هغه به موبائيل هغوی ته پريښودو او بهر ته به لاړو ـ هم دغه شان هغۀ يوه ورځ فرزانې سره خبرې اوکړې او بيا يې دَ معمول مطابق مور له ورکړو ـ موبائيل هغې سره پاتې شو او هغه بهر اووتو ـ هغوی سره دَ خبرو کولو نه پس هغې موبائيل بند کړو او يو خوا ته يې کيښودو ـ هغه لا دَ کور په کار کښې اخته وه چې په موبائيل بيا کال راغې . سعيدې چې دَ موبائيل رنګ ووريدو نو ورمنډه يې کړه ، موبائيل يې راواخستو ، هغه يې او ـ کے کړو او افروزې بي بي له يې ورکړو ـ دَ افروزې بی بی هيلو سره يو نسوانی اواز راغی، ”فرحانه ځويه څنګه يې“ ؟

افروزې بی بی ته دا اواز غير مانوس ښکاره شو ـ هغې ترينه په حيرانتيا تپوس اوکړو ، ”تۀ څوک خبرې کوې ؟ مااونه پيژندنې“

اواز:ـ زۀ دَ فرحان مور خبرې کوم ، تۀ څوک يې بی بی ؟

افروزه بی بی :ـ دَ فرحان مور خو زۀ يم ، تۀ پکښې دَ کومې راغلې؟

اواز:ـ زۀ پکښې ډيره مخکښې راغلې يم خو قسمت هغه زما دَ غيږ نه اوشوکوو ـ زۀ سړه خوا پاتې شوم او تاله درغی ـ





افروزه بی بی :ـ تۀ هرڅوک چې يې خو ځان راته اوښايه ، مااونه پيژندنی ؟

اواز:ـ بی بی دَ ماضی په دريچو کښې سردننه کړه او لږ سوچ اوکړه ـ کيديشی ما اوپيژنې ـ او که ستا اجازت وی نو پيژندګلو له به زۀ يو ځل بيا درشم ـ

افروزه بی بی :ـ دلته دَ راتلو ضرورت نيشته په خپل کور کښې ښه درنه خوره کينه ـ

اواز :ـ ولې بی بی زما په خبره خفه شوې ؟ خفه کيږه مه خورې زۀ هم ستا غوندې يوه موريم او په خپله سينه کښې دَ ځوی مينه لرم ـ

افروزه بی بی په غصه موبائيل بند کړی او جيب کښې واچوی ـ

ماښام تيارۀ چې زنده باد کاکا او فرحان کور ته راغلل نو دَ حساب کتاب نه پس يې ډوډۍ اوخوړه او دَ ماسخوتن دَ نمانځۀ دَ پاره جمات ته تلل چې دَ هغې په موبائيل بيا رنګ راغی ـ هغې موبائيل او ـ کے کړو او وې وئيل ”څوک“

اواز:ـ بی بی فرحان کور شته ؟

افروزه بی بی :ـ خبردار که بيا دې دَ فرحان نوم واخستو ” دی سره هغه موبائيل بند کړی او ځان سره ګنيږی ـ فرحان هغې ته په حيرانتيا اوکتل او وې وئيل ” دا څوک وو مورې تۀ خو ورته ډيره غصه شوې“ ؟

افروزه بی بی :ـ غصه ورته ځکه شوم چې په لږ ساعت کښې يې دوه



Pukhto.Net
www.pukhto.net

ځله فون اوکړو هسې ځان يې شرمولې دې ـ
فرحان :ـ دا څوک وو مورې ؟ مورې دا ښځه ته پيژنې خو زمانه خبره پټوې؟
افروزه بی بی :ـ نه ځويه تانه به زۀ څۀ پټ کړم ـ
فرحان :ـ مورې دا ښځه زۀ پيژنم ( افروزه بی بی هغۀ ته په حيرانتيا ګوری) "دې سره څوځو ځله زماليدل کتل شوی دی ...په ړومبی ځل زۀ دَ کوځې دَ ور نه دې اغوا کړې ووم، په دويم او دريم ځل يې زۀ دَ سکول دَ لارې نه بوتلې ووم ـ دې نه پس اغواء کاری ختمه شوه البته دَ موبائيل په ذريعه به زمونږ خبرې هم کيدې او ملاقات هم او دا سلسله لا تر اوسه جاری ده ـ
افروزه بی بی :ـ ښه دا خبره ده ؟ تاسو لکه خپلو کښې ملاويږی او دا خبره دې مانه پټه ساتلې ده ؟
فرحان :ـ دا خبره که اوس زما په مخکښې نه وه ښکاره شوې نو دا به ټول عمر پټه وه ـ مورې زۀ تاته هغه خبره څنګه اوکړم چې تاته او بابا ته پرې تکليف رسی ـ دې زما دَ خپلولو دَ پاره هره حربه استعمال کړې ده او ماله يې هر قسمه لالچ راکړې دې ـ زما په جيب کښې يې په زرګونو اچولی دی او هر ځل ورته ما په زمکه غورځولی دی ـ اوس دَ يو څو ورځو راسې په فون ژاړی او ماسره ليدل غواړی خو هلته تلل مِ زړۀ نه غواړی .....مورې ماته صفا خبره اوکړه چې دا څۀ لوبه او څۀ قيصه ده ـ


www.pukhto.net



افروزه بی بی :ـ هغې به درته ويلې وی کنه ، زمانه څۀ پوښتنه کوی ؟
فرحان :ـ هغې صرف دومره ويلې دې زه زۀ دَ هغې ځوې يم په ورکوتوالی کښې دَ هغې دَ غيږ نه شوکيدلې يم ـ دَ هغې په خبره زما يقين ځکه نه کيږی چې څوک به دَ چا نه دَ چا اولاد څنګه اوشوکوی ...که بالفرض داسې اوشی او بيا ورته خپل اولاد هم معلوم شی او شوکونکې هم نو دَ هغې تصفيه په عوامی سطح هم کيديشی او په سرکاری سطح هم ـ دَ هغې دليل ماته غيرمنطقی او موضوعی ښکاری ـ کيديشی دَ هغې دَ ځوی شکل زما په شان وی ....دا هم کيديشی چې واقعی داسې څۀ کيس ورسره شوې وی او دَ هغۀ ګمان په ماکوی ـ مورې کله کله خو زما په زړۀ کښې هم شکوک وشبهات پيدا شی چې کيديشی دې خبره کښې څۀ لږ ډير حقيقت وی ـ تۀ زما موريې او زما دَ وړوکوالی هيڅ خبره تانه پټه نه ده ـ تۀ رشتيا رشتيا وايه چې آيا زما او دَ هغې ترمينځه داسې څۀ رشته واقعی شته او که دا خبره هسې مفروضه ده "ـ افروزه بی بی چې دَ هغۀ خبره ووری نو خپلې اوښکې اوڅوی او وائی " ځويه تۀ چې ورکوټې وې نو ما به هره شپه تاته قيصې ويلی ـ په دغه قيصو کښې يوه قيصه دَ سوراج دَ ځوی وه چې حافظ جی استاذ ورته غوږ کښې بانګ ويلې وو ـ هغه ماشوم چې دَ حافظ استاذ په بانګ مسلمان شوې وو هغه تۀ وی ـ هغه سړے چې په تا يې دَ پليت الزام لګولې وو هغه ستا پلار مهاراجه مها سنګهـ وو ـ هغه سړے چې ته يې دَ مور دَ غيږ نه

اوشوکولې دَ پرې ګل یعنی زما کټ کښې یې اوغورځولې هغه ستا پلار وو. هغه ښځه چې تا پسې یې ژړل ؟ تا پسې یې روستو روستو کتل او هغهٔ ځان پسې راخکله ، ستا مور سوراج وه ۔

فرحان (یوه لویه ساه اخلی ) اوه خدایه . . .دَ قیصی خبره رشتیاشوه؟

افروزه بی بی :۔ دا قیصی نه وه خو ما ترینه قیصی جوړه کړې وه ۔ ځویه ، ته دَ هغې نه پیدا یې خو مسلمان کړې او لوې کړې ما یې . . . تهٔ دَ هغې نه پیدا یې خو تا دَ هغې پې نه دی رولې بلکه زما دَ سینې په پیولوې شوې یې او دَ هغې دا خبره چې دَ هغې دَ سینې نه شوکیدلې یې نو دا هم حقیقت دې ۔ تهٔ دَ هغې دَ سینې نه خپل پلار شوکولے یې او زما کټ کښې یې غورځولے یې . . . .تهٔ لا دَ غیږ وې چې هغه ستا غوښتو پسې دلته راغلې وه خو ما ورته انکار اوکړو ۔ ستا دَ ځیګون نه پس هغه شنډې شوه او دَ اولاد دَ نعمت نه محرومه شوه او کیدیشی لا تر اوسه شنډې وې ځکه چې دَ یوې مور په حیث هغې ته ستا په جُدائی دومره صدمه رسیدلې وه چې په خاوند یې لاس نه رسیدو نو خپل ځان یې پټ په پټه دَ بال بچ نااهل کړو. . .دا ټولې خبرې ماته هغې په ژړا ژړا کړی دی او سره د دې هم ما ستا دَ ورکولو نه انکار کړې دې ۔ دا خبره ده ځویه ۔

فرحان :۔ زه اوس چاته مور اووایم ، تاته که هغې ته ۔ دَ چا په غیږ کښې دَ خپلې مینې تسکین اوکړم ، ستا که دَ هغې ، دَ چا دَ خپو لاندې دَ جنت لټون اوکړم ، ستا که دَ هغې ؟ چا باندې سترګې خوږې


www.pukhto.net



کړم ، په تا که په هغې ؟ دَ چا حقوق ادا کړم ، ستا که دَ هغې ؟

افروزه بی بی :۔ ځویه تهٔ اوس دَ خیره لوې یې ۔ ځوان زلمې او ښه تعلیم یافته یې ۔ زهٔ اوس په تانهٔ یریږم ، ته په خپله فیصله اوکړه۔ زهٔ هم ستا مور یم او هغه هم ستا مور ده ۔ ما هغه ځو ځو ځله اورټله خو هغه نه صبریږی ځکه چې دَ هغې په زړهٔ کښې دَ اولاد مینه غړیږی . . . دَ یوې مور په حیث ماته دَ هغې دَ مینې هم احساس دی خو ستا هر قدم سره زما زړهٔ هم کوز او پاس دې ۔ تهٔ دَ هغې دَ زړهٔ قطره یې او زما دَ زړهٔ ټوټه یې ۔

فرحان :۔ مورې خفه کیږه مه خو یو تپوس درنه کوم او هغه دا چې زهٔ ستا خپل ځوے نه ووم نو دومره مینه دې ولی راکوله او چې رادې کړه نو بیا دې راله بله مور ولې پیدا کړه ۔ تا دَ هغې دَ دعوې تردید هم کولې شو ، تائید دې ولې اوکړو ؟ ماله خو ځو ځو ځله هغې دَ مور مینه راکړې وه خو ما هغه په زړهٔ کښې مور نه ده تسلیم کړې ۔

افروزه بی بی :۔ نه ځویه نه ۔ چې څهٔ دې کړی دی هغه دې اوکړل خو بیا دَ پاره داسې مه کوه ۔ مور په هر حالت کښې مور وی ۔ دَ مور مینه دومره ژوره وی چې دَ سمندر دَ ویښ نه ورتیره وی ، دومره اوچته وی چې دَ اسمانونو دَ بلندی نه ورتیره وی او دومره درنه وی چې دَ ټولې دنیا دَ غرونو نه په تول کښې ورتیره وی . . . .ځویه ستا وجود دَ هغې دَ وجود نه جوړ دې . . . .تهٔ نهه میاشتې هغې په ګیډه ګرځولې یې . . . تهٔ دَ هغې دَ امیدونو امید او دَ ارمانونو ارمان یې۔ ماصرف ستا پالنه

کړې ده نور هیڅ نه ۔

فرحان (مسکے شی ) مورې ، تا یو بل کار هم کړې دې ۔

افروزه بی بی :۔ بل څۀ ځویه ؟

فرحان :۔ تاماته یوه لاره هم ښودلې ده ۔

افروزه بی بی :۔ هاؤ ما درته ښودلې ده او پلار لاس نیولې په هغې روان کړې یې ۔

فرحان :۔ بابا ته ولې چپ یې ۔

زنده باد کاکا:۔ مادَ خپل وار انتظار کوو۔ ځویه ستا په تربیت کښې زیاته برخه ستا دَ مور ده خو دَ نصیحت په طور درته یوه خبره کوم او هغه دا چې کوم راز مونږ په خپلو سینو کښې پټ ساتلې وو هغه اوس سرګند شو ۔ مونږ ته خپل غیرګونې اولاد ښودلې یې خو تۀ دومره مهربانی اوکړه او دا کوشش کوه چې دا راز راز پاتې شی ۔ که دا پټه خبره خدای مۀ که سرګنده شی نو بیا به مونږ دَ خپلو ، خپلوانو او دَ کلی ګوانډیانو دَ خندا شو او ستا به هم په کلی کښې عزت پاتې نشی ۔ او یوه خبره بله ووره .... هغه دا چې په دې لاره قائم او دائم اوسیږه په کومه چې مونږ روان کړې یې ۔ که زمونږ په مینه کښې بل څوک شریک کړې نو پرواه نیشته خو خدای مۀ که که دَ الله په مینه کښې دې بل څوک شریک کړل نو بیا به ګمراه شی ۔ دَ الله به هم معتوب شی او د دې کور دروازې به هم درته بندې شی ۔

فرحان :۔ نه بابا ، دَ هغوی قدر ومنزلت په خپل ځای خو د دین په



www.pukhto.net



معامله کښې زما مخ نیوې څوک نشی کولې ۔

زنده باد کاکا :۔ ښۀ څه پاڅه چې جمات ته ځو دَ نمانځه وخت دی ۔ دې سره هغوی دواړه پاڅیدل او جمات ته روان شو ۔

## دریمه برخه

فرحان دَ مور دَ ژړا فریاد او منت وزارۍ نه دومره تنګ شوې وو چې ساه یې پوزې له راغلې وه ۔ دَ هغې ژړا چې دَ هغۀ دَ برداشت نه بهر شوه نو اخر یوه ورځ چې دَ خپل کار نه اوزګار شو نو دَ هغې ملاقات له ښار ته روان شو ۔ زیړ مازیګر وو چې هغه ښار ته اورسیدو او دَ هغې دَ کور مخې ته اودریدو ۔ هغۀ ګیټ سره لګیدلې دَ تلۍ په بټن ګوته کیښوده او پرله پسې یې دوه واړۀ رنګونه ورکړل ۔ یو شیبه پس دَ کور نه یو شائسته او مهذبه خوش پوش سړے راووتو او هغه سره یې روغ جوړ اوکړل ۔ دا سړے دَ هغۀ دَ پاره بالکل اجنبی وو۔ دواړو یو بل ته دَ شک په نظر اوکتل ۔ بیا ترینه هغۀ تپوس اوکړو "جی تاسو چا سره ملاویدل غواړۍ "۔ فرحان ترینه په معصومانه انداز تپوس اوکړو ، " دا دَ مهاراجه مهاسنګهـ کور دې "؟

اجنبی :۔ نه جی دا زما کور دې ۔

فرحان :۔ سوری ، تاله مِ تکلیف درکړو خو دَ هغوی کور هم دلته چرته وو۔

اجنبی :۔ ستاسو خبره صحی ده ۔ هم دا کور دَ هغوی وو خو څۀ موده مخکښې ترینه ما په بیعه اخستې دې او هغوی دې ځای نه تلی دی ۔

فرحان :۔ تاسو ته دَ هغوی دَ ځاې ځائيږی معلومات شته ؟

اجنبی :۔ نه جی ماته معلومات نيشته خو دا دومره مسله نه ده ۔ يو رنګ ورکړه که هر ځاې وی معلومات به يې اوشی ۔

فرحان :۔ ډيره مهربانی ، تاسو له مې تکليف درکړو خفه نشې ۔

اجنبی :۔ نه ، نه هيڅ خبره نه ده ، که ماته څۀ خدمت وی نو ويلے شے ۔

فرحان :۔ ډيره مهربانی ، ډيره شکريه "دې سره اجنبی کورته روان شو او فرحان دَ هغۀ دَ کور نه يو څو ګامه مخکښې لاړو ، هلته اودريدو او مورلـه يې رنګ ورکړو ۔ دَ رنګ ورکولو سره په موبائيل دَ هيلو اواز راغې ۔

فرحان :۔ تۀ څوک خبرې کوې ؟

اواز:۔ زۀ مهندريه خبرې کوم ۔

فرحان :۔ سوری ، ...دا نمبر دَ سوراج نه دې ؟

اواز:۔ دا نمبر دَ هغې دې خو هغه فی الحال مصروفه ده ۔ تاسو څوک خبرې کوې ۔

فرحان :۔ زۀ فرحان خبرې کوم ۔

اواز :۔ آها فرحان ۔ فرحان نمستی ۔

فرحان :۔ نمستی ۔

اواز:۔ تـه لږ هولډ کړه پليز ، زۀ موبائيل امّی له ورکوم "۔ فرحان په زړۀ کښې وائی "امّی له ؟ د دې مطلب دا دې چې دا جينۍ زما خور ده "۔ هغه لا دَ مهندريه په باره کښې سوچ کوو چې دَ هغه په موبائيل



www.pukhto.net



اواز راغې "هيلو فرحانه بچې څنګه يې ۔ فرحانه تا پسې ډيره پريشانه يم ، راځې نه؟ راشه ځويه چې لږ دې اووينم ډير مې يادېږې"۔

فرحان :۔ امّی زۀ راغلې يم او ستا زوړ کور سره ولاړ يم ۔ تاسو چرته يې ؟

اواز:۔ ځويه تۀ دغلته اودريږه زۀ درځم ۔ "فرحان دَ هغې دَ وينا مطابق دَ هغې په انتظار کښې هلته اودريدو او دَ وخت تيرولو دَ پاره يې په موبائيل کښې ګوتې وهلے ۔ هغه لا په دغه مشغولا وو چې دَ هغۀ مور را اورسيده۔ دَ هغۀ په ليدو باندې هغه ډيره خوشحاله شوه ۔ هغه يې سينې پورې اولګوو او دَ ډيرې خوشحالۍ نه په ژړا شوه ۔ بيا يې هغه څو څو ځله پے واره پے واره ښکل کړو ، لکه دَ ماشوم يې دَ لاس نه اونيوو او ځان سره يې روان کړو۔ په روانه روانه کښې ترينه هغۀ تپوس اوکړو "امّی تاسو دا کور خرڅ کړې دې"؟

سوراج :۔ هاؤ ځويه مونږ دې ځاې نه تلی يو ۔

فرحان :۔ اوس چرته اوسيږې ؟

سوراج :۔ بس را اورسيدو ، يو دوه ګلۍ وړاندې زمونږ کور دې ۔ دا ښۀ ده چې راغلې ځويه تاپسې مې زړۀ پړق چودو او که نن نه وې راغلې نو بيا ستا دَ راتلو ضرورت نه وو۔

فرحان :۔ ولې امّی بيا ولې ضرورت نه وو۔

سوراج :۔ چې زۀ نه ووم نو بيا ستا راتلۀ او نه راتلۀ يو برابر وو۔ ستا جُدائی زما دَ برداشت نه بهرده ځويه ۔



Pukhto.Net

فرحان :۔ اوه، دا ښه ده چې راغلم او خپله امّی مې ژوندۍ اولیده ، دې سره دواړه په خندا شی ۔ سوراج خپلې اوښکې په لوپټه اوچې کړی ، پـه روانـه روانـه کښـې یو ځل بیا هغه ښکل کړی او ورته وائی "ځویه دغه مخامخ زمونږ کور دې"

فرحان :۔ واؤ ، دا خو لویه حویلی ده ۔

سوراج :۔ بالکل ۔ دا لویه حویلی په اصل کښې یو مندر دې او په دې مـندر کښـې دنـنـه زمـونـږ کـور دې ۔ راځه ځویه ۔ هغوی په یو لوې ګیټ دننه شو ۔ چې لږ مخکښې لاړل نو هغه دَ اوسپنې یو وړوکی ورسره اودریده او هغه ته ئې اووې " دا وړوکې ورِ دَ مندر دَ هال دې او دا هال عبادت خانه ده ... او مـونـږ چې پرې روان یو دا لار زمونږ کور ته تلې ده ....ماپسې راځه"۔

فرحان :۔ امّی تاسو خپل کور ولې خرڅ کړو ۔

سوراج :۔ ځویه چې کله ستا پلار ته د دې مندر ذمه واری وریه غاړه شوه نو دې سره ورته دا کور هم ورکړې شو ۔ چې مونږ دلته راغلو نو دَ هغې کور ضرورت پاتې نشو ځکه مو خرڅ کړو ۔

فرحان :۔ ابّو د دې دهرمسال بامبړ شو ؟

سوراج (مسکی شی ) هاؤ ځویه ستا پلار د دی مندر بامبړ او زۀ یې بامبړه یم "۔

فرحان :۔ ستاسو خو بیا مزې شوې ؟

سوراج (مسکی شی ) هم دې مزو له مې راغوښتې کنه ځویه ، په دغه



www.pukhto.net



خـنـدا خـوشحالی کښې هغوی کورته دننه شی ۔ دَ کور په ور کښې دَ هغۀ استقبال ته یوه لوړه دنګه خائسته ماه پیکره په خائسته ، چُست اودل فریب لباس کښې ګلدسته په لاس ولاړه وه ۔ دَ هغې دَ تورو الوول زلـفـو جـال دَ هـغـې پـه اوږو خـور او دَ هـغـې دَ سیمین بدن ګلستان دَ سمسورو ګلونو او وړمو نه نسکور وو۔ دَ هغې غزالی سترګې دَ هغۀ دَ راتـلـو پـه لاره لـګـیـدلې او دَ هغې ګل پاڼې شونډې موسیدلې وې ۔ هـغـۀ چې هـغې ته اوکتل نو هغۀ ته داسې محسوس شوه لکه چې هغه دَ دنیا حسین ترین مجسمی ولاړ دے او دغه حیران کن شهکار ته ګـوری ۔ دَ هـغې لیدو سره دَ هغۀ په خوله کښې لاړې اوچې شوې خو چې کله هغه مسکی شوه نو دَ هغۀ مینه په سیالی شوه ۔ مینه یې دَ جذبو نه ډکه شوه او خوله یې دَ اوبو نه ډکه شوه ۔ هغه دَ فرحان مخې لـه ورغـلـه او پـه مسـکـا یې ورته ګلدسته پیش کړه ۔ هغه دَ هغې نه ګـلـدسـتـه واخسـتـه او لا پـه لاس کښـې یې نیولې وه چې هغه دَ هغۀ خپـو تـه ټیـټـه شوه ۔ دَ هغې اوږدې زلفې په فرش لګیدې او دَ هغۀ نه مـخـکښـی مـخـکښـی پـه شاتله لکه چې دَ هغۀ خپو ته په زلفو لاره جهارو کوی ۔ دا دَ یو ګران میلمه دَ استقبال دَ پاره دَ هغوی رسم وو خو هغـۀ تـه دا رسم دَ هغې دَ حسن توهین ښکاره شو ۔ هغۀ هغه دَ دواړو لیـچـو نـه اونیـوه او پـه مـزه مـزه یې نیغه اودروله ۔ هغۀ چې هغې ته اوکتل نو دَ هغې سترګې سرې شوې او سپین مخ یې سره لمبه شوې وو۔ هـغـۀ غـوښـتـل چې هغه ځان ته راجخته کړی او دَ هغې دَ مخ په

لمبو دَ خپل زړهٔ لمبې مړې کړې خو دَ مور دَ موجودګۍ په وجه هغهٔ داسې اونکړې شو ـ هغه لا دَ لیچو نه نیولې وه چې هغې ورته په مُسکا اووې "نمسکار" دَ هغې دَ نمسکا په جواب کښې هغه هم مسکے شو او وئې وئیل "نمسکار"

سوراج هغه په څو څو کمرو او برنډو ورتیر کړو بیا یې په پوړو دریم چهت نه اوخیژوو او په ګیلرۍ کښې روان وو ـ چې په څو څو کمرو ورتیر شو نو اخر یې یوې لوې او خاص کمرې ته بوتلو ـ په کمره کښې وال ټووال سور غیر ملکی قالین غوړیدلې وو او دَ آرائش وزیبائش په سامان خائسته کړې شوه ـ په کمره کښې یو ډبل بیډ وو۔ یو سنګار میز ، یو شوکیس ، یو ټی وی ، دوه دَ شیشی الماری او په میز پروت یو غټ ګلدان وو چې په هغې کښې دَ ګلونو په ځاې دَ طاؤس لوې لوې بڼې دَ ګلدستې په شکل کښې لګیدلې وې ـ دې نه علاوه یو چپرکټ پاس چهت پورې الته ترلې شوې وو۔ دَ هغې لنګې ته دَ غټې رسۍ پوړۍ جوړه شوې او کټ پورې ترلې شوې وه ـ دَ چپرکټ دَ پاسه په چهت کښې یوه غټه ائینه لګیدلې وه دَ ډبل بیډ لنګی او سرته دوه غټې ائینې لګیدلې وې ـ ډبل بیډ سره جخت سنګار میز وو چی په هغې کښې دَ میک اپ او سنګار سامان لګیدلې وو۔ هغې سره خوا کښې شوکیس وو چې مختلف قسمه قیمتی ، انټیک پکښې په سمون سمون پراتهٔ وو ـ شوکیس سره جخت صوفه سیټ وو او صوفه سیټ ته مخامخ په دیوال باندې دَ



www.pukhto.net



سابقه بامبړانو دَ تصویرونو نه علاوه دَ موجوده بامبړ یعنی دَ هغهٔ دَ پلار تصویر هم لګیدلے وو او هر یو تصویر سره دَ تعنیاتۍ او دَ سبکدوشۍ تاریخونه لیکلی شوی وو۔ سوراج په کمره کښې دَ پرفیوم سپرې کوله او هغهٔ دَ کمرې جائزه اخسته ـ دَ شیشو په الماریۍ کښې مذهبی کتابونه او دَ مذهبی عالمانو په باره کښی لیکلی شوی مختلف کتابونه پراتهٔ وو ـ هغه چی دواړه الماریۍ اوکتې نو دیوې نه یې یوه کتابچه راواخسته او چې کهلاؤ یې کړه نو په هغې کښې دَ دې دهرمسال په باره کښې پوره معلومات ، دَ دهرمسال نقشه او په دې دهرمسال کښې تیر شوی دَ ټولو بامبړانو سوانح حیات وو۔ دَ دهرمسال اعراض ومقاصد ، دَ درس وتدریس ، انتظامیی او په دیکښې موجود دَ مختلفو شعبو ذکر وو۔ هغه کتابچه په لاس بیډ له راغۍ او کیناستو ـ سوراج هم دَ خپل کار نه اوزګاره شوې وه ـ هغه هم راغله او هغه سره کیناسته ـ بیا یې فرحان ته اووې " خپې اوغزوه بچې ستړې شوې یې چې په خپو درله زور کړم " ـ دې سره هغه دَ هغهٔ خپې سموی او په خپو ورله لاس اړدی ، فرحان خپې غونډې کړې او هغې ته وائې "نه مورې نه ـ نه زهٔ ستړې یم او نه تا خپلو خپو ته پریږدم ـ

سوراج :ـ نه ځویه داسې نشې کیدې ـ دا زمونږ دَ پاره څهٔ نوې خبره نه ده ـ دا زمونږ دستور دې ـ فرحان ځان راغونډ کړی او هغې ته وائی "نه امّی نه ـ زما خپې به ماتې شی خو ستا لاس به ورته پرې نه ږدم "۔

سوراج :۔ ولې ځويه ؟ داسې څۀ خبره ده چې زما لاس خپو ته نه پريږدې۔

فرحان :۔ امّی مور له خداې ډير اوچت مقام ورکړې دې ، زۀ نه غواړم چې زما مور دَ خپل مقام نه پريوځی او زما خپو له راشی "۔ هغوی لا دا خبرې کولې چې په ديکښې مهندريه په بدل لباس کښې دَ شربت ټرې په لاس راغله ۔ په سره جوړه کښې هغه سراپا دَ اور لمبه وه ۔ هغې ټرې په ميز کيښوده ، يوګلاس يې فرحان له ورکړو او بل يې سوراج له ۔ بيا يو طرف ته په ادب اودريده او دَ هغوی تاثراتو ته يې کتل ۔ چې فرحان شربت اوڅکو نو هغې ترينه ګلاس واخستو او په ټرې کښې کيښودو ۔ چې سوراج شربت اوڅکو نو هغې نه يې هم ګلاس واخستو ،په ټرې کښې يې کيښودو او دَ ټرې سره بهر اووته ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس هغۀ مور ته اوکتل او تپوس يې ترينه اوکړو ، "امّی دا جينۍ څوک ده " ؟

سوراج (مسکۍ شی ) ولې ؟ دا تپوس دې څنګه اوکړو ؟

فرحان :۔ دا تپوس مِ ځکه اوکړو چې شايد دا جينۍ ماپيژنی ۔ لږ ساعت مخکښې چې ماتاته رِنګ کړې وو نو ستا په نمبر مِ دې سره خبرې شوې وې ۔ ما چې ورته خپل نوم اوښودلو نو دې وې چې "تۀ هولډ کړه زۀ موبائيل امّی له ورکوم "۔دا جينۍ واقعی ستا لور او زما خورده ۔

سوراج :۔ نه ځويه داسې نه ده ۔ زما ږومبې او روستې اولاد ته يې ۔



www.pukhto.net



تا نه علاوه زما بل اولاد نيشته البته ستا دَ پلار دَ عهدې په وجه دا جينۍ مهندريه او داسې نورې ډيرې جينکۍ ماته امّی او ستا پلار ته ابّو وائی ۔ پاتې شوه دَ پيژندګلو خبره نو مهندريه ، کنوريه ، ديوی ديپک ، ريکهاشاستری ، مهانسی کپور ، اناطوليه کمار او داسې نورې ډيرې جينکۍ تانه پيژنی خو ستا نوم پيژنی ۔ دوی سره ما ستا غائبانه تعارف کړې دې ۔

فرحان :۔ دا جينکۍ دلته څۀ کوی ؟

سوراج :۔ (مسکۍ شی ) ځويه تۀ جاسوس خو نه يې چې په ږومبۍ ورځ دومره تپوسونه کوې ۔ وخت تيريدو سره به په خپله پوهه شې .... ښۀ سمله ځويه لږ ارام اوکړه نورې خبرې به بياکوو۔ دَ ماښام وخت نزدې دے زۀ دَ عبادت تيارې کوم ۔

فرحان :۔ امّی ، ابّو چرته دې ؟

سوراج :۔ هغه خپل عبادت کښې مصروف دے ۔ ستاسو ملاقات به دَ ماښام نه روستو کيږی ۔ ښه ځويه تۀ لږ ارام اوکړه زۀ درنه ورځم "۔

دَ هغې دَ تلو نه پس هغۀ هغه کتابچه راواخسته او دَ هغې لوستل يې شروع کړل ۔ دا دهرمسال دَ ګولډن ټمپل امرت سر يوه ذيلی مذهبی اداره وه ۔ دَ دې نوم ټمپل ټو Temple.2 وو۔ دا دهرمسال درې منزله وو۔ يو منزل لاندې په زمکه کښې وو او دوه منزله دَ هغې دَ پاسه وو ۔ دَ دهرمسال عبادت خانه دَ دهرمسال دَ آبادۍ په مينځ کښې وه ۔ دَ هغې نه چاپيره لوې ، ورې مربوطې کمرې وې۔ دَ ټولو کمرو

کهړکۍ او ورونه عبادت خانې طرف ته وو البته روشندانونه شاته وو. دَ هر منزل دَ کمرو مخې ته چاپیره لوې برنډې تاؤ شوې وې او دَ برنډو په چجو ګولډن ګریلنګ شوې وو. دَ هر منزل دَ هر ور او کهړکۍ نه به دَ عبادت خانې نظاره ډیره په اسانه کیده ځکه چې په هغې خپل چهت نه وو بلکه دَ دریم منزل چهت دَ کمرو او برنډو سره په هغې راغلې وو. په دیکښې په سړنو کمرې وې او دَ عبادت خانې نه واخله تر رهائشی کمرو پورې دَ هرې کمرې په فرش او دیوالونو دَ قیمتی کاڼو نقش ونګار او ګلکاری شوی وې . په هره کمره کښې یو یو واش روم وو چې دَ هغې دَ اوبو نکاس لاندې بهیدونکې ولې ته شوې وو چې هغې ته به ګنده ویڼ ویلې کیدو . دَ بهرِدَ عبادت ګزارو دَ پاره عبادت خانې ته دَ تلو راتلو دَ پاره دَ اوسپنې یو وړوکې ور لګیدلې وو. دا ور دومره چیت وو چې راتلونکی یا تلونکی به ارو مرو سرخکته کوو . دغه وړوکی او چیت ورته مخامخ یو لوې بُت ولاړ وو چې هغه دَ هغوی دَ عقیدې مطابق دَ هغوی لوې خدای وو. هغه نه لږه فاصله باندې دَ هغهٔ نه نسبتا وړوکی بُت وو چی هغه دَ هغوی دَ عقیدې مطابق دَ هغوی دویم خدای وو . دَ دغه دواړو نه په لږه لږه فاصله باندې نور واړهٔ واړهٔ بتان وو چې هغوی په جسامت کښې هم کم وو او قدروقیمت کښې هم . دا دهرمسال عبادت خانه هم وه او دَ هندوانو ، سکهانو مذهبی درسګاه هم وو. دَ پښتونخوا دَ قبائلی علاقو او دَ کابل او جلال آباد کوم هندوان اوسکهان به چی دَ مذهبی تعلیم دَ پاره



www.pukhto.net



هندوستان ته نشو تلې نو دې درسګاه ته به راتلل، دا درسګاه دَ هندوستان دَ ټولو مذهبی درسګاهونه منظور شده وو. دا دهرمسال لکه دَ ګولډن ټمپل دَ سِکهه برادرۍ له خوا په نوی طرز جوړ شوې وو او په دیکښې دَ عبادت او اوسیدو ټول سهولیات موجود وو. دَ سکهانو نه علاوه به دې ته هندوان او دَ هندوانو دَ هرې فرقی او مسلک خلق هم راتلل او مذهبی ، علمی او روحانی تنده به یې ماتوله ، په دیکښې دَ زنانهٔ دَ پاره کمیونټی سنټر هم وو او دَ جینکو دَ پاره شلټر سنټر هم وو. دې نه علاوه دَ هغوی دَ اشنان دَ پاره یو سویمنګ پول هم وو. هغه جینکۍ چې دَ والدینو ، خپلوانو دَ ظالمانو ګوانډیانو یا دَ علاقې دَ ورانکارو او بدمعاشانو له خوا به ورته جانی یا دَ عصمت درې خطره وه نو دلته به یې پناه اخسته . دَ هغوی دَ قیام وطعام او ارام وسهولت به ډیر خیال ساتلې کیدو او چې تر څو به دَ هغوی مسلے حل شوې نه وې نو په دې شلټر کښې به ډیره وې ، دَ هغوی ټوله خرچه به دَ دهرمسال انتظامیې برداشت کوله . ځینې پکښې داسې هم وې چې هغوی خپل ټول ژوند دَ دهرمسال خدمت ته وقف کړې وو. ډیرې پکښې داسې هم وې چی هغوی به دلته دَ خپل شریک حیات انتخاب اوکړو دلته به وادهٔ شوې او بیا به خپلو خاوندانو سره تلې . ځینې پکښې لا وارثه جینکۍ هم وې چې هغوی دلته وړې راغلې وې او پیغلی شوې . دې دهرمسال او مذهبی ادارې سره دَ پیروکارو دومره روحانی مینه وه چې دَ خپل امدن څهٔ

Pukhto.Net

برخه به یې ارومرو دې ته عطیه کوله ـ دې نه علاوه دَ هندوستان او دَ پاکستان دَ سکهـ او هندو برادرۍ سیټانو به باقاعده میاشتوار او سالانه عطیات ورکول ـ ډیرو پکښې خپلې روپۍ امانت ایښودې ـ دَ هغې به باقاعده اندراج کیدو او رسید به ورکړې کیدو۔ او چې کله به یې اوړې نو رضاکارانه طور به یې څهٔ نا څهٔ برخه دَ عطیې په طور ورکوله ـ کله چې امریکې په افغانستان حمله اوکړه نو دَ مسلمانانو سره هندوان او سکهان هم پریشانه شو او دَ هغوی دَ سرمایې دَ زیان خطره هم پیدا شوه نو سرمایه دار هندوانو او سکهانو خپلې سرمایې دلته راؤړې او دلته یې محفوظ کړې ـ دې نه علاوه چې کله په تیراه ، کوهاټ او په خواؤ شانورو علاقو کښې دهشت ګردی شروع شوه نو هغوی هم خپلې روپۍ ، کالې او نور قیمتي څیزونه دلته راؤړل او دلته یې محفوظ کړل ـ دلته دَ نارینهٔ او زنانهٔ میلمنو دَ پاره بیلې بیلې مهمان خانې وې ـ هغوی ته به دَ هغوی دَ حیثیت مطابق دَ لنګر نه خوراک څښاک ورکړې کیدو او دَ هغوی دَ ارام او عباداتو به خاص خیال ساتلې شو۔ د دې دهرمسال امدن دَ خرچې په نسبت ډیر زیات وو۔ هم دغه وجه وه چې په کروړونو روپۍ ورسره په فنډ کښې بچت پرتې وې ـ د دې ټولو شعبو انچارج دَ دهرمسال بامبړ وو۔ دَ ټول امدن او خرچې صوابدیدی اختیار بامبړ سره وو۔ دَ هغه نه اډټ کیدیشو او نه هغه چاته جواب ده وو۔ فرحان لا دَ کتابچې په مطالعه کښې مصروف وو چې دیکښې دَ عبادت دَ پاره ټلې اووهلې شوه ـ دَ


www.pukhto.net



دهرمسال ټلې لا ټنګیده چې دَ چاپیره جماتونو نه دَ اذان اوازونه شروع شو ـ فرحان چې دَ اذان غږ وورید و نو کتاب یې بند کړو او دَ نمانځه دَ پاره جمات ته روان شو ـ یو خوا خلق دَ عبادت دَ پاره دَ دهرمسال عبادت خانې ته روان وو بل خوا هغه ډیر په تیزۍ سره په پوړو کوزیدو دَ هغوی په ډیرو خدایانو تیریدو او دَ یو صرف دَ یو نالیدلی خدای دَ بندګۍ دَ پاره جمات ته روان وو۔ جماعت کښې یې اودس اوکړو او دَ امام دَ الله اکبر سره یې الله اکبر اووې او نمانځهٔ ته اودریدو۔ دَ نمانځهٔ نه پس یې ذکر واذکار او تسبیحات اوکړل ، سوره فلق ، سوره الناس او آیات الکرسی یې اووې ، په ځان یې چف کړه او دهرمسال ته روان شو۔ چې دهرمسال ته اورسیدو نو هغهٔ دَ کور په لاره خپلې کمرې ته لاړو او په خپل بیډ کښې سملاستو ـ هغه سترګې پټې کړې او په پټو سترګو یې تسبیحات کول ـ هغه لا په دغه حال کښې پروت وو چې دَ هغه پلار مهاراجه مهاسنګهـ او دَ هغه مور سوراج دواړه په خوشحالۍ خوشحالۍ دَ هغهٔ کمرې ته راغلل ـ هغهٔ په نیم کخو سترګو هغوی ته اوکتل خو ځان یې ناغرضه کړو ـ مهاسنګهـ مسکے شو او سوراج ته یې اووې "تُو اڑہ پتّر سُتّا پئیں"....انُو جگانہ دیں"۔ دواړو په خوشحالۍ خوشحالۍ دَ هغهٔ مخ ته کتل او ځان سره یې خاندل ـ سوراج په خندا خندا کښې دَ ګلدان نه دَ طاؤس دَ بڼو جهارو نما ګلدسته راواخسته او هغه ته اودریده۔ مهاسنګهـ دَ هغهٔ بیډ سره ولاړ وو ، څهٔ دم دُرخا به یې ویله او دَ سر نه واخله تر خپو پورې

به يې په هغۀ چُف کوله ، او سوراج به دَ هغۀ په بدن د طاؤس دَ بڼو جهارو وهله ـ چې دَ هغوی دود دستور ختم شو نو مهاسنګهـ ، سوراج ته اوکتل او وې وئيل "ھونڑا اسکے سارے گناہ مُکھ گئے"۔ دې سره دواړه په خندا شو ـ په دغه خندا خندا کښې سوراج دَ فرحان دَ ويښولو کوشش کوی او ورته وائی ، "فرحانه ، پاڅه ځويه ستا ابّو راغلے دې او تاته ولاړ دې"۔ هغه دَ مخکښې نه ويښ وو او دَ هغوی دَم دُرخا پورې يې په زړۀ کښې خاندل خو چې دَ مور اواز يې وورېدو نو سترګې يې اوغړولې او پاڅيدو ـ مهاسنګهـ چی هغۀ ته اوکتل نو بے اختياره ورترغاړه وتو او ډېر شيبه يې سينې پورې نيولې وو ـ بيا يې څو څو ځله ښکل کړو ـ په ښکلولو ښکلولو کښې دَ هغۀ سترګی دَ اوښکو نه ډکې شوې او هغۀ تږلې دَ هغۀ په مخ توې شوې ـ بيا يې سترګی اوچې کړې ، سوراج ته يې اوکتل او وې وئيل "ساڈا پُتر تو سونڑا جوان بن گیا"۔

سوراج :ـ "بھگوان نظرِ بد سے بچائے"۔ سوراج دَ لاس نه اونيوو او مهاسنګهـ دَ هغۀ په اوږه لاس واچوو او دَ کمرې نه بهر اووتل او ډائننګ روم ته ډوډۍ له روان شو ـ مهاسنګهـ مذهبی لحاظ سره سکهـ وو هغه په هندی ، اردو ، پښتو او هندکو هم پوهيدو خو اکثر به يې خپله مورنۍ ژبه پنجابی ويله ـ سوراج مذهبی لحاظ سره هنده وه ـ دَ هغې خپله مورنۍ ژبه هندی وه خو په پښتو ، اردو ، هندوکو او پنجابی ژبو يې هم ښۀ کمانډ حاصل وو۔ دَ فرحان مور



www.pukhto.net



هغۀ دَ پاره دَ ميلمستيا ښه اعلیٰ پروګرام کړې وه ، په ډائننګ روم کښې ډوډۍ په ميز لګيدلی وه او مهندر يا دَ هغوی دَ راتلو په انتظار کښې دَ هغوی سروس ته ولاړه وه ـ دَ ډوډۍ شروع کولو نه مخکښې هغۀ څۀ اووې او په ډوډۍ يې چُف کړو۔ فرحان مسکے شو بسم اللّٰه يې اووې او ډوډۍ يې شروع کړه ـ هغوې ډوډۍ هم خوړه او خپلو کښې يې خبرې هم کولې ـ په خبرو خبرو کښې مهاسنګهـ دَ هغه نه دَ هغۀ دَ تعليم ، نوکری ، روزګار ، دَ کوراو دَ کلی اولس په باره کښې ډېر تپوسونه اوکړل او هغۀ ښه معقول او زړۀ پورې جوابونه ورکړل۔ دَ فرحان دَ پاره دَ حيرانتيا خبره دا وه چې په دغه تپوسونو او جوابونو کښې دَ هغۀ پلار چرې هم هغۀ ته په هسکو سترګو اونه کتل ـ خو ډېر زر هغۀ ته پته اولګيده چې دَ هغۀ پلار شايد دَ ماضی په خپل غير انسانی سلوک خپل ضمير او خپل ځوی ته ملامته دې او په دې وجه ورسره سترګې نشی لګولې ـ شايد هم دغه وجه وه چې هغۀ خپلې ښځې سوراج ته دَ هغۀ د راوستو اجازت ورکړو ـ د دې ملاقات نه مخکښې هم دَ فرحان هغه سرۀ درې ملاقاتونه شوی وو۔ په ړومبی ځل هغه سوراج دَ رام سنګهـ په مدد اغوا کړې او خاوند ته يې دَ رام سنګهـ ځوی ښودلې وو۔ په هغه وخت کښې دَ هغۀ عمر څلور، څلور نيمه کاله وه ـ په دويم ځل هغه دَ اووه ، اونيم کاله په عمر کښې اغوا شوې او راوستلې شوې وو ، او مهاسنګهـ ته دَ پری وار يتيم ځوې ښودلې شوې وو۔ په دريم ځل هغه دَ يوؤلس دولس کالو په عمر کښې

اغوا شوې وو او سوراج مهاسنګهـ ته بیا دَ پری وار یتیم څوې ښودلې وو ۔ دیارلس ، څوارلس کاله پس دا دَ مهاسنګهـ سره دَ هغهٔ څلورم ملاقات وو او دا ملاقات دَ اجنبی په حیث نه بلکه دَ هغهٔ دَ څوی په حیث وو۔ په دغه خبرو اترو کښې هغوی ډوډی اوخوړه۔ چې ډوډۍ اوخوړې شوه نو مهاسنګهـ هغهٔ ته اووې " څه څویه خپلې کمرې ته ورشه ، ارام اوکړه " دی سره ټول پاڅیدل ۔ مهاسنګهـ هغه ښکل کړو او ورته اووی "شب بخیر " فرحان هم دَ هغهٔ دَ شب بخیر جواب په شب بخیر اوکړو ۔ دې سره مهاسنګهـ خپلې کمرې ته روان شو او سوراج هغه دَ لاس نه اونیوو او هغه یې کمرې ته روان کړو۔ چې هغه کمرې ته اورسیدو نو سوراج هغه ښکل کړو او شب بخیر یې ورته اووې ۔ دَ هغې دَ شب بخیر جواب هغه په شب بخیر اوکړو۔ سوراج په تلو کښې هغه بیا ښکل کړو او بهر اووته ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس فرحان واش روم ته ورغی ، اودس یې اوکړو او نمانځهٔ ته اودریدو ۔ هغه لا په نمانځه ولاړ وو چې مهندر یا دَ هغهٔ کمرې ته راغله ۔ هغې چې فرحان په نمانځه اولیدو نو یوه شیبه یې په مُسکا مُسکا دَ هغهٔ دَ نمانځهٔ تماشه کوله او بیا په مُسکا بهر اووته ۔ فرحان چې خپل نمونځ اوکړو نو خپل بیډ له ورغی ، خور وور پکښې سملاستو او دَ ننۍ ورځې په واقعاتو یې سوچ کوو۔ هغه لا په خپلو

سوچونو کښې ډوب وو چې دَ هغهٔ دَ کمرې په ور ناکنګ اوشو ۔ دَ ناکنګ سره هغهٔ اووې ۔ Yes, come in " دې سره ورلړې شو


www.pukhto.net



اومهندریا کمرې ته دننه شوه ۔ دَ راتلو سره هغه مسکۍ شوه ، دَ هغه بیډ ته اودریده او هغهٔ ته یې اووې ، "نمسکار " هغې سره پاجامه او سپین بے لستونو بنین اغوستې وو۔ دَ هغې ګورې زلفې لکه دَ تورې وریځې دَ هغې په سپوړمۍ مخ ، په شانو او دَ هغې دَ مینی په خزانو زانګیدی او دَ هغې دَ ځوانۍ ورمۍ په کمره کښې خوریدی۔ دَ هغې بے لباسه اعضاء دَ بجلی په رڼا کښې ځلیدل او هغې په غټو غټو پسخیدلې سترګو دَ هغهٔ تاثراتو ته کتل ۔ هغه ډیره شیبه دَ هغې دَ طلسماتی حسن په کشش کښې دَ هغې دَ معجزانه خائست په تماشه وو چې هغه بیا مسکۍ شوه ۔ دَ هغې مسکا سره هغه ته ورپاد شو چې هغهٔ دَ هغې دَ سلام جواب نه دې کړې ۔ هغه مسکے شو او په پریکړو پریکړو ټکویې اووې "نمس ... کا ... ر" ۔ دَ هغهٔ دَ نمسکار په هجو باندې دَ هغې مسکا په خندا کښې بدله شوه ، ټیټه شوه او دَ هغهٔ په خپو یې لاسونه کیښودل ۔ دَ هغې دَ لاسونو ایښودو سره یوه برقی سړیکه دَ هغهٔ دَ زړهٔ نه اووته او دَ هغهٔ په معزو کښې سره شوه ۔ دې سره دَ هغهٔ دَ هوش وحواس ټولې رڼا ګانې ختمې شوې او دَ هغه په ذهن دَ جذباتو تیرې خورې شوې ۔ هغې دَ هغهٔ خپې منډلې او دَ هغې دَ پستو لاسونو حرارت دَ هغهٔ شهوانی ارادې سکونډلې، هغهٔ هغې ته په غټو سترګو کتل خو دَ طوفانی جذباتو په تیرو کښې یې هیڅ نه لیدل ۔ هغه ډیره شیبه دَ مینې په خوږو نغمو او دَ هغې دَ بدن په ورمو مدهوشه پروت وو۔ دَ احساس تڼۍ دَ هغهٔ په ذهن کښې

کړنګیدې خو دَ هغهٔ غوږونو نه اوریدې ۔ چې کله دَ هغهٔ دَ احساساتو شور زیات او دَ جذباتو زور خور شو نو دَ عقل سترګې یې اوغړیدې۔ هغهٔ خپلې خپې راغونډې کړې ، دَ هغې لاسونه یې په خپل لاس دَ خپو نه لرې کړل او ورته یې اووې No more, that's o.k ۔ " هغه لا هغسې ولاړه وه چې هغه ورته بیا اووې ، Get back please. روستو شه ۔ " دی سره هغه خپل ځان راغونډ کړو ۔ مهندریه په یره یره دَ هغهٔ دَ بیډ نه روستو شوه ، په مایوسه نظر یې هغهٔ ته اوکتل او وې وئیل ، " صیب جی ، آیا زما لاسونه دومره ناپاکه دی چې ستا دَ خپو قابل نه دی ؟

فرحان ( په لاپروائی ) نه مهندریه دا خبره نه ده ، هغه څه ویل غواړې خو اونه وئیلے شی او چپ پاتې شی ۔ مهندر هغهٔ ته غلې غونډې وائی ، " صیب جی زما نه نفرت مه کوه ....زهٔ نه شودره یم، نه هریجنه یم بلکه ستا ......"۔

فرحان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلی او وائی ، "نه مهندریه داسې نه ده ۔ شودر هم انسان دې او هریجن هم انسان دې ۔ داسې هیڅ خبره نیشته "۔ هغه هغې ته څهٔ ویل غواړی خو اونه ویلے شی او بیا چپ پاتې شی ۔ مهندریه هغهٔ ته په مظلومو سترګو ګوری او وائی ، " په دغه انسانانو کښې زهٔ هم شامله یم صیب جی ۔ فرحان هغې ته په لا تعلقۍ سره وائی ۔ "زهٔ دَ بحث په موډ کښې نه یم پلیز "۔

مهندریه :۔ صیب جی ، که زمانه په ناپوهۍ کښې څهٔ بے ادبی یا



www.pukhto.net



ګستاخی شوې وی نو دَ هغې معافی غواړم ..... صیب جی زهٔ خو ستا خدمت له راغلې یم ......صیب جی ماته څهٔ حکم دې "۔

فرحان ( په غصه ) تاته داخواست دې چې ما یواځې پریږده پلیز .... څه ، اوځه .... Leave me all alone.Iwant to sleep

مهندریه :۔ صیب جی ، زهٔ افسوس کوم چې زما په راتلو او زما په سروس ستاپه ارام کښې خلل راغی....زهٔ معافی غواړم صیب جی "۔

فرحان هغې ته دَ قهر په نظر ګوری ، دَ دواړو لاسونو تلی او ګوتې خپلو کښې یو ځاې کوی ، دَ سلام په توګه یې په خپل تندی اړدی او وائی ، "ما معاف کړه پلیز ، پلیز " مهندریه هغهٔ ته په ډکو سترګو ګوری لکه چې هغه ته وائی "صیب جی ، تاسو په خپله فیصله نظر ثانی کولې شی "؟

فرحان په ځان کمبل خوره کړی ، ډډه بدله کړی او سترګی پټې کړی ۔ هغه ډیره شیبه چپ ولاړه وی او په ډکو سترګو هغهٔ ته ګوری ۔ بیا غلې غونډې دَ هغهٔ په اوږه لاسونه اړدی او دَ هغهٔ اوږه منډی ۔ هغه چې دَ هغې دَ لاس په لمس پوهـ شی نو هغه دَ لاس نه نیسی ۔ ډډه بدله کړی او ورته وائی ، " تهٔ لا هغسې ولاړه یې "۔ تهٔ زما په ژبه نه پوهیږې او که زما په خبره نه پوهیږې۔ Get out of my room and shut the door ۔ شابه زر اوځه " ۔ دې سره هغه دَ هغې لاس له تالۍ ورکوی او په تالۍ کښې یې ورپریږدی ۔ دَ هغې لاس اوزانګیږی ، دَ هغې پتون سره اوجنګیږی او هلته سوړ شی ۔ هغه

خپلې اوښکې اوچوې او غلې غوندې روانیږی خو په هر قدم په دې امید هغه ته په لوندو سترګو روستو روستو ګوری چې کیدیشی هغه په خپله رویه نظرثانی اوکړی ، او هغه خپله غصه په مسکا بدله کړی۔ چې دَ کمرې ورته اورسی نو هلته یوه شیبه اودریږی او هغهٔ ته دَ امید په نظر ګوری خو چې دَ هغهٔ نه ناامیده شی نو غلې غوندې ورلړې کړی ، بهر اوځی او ورځان پسې په مزه پورې کړی ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس هغهٔ دَ سکون او اطمینان یوه لویه ساه واخسته لکه چې یو درونړ پیټی یې دَ اوږو نه لرې شوې وی ۔ دې سره یې سترګې پټې کړې او ډېره یې بدلـه کړه ، معلومه نه ده چې دَ هغهٔ په زړهٔ کښې څهٔ خیال راغی۔ چې دَ هغې په وجه یې هغه دَ کمرې نه اوویستله ۔ دا پټه خبره څو څو ځله دَ هغهٔ په زړهٔ کښې راغله خو هغې ته یې سرګنده نه کړه ۔اګر چه په ظاهره هغهٔ دَ خپل ارام او خوب دَ پاره هغه اوویستله خو دَ هغې دَ تلو نه پس هغه دومره بے ارامه شو چې ډېې په ډېې به اوختو رااوختو خو قرار نه ورتلو ۔ په رومبی ځل چې دَ هغهٔ سترګې ورغلې نو هغه ورته مخکښې اودریده او ورته یې اووې " صیب جی ، آیا زما لاسونه دومره ناپاکه شو چې ستا دَ خپو قابل هم نه دی " دې سره هغهٔ سترګې اوغړولې ، په کمره کښې یې اخوا دیخوا اوکتل خو چې هغه یې اونه لیده نو بیا یې سترګې پټې کړې ۔ لږه شیبه پس هغه په دویم ځل راغله او هغهٔ ته یې اووې ، "صیب جی زهٔ نه شودره یم او نه هریجنه یم بلکه ستا ......" دې سره هغه بیا سترګې



www.pukhto.net



اوغړولې او په کمره یې یو نظر واچوو خو چې هغه یې اونه لیده بیا یې سترګی پټې کړې کمبل یې په ځان راخکله او سروغوږ شو۔ دَ هغهٔ سترګې ایله ترخې شوې وی چې هغه په دریم ځل بیا راغله او هغه ته یې په ډکو سترګو اووې ، "صیب جی که په ناپوهی کښې زمانه څهٔ بے ادبی یا ګستاخی شوې وی نو دَ هغې معافی غواړم .... زهٔ خو ستا دَ خدمت دَ پاره راغلې یم صیب جی ....ماته څهٔ حکم دې صیب جی ؟ ...زهٔ افسوس کوم چې زما په راتلو او زما په سروس ستا په ارام کښې خلل راغی ۔ زه معافی غواړم صیب جی "۔ ترناوخته پورې هغه په بیډ کښې اوختو رااوختو خو خوب نه ورتلو ۔ هغه ته داسې محسوسیده چې دَ هغهٔ بیډ دَ ازغو نه ډک دې او دغه ټول دَ هغهٔ دَ بدن نه پورې راپورې اوځی را اوځی ۔ هغهٔ څو څو ځله دَ بیډ په فوم او په کمبل لاسونه اووهل خو هیڅ یې اونه موندل ۔ بیا یې کمبل په ځان خوره کړه او سترګی یې پټې کړې خو هغهٔ ته داسې محسوسه شوه چې دَ هغهٔ په بدن سرې سکروټې زغړی رازغړی ۔ دَ دغه زغریدلو سکروټو په تلاش کښې هغهٔ ټول بدن اولټووخو هیڅ قسمه اثار یې اونه لیدل ۔ شپه دَ نیمې نه اوختې وه ، ټوله دنیا اوده وه خو دَ هغهٔ سترګه پټه نشوه ۔ هغه ته پته اولګیده چې دا دَ هغهٔ مکافاتِ عمل دې او دَ هغهٔ دَ هغه کبرنتیجه ده کوم چی هغهٔ په مهندریه کړے وو۔ هغه له په ځان غصه او دَ هغې په حالت رحم ورتلو ۔ هغه خپل سر دَ دواړو لاسونو په قالب کښې اونیوو، زور یې ورکړو او

ځان سره یې اووې ، " اے زما خدایه ما معاف کړے ، ماستا په یو حسین شهکار باندې کبر کړے دے . . .مامعاف کړے خدایه "۔ دې سره هغه دَ بیډ نه پاځیدو او لکه دَ سودائی پرانستې تنی ګرځیدو او ځان سره ګونګیدو ۔ په ګونګیدو ګونګیدو کښې هغهٔ دَ هغې دَ ایثار او قربانۍ اعتراف اوکړو او ځان سره یې اووې ، " دا هغهٔ جینۍ ده چې نن یې زما دَ راتلو په خوشحالۍ کښې زماخپو ته په خپلو زلفو لاره جهارو کوله . . .او . . .اوما هغې سره څهٔ اوکړل ؟ اوه مائی ګاډ ۔ هغه په کمره کښې ګرځیدو او توبې یې ویستلې ۔ په دومره سخته یخنۍ کښې دَ هغهٔ په بدن اور لګیدلے وو۔ هغهٔ دَ ګیس هیټر مړ کړو او دَ تازه هوا دَ پاره یې کهړکۍ لرې کړه خو چې په دې یې سود اونشو نو ورله ورغی او هغه یې هم لرې کړو ۔ هغه په ورکښې اودریدو او دَ تازه هوا چپو ته یې لاسونه خوارهٔ کړی وو او لکه دَ ټریفک دَ پولیس یې دَ روډ دواړه اړخه بند کړی وو په دې کښې دَ هغه نظر دیوال سره لګیدلې په څهٔ مشکوک ځیز باندې پریوتو ۔ دَ هغهٔ ذهن دَ مخکښې نه ګډوډ شوے وو او د دې په لیدو باندې خو دَ یرې نه اوړچیدو ۔ هغه چې په یره یره ورنزدے شو نو دیوال سره ځوک ناست وو او سر یې په دواړو زنګونونو ایښې وو ۔ تورې زلفې یې لکه دَ تورې لوپټې په سر پرتې وې او تر ګیټو پورې یې کونډۍ، خپې او بربنډې لیچې په هغې کښې پټې کړې وې ۔ هغهٔ چې ورته په غور اوکتل نو هغه مهندریه وه۔ هغه دَ یخنۍ نه کوکله شوې وه او ګړګوزې یې کولې ۔ هغه ورته یوه شیبه


www.pukhto.net



غلے ولاړ وو۔ بیا یې دَ هغې دَ زلفو په جال کښې لاس دننه کړو ۔ او هغه یې دَ لاس نه اونیوه ۔ دَ هغې لاس لکه دَ ژمی دَ مړی یخ پخ ، بے حسه او بے حرارته وو۔ هغهٔ چې دَ هغې دَ پاڅولو په کوشش کښې ناکام شو نو دواړه لاسونه یې ورلاندې کړل ، په غیږ کښې یې اوچته واخسته ،په خپل بیډ کښې یې واچوله او کمبل یې پرې خوره کړه۔ بیا یې زر زر ورهم پورې کړو او کهړکۍ هم ۔ چې دا یې اوکړل نو بیا یې دَ ګیس هیټر اولګوو او ښهٔ په اوچت سپیډ یې پریښودو ۔ هغه داسی کوکله پرته وه لکه چې په پړی سروخپه ترلې شوې وی ۔ هغهٔ دَ هغې دَ خپو غزولو کوشش اوکړو خو دَ هغې کونډۍ دَ هغې سینې پورې داسې انختې وې لکه غبرګونی ماشومان چې دَ مور سینې پوری انختې وی ۔ هغهٔ هغه په کمبل کښې ځو ځو ځله اونغښته۔ په کمبل به یې ګوتې وهلې ، دَ هغې ګونجې به یې په لاس خوروله، او دَ هوا لارې به یې بندولې ۔ هغه لوړه دنګه حسینه چې په ړومبی نظر دَ هغهٔ دَ زړهٔ ملکه جوړه شوې وه اوس دَ خړې کمبل لاندې داسې خاموشه او بے حسه ، بے حرکته پرته وه لکه دَ خړی غونډۍ لاندې چې دَ فطرت دَ لعلونو خزانه پرته وی ۔ هغه ورته خاموش ولاړ وو او په خپلو خیالونو کښې ډوب وو ۔ هغه په خپلو کړو پښیمانه او په خپله رویه شرمنده وو۔ او ولی نه ، هغهٔ ته دا احساس اوشو چې صنف نازک دَ سپرلی پرخه ده ، خوږه ، پسته او خوشګواره۔ چې په فضا وریږی نو رنګونه ترې جوړیږی ، چې په هوا وریږی نو خنکی

تـریـنـه جوړیږی ، چې په غوټو وریږی نو ګلونه ترې جوړیږی ، چې په ګـلـونو وریږی نو ورېمې ترینه جوړیږی ، چې په وږمو وریږی نو نغمې ترینه جوړیږی ، چې په اونو ، بوټو او واخو وریږی نورنګینې ملغلرې ترې جـوړیږی ، چې په ژوندو زړونو وریږی نو مستی ترینه جوړیږی ، میـنـه تـرې جـوړیـږی او دَ جذباتو بحیرونه ترې جوړیږی ، چې په کانو وریـږی نـو مـخونه یې صفا کیږی او چی ....اوچې دَ لارې کو څې په خاؤره وریږی نـو ختـه تـرې جـوړیـږی .....او....اوخپې پری لړلې کیـږی ـ اوه ....اوه مـائـی ګـاډ ، آئـی ایـم سوری مـائی لارډ ، آئی ایم سوری ''ـ دې سره هغه په قالین پړمخ پریوځی او توبې اوباسی ـ هغه ډیره شیبـه په دغه حالت کښې پروت وی بیا پاځی او په مزه مزه واش روم تـه لاړ شی ـ هلتـه اودس اوکړی او بیا پـه نمانځـهٔ اودریږی ـ دَ نـمـانـځـه نـه پـس ذکـر واذکار او تسبیحات کوی او بیا توبې اوباسی ـ هغـه لا پـه خپـل عبادت کښې مصروف وی چې یوخوا په دهرمسال کښې دَ عبادت ټلـی اووهـلې شی بل خوا په چاپیره جماتونو کښې اذانـونـه شـروع شـی ـ دَ اذان نـه پـس هـغـهٔ دَ سحر مونځ اوکړی توبې اوباسی او دَ الله نه معافی غواړی ـ

دَ شـوګیـرې پـه وجـه دَ هغهٔ سترګې سرې شوې او سر درونـد شوې وو ـ سـر پـرې ګـرځیـدو او خوب یې سترګو کښې غړیدو خو دَ خوب ځای ورتـه نـه مـلاویـدو ـ هـغـه بیـډ چې هغهٔ له پکښې خوب نه ورتلو ، په هـغـې کښـې مهندریه دومره په سکون پرته وه چې دَ دنیا او مافیها نه


www.pukhto.net



خبر نه وه ـ هغه به ساعت په ساعت دَ هغې خواله ورتلو ، دَ هغې حال بـه یې معلومه وو خو دَ هغې دَ مخ نه یې کمبل نه اوچتوو ـ دَ هغهٔ په زړهٔ کښـې ډیـرې وسـوسـې وې ـ د دې وسوسو ختمولو دَ پاره هغهٔ په یـره یـره دَ هغې دَ مخ نه دَ کمبل پلو لرې کړو او چې ورته یې اوکتل نو هغه لا هغسې په Foetal position کښې پرته وه ـ دَ هغې زلفې دَ هغې په مخ دانه وانه پرتې وې او دَ هغې کونډو ته رسیدلې وې ـ هغهٔ دَ هغـې دَ زلفو ریښمی تارونه دَ ګوتو په سوکو په احتیاط لرې کړل او چې دَ هغې مخ ته یې اوکتل نو په هغې اوښکو لارې جوړې کړې وې ـ دَ هـغـې پټـې سـتـرګې او دَ اوښکو لارې لا هغسې لوندې وې ـ هغه تیټ شو ، دَ هغې اوښکې او دَ اوښکو لارې یې په خپلو ګوتو اوچولې خـو چـې څومره به هغهٔ اوچولې هومره به هغه لوندیدې ځکه چې دَ هغهٔ خپلې اوښکې دَ هغې په مخ څڅیدې ـ

دَ سـحـر رڼا په دنیا خوره شوې وه ـ نمر دَ زیړو پلوشو ګلدستی ، دَ نوې سـحـر دَ تحفې او دَ خپل سر دَ صدقې په طور دَ کائنات ټول مخلوقات ته په موسیدلې او خندیدلې سترګه پیش کولې ـ ټول ذی روح دَ رزق پـه تـکل دَ دنیا په مخ خوارهٔ شوی وو ، څهٔ خپل منزل ته رسیدلی وو او څهٔ ورنـزدې شـوی وو ـ البتـه مهـنـدریه په درونـد خوب اوده وه او هغه ورتـه خـفـه ولاړ وو ـ پـه دیـکښې دَ هغهٔ دَ کمرې په ورناکنګ اوشو ـ دَ نـاکـنـګ سره هغه الرټ شو او ور له ورغی ـ چې ور یې لرې کړو نو دَ هـغـهٔ مور سوراج هغهٔ ته په مُسکا ولاړه وه ـ هغې دَ لیدو سره هغهٔ ته

صبح بخير اووې اوښکل يې کړو ـ فرحان هم هغې ته په مسکا صبح بخير اووې او دَ هغې لاسونه يې ښکل کړل ـ هغې ورته په مُسکا اووې "ځويه ناشته تياره ده ، ځه چې ځو "ـ فرحان نه غوښتل چې هغه دننه کمرې ته ورشي او مهندريه اووينى نو هغهٔ ورته فورى طور اووې ، "چې ناشته تياره ده نو زهٔ هم تيار يم ـ ځه چې ځو امّى " ـ سوراج هغه دَ لاس نه اونيوو او تر هغې يې نيولى وو چې دَ ناشتى ټيبل ته يې کينوو ـ هغوى چې دَ ناشتى ټيبل ته کيناستل نو مور ترينه تپوس اوکړو ، "ځويه شپه څنګه تيره شوه ؟ داسې معلوميږى چې تا بيګاه خوب نه دې کړې ځکه چې سترګې دې سرې دى "ـ

فرحان :ـ هاؤ امّى ، په نوې ځاې کښې ماته داسې مسله په رومبى شپه اکثر پيښيږى ـ

سوراج :ـ مهندريه درغلې وه ؟

فرحان :ـ مهندريه .....؟ ولې څهٔ خاص خبره وه ؟

سوراج :ـ خاص خبره دا ده چې ماتاسره دَ هغې ډيوټى لګولې ده ـ

فرحان :ـ ډيوټى ؟ ډيوټى دَ څهٔ خبرې ؟

سوراج :ـ ستا دَ خدمت ، ستا دَ سروس او ستا دَ ضروريات خو داسې معلوميږى چې هغهٔ اودهٔ پاتې شوې ده "؟ هغه څهٔ ويل غواړى خو په ديکښې په خائسته لباس کښې ملبوسه دَ ميانه قدوقامت يوه حسينه جينى دَ هغوى خوا له په مُسکا راځى ـ دَ راتلو سره هغه دَ سوراج خپو ته ټيټيږى ، دَ هغې دَ خپو سلامى کوى ، د هغې لاسونه



www.pukhto.net



ښکلوى او ورته وائى "امّى نمسکا "ـ دَ هغې دَ سلامى په جواب کښې سوراج هغه ښکلوى او دَ هغې په سر لاس اړدى ـ دَ هغې نه پس هغه دَ فرحان خوا له راځى ـ دَ هغهٔ خپو ته دَ خکته کيدو کوشش کوى خو چې هغه پرې پوهـ شى نو هغهٔ دَ دواړو ليچو نه اونيسى او خپو ته يې نه پريږدى ـ هغه دَ هغهٔ دَ لاسونو ښکلولو کوشش کوى خو هغه يو لاس روستو کړى او بل دَ هغې په سر اړدى ـ هغه ورته په مُسکا وائى "سرکار نمسکار" فرحان (په مسکا ) نمسکار ـ دې نه پس هغه سوراج ته مخاطب شى او ورته وائى ، " امى ناشته تياره ده راؤړم "؟

سوراج :ـ هاؤ کنوريه راؤړه ـ

دَ هغې دَ تلو نه پس هغه خاندى او مور ته وائى " امّى ستا څولوڼه او څو ځامن دى "ـ

سوراج (مسکى شى ) شپږ مې لوڼه دى او يو مې ځوئے دې ـ

فرحان (خاندى ) او هغه هم نيم ستا او نيم پردې دې ـ

سوراج :ـ پردې ولې دې ؟ هغه زمانه پيدا دې او زما ځوے دې ـ

فرحان :ـ امّى تاسو خو دَ خيره په اولاد کښې خود کفيله يې ـ که زما ضرورت نه وى نو زه به درنه خپلې مور له لاړ شم ـ

سوراج :ـ ستا مور هغه نه بلکه زهٔ يم ـ تهٔ زما نه پيدا يې او هغې لوې کړې يې ـ تهٔ دَ هغې رضاعى اولاد يې لکه دا جينکى زما روحانى لوڼه دى خو خپلې مې ځکه نه دى چې زمانه پيدا نه دى ـ

فـرحان :ـ د دوی خبره بیـلـه ده او زمـا بیـلـه ده ـ تا دوی له دَ خپلې سينې پيۍ نه دی ورکړې او زۀ دَ هغې په پيو او دَ هغې په سينه لوې شوې يم ـ
سـوراج (مسـکـۍ شی ) دَ هغې دَ پيو قيمت به اولګوو او يو په لس به ورله ورکړم ـ
فـرحـان (خـاندی ) دَ هغې دَ پيو قيمت نه بلکه دَ يوې يوې ورځې پيدا شـوی مـاشومان دَ مياندو دَ سينو نه اوشوکوه ، ماسره يې په تول کړه ، هغې له يې ورکړه او ماترينه واخله ـ
سوراج :ـ داسې به څنګه اوشی ځويه ـ
فـرحان :ـ چې داسې نشی کيدې نو په پردی ځوی دعویٰ مۀ کوه ـ دَ هـغـوی خبری به اورېدې شوې وې خو کنوريه ناشتـه راؤړه ، هغوی ته يې پـه ميـز کيښـوده او يـو خـوا تـه دَ هغوی سروس ته غلې اودريده ـ چې هـغوی ناشته اوکړه نو فرحان مور ته اووې ، "امّی که اجازت وی نو زۀ به درنه لاړشم " ( هغه پاڅی )
سوراج :ـ اودرېږه ځويه زۀ دې کمرې ته رسوم ـ
فـرحـان :ـ نه امّی ضرورت نيشتـه ـ تاته په پوړو ختل او کوزيدل ګران دی ـ زۀ تلې شم ـ
سوراج :ـ ځويه خپله کمره درته معلومه ده ؟
فـرحـان :ـ واه امّی واه ـ زۀ لا هغسې تاته ماشوم ښکارم ـ زۀ درنه لاړم امّـی "ـ هـغـۀ سره دا فکر ملګرې شوې وو چې هسې نه هغه ورسره لاړه شـی او دَ هـغـۀ پـه بيډ کښې مهندريه اووينی ـ دې دَ پاره هغه ډير


www.pukhto.net



پـه تيـزۍ سـره خپلې کمرې ته ورغی ـ چې وريې پورې کړو او خپل بيډ تـه يـې اوکتـل نو هغه خالی پروت وو ـ کمبل قط شوې لنګې ته پـرته وه او دَ بيډ او بالخت ګونجی هوار کړی شوی وو ـ هغۀ په کمره او واش روم کښې دَ هـغـې اندازه واخستـه خو چې هغه يې اونه ليده نو هـغـۀ پـه زړۀ اوخوړه چې هغه پاڅيدلې او تلې ده ـ دې خيال سره هغه پــه بيډ کښـې سـمـلاسـتـو ، سـترګې يې پټې کړې او چې لږه شيبـه تيريده نو په درونډ خوب اودۀ وو ـ

## څلورمه برخه

ماسپخين قضاوو چې دَ هغۀ سترګې اوغړيدې ـ دَ وينبيدو سره واش روم تـه ورغی او دَ ماسپښين دَ نمانځه دَ پاره يې تيارې اوکړو ـ دَ وخت دَ کـوتاهۍ په وجه هغۀ دَ ماسپخين نمونځ په خپله کمره کښې اوکړو ـ چـې دَ مـونـځ نـه فـارغ شـو او خپـل بيـډ کښـې سـمـلاسـتو نو پـه ورنـاکـنګ اوشـو ـ دَ نـاکـنګ نـه هـغـۀ دا اندازه اولګوله چې دا يقينا مهـنـدريـه ده ـ هغه په زړۀ کښې ډير خوشحاله شو چې هغې سره به مـلاقـات هم اوکړی او دَ هغې نه به دَ خپلې رويې معافی هم اوغواړی ـ په دغه اراده هغه په افسرانه موډ کښې اووې ، Yes come in هغۀ ځان په خود ساختـه بے خيالۍ کښې واچوو او خپل موبائيل کښې يې ګوتې وهلې ـ دَ ورکهلاويدو سره يوه جينۍ دَ هغۀ کمرې ته راغله ـ دَ هـغـۀ بيـډ سـره اودريـده ، دَ هـغـۀ دَ خپو سلامی يې اوکړه او په دلکش اواز يـې اووې ، "سـرکـار نـمسـکـار " هغۀ چې هغې ته اوکتـل نو هغۀ

مهندریه نه وه بلکه کنوریه وه ـ هغې سحرنې لباس بدل کړې وو او یو دلاویز ، ځلیدونکې اوپیدونکې سوټ یې اغوستې وو ـ دَ هغې طلائی زلفې دَ هغې په اوږو او دَ هغې دَ مخ او دَ سینې په باغیچو زانګیدې ـ

فرحان :ـ اوه کنوریه تهٔ ....تهٔ دلته څنګه راغلې ؟

کنوریه (مسکې شی) ستاسو په اجازت راغلم سرکار ـ

فرحان :ـ ستا راتلهٔ غیر متوقع دی ـ زما په خیال کښې خو مهندریه ګرځیده ـ

کنوریه ( مسکې شی ) سرکار تاسو ماته دَ مهندریه په سترګو هم کتې شې ـ

فرحان چې دَ هغې په خیال پو هـ شو نو هغه خبره بل خوا واړوله او وی وئیل ، اوه نو ، زما مطلب دې چې په ما دَ هغې ډیوټی وه ، هغه څهٔ شوه ؟

کنوریه :ـ دَ هغې معلومات ماته نیشته سرکار ، بهرحال دَ هغې ډیوټی ماته حواله شوه ـ

فرحان :ـ دَ هغې کومه ډیوټی تاته حواله شوه ؟

کنوریه :ـ څهٔ چې هغې کول ، هغه به اوس زهٔ کوم ـ

هغهٔ لـه دَ هغې خبرو خوند ورکړو ـ هغهٔ د دې راز معلومول غوښتل چې دَ هغهٔ کمرې ته د دغه جینکو دَ راتلو څهٔ مقصد دې ـ هغه ترینه په مُسکا تپوس اوکړو ، "کنوریه ، هغې به څهٔ کول او تهٔ به څهٔ کوې؟"


www.pukhto.net



کنوریه :ـ دَ هغې معلومات ماته نیشته سرکار ، البته زهٔ ستاسو خدمت او سروس له راغلې یم"ـ

فرحان :ـ تهٔ زما څهٔ خدمت کولې شې ؟

کنوریه :ـ هغه خو په تاسو ډیپنډده سرکار ـ بهرحال ........

فرحان :ـ دلته ماته مخامخ کینه ـ (کنوریه هغه ته مخامخ په قالین کینی ) "ګوره کنوریه ، تهٔ یوه حسینه او نوخیزه پیغله یې او زهٔ زلمې یم ـ تهٔ هم انسان یې او زهٔ هم انسان یم ـ تهٔ هم انسانی خواص لرې او زهٔ هم انسانی خواص لرم ، تهٔ هم نفسانی خواهشات لرې او زهٔ هم لرم ....په یوه بنده کمره کښې ستا او زما یو په یو ملاقات ، زما په خیال څهٔ ښهٔ خبره نه ده ـ ستا څهٔ خیال دې ؟

کنوریه :ـ سرکار چې نظر کښې څهٔ عیب نه وی نو ملاقات څهٔ بده خبره نه ده ـ

فرحان :ـ ګوره ، ګوره ، تهٔ چې اوږې شی نو خوراک ته دې زړهٔ کیږی؟ ....چې تږې شی نو اوبو ته دې زړه کیږی ؟ داسې ده که نه ده ؟

کنوریه :ـ هاؤ سرکار هم داسې ده ـ

فرحان :ـ دا ولې ؟ دا ځکه چې دا یوه بنیادی انسانی تقاضا ده ...دَ اوړی په سره غرمه کښې یو تږی مسافر چې دَ یخو اوبو ډک جام اووینی نو هغه به خپله تنده اوبو ته په کتو ماتوی او که په څکلو؟

کنوریه :ـ په څکلو ـ

فرحان :ـ داسې فرض کړه چې دا کمره دَ اوړی غرمه ده ، تهٔ دَ یخو اوبو

جام یې او زهٔ تږی مسافر یم ـ زهٔ به خپله تنده څنګه ماتوم ؟

کنوریه (مسکی شی ) سرکار د دې مسلې تعلق تاسو سره دې ـ دا په تاسو ډیپنډ ده چې څهٔ مناسب حل یې غواړی ـ

فرحان :ـ که زهٔ تانه دَ یو غیر اخلاقی فعل مطالبه اوکړم نو ستا ردِ عمل به څهٔ وی ـ

کنوریه :ـ دَ مطالبې نوعیت ته به کتلې شی نو هله به دَ ردِ عمل اظهار کیږی ـ

فرحان :ـ که زهٔ تانه دَ جنسی لذت مطالبه اوکړم نو ستا ردِ عمل به څهٔ وی ، وایه ؟

کنوریه :ـ ډیر بد به نه وی ، البته په اصولو به فیصله کیږی ـ

فرحان ؛ـ اصول ؟ څهٔ اصول ؟

کنوریه :ـ بارګیننګ ، زهٔ به ستا مطالبه پوره کړم او تهٔ به زما ـ

فرحان :ـ زما مطالبه خو تاته معلومه شوه اوس ستا څهٔ تقاضا ده ؟

کنوریه :ـ سرکار ته چی څهٔ غواړې ، هغه زهٔ هم غواړم خو زمونږ په مینځ کښې لوې رکاوټ مذهب دې ـ زهٔ به ستا مطالبه پوره کړم او تهٔ به مذهب بدل کړې ـ ته مسلم یې او زهٔ غیر مسلمه یم ـ تهٔ زمونږ او دَ خپل مور پلار مذهب اختیار کړه نو زهٔ ستا یم ـ

فرحان :ـ داسې نشی کیدې ـ ناممکن ـ

کنوریه (مسکی شی ) فی الحال زهٔ ستا خواهش بغیر څهٔ شرطه هم پوره کولې شم خو ماسره به زمونږ دَ مذهب قبلولو وعده کوې ـ



www.pukhto.net



فرحان :ـ تهٔ زما دَ پاره اسلام نشې قبلولې ؟

کنوریه :ـ چرې هم نه ـ ناممکن ـ

فرحان :ـ ښهٔ تهٔ ماله یو کپ چاے راوړې شې ؟ (مسکے شی )

کنوریه :ـ سرکار تاسو خو ډوډۍ هم نه ده خوړلې ـ ډوډۍ راوړم ـ

فرحان :ـ ډوډۍ ته مِ زړهٔ نه کیږی صرف یو کپ چاې راوړه ـ

کنوریه :ـ ډیره ښه ده سرکار "دې سره هغه پاڅی او بهر اوځی ـ دَ هغې دَ تلو نه پس هغه خاندی او ځان سره وائی ، " ماته پته ده چې دا کار څوک کوی او څهٔ مقصد دَ پاره یې کوی "ـ هغه په یو لوې سوچ کښې پریوتو ـ هغه لا په خپل خیالونو او فکرونو کښې ډوب وو ـ چې کنوریه راغله او په یوه وړه ترې کښې دَ چایو یو سربند کپ راوړو ـ هغې چاے په میز کیښوده او په ادب باندې هغهٔ ته دست بسته اودریده ـ په دغه لږ ساعت کښې هغې جوړه بدله کړې وه او په نیم عریان لباس کښې راغلې وه ـ فرحان چې هغې ته اوکتل نو دَ هغې نه حیا ورغله ، مخ یې ترینه واړه وو او ورته یې اووې ، "کنوریه ، ځه ته لاړه شه ارام اوکړه زهٔ به په خپله طبعه چائے اوڅکم "ـ

کنوریه :ـ ولې سرکار زمانه څهٔ بے ادبی شوې ده ؟

فرحان :ـ نه هیڅ بے ادبی نه ده شوې ـ ځهٔ تهٔ ارام اوکړه فی الحال ستا ضرورت نیشته او که چرې ضرورت شو نو بیا به دې راؤغواړم ـ

کنوریه :ـ سرکار که تهٔ زما په شرط خفه شوے یې نو زهٔ خپل الفاظ واپس اخلم ـ ماتاسره هسی ټوقه کوله سرکار ـ ستاسو دَ پاره هیڅ

شرط نیشته ۔ زۀ ستا هر خواهش دَ څۀ شرط نه بغیر پوره کولې شم۔ زۀ هرڅۀ ته تیاره یم سرکار۔

فرحان :۔ ستا په خلوص کښې هیڅ شک نیشته کنوریه خو فی الحال زۀ تیار نه یم۔

کنوریه :۔ زۀ درنه معافی غواړم سرکار۔ ما معاف کړه پلیز۔

فرحان :۔ زۀ تا نه خفه نه یم کنوریه خو فی الحال تخلیه غواړم ، پلیز، پلیز ،

کنوریه هغۀ ته په مایوسه سترګو ګوری او غلې غوندې دَ هغۀ دَ کمرې نه اوځی ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس هغۀ دَ چایو پیالۍ اوچته کړه او په خوند خوند یې څکله ۔ چې چاے یې اوڅکله نو په خپل بیډ کښې اوغزیدو او په ټی ۔ وی یې دَ پاکستان او انډیا دَ کرکټ ټیمونو ترمینځه دَ کرکټ لوبه کتله ۔ لوبه هم ډیره دلچسپه وه او دَ هغۀ موډ هم ډیر خوشګوار وو او نو ښۀ په خوند خوند یې تماشه کوله ۔ دَ انډیا دَ ټیم اخری لوبغاړی بیټنګ کوو چې یو خوا دَ پاکستانی بالر په بال هغه آؤټ شو بل خوا دَ هغۀ دَ کمرې په ورناکنګ اوشو ۔ دَ ناکنګ سره دَ معمول مطابق هغۀ Yes come in اووې ۔ دَ هغۀ اجازت ورکولو سره یوه حسینه ، نازنینه او ماه جبینه دَ هغۀ کمرې ته راغله۔ دَ هغۀ دَ خپو سلامی یې اوکړه او وې وئیل ''سرکار نمسکار'' دَ هغې دَ سلام په جواب کښې دَ هغۀ دَ خولې نه بے اختیاره اووتل ''نمسکار'' هغه هغۀ ته مخامخ په ادب اودریده او سترګې یې ښکته کړې۔



www.pukhto.net



فرحان هغې ته په مُسکا اوکتل او تپوس یې ترینه اوکړو ، ''تا څنګه تشریف راؤړو ؟ خپله پیژندګلو اوکړه ''۔

هغې په مزه غوندې سترګې اوچتې کړې او وې وئیل ، ''سرکار زما نوم دیوی دیپک دے او زۀ ......'' فرحان دَ هغې دَ خولې نه خبره واخسته او وې وئیل ، ''دیوی دیپک یعنی دَ دیپک دیوی ......واه بی بی واه ۔ تۀ واقعی اسمِ بامسمیٰ یې ۔ ستا دَ زلفو هرتار او ستا دَ نازک بدن هر رګ یو ښکلے راګ دے او ستا هر رګ او تان دیپک دے خو دیپک جی ستا دَ راتلو مقصد ؟

دیوی دیپک ( مسکی شی ) سرکار زۀ ستا خدمت له راغلې یم۔

فرحان :۔ اوه ، زما خدمت له که قیامت له ؟ دیپک خو اورلګوی ، قیامت راولی ، ناتار راولی ؟ تۀ به زما څۀ خدمت اوکړې ''؟

دیوی دیپک :۔ سرکار زۀ اور لګولې هم شم او مړ کولې هم شم ۔

فرحان :۔ که اور مړ شی خو دَ سول زخمونه اودردونه پاتې شی ۔

دیوی دیپک :۔ سرکاری دَ اورسوی په اور رغیږی ۔ زۀ د دغه زخمونو او دردونو مرهم پټۍ هم جوړیدیشم ۔

فرحان :۔ دیوی ته دومره پُرکشش ولې یې ''۔

دیوی دیپک:۔ سرکار ستاسو دَ کشش په وجه ۔

فرحان :۔ زما دَ کشش په وجه ؟ څنګه ....؟

دیوی دیپک :۔ سرکار ویلې کیږی چې اوسپنه مقناطیس سره اولګی نو په هغې کښې کشش پیدا کیږی ۔ سرکار ته دَ مقناطیس غریې او

زۀ دَ اوسپنې یوه ټکړه ۔ ستا دَ خپو دَ سلامۍ په وجه ستا مقناطیسی کشش ماته منتقل شو۔

فرحان :۔ اوه (مسکے شی ) تۀ خو ډیره اوښیاره یې دیوی ۔

دیوی دیپک :۔ سرکار دا ستاسو دَ صحبت اثر او حسن ظن دې ۔

فرحان :۔ ښه تۀ زما څۀ خدمت کولې شې ؟

دیوی دیپک :۔ سرکار څۀ چی مهندریه او دیوی کولې شو هغه زۀ هم کولې شم ۔

فرحان :۔ هغوی خو زما هیڅ خدمت نه دې کړې ۔

دیو دیپک :۔ کوم چې هغوی نه دې کړې ، زۀ یې کولې شم ۔

هغه هغې له څۀ جواب ورکول غواړی خو دَ هغۀ په موبائیل رنګ راشی ۔ هغۀ موبائیل اوچت کړو او چې نمبر ته یې اوکتل نو هغه دَ زنده باد کاکا وو۔ هغه مسکے شو ، موبائیل یې او۔ کے کړو او دَ کمرې نه بهر اووتو ۔ په روانه روانه کښې یې هغۀ هغۀ سره خبرے کولے او دَ خپل خیریت خبرې ورکړو ۔ په دغه خبرو خبرو کښې هغه دَ دهرمسال نه بهر اووتو ۔ دَ مازیګر دَ نمانځه وخت وو نو هغه خبرې مختصر کړے او دَ نمانځۀ دَ پاره جمات ته لاړو ۔ دَ نمانځه نه پس یې بهر بازار کښې چکر اووهو او تر ماښامه پورې ګرځیدو ۔ دَ ماښام نمانځۀ دَ پاره بیا جمات ته لاړو او تر ماسخوتن پورې یې ذکرواذکار او تلاوت کوو ۔ دَ ماسخوتن دَ نمانځۀ نه پس یې په هوټل کښې ډوډۍ اوخوړه او بیا دهرمسال ته روان شو ۔ چې خپلې کمرې ته واپس شو



www.pukhto.net



نو هلته یې مور هم ناسته وه او دیوی دیپک هم وه ۔ دَ نمسکار دَ تبادلې نه پس هغه مور سره کیناستو ۔ هغې هغه ته په مُسکا اوکتل او تپوس یې ترینه اوکړو ، "څویه چرته تلې وې" ؟ مونږ درته ډوډۍ بنده کړې ده ۔

فرحان :۔ امّی زۀ بازار ته تلې ووم هلته رابانديې ناوخته شو ۔

سوراج :۔ بازار ته یواځے تلے وے ؟ زما مطلب دې چې څوک به دې ځان سره بوتلے وے ۔

فرحان :۔ امّی زۀ یم یواځے ۔ ماسره دویم ملګرے څوک دے ؟

سوراج :۔ یواځے ولې یې ؟ دا جینکۍ څۀ دَ پاره دی ؟ دوی کښې به دې څوک ځان سره بوتلې وې ۔ ګینې دیوی خو تاسره په کمره کښې موجود وه ۔ دا به دې بوتلے وه ۔ که په دوی دې اعتماد نیشته ؟

فرحان :۔ په دوی مِ اعتماد شته امّی خو په ځان مِ نیشته ۔ دا ښاپیرۍ چې ماسره څوک اووینی نو ما به یو خوا ته کړی او دوی به رانه بوځی "سوراج او دیوی دواړه خاندی ۔ په دغه خندا خندا کښې سوراج دیوی ته وائی ، "څه ورشه دیوی ته ډوډۍ اولګوه مونږ درځو" ۔ دې سره دیوی روانیږی او بهر اوځی ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس سوراج هغه ته ګوری او وائی "څویه دا جینکۍ ستا دَ خدمت دَ پاره دی ۔ په دوی کښې یوه خوښخه کړه ، څۀ وخت پروګرام جوړ کړه او ځان سره یې په چکر اسلام اباد ، سوات ، مری ، کاغان وغیره ته بوځه ۔ اوګرځی او ښۀ سیلونه اوکړی چې دَ وادۀ نه مخکښې ستاسو په مینځ کښې

اندر سټېنډنګ پيدا شي او دَ يو بل په خوی بوی پو هـ شي ـ

فرحان ( خاندی ) اوه مائی ګډ مدر ـ تينک يو ويری ويری مچ ـ دې سره پاسی او دَ هغې اوړې منډی ـ

سوراج (مسکی شی ) دَ خوشامندو ضرورت نيشته ، څه پاسه چې ډوډۍ له ځو ـ

فرحان :ـ نه امّی ما بازار کښې خوړلے ده ته ورشه زما زړۀ ته نه کيږی ـ

سوراج (پاسی ) بازار کښې دې ولې خوړه ؟ څه پاسه چې ځو "ـ

فرحان :ـ نه امّی زۀ نشم خوړلے پليز ـ څه ته ورشه امّی ـ امّی په پوړو دې کوزه کړم ؟

سوراج :ـ نه ځويه دومره بوډۍ خو لا نه يم "ـ هغه دَ کمرې نه بهر اوځی ـ دَ هغې دَ تلو نه پس هغه جامې بدلې کړی او بے غمه اودۀ شی ـ

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★



www.pukhto.net



## څلورم باب

دَ فرحان دَ تلو نه پس دَ زنده باد کاکا په کور کښې بے مړی ماتم وو ـ افروزې بی بی په سرپيچک سر تړلې وو او دَ سر نه يې چغې وهلې او زنده باد کاکا ملا په پټکی تړلې وه او دَ ملا نه يې فرياد کوو ـ دَ دواړو ژړا فرياد په خپل خپل ځاې صحی وو ځکه چې هغه دَ هغوی دَ ژوند رڼا وه ، څلاوه ، اسره او سهاره وه ـ دَ هغۀ په تلو دَ هغوی په زړونو دَ غم تيرې خورې شوې ـ دَ هغوی اميدونه او ارمانونه ختم شو او هغوی سره هيڅ پاتې نشو ـ دَ هغوی دَ تيرو څلورويشتو ، پنځويشتو کالو خواری محنت په خړو اوبو لاهو شو ـ دواړو په مايوسه نظر يو بل ته کتل او يو بل له به يې تسلی ورکوله ـ کله کله به دَ زنده باد کاکا په زړۀ کښې راتله چې ، "چا رشتيا ويلې دی چی پردی ځوے نه ځوے کيږی "ـ خو دَ افروزې بی بی په هغۀ دَ پردی ځوی ګمان نه کيدو ـ هغې هغه له دَ خپلې سينې پی ورکړی وو، په خپله سينه يې لوې کړې وو او په خپله غيږه کښې يې لوبولې وو ـ کله کله به هغه په خپل خيال کښې ډيره لرې لاړه او دَ هغۀ دَ ماشوموالی ، هلکانے او زلميتوب يوه يوه خبره به يې يادوله ـ په خپله به يې هم ژړل او زنده باد کاکا به يې هم ژړه وو ـ ځان سره لګيا وه ،" چې ماشوم وو نو غيږه پرې خائسته ښکاريده ـ چې لوې شو نو کور پرې خائسته ښکاريدو ، چې زلمې شو نو کلې او محلت پرې خائسته ښکاريدو ـ (ژاړی ) " درونـد وجود ، دروند خوی ، درنې خوږې خبرې ، درانۀ قدمونه ....يه

خدایـه زهٔ بـه دَ هغهٔ کومه کومه خبره یادومه ـ ماته خو دَ کور په هرګوټ کنبـې دَ هغـهٔ یـادونـه ښـکـاری ـ کـه شګفتـه اونګینه مانه دَ هغهٔ تپوس اوکړی نو زهٔ هغوی له څهٔ جواب ورکوم ـ

زنـده بـاد کـاکـا پـه مـلاستـې ملاستې هغې له تسلی ورکوی او ورته وائـی ، "ژاړه مـهٔ دَ شـګـفتـې مورې ، رابه شی دَ خیره دعا ورته کوه "ـ چې دَ هغې ژړا قلاره شی نو زنده باد کاکا شروع شی ـ بیا افروزه بی بی هغـه له تسلی ورکوی او ورته وائی ، "رابه شی دَ شګفتې پلاره ـ زمـا پـه هغهٔ پوره یقین دې چې هغه به راځی او خامخا به راځی " چې دَ هغـهٔ اوښـکـې اودریږی نو هغه بیا شروع شی ، "سعیدې ته یې وې زمـا مـخې له به نه راځې ....زما مخې ته به نه تیریږې .....ماته به ډیره نیغه نیغه نه کیږی ......ماته یې وې مورې چې ډهول دې راپه غـاړه کـړو نـو پـه وهلو کنبـې یې څهٔ شرم دې ....به خدایه سره قطره ، سـاړهـے بـوتـی مِ غـیـږ کنبـې لـوې شـو ، رانه لاړو چې شینکې شو او سپـرلـې شـو "ـ په دغه ژړا انګولا به هغوی ورځ شپه کوله او شپه به یـې صبـا کـوو ـ سعیـدې ته صرف دومره پته وه چې فرحان دَ کوره بے تپـوسـه اوتـې دې ـ دې نـه عـلاوه هغې ته نور هیڅ معلومات نه وو ـ البتـه دَ هـغـوی ژړا سره بـه هغې هم ژړل ـ دَ فرحان دَ تلو نه پس هغه هـغـوی کـره ښهٔ په پخه ډیره شوه ـ هغه ډیره اوښیاره وه ـ هغې چرې هـم دَ هـغـوی پـه ذاتـی خبرو کنبـې ګډون نه کوو او نه یې ترینه تپوس کـوو ـ یو ورځ هغې دَ معمول مطابق دَ کوهی په غاړه لوښی وینځل او



www.pukhto.net



افـروزې بـی بـی او زنـده باد کاکا دَ هغهٔ یادونه ریشتـل ـ په دې کنبـې دَ کـو ځې ورلړې شو او فرحان کور ته دننه شو ـ سعیدی هغه اولیدو خو هـغـهٔ ورته په خوله لاس کیښودو او غلې غلې دَ هغوی خوا له ورغی او مـور لـه یـې پـه سترګو لاس کیښودو ـ هغې چې هغهٔ ته اوکتل نو په ژړا ژړا کنبـې په خندا شوه او په خندا خندا کنبـې په ژړا شوه ـ دَ روغ جـوړ نـه پـس مور سره کیناستو او تپوس یې ترینه اوکړو ، "مورې سر دې ولـې تـړلـې دې ؟ ناجوړه خو نه یې ؟ افروزه بی بی مسکی شوه ، دَ سر نه سرپیچک لرې کړو او وې وئیل ، "نه ځویه جګه جوړه یم دَ خیره " ـ بیا زنده باد کاکا ته په مُسکا وائی ، " بابا ملا دې ولې تړلې ده ؟ که خوږیږی چې مالش یې کړم درله " ـ زنده باد کاکا مسکے شی دَ ملا نه پټـکـې پـرانـیـزی یـو خـوا ته یې اړدی او وائی ،" نه ځویه ، دا ملا مِ لړه یـخـه شـوې وه ـ دا پټـکـې مِ ترینه تاؤ کړې وو چې ګرمه شی ـ اوس دَ خیـره ښهٔ ده " ـ پـه دیـکنبـې سعیده چائے راؤړی ، په میز یې کیږدی او فـرحـان تـه سترې مشی کوی ـ هغه چې دَ هغې سترې مشی واخلی نـو ورتـه وائـی ، "سعیدې دا سترګې دې ولې سرې دی ـ هغه مسکی شـی او ورتـه وائـی ، "یـوه کنبـې مـاشې پریوتې دی او دا بله ډکی سره لګیدلې ده "ـ

فـرحـان :ـ اوه دا خـو دواړه زخـمـی دی ـ پـو کـی ورکـړم ؟ دې سره تهول خاندی ـ دې نه پس تهول غونډ کینی او چائے څکی ـ هغه یو څو ورځې په کلی کنبـی وو او ښهٔ مزدوری به کوله

يوه ورځ هغۀ دَ کشتۍ مزدورى کوله چې فرزانه راغله ـ هغۀ چې ورته اوکتل نو مسکے شو او وې وئيل ، "اوه ـ نه پوهيږم چې سپوږمۍ زمکه له راغلې ده او که زۀ سپوږمۍ ته ختلے يم ـ مرحبا مرحبا ـ سترې مشې سترې مشې ، په خير راغلې بى بى ګلې ، السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته ـ

فرزانه (مسکۍ شى ) او هو، نن خو ډير په خوشګوار موډ کښې يې۔ ولې څۀ خاص خبره ده ؟

فرحان :۔ خاص خبره دا ده چې مخکښې مِ په زړۀ کښې ګرځيدې خو په سترګو مِ نه ليدې ـ اوس مِ په زړۀ کښې موسيږى او په سترګو کښې مِ خنديږى ـ ځکه چې ځو نورې خبرې به کور کوو۔

فرزانه :۔ نه فرحانه ، دَ کور نه راغلم ـ هلته مِ دمه هم اوکړه او چائے شربت مِ هم اوکړو "۔ هغه دَ هغۀ په کشتۍ کښې بے تپوسه کينى او وائى ، "ځه چې دَ ټاپو سيل اوکړو "۔

فرحان (کشتۍ کښى کينى ) ځه چې ځو بى بى ـ چې هغه کشتۍ روانه کړى نو هغه هغۀ سره خبرې هم کوى او دَ سيند سيل هم کوى ـ چې هغه غولۍ ته اوريدل چرته چې هغه ډوبه شوې وه نو په يره يره يې ورته اوکتل ـ بيا يې ترينه مخ واړه وو او ټاپو ته اوختل ـ هلته دواړه دَ ګټو دَ پاسه کيناستل ـ يوه شيبه دواړه چپ وو بيا هغې هغۀ ته اوکتل او وې وئيل :۔ "فرحانه ، زمونږ دَ ملاقات په ړومبۍ ورځ ما تانه تپوس کړى وو چې ته په دې پيشه خوشحاله يې ـ تا وې چې



www.pukhto.net



چرې هم نه ـ بيا زما دَ ولې په جواب کښې تا وې چې "دَ ولې تپوس مۀ کوه ـ ډيرى خبرې دى، زۀ به تاته کومه کومه خبره کوم خو که چرې دواړه ځان له کيناستو نو بيا به درته ټولې خبرې اوکړم "۔ اوس مونږ ځان له ناست يو او ټولى خبرى اوکړه "۔

فرحان :۔ دا تپوس ولې کوې بى بى ؟

فرزانه :۔ دا تپوس ځکه کوم چې تا ماله د دې جواب نه دې راکړې۔

فرحان :۔ جواب درکول لازمى دې؟

فرزانه :۔ بالکل لازمى دې ـ ښه وايه تۀ په دې پيشه ولې خوشحاله نه يې ـ

فرحان :۔ مخکښې پرې خوشحاله نه ووم بى بى ځکه چې په دې پيشه کښې دَ تعليم ضرورت نيشته او ما ايم ـ اے په فرسټ ډويژن کښې کړې ده ، او په دې پيشه راته ځان بد ښکاريدو ـ

فرزانه :۔ تا ايم اے کړې ده ؟ اوه مائى ګاډ .....ويرى سورى ـ

فرحان :۔ خو اوس خوشحاله يم .....بى بى خوشحاله په دې يم چې زما نه الله يو داسې کار واخستو چې زما دَ پاره دَ لوې اعزاز باعث دې۔

فرزانه :۔ هاؤ فرحانه واقعى ... که تۀ نه وى نو زما دَ لاش به پته هم نه وه لګيدلے ـ په اوبو کښې به سخا شوے وو او دَ اوبو مخلوق به خوړلے وو۔ زۀ ستا ډيره شکوره يم چې خپل ځان دې په خطره کښې واچوؤ، زۀ دې دَ مرګ دَ خولى نه را اوويستم او ماله دې نوې ژوند راکړو ـ

فرحان :۔ تاله ژوند الله درکړې دې بى بى ـ البته زۀ په دې خبره فخر

کوم چې دې کار دَ پاره يې زۀ خوښ کړم ۔

فرزانه :۔ فرحانه اوس هم چې زۀ هغه ويډيو فلم ګورم نو ځان سره ويم چې ستا کمال دَ معجزې نه کم نه دې ۔ فرحانه زۀ يو ځل بيا ستا شکر يه ادا کوم او ستا دَ دې احسان په بدل کښې خپل وجود .....خپل وجود تاته دَ عطيې په طور پيش کوم ۔

فرحان :۔ اوه مائی ګاډ ۔ نو نو داسې مه وايه بی بی . ستا وجود دَ الله تحفه ده ۔ د دې تحفې قدر اوکړه ۔

فرزانه :۔ د دې نه به لوې قدر څۀ وی چې ته يې دَ عطيې په طور قبول کړې ۔

فرحان :۔ زۀ د دې تحفې لائق نه يم بی بی ۔ زۀ يو غريب مزدور سړے يم ۔

فرزانه :۔ زما دَ وجود ستر تا مات کړے دے او تۀ د دے مستحق يې۔ دا بيله خبره ده که تۀ ما دَ خپل ځان قابله نه ګڼې ۔

فرحان :۔ نه بی بی نه ۔ دا خبره نه ده بی بی پليز۔

فرزانه :۔ چې دا خبره نه ده نو څۀ خبره ده ، وايه ؟

فرحان :۔ خبره دا ده بی بی چې ستا دَ حادثې نه مخکښې زما او ستا يو بل سره هيڅ تعلق نه وو۔ تعلق خو لا لويه خبره ده چې مونږ يو بل ليدلی هم نه وو۔ قدرت اتفاقی طور سره ملاؤ کړو ، اتفاقی طورستا حادثه اوشوه او اتفاقی طور زۀ ستا دَ بچ کيدو يوه ذريعه اوګرځيدم او زما په کوشش ته دَ مرګ نه بچ شوی ۔ خو د دې دا مطلب نه دې چې ګينې تۀ زما شوې ۔ ما چې څۀ کړے دی نو دَ الله دَ يو بنده په حيث مِ دَ


www.pukhto.net



الله دَ بنده مدد کړے دے ۔ دې نه علاوه هيڅ نه ۔ اوس تۀ زما دَ احسان بدله دَ خپل وجود دَ عطيې په طور ادا کول غواړې نو بی بی دا څومره بده خبره ده .....بی بی يو تپوس درنه کوم خو رشتيا به وايې ۔ که دروغ دې اووې نو خپل ضمير ته به هم ملامته يې او الله ته به هم ملامته يې ۔ چې که ستا دا حادثه نه وه شوې او ماتاته دَ مينې او وادۀ پيش کش کړے وے نو تا به قبول کړې وې ۔

فرزانه :۔ نه چرې هم نه ۔

فرحان :۔ بس مسله حل شوه ۔ ګوره بی بی زما خبره دَ مينځ نه اوباسه ۔ ستا چې څوک خوښ دې يا دې چاسره وعده وعيد کړې دې نو په خپله وعده قائم او دائم اوسيږه او هغه سره خپل مراسم راتينګ کړه ۔

فرزانه :۔فرحانه ، ستا خبره څۀ حده پورې صحی هم ده ۔ ما چې څوک خوښ کړی وو نو هغه دهوکه باز اوختو ۔ زما اشاره زياد ته ده ۔ زمونږ دواړو عهدوپيمان شوے وو او دَ وادۀ خبرې هم شروع وې خو هغه ماله دهوکه راکړه ۔ دَ هغۀ دَ بے وفائی روښې ثبوت دا دې چې زما دَ حادثې په وخت هغۀ زما هيڅ مدد اونکړے شو۔

فرحان :۔ بی بی دا خو دهوکه نه ده ځکه چې څنګه تاله لامبو نه درځي نو کيديشی هغه له هم نه ورځی ۔ دا خبره ترينه اوباسه ، په دې هغه نه ګرم دې او نه ملامته دې، او که هغۀ داسې کړے وے نو ستاسو دواړو مرګ يقينی وو۔

فرزانه :۔ مونږ دواړو يو تر بله دَ يو ژوند او يو مرګ وعدې کړې وې


Pukhto.Net

خو څه ستا خبره صحی ده ۔ دا م ترینه اوویستله ۔ دویمه دهوکه دا ده
چې هغه دَ ځان دَ یو اینکرپرسن ځوي ښودلے وو حالانکه هغه دَ هغۀ دَ
خدمتګارې ځوے دے او دَ هغۀ په یو وړوکی کوارټر کښې اوسیږی۔

فرحان :۔ نه بی بی نه ۔ دَ هغۀ غریبی دَ هغۀ دهوکه نه ده بلکه
مجبوری ده ۔ که هغه دَ اینکر پرسن ځوے نه دے نو کیدیشی په ځوی
یې نیولې وی ۔

فرزانه :۔ دَ ټولو نه لویه دهوکه دا ده چې زما دَ غاړې امیل هغۀ زما دَ
غاړې نه ویستلې وو۔

فرحان :۔ تاسره دَ دې الزام څۀ ثبوت دې؟ فرزانه دَ خپلې سینې نه
لوپټه لرې کوی ، هغه ته خپل امیل ښائی او ورته وائی ، " د دې ثبوت
دا دې ۔ دا هغه امیل دې چې زما دَ غاړې نه اوتې وو او زما غاړې له بیا
راغی۔ فرحانه چې دا امیل روک شو نو ما سره دَ مور یره ملګرې شوه
۔ ما په زړۀ کښې وې که زما مور زمانه دَ امیل په باره کښې تپوس
اوکړی نو زۀ به هغې له څۀ جواب ورکوم ۔ دې دَ پاره ما په دې نمونه
یو جعلی امیل اخستل غوښتل چې دَ مور دَ خولې نه ځان اوباسم۔
په دې غرض زه صرافه بازار ته لاړم ۔ په دوکانونو تیریدم چې په یو
دوکان کښې م زیاد اولیدو ۔ دَ هغۀ دَ لیدو سره چې زۀ دوکان ته ورغلم
نو هغۀ دا امیل لاس کښې نیولې وو او هغۀ سره یې بیعه کوو۔ زما
په لیدو دَ هغۀ رنګ تک زیړ شو ۔ ما چې دَ هغۀ په لاس کښې خپل
امیل ته اوکتل نو دَ اور لمبه شوم ۔ امیل م دَ هغۀ دَ لاس نه اوچت کړو



www.pukhto.net



، په خپله غاړه کښې م واچوو، هغۀ له م په مخ دَ شرم لاس راخکو او دَ
دوکان نه اووتم ۔

فرحان :۔ ډیر بد دې اوکړل بی بی ۔ تا خو به دَ هغۀ نه دومره تپوس
کړې وې چې دا ولې ۔ کیدیشی هغۀ د دې امیل اصلیت معلومول
غوښتل ۔

فرزانه :۔ څۀ مطلب ؟ اصلیت معلومولو سره دَ هغۀ څۀ تعلق ؟ دا زما
امیل دې که اصلی دې او که جعلی دې ۔ هغۀ له پکار وو چې د دې دَ
اصلیت معلومولو په ځای یې دا ماته واپس کړې وې ۔ "هغې لا نور
هم څۀ ویل غوښتل چې دَ هغې په موبائیل رنګ راغی۔ هغې چې
دَ موبائیل نمبر ته اوکتل نو هغه دَ زیاد دَ موبائیل نمبر وو۔ هغې
موبائیل اوچت کړو او وې ویل ، "هیلو.... وعلیکم سلام ....ښه
ته څۀ ویل غواړې ؟

زیاد:۔ فرزانې تۀ چرته یې ؟ زۀ تاسره ملاویدل غواړم۔

فرزانه :۔ ماسره دَ ملاویدو ضرورت نیشته ۔ مهربانی ، شکریه ۔

زیاد:۔ فرزانې پلیز ، زما خبره ووره۔ زۀ تاته یووضاحت کول غواړم۔

فرزانه :۔ وضاحت؟ دَ څۀ وضاحت ؟ دَ خپلې غلا او دهوکې وضاحت
، سوری "۔ دې سره هغه موبائیل بند کړی او فرحان ته ګوری ۔

فرحان :۔ دا زیاد وو؟ څۀ یې وې ؟

فرزانه :۔ دَ خپلې غلا وضاحت کول غواړی ۔ هڅ ....ویری شیم فار
یو زیاد ۔

فرحان :۔ تا هغه وضاحت ته پرې نښودو او رټلې جوابونه دې ورکړل۔

فرزانه :۔ که حيا پکښې وی نو بيا به کال نه کوی ۔

فرحان :۔ داسې مۀ کوه پليز ۔ دَ هغۀ خبره ووره چې څۀ وائی ۔

فرزانه :۔ ماته نه دَ هغۀ دَ وضاحت ضرورت شته او نه ستا دَ وکالت ځه پاڅه ما پورې غاړه اورسوه ۔

فرحان ( خاندی ) خير خدايه بی بی خو ډيره غصه ده ۔ که زۀ ستا دَ حکم نه انکار اوکړم ؟

فرزانه :۔ که ته انکار اوکړ نو غولی خو لرې نه ده ۔ په سترګه رپ کښې به مِ جنت ته اورسوی ۔

فرحان :۔ نه ګوری ، دا غلطی اونکړی (خاندی) راځه بی بی کشتی تياره ده ۔

## دويمه برخه

دَ فرزانې دَ تلو نه پس هغۀ يو څو ورځې کلی کښې تيرې کړې او ښۀ مزدوری يې کوله ۔ هغه لا په دغه کار کښې لګيا وو چې دَ مور دَ طرفه ورته کال اوشو او ورته اوويلې شو چې زر تر زره هلته ورشی۔ هغۀ دَ مور دَ حکم مطابق خپله مزدوری پريښوده او هغې له يې ځان اورسوو۔ داسې معلوميده چې دَ هغۀ مور دَ هغۀ قدمونه شميرل۔ هغه دَ هغۀ په انتظار کښې په کور کښې ناسته وه چې هغه ور اورسيدو ۔ دَ هغۀ په ليدو باندې هغه ډيره خوشحاله شوه۔ هغه يې خپلې سينې پورې اونيوو۔او ښکلووې۔ هغې سره په څنګ کښې



www.pukhto.net



ريکهاشاستری ولاړه وه ۔ فرحان چې دَ مور دَ غيږ نه ازاد شو نو هغه مسکۍ شوه او دَ هغۀ دَ خپو سلامۍ له ورغله ۔ هغه چې دَ هغې په نيت پوهـ شو نو روستو شو ۔ هغه چې دَ هغۀ خپو پسې په ټيټه راتله نو هغۀ دَ دواړو ليچو نه اونيوه او خکته کيدو ته يې پرې نښوده۔ دَ هغوی سترګې چې په ولاړه ولاړه يو بل سره اولګيدې نو هغه مسکۍ شو او ورته يې "نمسکار" اووې ۔ فرحان دَ هغې دَ نمسکار جواب په نمسکار اوکړو او چې په غټو يې ورته اوکتل نو هغۀ ته داسې معلومه شوه چې دَ هغې دَ حسن دَ سپرلی اخری سلګۍ دی ۔ دَ هغې په زړۀ کښې دَ خپل حسن دَ زوال يره راغلې وه۔ دې دَ پاره هغې دَ سوراج خوانيولې وه چې دَ هغې په مرسته فرحان ته ځان اورسوی خو هغه دَ خائست او عمر په لحاظ دَ هغۀ جوګه نه وه بلکه په خائست کښې دَ هغۀ نه کمه او په عمر کښې زياته وه ۔ دغه رنګې مهانسۍ کپور او اناطوليه کمار هم وې ۔ دا درې واړه دَ هغۀ نه ډيرې مشرې وې ۔ دې دَ پاره هغې دَ اناطوليه کمار شته د دې دهرمسال څوکيدار ديوان سنګهـ سره اوکړه او دَ مهانسی کپور رشته دَ امرت سر يو سړی هربجل سنګهـ سره روانه وه ۔ دَ ريکها شاستری دَ رشتې دَ پاره دَ تيراه ديپال سنګهـ سره خبره شوې وه ۔ خو هغې تيراه ته دَ تلو نه انکار اوکړو او رشته اونشوه ۔ بهرحال سوراج دَ هغې دَ رشتې دَ پاره خپلې هلې ځلې جاری ساتلې وې ۔ دَ فرحان دَ پاره دَ سوراج سترګې په مهندريه لګيدلې وې ځکه چې په دغه ټولو کښې

هغـه کم عمره هم وه ،، شائسته او مودبه هم وه او دَ خائست او قابليت پـه لـحاظ دَ نورو دَ پاسه وه ـ سوراج دَ ډيرې مودې نه هغه په خپـل زړۀ کښـې دَ فـرحان دَ پاره خوښخه کړې وه ـ هغې اګر چه فرحان ليدلې نه وو خـو دَ سـوراج پـه ښـودنه او دَ هغې په خبرو دَ هغې په ذهن کښې دَ هغۀ تصوّر په تصوير کښې بدل شوې وو۔ چې کله يې هغه اوليدو نو هغـۀ دَ هغـې دَ تـصـور نه هم خائسته او مهذبه وو۔ هغې په ړومبۍ ورځ دَ خپـل خيالونو شهزاده له دَ VIP سلامی او پروټوکول ورکړو خو دَ ملاقات په ړومبۍ شپه هغه دَ هغۀ په سخته رويه او لهجه دَ هغۀ نه خفـه شـوه ـ هم دغـه وجـه وه چې بيا نه دَ هغۀ کمرې ته ورغله ، نه دَ هغـۀ خدمـت او سـروس لـه ډائـننګ روم ته ورغله او نه ورسره په تلو راتـلـو يا ختو کوزيدو کښی ملاؤ شوه ـ فرحان ته هم دَ خپلې غلطۍ احسـاس شوې وو۔ څو څو ځله دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې دَ هغې کـمـرې تـه ورشـی او دَ هـغـی نه معافی اوغواړی خو خپلې انا اجازت ورنـکړو ـ سوراج ته هم پته وه چی دَ کنوريه او ديوی ديپک په نسبت هغـه ، مهـنـدريـه سره مينـه کـوی خـو هغې دواړه خپلی مرضۍ او خوښخې ته پريښی وو۔ دَ فرحان او مهندريه دَ ړومبۍ شپې دَ ملاقات نـه پـس هغـه دوه ورځې په خپله کمره کښې پرته وه ـ نه پوجا پاټ له بهـر اوتـې وه ، نـه ډائـنـنګ هـال ته تلې وه ، نه ريکريشـن روم ته اونه دَ اشنان دَ پاره سويمنګ پول ته تلې وه ـ هم په دغه دوران کښې سوراج دَ يـوې مـلازمـې په خوله هغه خپل کور ته اوغوښتله خو هغې ورته


www.pukhto.net



انـه بهـانـه اوکـړه او هـلـتـه لانه ړه ـ په دې دومره موده کښې دا ړومبۍ ځـل وو چې مهندريه دَ هغې حکم عدولی اوکړه ـ چې هغه ورنه غله نـو سـوراج ورپسې په خپله ورغله ـ هغه په خپـل بيډ کښې ډبه ډوبه پرته وه ـ دَ هغې سترغلی په ژړا ژړا پړسيدلی وو ، دَ هغې سنبل زلفې ګـونـجـې شـوې او انختې وې او دَ هغې دَ سيلپنګ سوټ نه دَ خولې سـوړبـوئـی تـلـو ـ هـغـه ورتـه ډيره شيبه خاموش ولاړه وه او دَ هغې دَ حالـتِ زار جائـزه يې اخستله ـ دَ هغې غصه ختمه شوه او هغې له دَ هـغـې پـه حالـت بـانـدې رحـم ورغی ـ هغې تـه پتـه اولګيده چې دَ هـغوی دواړو ترمينځه څۀ اختلاف او بدظنی راغلې ده ـ هغه ، هغې سره کـيـنـاسـته او دَ هغې په ويښتو کښې يې ګوتې وهلې ـ دَ هغې دَ سترګـو په قوتو کښې لا هغسې دَ اوښکو څاڅکی ځليدل او دَ هغې پـه مـخ دَ اوښـکو لارې لا هغسې لوندې وې ـ هغه لا دَ هغې دَ تنکۍ مينـې دَ ناتار پـه تـماشه وه چې دَ هغې سترګې اوغړيدې ـ مهندريه چـې هغې ته اوکتـل نو اوبريده او په يره يره يې دَ پاڅيدو کوشش کوو خـو سـوراج هغـه پـاڅيـدو تـه پرې نښوده ـ دَ هغې دَ يرې دَ ختمولو دَ پـاره يـې هغـه ښـکـل کـړه او ورتـه يې اووې "ولې لورې ناجوړه يې ؟
هغې سترګی خکته کړې او ورته يې اووې ، "نه امّی ناجوړه نۀ يم"
سـوراج :ـ ولـی فـرحان درتـه څۀ ويلې دی ؟ دَ فرحان دَ نوم اوريدو سره دَ هـغـې سترګې ډکې شوې ـ په سترګو يې لاسونه کيښودل او په چغو چـغـو پـه ژړا شوه ـ سوراج دَ هغې سر په خپله غيږ کښې کيښودو او

په خپله لوپټه یې دَ هغې اوښکې اوچولې ۔ چې کله دَ هغې زړۀ تش شو نو هغې ترینه بیا تپوس اوکړو ، "هغۀ درته څۀ ویلې دی لورې"؟

مهندریه چې هغې ته په سکروټو سترګو اوکتل نو دَ هغې کاتۀ هغې برداشت نه کړې شو او مخ یې ترینه واړه وو۔ بیا یې ترینه په پټو سترګو تپوس اوکړو "ماته حال نه وائې لورې" ؟

مهندریه :۔ امّی هغۀ زۀ دَ خپلې کمرې ویستلې یمه ۔

سوراج :۔ لورې ماته پوره خبره اوکړه ۔ دَ کمرې نه یې ولې ویستلې؟

مهندریه :۔ امّی ما دَ هغۀ خپې منډلې ۔ هغۀ په دې بد اوګڼل او خپې یې راغونډې ۔ بیا مِ ورله اوړی منډلې نو په هغې لا غصه شو۔ چې ما ترینه معافی اوغوښته نو هغۀ په جوړه لاسونو اووې "معافی به درنه زۀ اوغواړم ...بیا یې ماته اووې زما دَ کمرې نه اوځه او ورپورې کړه "۔

سوراج :۔ باس ....صرف دا یې ویلې دی که نور څۀ بد ردې هم درته ویلی دی ؟

مهندریه :۔ نه امّی ، بدرد یې نه دی ویلې ۔

سوراج :۔ لورې په دیکښې هغۀ ته هم ګناه نیشته او تاته هم نیشته۔ لورې تاته پته ده چې هغه مسلمان هم دې او دَ پښتنو په معاشره کښې هم لوې شوې دې۔ رومبی خبره دا ده چې مسلمانان خپو ته تیټمیدل او دَ خپو سلامی ګناه ګڼی ۔ دویمه خبره دا ده چې دَ پښتنو په معاشره کښې یوه اجنبی جینۍ دَ یو اجنبی سړی خپې نشی منډلې۔



www.pukhto.net



تا چې څۀ کول نو تا دَ خپل دود ، دستور مطابق کول او هغۀ چې څۀ کول نو هغۀ دَ خپل مذهب او دَ خپل ثقافت مطابق کول ۔

مهندریه :۔ نه امّی هغه زما نه نفرت کوی ۔

سوراج (مسکۍ شی ) نه لوری نه ۔ هغه تانه چرې هم نفرت نه کوی۔ هغه خو ستا په مینه سر ورکوی ۔ مادَ هغۀ پوره پوره اندازه اخستې ده ۔

مهندریه :۔ تۀ رشتیا وائې امّی ؟ واقعی داسې ده ؟

سوراج :۔ هاؤ لورې بالکل رشتیا ۔ ستاسو مینځ کښې بے انتها مینه ده خو دَ دوو مختلف مذهبونو او ثقافتونو دَ اختلاف په وجه متاثره شوې ده ۔ او دا څۀ نوې خبره نه ده بلکه داسې اکثر کیږی خو دَ مینې غورځنګونو ته دا عارضی اختلافات رکاوټ نشی جوړیدې۔ ځه پاڅه لورې اشنان اوکړه ، جامې بدلې کړه او خپله خنده خوشحالی کوه ۔

مهندریه :۔ امّی زۀ به بیا نه هغۀ سره خبرې اوکړم او نه به دَ هغۀ کمرې ته ورشم ۔

سوراج :۔ نه لوری نه ، داسې به نه کوی ۔ که تۀ هغۀ سره ضد کوې نو کیدیشی ستا ځاې کنوریه یا دیوی دیپک اونیسی ۔ تۀ دَ هغۀ نه معافی اوغواړه او پخلاینې کړه ۔

مهندریه :۔ امّی معافی خو ترینه زۀ غواړم خو هغه معافی نه منی ۔

سوراج:۔ (مسکۍ شی ) چې هغه زما لور معاف نه کړی نو زۀ به یې هم معاف نه کړم۔ دَ کوره به یې داسې په بے عزتۍ سره اوباسم چې بیا

به په دې طرف هم رانشي ۔

مهندريه :۔ نه امّى داسې به نه کوې پليز ۔

سوراج :۔ ولى خفه شوې پرې“۔ ( هغه مسکى شى او سراوخوځوى ) ښۀ تۀ ورشه لورى اشنان اوکړه او زۀ درنه ورځم ۔

دا ټولى زړې خبرې وې خو چې کله مهندريه ته پته اولګيده چې هغه کلى ته تلې دې نو بيا ورپسې ډيره خفه وه او په زړۀ کښې يې وې چې شايد هغه سوراج خفه کړې دې او دَ کور نه يې ويستلې دې۔ هغې څو څو ځله دَ سوراج نه دَ هغۀ دَ راتلو تپوس اوکړو ۔ چې نن يې دَ هغۀ دَ راتلو خبره ووريده نو خوشحاله شوه او دَ هغۀ دَ راتلو انتظار يې کوو۔

فرحان او سوراج چې ډوډۍ دَ پاره ډائننګ روم ته لاړل نو دَ هغوى سروس ريکهاشاسترى کوو۔ دَ ډوډۍ خوړلو نه پس سوراج ريکها شاسترى رخصت کړه او هغوى دواړه ناست وو خپلو کښې يې خبرې کولې ۔ په خبرو خبرو کښې ترينه فرحان تپوس اوکړو ، ”امى، ابو چرته تلې دې ؟ هغه په ړومبۍ ورځ چې مې ليدلې دې نو بيا مې اونه ليدو“۔

سوراج :۔ ځويه هغه چلّه کښې دې ۔ دا يې پرله پسې دريمه چلّه ده۔ چې په کومه ورځ تاليدلې وو نو په هغه ورځ يې دويمه چله پوره شوې وه ۔ دَ هغې په دويمه ورځ بيا دَ څلور مياشتو چلّه شو۔ ښه تۀ خپل حال وايه ستا مور او بابا څنګه دى ؟

فرحان :۔ ښۀ دى امّى ټيک ټال دى ۔



www.pukhto.net



سوراج :۔ ماته خو يې خيرې ازار نه کوو۔

فرحان :۔ نه امّى هغوى داسې خلق نه دى ۔ هغوى له خداې لوې سينې ورکړې دى ۔ هغوى زما په راتلو انتهائى خفه وو خو ماته يې دَ خپل خفګان اظهار نه دې کړې ۔ آفرين شه او دَ هغوى زړونو له شه ۔ امّى ستا دَ خوشحالۍ دَ پاره مې هغوى ډکې سترګې پرېښودل او تاله مې ځان را اورسوو...امّى تا چى زۀ وژلې وى نو ښۀ به وې خو چې هغوى له دې نه وې ورکړې ...چې هغوى زما پرورش نه وې کړې او چې دې ورکړم نو بيا به دې زما تپوس نه کوو....دا څۀ حال دې يو خوا ته يې بل خوا هغوى دى ۔ چې څنګه مې تۀ امّى يې داسى مې هغه هم مور ده ۔ که تا پرېږدم نو الله رانه خفه کيږى ۔ که هغه پرېږدم نو الله رانه خفه کيږى ۔ که دواړه پرېږدم نو الله رانه خفه کيږى۔ که دواړه اخلم نو ګيله پيدا کيږى ....په دې نه پو هيږم چې ما باندې دَ چا حق زيات او دَ چا کم دې ؟ په دې هم نه پو هيږم چې زما په چا حق دى او څۀ حق دې ؟

سوراج :۔ ځويه ، تۀ دَ خيره بالغ يې ، تعليم يافته يې او په هرڅۀ پو هيږې ۔ تۀ زما دَ ارمانونو ارمان يې۔ تۀ نهه مياشتې ما په خيټه ګرځولې يې ۔ په دې نهۀ مياشتو کښې به زۀ هرشپه ستا په تصور اودۀ کيدم او ستا په خوږو خيالونو به پاڅيدم ۔ ماتۀ په خپل تصوّر کښې دَ کائنات ګوټ ګوټ ته رسولې يې....دَ سپرلى په پرخه مې لامبولې يې ....دَ بوډۍ ټال باندې مې زانګولې يې...دَ سپوږمۍ په

پلوشو مِ دَ سپوږمۍ۔ جهان ته رسولې یې. . . .دَ ټولې دنیا په وړمو کښې مِ اخلې یې. . . .ځویه تۀ زما دَ زړۀ قطره یې او زمانه پیدا شوې یې۔

فرحان :۔ امّی زۀ دا منم چی تا زۀ نهۀ میاشتې په خیټه ګرځولې یم او تانه پیدا شوې یم خو ستا مینه صرف ستا تصوراتو او خیالاتو پورې محدود ده ۔ تا عملی طور ماسره هیڅ خیګړه نه ده کړې ۔ تا زۀ دَ ځیګون په رومبی ورځ دَ خپلې سینې نه اوشوکولم او هغې ته دې حواله کړم ۔ مور خو په بچی ځان وژنی ، مارغاتو ته اوګوره ، بے زبانه ځناورو ته اوګوره ۔ کانګرو خو تر بلوغت پورې خپل بچې دَ خیټې په کور کښې ګرځوی او تاځۀ اوکړل . . . .مورې زۀ تا دَ خپل طرفه په اورکه حساب کړې یم خو زۀ ستا حق ځکه منم چې خپل مذهب اجازت راکوی او که زۀ ټول عمر تا په شا اوګرځوم نو هم ستا حق نشم ادا کولې ۔ مورې ، ستا ما سره دا احسان دې چې تا زۀ پیدا کړم ۔ خو چا چې دَ حیا ډکه سینه ماته اوسپړده او دَ پیو په ډکه چینه یې زما خوله اولګوله ، کومه سینه چې ما دوه ، دوه نیم کاله اوروله ، په کومه سینه چې ما لوبې اوکړې ۔ په کومه غیږه کښې چې زۀ لوې شوم ، چا چې زما پرورش اوکړو ، چا چې په ما تعلیم اوکړو ، چا چې زما دَ ارام او سهولتونو خیال اوساتو ، ما هغوی له څۀ ورکړل ؟ . . .هیڅ . . . چې تاله راځم نو هغوی خفه کیږی ، چې هغوی له ځم نو تۀ راپسې خفه کیږې او زۀ دواړو پسې خفه کیږم ۔ ما دَ خپلې امّی هیڅ خوارۀ نه دی لیدلې خو دَ مور دَ خوږو ډکې ګوتې مِ څټلې دی ۔ ما دَ خپل



www.pukhto.net



ابّو مینه نه ده لیدلې خو دَ بابا په غیږ کښې مِ لوبې کړې دی ۔ ما ستاسو دَ کور هیڅ نه دی لیدلې خو دَ هغوی دَ کور په ګوټ ګوټ کښې مِ خرپوسې کړې دی . . . .امّی زۀ ستا حق ځکه منم چې تانه پیدا یم ، دَ هغوی حق ځکه منم چې هغوی لوې کړې یم خو زۀ په دواړه طرفه دَ حقِ وراثت نه محروم یم ۔ستاسو دَ حقِ وراثت نه مذهبی لحاظ سره ځکه چې زۀ مسلم یم او تاسو غیر مسلم یې او دَ هغوی دَ حقِ وراثت نه شرعی لحاظ سره ځکه چې دَ هغوی خپل اولاد نه یم۔ زۀ په دې حیران یم چې زما مستقبل به څۀ وی ۔ چې دلته مړ شم نو تاسو به مِ سیزل غواړئ او چې هلته مړ شم نو هغوی به مِ ښخول غواړی ۔ اوه خدایه . . . . . ''۔

سوراج :۔ ځویه تۀ دَ خیره زلمې یې ۔ په ښۀ بده پو هیږې ۔ دَ مذهب په باره کښې تۀ ازاد یې۔ زما ستا په مذهب هیڅ کار نیشته۔ زۀ ستا په مذهب کښې تاته رکاوټ نه جوړیږم ۔ تۀ ماته په هر مذهب کښې قبول یې ۔ زما مینه او دلچسپی صرف او صرف ستا په ذات کښې ده۔ زۀ چې تاته ګورم نو خوشحالیږم ۔ زۀ په هرحالت کښې تا خوشحاله لیدل غواړم ۔ تانه بغیر زما نور څوک دی ؟

فرحان :۔ امّی ، ویلې کیږی چې دَ اولاد مینه ډیره خوږه وی ۔ تا چی زه په هسپتال کښې پریښودم او تشه غیږ روانه شوې نو ستا څۀ احساسات وو۔

سوراج :۔ فرحانه ، زۀ چې ستا دَ جُدائی په اور ایره نشوم نو دَ چتاپه

اور هم نه سوزم ۔ فرحانه ځویه ، هغه منظر اوس هم زما په سترګو کښې غرېږی (دَ هغې سترګې ډکې شی) ستا ابو تۀ زما دَ غیږ نه واخستې او دَ هغې کټ کښې یې اوغورځولې ....(ژاړی) ...ځویه تا ماپسی ژړل او خپې لاس دې وهل ....ما تاپسې ژړل او ستا ابو زۀ ځان پسی راخکلم ....هاې ربّه ...(فرحان دَ هغې اوښکې اوچوی او خپلې بهوی ) ...ځویه ستا ګیله په ځاې ده خو ما هیڅ نشو کولې ... ځویه ماتا له هیڅ مینه درنکړې شوه . ماتاله هیڅ خوارۀ درنکړې شو۔ ستا دَ تلو نه پس ما ستا دَ ابو نه دَ خپل خفګان بدل په دې واخستو چی خپل ځان مِ دَ همیشه همیشه دَ پاره دَ اولاد نه محروم کړو ...ما تاله مینه نه ده درکړې خو هغه ټوله ما ځان سره ساتلې ده او هغه به ستا اولاد له ورکوم "۔

فرحان (دَ هغې دَ خوشحالولو دَ پاره )" oh,my great mother . How good you are " (فرحان هغه ښکلوی)

سوراج :۔ دا خبره درباندې ښۀ اولګیده ؟

فرحان :۔ ولی نه امّی ، زما دَ امّی هره خبره ما باندې خوږه لګی ۔

سوراج :۔ یه ځویه ، تا مهندریه ته څۀ ویلې دی ؟ هغه خو تا نه ډیره خفه ده ۔

فرحان :۔ اوه ، دا خبره ده ۔ دا ځکه هغه زما مخې له نه راځی ۔

سوراج:۔ مهندریه ډیره ښۀ جینۍ ده ...ستا په وجه هغه دوه ورځې نۀ دَ کټ نه پاڅیدلې ده او نه یې څۀ خوړلې څکلې دی ۔



www.pukhto.net



فرحان :۔ امّی هغه ډیره حساس ده ګینې ماخو ورته څۀ داسې سخته خبره نه ده کړې ۔

سوراج :۔ تا ورته سخته خبره نه ده کړې ؟ آیا تا هغې ته نه دی ویلې چی "زما دَ کمرې نه اوځه او ور پورې کړه "؟

فرحان :۔ ویلې مِ دی خو دا خبره تاته چا اوکړه ؟

سوراج :۔ دا ماته هغې په ژړا ژړا کښې کړې ده ۔ فرحانه ، تا زما دَ ټول عمر خواری په اوبو لا هو کړه ۔ ماخو مره په مینه هغه ستا په مینه لویه کړې وه او څو مره په مینه مِ تا له ساتلی وه "۔ فرحان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلی ، "ماله دې ساتلی وه ؟ څۀ مطلب امّی "؟

سوراج :۔ مطلب دا چې دا جینۍ په ماشو موالی په ما ډیره خوږه لګیده ۔ هغه لا ډیره وړه وه چې دَ هغې پرورش ما په خپله ذمه اخستې وو ۔ په هغه وخت کښې ستا ابو لا بامبې نه وو جوړ شوې او مونږ په خپل زوړ کور کښې اوسیدو خو دَ معمول مطابق چې کله به زۀ عبادت له راغلم او خپل عبادت به مِ اوکړو نو نورې جینکۍ به مِ دلته صفا راصفا کړې او هغه به مِ ځان سره کورته بوتله ۔ هلته به مِ په شاتو او دَ غوا په شودو غوړه کړه ، بیا به مِ دَ ګنګاو جمنا په مِکس اوبو اولامبوله ، صفا جامې به مِ ورته واغوستولې ، سرځنه به مِ ورله اوکړه او بیا مِ د هرمسال ته بوتله ۔ چې کله مونږ دلته راغلو نو بیا خو بس زما شوه ۔ هغه ما د دغه لویو او ازاد خیالو جینکو نه بچ ساتلې ده ۔ دَ هغې خپله کمره ده ۔ په هغې کښې ځان له پرته وی ، خپل عبادت

کوی ، مذهبی او نور علمی کتابونه ګوری ـ دَ حسن نه علاوه خداۍ لويه حافظه هم ورکړې ده ـ دَ هغې دَ حافظې دا حال دې چې دَ سورداس ټول مذهبی حکايتونه ورته ټکې په ټکې ياد دی ـ دَ رام چندر جی او رامائن ټول واقعات ورته ياد دی ـ دَ ټولو نه لويه خبره دا ده چې دَ مقدّس ويد حافظه ده ـ دَ هغې خوراک څښاک هم دَ نورو جينکو نه په فرق دې۔ دَ هغې خوراک ، نان ، شات ، شوده ، اګئ ، سبزی ، ګل قند، تازه او ډرائی فروټ دی ـ دَ شودو نه علاوه دَ هغې مشروبات دَ ګنګا او جمنا مقدّسې اوبۀ دی ـ

فرحان :ـ مورې ستا خو پنځه ، لوړه نورې هم دی ، دې سره دَ امتيازی سلوک وجه څۀ ده ـ

سوراج :ـ ديکښې يوه وجه دا ده چې دغه نوری دَ هغې نه په عمر کښې زياتی دی ـ بله وجه دا ده چې هغې ته ماستا په سترګه کتلی دی ....بنه ماتانه تپوس کړې وو۔ چې تا هغه په څۀ خبره خفه کړې ده۔

فرحان :ـ هغې تاته څۀ ويلې دی ؟

سوراج:ـ هغې هم هغه خبره کړې ده ، کومې نه چې تا منعې کړې ده۔

فرحان :ـ نو بس هم دغه خبره ده امّی ـ

سوراج:ـ دا خو څويه زمونږ مذهبی رسم او ثقافت دې(پاڅی)

فرحان :ـ ستاسو به وی خو زمونږ نه دې ـ

سوراج :ـ څه چې څۀ شوی دی هغه شوی دی ـ اوس ترينه معافی اوغواړه او پُخلا يې کړه ـ



www.pukhto.net



فرحان :ـ هاؤ امّی ماته دَ خپلې سختې رويی احساس دې خو ماته دَ هغې کمره نه ده معلومه

سوراج:ـ دَ هغې کمره بدله شوې ده اوس ستا خوا له درغلې ده ـ دَ هغې کمره ستا کمرې سره جخته ده ـ دَ هغې په کمره دَ هغې نوم ''مهندريه '' ليکلې شوې دې۔ څه زۀ درنه لاړم نمسکار ''دَ نمسکار دَ تبادلی نه پس سوراج خپل کورته ورغله او فرحان خپلی کمرې ته روان شو ـ هغه چې په پوړو اوختو او دَ مهندريه کمرې ته يې اوکتل نو هغه نه صرف بنده وه بلکه دَ بهر نه ورته جرنده لګيدلې وه ـ هغه ورته يوه شيبه ولاړ وو او په زړۀ کښې مختلفې وسوسې شوې۔ دَ هغۀ دَ مور دَ وينا مطابق هغه اکثر په خپله کمره کښې وی او نورو جينکو سره ډيره نه ملاويږی ، خو دا څۀ دی ؟ هغه په خپله کمره کښې ولې نيشته ....دَ هغې دَ کمرې ورته جرنده ولې لګيدلې ده ؟ هغه دَ هغې ور سره يوه شيبه ولاړ وو او دَ هغې دَ ور جرنده يې په لاس کښې تاؤله راتاؤله او بيا خپلې کمرې ته روان شو ـ هغۀ چې دَ کمرې ورلرې کړو نو دَ اګربتو دَ لوګو او دَ مستو وړمو چپو دَ هغۀ استقبال اوکړو۔ دی سره يوخوږ اواز راغی۔ ''نمسکار'' هغۀ چې ورته اوکتل نو هغه مهندريه وه ـ دَ هغۀ دَ خولې نه بے اختياره اووتل ، ''اوه مهندريه، مائی ډير مهندريه ، تۀ دلته راغلې يې او زۀ ستا دَ کمرې پورې ورته ولاړ ووم ''۔ مهندريه غلې ، په ادب دست بسته ولاړه وه او لاندې يې کتل لکه په نمانځه کښې چه په قيام ولاړه وی ـ هغۀ غلې غوندې

اووې ، " لاندې دَ میرو جنګ تـه ګورې "؟ دَ هغې په اننګو کښې دَ مُسکا جنبش راغی. خو سترګې یې اوچتې نکړې ۔ هغهٔ یو لاس دَ هغې پـه سر کیښودو او په بل لاس یې دَ هغې زنه دَ لاندې نه په مزه مزه اوچته کړه ۔ دَ هغې سر اوچت شو خو سترګې یې پټې وې ۔ هغه ، هغهٔ تـه داسې ښکاریده لکه یو حسینه مجسّمه چې پټې سترګې ولاړه وی ۔ هغهٔ دَ دواړو لاسونو پـه قالب کښې دَ هغې مخ اونیوو، دَ هغې پټې سـترګې یې بے واره ، بے واره ښکل کړې او ورته یې اووې ، "سوری مهـنـدریـه ، آئـی ایم ویری ویری سوری "۔ دې سره هغـه مسـکـی شـوه ۔ دَ هغې مُسکا سره دَ هغې ګلونه اننګی او ګل پاڼې شـونډې هـم مُسـکـی شوې او دَ هغې سترګو کښې موسیدلې ځلا راغـلـه ۔ دَ دواړو سـترګې یـو بـل تـه مخامخ شوې ۔ دواړو دَ یو بل په سترګو کښې خپـل خپـل تـصـویـرونـه لیدل او دواړو دَ خپلو خپلو سترګو پـه کیـمرو دَ یو بل تصویرونه ویستل ۔ په دغه عکس بندی کښې هغوی دواړو په سترګو سترګو کښې یو بل ته ډیر څهٔ اووې ۔ دَ هغې پـه سترګو کښې ګیلې وې او دَ هغهٔ په سترګو کښې دَ معافی درخـواسـتـونـه وو. هغې دَ هغهٔ ټول درخواستونه قبول کړل ۔ هغه دَ خپـل شانِ کبریائی نـه اوشرمیده او سترګې یې خکته کړې ۔ هغهٔ هغـه دَ لاس نـه اونیـوه او ځان سره یې په بیډ کښې کینوله ۔ بیا یې ورتـه غلـې غوندې اووې ، "مهندریه ، ته زمانه مروره یې "؟ هغې په خوله څهٔ اونه وې البته دَ "نا " سر یې اوړقوو ، هغهٔ دَ هغې سر په غیږ



www.pukhto.net



کښې کیښودو او دَ هغې تندې یې ښکل کړو ۔ هغې دَ هغهٔ دَ شکریه ادا کـولـو دَ پاره دَ هغهٔ دواړه لاسونه ښکل کړل ۔ هغهٔ غوښتل چې دَ هغـې دَ ګلستـان یـو یو ګل ښکل کړی خو په زړهٔ کښې یې څهٔ خبره راغله ، لکه چې څهٔ ضروری خبره وریاد شوه ۔ هغهٔ یو ځل بیا دَ هغې تـندې ښکل کړو او ورته یې اووې "مهندریه که تهٔ نهٔ مائنډ کوې نو زهٔ بـه نـمـونځ اوکـړم "۔ هغې هغهٔ ته په غټو غټو اوکتل او په پستو او خـوږو ټـکـو کښـې یې تـریـنـه تپوس اوکړو ، "صیب جی ، نمونځ څهٔ ځیـز دې "؟ هغـه مسکے شو او ورته یې اووې ،" نمونځ زمونږ عبادت دې " دې سـره هـغـې دَ هغهٔ دَ غیږ نه سر اوچت کړو او ورته یې اووې ، "دا خـو ډیـره ښهٔ خبره ده صیب جی " هغه پاڅیدو واش روم ته ورغی. او دَ مـاسخوتن دَ نمانځهٔ تیارې یې شروع کړو. چې هغه دَ واش روم نه راوتو نو هغه ورتـه تولیه په لاس ولاړه وه ۔ هغهٔ دَ هغې دَ لاس نه تولیه واخستـه او مـخ لاس یـې اوچ کـړل ۔ چې هغـه په نمانځهٔ اودریدو نو هغـه ورته ولاړه وه او دَ هغهٔ ټول حرکات ته یې په حیرانتیا کتل. چې هغـه نـمونځ اوکړو او پاڅیدو نو هغې ته یې اووې ، "اوه ، مهندریه تهٔ لا ولاړه یې "؟ دې سـره یـې هـغـه دَ لاس نـه اونیوه او خپل بیډ لـه یې بـوتـلـه ۔ هغـې هغهٔ ته په یره یره اوکتل او وې وئیل ، "صیب جی یو تپوس درنه کولې شم "؟

فرحان :۔ هاؤ ، بالکل کولې شی ، وایه په زړهٔ دې څهٔ دی ؟

مهـنـدریه :۔ صیب جی ، ما دا وې چې تاسو خو مخې ته مورت نه وو

ايښىلې او هسې تش په توره دې سجدې لګولې ـ
فرحان :ـ هاؤ مهندريه ، مونږ مورت ته سجده نه کوو بلکه ناليدلې خداې تـه سجـده کوو ـ زمونږ په مذهب کښې مورت ته سجده لويه ګناه ده ـ
مهندريه :ـ اوه ، بهګوان ، دا ښۀ ده چې ماته دې اووې ـ زما په زړۀ کښې خو يو ځل راغلل چې يو وړوکى مورت ستاسو مخې ته کيږدم ـ
فرحان :ـ دا ښه ده چې داسې غلطى دې نه ده کړې ـ
مهندريه :ـ صيب جى تاسو مورت ته ولې سجده نه کوئ ـ
فرحان :ـ مهندريه ، دا ډيرې خبرى دى ، که ژوند وى نو دا ټولې خبرې بـه درتـه پـه واره واره اوکړم خو فى الحال دومره پو هـ شه چې زمونږ په مذهب کښې مورت ته سجده جائزه نه ده او که چرې جائز وې نو ما به ستـا دې حسيـن صـورت تـه کـوله ، دَ کانى ، تيکرى دغه دَ لاس جوړ مـورت تـه نه “ـ مهندريه خاندى او هغۀ ته وائى ، ”صيب جى سجده خو هغه چاته کيديشى چې دَ عزت وړ وى او عالى مقام لرى “ـ
فرحان (خاندى) تۀ دَ خپل عزت نه څۀ خبره يې ؟ دا تپوس زمانه اوکړه ....مهندريه يو تپوس درنه کولې شم ؟
مهندريه :ـ هاؤ صيب جى بالکل کولې شې ـ
فرحان :ـ دا نورې جينکۍ ماته سرکار وائى او ته راته صيب جى وائې ـ دا ولې ؟
مهندريه :ـ صيب جى چې رشتيا خبره درته اوکړم نو خفه کيږې خو


www.pukhto.net



به نه ؟
فرحان :ـ نه مهندريه ، تانه زۀ چرې هم نه خفه کيږم ـ
مهندريه :ـ صيب جى دَ سرکار په ټکى کښې لا تعلقى ده او دَ صيب جى په ټکى کښې تعلق هم شته او خوږوالې هم شتـه ـ
فـرحان (مسکې شى ) مهندريه ، ستاماسره څۀ تعلق او څۀ خوږ والې کيديشى ـ
مهندريه :ـ صيب جى چې رشتيا خبره درته اوکړم نو تا سره زما تعلق ډير زوړ دې او ډير مخکښې نه ستاتصوير زما په زړۀ کښې جوړ دې ـ
فـرحان :ـ ماخو ته مخکښې ليدلې هم نه يې نو تعلق څنګه جوړ شو او تصوير څنګه جوړ شو ـ
مهـنـدريـه :ـ صيب جى دا تعلق دَ تيرو نهو ، لسو کالو راسى دې ـ زۀ ايـلـه دَ څلورو پنځو کالو اومه چې امّى به ماته ستا خبرې دَ قيصې په طـور کـولـې ـ ما بـه ستـا خبـرې پـه زړۀ کښې ساتلې او ستا دَ څهرې کـرښـې بـه مِ پـه زړۀ کښـې جوړيدلې ـ چې څومره به وخت تيريدونو ستـا متـعـلـق زمـا تـصّور ستا په تصوير کښې بدليدو ـ ماچې په زړۀ کښې ستا کوم تصوير جوړ کړې وو ، تۀ بيخى هم هغسې يې ـ
فرحان (مسکى شى ) او خوږوالې ؟
مهندريه (خاندى ) صيب جى تۀ خوږ والې نه پيژنې ؟
فرحان :ـ نه کنه ، ځکه خو تانه تپوس کوم ـ
مهـنـدريـه (خـانـدى ) دواړه لاسونه په مخ کيږدى او وائى ، ”خوږوالې

مينې ته وائې “۔

فرحان :۔ خوږوالې مينې ته وائی ؟ مينه څۀ څيز دې ؟

مهندريه (خاندی) صيب جی ته مينه نه پيژنې ؟ مينه خو يو ماشوم هم پيژنی ؟

فرحان :۔ که مِ پيژندہ نو تابه راپورې ولې خاندل ؟

مهندريه :۔ صيب جی تۀ په هرڅۀ پو هيږې خو زمانه خبرې اوباسې؟

فرحان :۔ تانه خبرې نه اوباسم بلکه ځان پو هول غواړم۔

مهندريه :۔ صيب جی ، داسی اوګڼه چې مينه يوه خوږه نشه ده۔

فرحان :۔ ښه ښه لکه شرابو کښې چی ګوره ګډه شی ۔

مهندريه خاندی ، دَ هغۀ په بيډ کښې زغږی رازغږی او په خندا خندا کښې وائی ، ”نه صيب جی مينه خپل وجود نه لری خو لوې لوې غرونه لړځوی “۔

فرحان :۔ ښه ښه پو هـ شوم ، غرونه هم لړځوی ، آبادی هم لړځوی بلکه ټوله دنيا لړځوی ۔ تۀ زلزلې ته مينه وائی “؟ مهندريه خاندی ، دَ هغه په بيډ کښې ډډې په ډډې اوړی راؤړی او وائی ، ”نه صيب جی ، مينه زلزلې ته نه وائی ...های بهګوان ، صيب جی زۀ څنګه پو هـ کړم؟ مينه خپل وجود نه لری خو وجودونه ۔ بُګنوی ، لړځوی او تبښنوی ۔ دا په زړۀ کښې پټه وی ۔

فرحان :۔ اوه مائی ګاډ ، اوس پو هـ شوم ، مينه احساس ته وائی ، لکه دَ خوشحالۍ احساس دَ يری احساس او دَ خوښخۍ احساس....خو



www.pukhto.net



ستا ماسره څۀ مينه ده ؟

مهندريه :۔ صيب جی چی يوه خبره درته اوکړم نو خفه کيږې خو به نه ؟

فرحان :۔نه چرې هم نه ۔

مهندريه :۔ صيب جی مخکښی بهګوان دې بياته يې ۔

فرحان :۔ اوه ، تاخو ماله لوې مقام راکړې دې۔

مهندريه :۔ صيب جی ، ته لائق هم د دې يې ...صيب جی چې يوه بله خبره درته اوکړم نو خفه کيږې خو به نه ؟

فرحان :۔ نه مهندريه ، تانه به زۀ چرې هم خفه نشم ۔

مهندريه :۔ وعده ده ؟

فرحان :۔ بالکل وعده ده ۔

مهندريه :۔ صيب جی ماستا يو ښکلې مورت جوړ کړې دی۔

فرحان :۔ اوه مائی ګاډ ، دا دې څۀ کړی دی ؟ زما مورت ؟

مهندريه :۔ هغه مِ دَ ټولو خلقو نه پټ ساتلې دې او که ته يې ليدل غواړې نو تاله به يې راؤړم “۔ فرحان هغې له څۀ جواب ورنکړی خو هغه په خوشحالۍ دَ هغۀ دَ کمرې نه اوځی او خپلې کمرې ته ورځی۔

فرحان دَ هغې په ليونی مينه سترګې پټې کړې وی او په خپلو خيالونو کښې ډوب وی ۔ لږه شيبه پس هغه دَ هغۀ کمرې ته راځی ۔ هغې مورت شاته نيولې وی ، هغۀ ته مخامخ اودريږی او په مُسکا ورته وائی ، ”سترګی اوغړه وه صيب جی “۔ ته ورته اوګوره څومره خائسته مورت دی ”مهندريه په دواړه لاسه هغه ته مورت نيسی او

Pukhto.Net

وائی ، "خائسته دې کنه ـ بالکل ستا غوندې دې صیب جی "۔
فرحان چې مورت ته اوګوری نو حیران شی او په حیرانتیا کښې کله
مورت ته ګوری او کله هغې ته "۔
مهندریه :۔ خو ښخ دې شو صیب جی ؟ دا زما دَ پاره رام او تار دې
څنګه دې ؟
فرحان :۔ ډیر اعلیٰ ....کمال دې پرې کړې دی ...خو ...."
مهندریه :۔ خو څهٔ ؟
فرحان :۔ خو اوس د دې څهٔ ضرورت دې ، چې صورت موجود وی نو
دَ مورت څهٔ ضرورت دې ؟ ...په دې به څهٔ کوی ؟
مهندریه :۔ دا زما مینه ده ، زما زړهٔ او زما روح دې "۔ ( هغه، هغهٔ
ښکلوی او فرحان ته وائی ، "صیب جی چې زهٔ دَ شپې اودهٔ کیږم نو دهٔ
سره غاړه غټې سملم ...صیب جی زهٔ درنه خپلې کمرې ته ورځم، دا
مورت ماپسې خفه دې ـ زهٔ درنه ځم چې دواړه سملو او اودهٔ شو "۔
دې سره هغه مورت یو ځل بیاښکلوی ، فرحان ته نمسکار وائی او دَ
هغهٔ دَ کمری نه اوځی "۔

**دریمه برخه**

وخت تیریدو سره دَ فرحان او مهندریه مینه انتها ته رسیدلې وه ـ دَ
هغوی په رګ رګ کښې دَ مینې امنګونه او دَ جذباتو غورځنګونه
وو ـ دَ هغوی دَ مینې کاسې ترخولې خولې راغلې وو۔ دَ طوفانی
جذبو چپې ، اتش فشانی زلزلې او دَ حیوانیت تیرې دَ شعور پولې


www.pukhto.net



پورې تلې او دَ احساس په یره به واپس تلې ـ دَ هغوی ناسته پاسته او
خوراک څښاک په یوه کمره کښې وو ـ نه دَ یو بل په کتو مړیدل او نه دَ
مینې په خبرو ستړې کیدل ـ یوه ورځ سوراج دَ هغوی کمرې ته په
داسې وخت کښې ناګهانه راغله چې فرحان په خپل بیډ کښې
پرانستې تنې پروت وو او مهندریه دَ هغهٔ په سینه سر ایښې وو او دَ
هغهٔ دَ سینی ویښتو سره یې لوبې کولې ـ مهندریه چې هغې ته
اوکتل نو اویریده ـ دَ هغهٔ دَ سینې نه یې سر اوچت کړو او لاندې په
قالین اودریده ـ فرحان دَ یرې نه سترګې پټې کړې او ځان یې اودهٔ
تصور کړو ـ سوراج مسکۍ شوه او مهندریه نه یې تپوس اوکړو ،
"فرحان اودهٔ دې "؟ هغې لا څهٔ جواب نه وو
ورکړې چې هغه سترګې اوغړولې او وې وئیل ، "نه امّی ویښ یم ،
راځه کینه امّی " سوراج هغه سره کیناسته او مهندریه تیټې سترګې
په ادب ولاړه وه ـ هغهٔ یو ځل بیا مورته اوکتل او وې وئیل ، "امّی
تاڅهٔ ویل غوښتل " ؟
سوراج :۔ هاؤ ځویه ، ما دا وې چې بیګاه له زمونږ مذهبی تهوار دې
ـ په دې تهوار کښې کال په کال دَ رام لیلیٰ لوبه کیږی ـ دَ تیرو دوو
کالو راسې دَ لیلا کردار مهندریه کوی او دَ رام جی کردار کله یو کله
بل کوی ـ خو سخ کال خبره بدله ده ـ زهٔ ویم چې مهندیه سره دَ رام
جی کردار تهٔ اوکړې ـ ستا څهٔ خیال دې " ؟
فرحان :۔ امی رام لیلا ستاسو مذهبی تهوار او مذهبی لوبه ده ـ په

دې کښې زۀ دَ رام جی کردار نشم کولې ځکه چې زما او ستاسو مذهبی نظريات بيل بيل دی ۔

سوراج :۔ ځويه دَ رام جی کردار تاسره سوټ کيږی ، تانه بغير مونږ سره بل داسې موزون کردار نيشته ۔ زما دا ارمان دې چې تۀ او مهندريه دَ رام ليلا کردار ادا کړې۔

فرحان :۔ امّی که ته غواړې نو زۀ مهندريه سره دَ انارکلی په ډرامه کښې دَ شهزاده سليم کردار کولې شم ۔ دَ ليلىٰ مجنون په ډرامه کښې ورسره دَ مجنون کردار کولې شم خو دَ رام جی کردار نشم کولې ۔

سوراج :۔ ځويه که تۀ دَ مذهبی رسم نه يريږی نو دا خو ډرامه ده او ډرامه ، ډرامه وی حقيقت نه وی ۔ ستا په کردار کښې زما مطلب دا دې چې تاسو به يو بل ته نور هم نزدې شی ۔

فرحان :۔ امّی دَ ډرامی نه بغير هم مونږ يو بل ته نزدې يو۔ دَ پريشانۍ هيڅ خبره نيشته ۔

سوراج :۔ ځويه زۀ غواړم چې ستاسو مينه آفاقی شی او ټولو ته ښکاره شی ۔ .....(مهندريه ته ) ...''دې پوهه کړه جينۍ '' دې سره هغه بهر اوځی ۔

مهندريه :۔ صيب جی ، دَ امّی خبره اومنه کنه پليز ۔ زما دَ پاره ، زما دَ مخه پليز ۔

فرحان :۔ نه مهندريه داسې نشی کيدی ۔

مهندريه :۔ صيب جی ، تۀ زما دَ پاره دومره قربانی هم نشی ورکولې۔


www.pukhto.net



دا څنګه مينه ده ؟

فرحان :۔ مهندريه تاسره زما مينه دَ اسمان نه اوچته ، دَ سمندر نه ژوره او دَ دنيا دَ ټولو غرونو نه درنه ده خو چې دَ مذهب خبره پکښې راشی نو دَ بڼې نه سپکه ده ۔

مهندريه :۔ صيب جی ، ما خو داسې نه ګڼله ۔

فرحان :۔ سوری مهندريه ، زۀ دغسی نشم کولې او ستا زما په دغه کردار کولو کښې څۀ دلچسپی ده ؟

مهندريه :۔ زمانه پکښې زياته دلچسپی دَ امّی ده ۔ هغې ماته مخکښې هم څو څو ځله ويلې دی خو ما تاته دَ ويلو جرأت نشو کولې ۔ چې اونشوه نو اوس يې درته په خپله اووې ۔

فرحان :۔ مهندريه تۀ ماسره دا خبره مۀ چيړه ۔ زۀ پوهه شه او هغه ۔

مهندريه:۔ صيب جی ، که تۀ زما خبره اونه منې نو ستا زور به زمانه اوباسی ۔ ستا په ځاې به ما رټی او ماته به سپورې ستغې وائی ...ښه به دا وی چې زۀ دَ دې ډرامې کولو نه انکار اوکړم ۔

فرحان :۔ نه مهندريه ته انکار مه کوه ۔ ستا په انکار به دَ هغې غصه نوره هم زياته شی ۔

مهندريه :۔ صيب جی ، چې رشتيا خبره درته اوکړم نو تانه بغير دَ ليلا کردار بل چاسره کول نه غواړم ۔

فرحان :۔ ولی کول نه غواړې ؟ مخکښې به دې څنګه کوو؟ هغسی اوس هم کوه ۔

مهندریه :ـ صیب جی په ډرامه کښې دَ مینې محبت ډیرې خبرې راځی ـ کومه مینه چې زۀ تاسره کوم ، دَ هغې وعده بل چاسره کول نه غواړم ـ پاتې شوه دَ مخکښې روستو خبره نو مخکښې خبره بیله وه او اوس بیله ده ـ

فرحان :ـ هیڅ بیله نه ده ـ ځان له هم کارمۀ ګوره او ماله هم ـ دَ هغې مخې له زۀ هم نشم ورتلې ـ

مهندریه (خاندی ) صیب جی ، ته هم لکه زما دَ هغې نه یریږې ؟

فرحان :ـ دَ هغې نه نه یریږم دَ هغې دَ غصې نه یریږم ځکه چی هغه مِ مور ده او زۀ خپله مور په یو حالت کښې هم خفه کول نه غواړم ـ تۀ انکار مۀ کوه ـ

مهندریه :ـ صیب جی ، چی تۀ وائی نو انکار نه کوم خو په یو شرط ـ او شرط دا دې چې ته به لوبې له یعنی دَ ډرامې تماشی له راځی ـ

فرحان (مسکے شی ) ټیک ده ، زۀ به درځم او ستا دَکردار جائزه به اخلم ـ

مهندریه :ـ ښه نو زۀ درنه ورځم چې خپل تیارې اوکړم ، دې سره هغه په خندا خندا دَ هغۀ دَ کمرې نه اوځی ـ

ماسخوتن چې فرحان او سوراج په ډائننګ روم کښې ډوډۍ اوخوړه او فارغ شو نو سوراج هغه دَ لاس نه اونیوو او ځان سره یې هال ته بوتلو ـ په هال کښې دَ دهرمسال ټول خلق ناست وو خو ډرامه لا شروع نه وه ـ چې هغوی په خپلو نشستونو کیناستل نو په سټیج دَ پردې شاته لائټ میوزک شروع شو لږ ساعت پس مهندریه دَ لیلا په


www.pukhto.net



روپ کښې دَ سهیلو په ډله کښې راغله ـ هغه دَ سهیلو په مینځ کښې په سټیج اودریده ـ ټیټه شوه او ټولو ناظرینو ته یې سلام اوکړو ـ دَ هغې دَ سلام سره دَ هغې سهیلۍ هم سلام ته ټیټې شوې ـ فرحان چې دَ هغې زلفو ، خائست ، لباس او سنګار ته اوکتل نو حق حیران شو ورته ـ ډرامه ډیره لویه وه خو مرکزی خیال یې دا دی چې هغه دَ یو مصنوعی سیند په غاړه خپلو سهیلو سره ګرځی هغوی سره خندا خوشحالۍ او ټوقې مسخرې کوی ـ هغوی په دغه مصنوعی سیند کښې دَ اشنان اراده کوی چې دیکښې ویلن راشی او هغې سره چیړ چاړ کوی ـ لیلا دَ هغۀ په بد تمیزۍ غصه شی او دَ هغۀ نه په مخ سپیړه اوباسی ـ دَ هغې په دې حرکت ویلن هغه نیسی او ځان ته یې راترغاړه باسی ـ هغه چغې وهی خو هغه یې نه پریږدی ـ هغه چې ډیره تنګه شی نو دَ هغۀ په لاس چک لګوی ـ ویلن په بل لاس دَ هغې نه په مخ یو شړق اوباسی ـ (دې شړق سره دَ فرحان وینه جوش اوکړی او په خپل سیټ کښې نیغ شی ) دَ شړق سره هغه تاویږی تاویږی او په زمکه راپریوځی ـ ویلن هغه بیا دَ لاسه اونیسی او ځان پسې یې راکاږی ـ لیلا دَ هغه خپو له لتې ورکوی ـ لتو سره ویلن په سټیج راپریوځی خو ډیر زر پاسی ـ هغه چې هغې پسی بیا دَ ورتلو کوشش کوی نو هغه ژاړی او چغې وهی ’رام جی بچاؤ‘‘ په دغه منډو منډو کښې هغه دَ سټیج نه لاندې ټوپ کړی او دَ فرحان په خپو کښې پریوځی ـ هغه پاځی هغه دَ دواړو لیچی نه نیسی او ځان سره یې

اودروی ۔ ویلن هغه پسې لاندې راکوز شی او دَ هغې دَ نیولو کوشش کوی ۔ هغه چې هغې ته لاس اچوی نو فرحان هغهٔ له په سینه کښې مُکه ورکوی ۔ دَ یوې مُکی سره ویلن په زمکه پریوځی او بیهوشه شی ۔ دې سره ټول ناظرین دَ خوشحالۍ لاسونه اوپړقوی ۔ فرحان لیلا (مهندریه) دَ لاس نه اونیسی او خپلې کمرې ته یې بوځی ۔ دې سره دَ رام لیلا ډرامه ختمه شی او ټول په خوشحالۍ خوشحالۍ روان شی۔

## څلورمه برخه

دَ رام لیلا په لوبه سوراج ډیره خوشحاله وه ۔ اګر چهٔ فرحان دَ رام جی د کردار کولو نه معذرت کړې وو خو مهندریه په داسې تکنیک ، چل او هنر هغه دَ رام جی په کردار مجبور کړو چې هغه پرې هډو پو هـ نشو او دَ هغوی مقصد حاصل شو ۔ دا دَ سوراج دَ پاره دَ مهندریه لویه کامیابی وه ۔ په دې وجه هغې شپه ډیر په سکون او خوشحالۍ تیره کړه ۔ سحر په داسې وخت هغه دَ هغوی کمرې ته ورغله چې هغوی ناشته کړې وه او مهندریه لوبنی غونډول ۔ دَ هغې په ورتلو باندې فرحان هغې ته نمسکار اووې او مهندریه دَ هغې دَ خپو سلامی اوکړه ۔ سوراج هغه په دواړه مخه ښکل کړه او دَ ډرامې دَ کامیابۍ مبارکی یې ورکړه ۔ بیا مسکۍ شوه او ورته یې اووې ، "لورې تالاجامی نه دی بدلې کړې ؟ "هغې لاځهٔ جواب نه وو ورکړې چی فرحان اووې" امّی دا ما منعې کړې وه "۔

سوراج :۔ تا منعې کړې وه ؟ ولې ؟ (مهندریه یو خوا ته ټیټی سترګی


www.pukhto.net



په ادب اودریږی) ۔

فرحان :۔ امی دا ماته دَ لیلا په روپ کښې ښهٔ ښکاری ۔

سوراج :۔ تاته به دَ لیلا په روپ کښې ښهٔ ښکاری خو ماته دَ ناوی په روپ کښې ښهٔ ښکاری ۔ ځویه تهٔ ډیر خوش قسمته یې چې دَ مهندریه غوندې خائسته ، قابله ، تابعداره او وفاداره جینۍ درته ملاؤ شوه ۔ ځویه څهٔ وخت پروګرام جوړ کړې او دواړه په چکر لاړ شی ۔ بهر اوګرځی او ښهٔ سیلونه اوکړی ۔ دَ وادهٔ نه پس به درته بیا موقعه ملاویږی یا نه ۔

فرحان (مسکې شی) امّی ماخو دې ته ډیر اووې خو دا نه منی ۔ دې ته دا خپله کمره ټول کائنات ښکاری ۔

سوراج :۔ دا غریبه څهٔ وائی ۔ د دې ساه خو ستا په ساه ده ۔ دا خو ستا دَ لاسه ده ۔ څهٔ چې تهٔ غواړې هغسی به کوی ۔

فرحان :۔ نه کنه امّی ۔ دا څهٔ بل بل څهٔ وائی ؟

سوراج :۔ ( هغه ته نیغ نیغ ګوری ) دا څهٔ وائی ؟

فرحان :۔ دا وائی چې وادهٔ اوشی نو هنی مون دَ پاره به بهر ته لاړ شو۔

سوراج:۔ او ستا څهٔ خیال دې ؟

فرحان :۔ زهٔ هم دې سره متفق یم خو امّی بغیر نکاح ، بغیروادهٔ زمونږ تګ ښهٔ نه دې ۔

سوراج :۔ ټیک ده ځویه چې څنګه ستاسو خوښه وی ۔ زما پرې هیڅ اعتراض نیشته۔بلکه زهٔ خو ویم چې دا ډیر ښهٔ خیال دې۔ چې

وادۀ اوشی نـو دَ چا دَ شک شبهې به هډو څۀ ګنجائش پاتې نشی۔ ښه نو بيا دَ وادۀ تيارۍ شروع کړو ؟

فرحان :۔ امّی دَ وادۀ نه مخکښې يو څو حل طلب مسلې دی ۔

سوراج :۔ حل طلب مسلې ؟ څۀ مسلې ؟

فرحان :۔ يوه غټه مسله دا ده چې زۀ مسلم يم او مهندريه غيرمسلمه ده ۔ زه مـوحّـد يـم او مهندريه مشرکه ده ۔ زمونږ دَ مذهب مطابق دې سره زما نکاح نشی کيدې ۔

سوراج :۔ يوه دا ده ۔ نورې څۀ مسلې دی ؟

فرحان :۔ لويه مسله دا ده چې دا حل شی نو په نورو خبرې کيديشی۔

سوراج :۔ دا څۀ دومره مسله نه ده ۔ دواړه خپلو کښې صلاح شئ او څۀ حل يې را اوباسئ ۔

فـرحان :۔ مونږ خو ډير کوشش اوکړو خو په هيڅ نتيجه اونه رسيدو۔ تۀ راته څۀ چل اوښايه نو هغسی به اوکړو ۔

سوراج :۔ چـل دا دې چـې دَ مـذهب رکـاوټ تـريـنـه اوباسئ نو خبره ختمه ده ۔

فرحان :۔ څنګه او څه رنګه ؟

سوراج :۔ زما ستا په مذهب اعتراض نيشته ۔ تاسو دواړه يو بل سره بے انتها مينه کوئ ۔ وادۀ ته دَ مذهب نه زيات دَ مينې ضرورت دې۔

فرحان :۔ امّی ترڅو چې زمونږ دواړو مذهب يو شوې نه وی نو زمونږ نکاح نشی کيدې ۔



www.pukhto.net



سـوراج :۔ زۀ نـه ستا په مذهب اعتراض کوم او نه ستا په مينه کښې رکـاوټ جـوړيـدل غـواړم خـو هـسـې خپـل مثال درکوم چې ستا پلار مـذهبی لـحاظ سره سکهـ دې او زه هنده وه يم خو بيا هم مونږ دواړو خپـلو کښـې وادۀ اوکـړو ځـکه چی مونږ خپلو کښې مينه کوله ۔ په دې وجه مذهب زمونږ دَ مينې په لاره کښې رکاوټ جوړ نشو۔

فـرحان :۔ امّی ستاسو په مذهبونو کښې دغسې کيديشی خو زمونږ په مذهب کښې نشی کيدې ۔

سـوراج :۔ دواړو کښـې يـو کـس قـربـانـی ورکړی او خپلو کښې وادۀ اوکړی ...تۀ دَ مهندريه دَ پاره خپل مذهب نشی بدلولې ۔

فـرحـان :۔ نه امّی داسې نشی کيدې ۔ دَ مهندريه دَ پاره زۀ دا ټوله دنيا پريښودې شم خو مذهب نشم پريښـودې ۔

سـوراج :۔ (مهـنـدريـه تـه) اوتـۀ مهـنـدريه ؟ دَ دۀ دَ پاره دَ خپل مذهب قربانی ورکولې شی ۔

مهندريه :۔ نه امّی چرې هم نه ۔

سـوراج :۔ دا بـه څـۀ کيږی ؟ ستاسو وادۀ خو زما لوې ارمان دې خو داسې معلوميږی چې دا وادۀ به پاتې شی ۔ فرحانه ، ستا څۀ خيال دې؟

فرحان :۔ که مهندريه زمونږ مذهب اختيار نکړی نو کيديشی زمونږ واده او مينه دواړه پاتې شی ۔

سوراج :۔ ستا څۀ خيال دې مهندريه ؟

مهندريه :۔ که صيب جی زمونږ ، دَ خپل مور پلار او نيا نيکۀ مذهب

Pukhto.Net

اختیار نکړی نو زمونږ وادهٔ به پاتې شی خو زما مینه به پاتی نشی ـ
سوراج:ـ فرحانه که ستاسو وادهٔ اونشې نو زما خو به نسل ختم شی ـ زهٔ به تباه شم ، برباد شم ، هائے بهګوان ، هغه پاڅی او په غصه وائی ، "یوه خبره مِ دواړه په پرانستی غوږونو ووری او هغه دا چې که دا وادهٔ اونشی نو زه به خود سوزی اوکړم "ـ

دَ خود سوزی په ټکی مهندریه دَ یرې نه ټوپ وهی او دَ خولی نه یې بے اختیاره اوځی "هائے بهګوان" زر ورمنډه کړی یو لاس دَ هغې په خوله اږدی او په بل لاس دَ هغې سر په خپله اوږه اږدی ـ دَ هغې زړهٔ درزیږی او سینه یې خکته پورته کیږی او هغې ته وائی ، "داسې مه وایه امّی " یوه شیبه پس هغه خپل سر دَ هغې دَ اوږې نه اوچتوی ، هغې ته ګوری او وائی "لورې دَ وادهٔ نه علاوه ماتاله یو بل ټاسک درکړې وو ـ تا څهٔ اوکړل ؟ مهندریه سترګی خکته کړی او وائی ، "سوری امّی ستا دغه ارمان زهٔ نشم پوره کولې "ـ

سوراج :ـ چې زما ارمان نشې پوره کولې نو جیون رام له به دې ورکړم او دَ خزلې شکری به درپسر کړم ـ

مهندریه :ـ چې دَ صیب جی نشم نو دَ چا به هم نشم ـ چې تهٔ خود سوزی کولې شې نو زهٔ خودکشی کولې شم ـ

سوراج (په غصه) مهندریه ، مهندریه ، ستا په خوله کښې هم ژبه اوګرځیده ...که دا ژبه مِ درنه پرې نکړه نو زهٔ به ښځه نه یم ـ

مهندریه :ـ امّی تهٔ تکلیف مهٔ کوه ـ چې ته یې رانه پرې کوې نو زه



www.pukhto.net



په خپله څهٔ شوی یم ؟ دې سره هغه دَ انګیهټۍ په شیلف باندې پروت دَ سیوانو دَ پلیټ نه چاقو ته راخلی ـ فرحان چې دَ هغې په اراده پوهـ شی نو ډیر په تیزۍ سره دَ بیډ نه ټوپ کړی ، دَ هغې دَ لاس نه چاقو اخلی او په هغې لاس اوچتوی خو په زړهٔ کښې یې څهٔ خیال راشی نو لاس روستو کړی ـ هغه ورته په غټو غټو ګوری او وائی ، "لاس مهٔ روستو کوه صیب جی ، سپیړه اوباسه زمامخ ستا دَ سپیړی انتظار کوی ـ

فرحان ( سترګی خکته کړی ) سوری مهندریه ، ویری سوری ـ

مهندریه :ـ سوری مهٔ وایه صیب جی ، زهٔ ستاسو دواړو مجرمه یم ـ که ستا لاس زما مخ له نه ورځی نو زما خپل لاسونه خو ورځی "ـ دې سره هغه په دواړو لاسه خپل مخ پے واره پے واره وهی ـ فرحان هغه دَ لاسونو نه نیسی او ورته وائی ، "مهندریه پلیز .... ریلیکس مهندریه ریلیکس " ـ هغه دَ هغهٔ دَ ګرفت نه دَ لاسونو خلاصولو کوشش کوی او وائی ، "ما پریږده صیب جی ، ما پریږده ....ما پریږده کنه "ـ فرحان هغه په غیږ کښې کلکه نیسی او دلاسه ورکوی ـ

سوراج :ـ دې ته ګناه نیشته ـ ټوله ګناه ماته ده ـ دا مانیازبینه او په مینه لویه کړې ده ـ او په سر مِ خیژولې ده دا ټوله ګناه زما ده "ـ دې سره هغه په غصه بهر اوځی ـ فرحان هغه ځان سره په بیډ کښې کینوی او دَ هغې سر په خپله غیږ کښې اږدی ـ هغه چې دَ هغې مخ ته اوګوری نو هغه داسې سور وی چې لمبې ترینه خیژی ـ هغه دَ

هغې سر اوچت کړی ، دَ هغې مخ خپلې سينې پورې نيسی او دَ خپل زړهٔ دَ حرارت ګرم ګرم ټکور ورکوی ۔ په ديکښې ريکهاشاستری او ديوی ديپک رائحی ۔ هغوی دواړه هغه دَ لاسونو نه اونيسی او دَ هغهٔ دَ غيږې نه يې جُدا کوی ۔ بيا يې پاڅوی او په دواړه کسه يې دَ کمرې نه اوباسی ۔ دَ هغوی تلو سره هغه هم پاڅی ، په درشل اودريږی او هغوی ته ګوری ۔ هغوی هغه دَ هغې په کمره تيره کړی او په پوړو باندې يې کوزه وی ۔ اناطوليه کمار او مهانسی کپور دَ هغې دَ کمری نه دَ هغې سامان اوباسی او لاندې يې اوړی ۔ چې هغوی په پوړو کوزې شی نو هغه خپلی کمرې ته واپس شی او په بيډ کښې خفه کينی ۔ په زړهٔ کښې وائی چې دا څهٔ وو او څهٔ اوشو ۔ لږه شيبه مخکښې دَ هغهٔ ليلا دَ هغهٔ ښاپيرۍ دَ هغهٔ په سينه پرته وه او اوس لاړه ....سپکه شوه ۔ د عزت او احترام نه محرومه شوه ۔ او چې لا مخکښې به څهٔ کيږی ۔ هغه لا په دغه خيالونو کښې ډوب وو چې ريکها شاستری دَ هغهٔ کمرې ته راغله ، هغه ته يې نمسکار اووې او يو خوا ته په ادب اودريده ۔ فرحان هغې ته په مايوسۍ اوکتل او تپوس يې ترينه اوکړو ، "ريکها، مهندريه مو چرته بوتله "؟

ريکهاشاشتری :۔ سرکار هغه مو لاندې بوتله ۔

فرحان :۔ لاندې چرته ؟

ريکها شاستری :۔ سرکار هغه رانده شوه او خپلو ملګرو هريجن او شودر سره شوه ۔



www.pukhto.net



فرحان :۔ هغی څهٔ ګناه کړې وه ۔

ريکهاشاستری :۔ سرکار نور معلومات خو ماته نيشته البته ويلې کيږی چی امّی سره يې ګستاخی کړې ده ۔

فرحان :۔ ريکها ، دلته ماته مخامخ کينه ( هغه کينی ) ستا چا سره رشته شوې ده ۔

ريکها شاستری :۔ نه سرکار انتظار کښې ناسته يم ۔

فرحان :۔ ريکها، تهٔ د يو مسلم سره دَ وادهٔ دَ پاره خپل مذهب پريښودې شی ۔

ريکها شاستری :۔ نه سرکار داسې نشی کيدې ۔

فرحان :۔ نو بيا مهندريه ولې رانده شوه ؟ ...(هغه چپ وی) وايه کنه ...زهٔ تانه تپوس کوم چې هغه ولې رانده شوه "۔ ريکها شاستری جوړه لاسونه دَ سلام په توګه په تندی اړدی او وائی ، "معافی غواړم سرکار ، مانه دا تپوس مهٔ کوه "

فرحان :۔ ولې مهٔ کوه ؟ دا تپوس تانه کوم او ته به جواب راکوې "۔ ريکهاشاستری رنګ اووهی ، هغه پاڅی وربولټ کوی ، بياراشی هغهٔ ته مخامخ کينی او په ګنګوسی کښې ورته وائی ، "سرکار لکه څنګه چې ستاسو په مذهبی مدرسه کښې مذهبی درس وتدريس کيږی ، عبادت کيږی ، مذهبی هلې ځلې کيږی ، مذهبی تعليم وتبليغ کيږی ، دَ مقدس کتابونو ليک لوست سه روزې ، عشرې او چلې کيږی نو په دغسی ماحول کښې به يو مسلم خپل مذهب

ښنګه پريږدي او بل مذهب به ښنګه اختيار کړي ـ او که بالفرض داسې اوشي نو دغسې کس ته ستاسو په مذهب کښې مرتد ويلې کيږي ـ او ستاسو په مذهب کښې دَ مرتد سزا قتل دې ـ لکه ښنګه چې ستاسو مذهبي مدرسې دي نو دغسې زمونږ دهرمسال هم دي دلته زمونږ دهرم آتما کيږي ، نو په داسې مذهبي ماحول کښې به څوک ښنګه خپل مذهب پريږدي او بل مذهب به اختيار کړي ـ که چرې څوک دا جرأت اوکړي نو هغه رانده شي او دَ هغهٔ دَ قسمت فيصله زمونږ عالمان کوي ـ

فرحان :ـ مهندريه دَ مذهب نه بدلولو په وجه رانده شوې ده ؟

ريکهاشاستري :ـ سرکار رانده په دوه قسمه وي ، يو دا چې دَ مذهب نه منحرف شي ـ داسې کس له سخت ترينه سزا ورکړې کيږي ـ بل دا چې هغه څوک چې دَ خپل مذهبي پيشوا حکم عدولي اوکړي ـ داسې کس ته جسماني سزا نشي ملاويدې خو هغه دَ خپل اعلیٰ حيثيت نه اوغورځولې شي ، په ادنیٰ طبقه کښې شامل شي ، په معاشره کښې دَ هغه تحقير او تضحيک کيږي او هغه دَ اعلیٰ مراتب نه دَ هميشه هميشه دَ پاره محروم شي ، او محکوم شي ـ دغه شان مهندريه هم ده ـ هغه مذهبي طور رانده شوې نه ده بلکه خپلې بامبړې يعني امّي سره دَ ګستاخۍ په وجه رانده شوې ده ـ

فرحان :ـ ريکها ، که دا امّي مخکښې تهٔ دَ خپل مذهب دَ پريښودو او دَ بل مذهب دَ اختيارولو نه انکار اوکړي نو دا به ستا ګستاخي ګڼلې



www.pukhto.net



شي ؟

ريکها شاستري :ـ نه سرکار داسې نه ده ـ سرکار تهٔ دَ امّي ، ابّو ايکې يو اولاد او دَ هغوي دَ نسل اخري نښخه يې ـ دَ بد قسمتۍ نه تهٔ دَ خپل ځيګون په رومبۍ ورځ رانده شوې او دَ هغوي په نسل کښې څوک داسې پاتې نشو چې خپلې مذهبي سرګرمۍ جاري اوساتي نو هغوي ته ستا په وجه ډير افسوس دې ـ چونکه تهٔ رانده شوې نو تهٔ په يو حالت کښې هم پاکيدې نشې البته ستا اولاد ته دَ هغوي سترګې دي ـ دَ امّي او ابو په تا کښې دلچسپي نيشته بلکه ستا په اولاد کښې ده ، که هغه جائز اولاد وي او که ناجائز وي ـ مهندريه هغې ستا په نامه لويه کړې وه او تاله يې ساتلې وه ـ او هغې له يې د دغه جائز ، ناجائز تعلقاتو ټاسک ورکړې وه ـ هغې سره دَ وادهٔ نه تا دَ مذهب په وجه انکار اوکړو او دَ ناجائز تعلقاتو نه تاسو دواړو انکار اوکړو ـ نتيجه دا شوه چې مهندريه په هغه کار کښې کاميابه نشوه کوم دَ پاره چې هغې ساتلې وه بلکه هغې امّي ته صفا اووې چې هغه دَ هغې ارمان نشي پوره کولې"ـ

فرحان :ـ تاته دا خبرې چا اوکړې ؟

ريکها شاستري (خاندي) مونږ خو ټوله ورځ اوزګارې ناستې يو او دا خبرې کوو ـ

فرحان :ـ بنه دا راته اووايه چې ته ښنګه راغلې يې ـ

ريکها شاستري :ـ سرکار زهٔ دَ هغه ټاسک دَ پاره راليږلې شوې يم په

کوم کښې چې مهندریه ناکام شوی وه ۔
فرحان :۔ ریکها په کوم کار کښې چې کنوریه ، دیوی دیپک او مهندریه ناکام شوې په هغې کښې به تۀ څنګه کامیابه شې ۔
ریکهاشاستری :۔ سرکار ، که ستاسو دَ نسلی بقا دا شرف ماته حاصل شی نو دا به زما دَ پاره دَ اعزاز باعث وی ۔ سرکار پلیز پلیز۔
فرحان :۔ نو ریکها نو۔ You con go ۔ ماپرېږده ریکها پلیز ۔
ریکها شاستری :۔ سرکار پلیز۔
فرحان :۔ ریکها ، پلیز ۔ زۀ دَ بحث په موډ کښې نه یم پلیز ۔ دې سره هغه په خپل بیډ کښې سملی ، ډېره بدله کړی او سترګې پټې کړی ۔ ریکها یوه شیبه ولاړه وی بیا غلې غوندې بهراوځی او ورپورې کړی۔ دَ ریکها شاستری دَ تلو نه پس هغه په خپل بیډ کښې ډېرې په ډېری اوختو را اوختو خو خوب نه ورتلو ۔ یو خوا دَ مهندریه په جُدائی اودَ هغې په بدحالی په هغه دَ اور لمبې ګرځیدې ، بل خوا په دغه اور دَ ریکها شاستری دې انکشاف دَ تیلو کار اوکړو چې ، "دَ امّی ابو په تا دلچسپی نیشته بلکه ستا په اولاد کښې ده "۔ هغه دَ خپلې مور په مینه شکی شوې وو او دَ ریکها دَ وینا مطابق دَ هغۀ مور دَ هغه بدل دَ هغۀ دَ اولاد نه اخستل غوښتل ۔ اګر چه دا مذهبی تعصّب په ظاهره هغې کښې نه ښکاریدو خو بهرحال دَ ریکها خبره حقیقت ته نزدې وه ۔ په ناجائزه طریقه دَ خپل نسلی بقا ارمان پوره کول او دَ هغۀ اولاد په خپل مذهب راړول دَ هغې دَ مذهبی تعصّب او انتقام انتهاوه ۔ دَ هغې


www.pukhto.net



قول وفعل هغۀ ته ظالمانه او سفاکانه ښکاریدو ۔ دَ مهندریه تحقیر وتضحیک دَ هغۀ دَ برداشت نه بهر وو۔ هغه مهندریه چې دَ حسن شهزادګی وه ، چې دَ رام لیلا په ډرامه کښې یې په خپل طلسماتی حسن ټول ناظرین بے دمه کړی وو، چې په کاټۀ کښې مسیحیّت او په خبرو کښې یې موسیقیت وو، دَ هغۀ دَ سینې نه جُدا کړې شوه ، دَ خپل اعلیٰ منصب نه معزوله شوه او بے عزته شوه ۔ په هغې کښې اپنائیت وو ، نزدیکت وو ، قربت واتصال وواو دا دَ هغې کمال وو ۔ څومره څومره به چې هغۀ دَ هغې متعلق سوچ کوو۔ هومره به دَ هغۀ پریشانی زیاتیده بلکه بعضې وخت به دَ اشتعال اخری حد ته رسیده ۔ هغه نه پوهیدو چې هغه له څۀ کول پکار دی۔ یو خوا دَ هغۀ مینه مهندریه وه بل خوا دَ هغه وینه دَ هغۀ موروه ۔ نه یې مهندریه په دغسی بدحالی کښې پرېښودې شوه او نه یې مورته مخ ګرځولې شو ۔ هغه ترناوخته پوری په دغه سوچونو او فکرونو کښې بوخت وو او هم په دغه فکرونو کښې یې سترګې ورغلې ۔ سحر چې هغه دَ دهرمسال دَ ټلی په ټنګار او دَ چاپیره اذانونو په غږونو پاڅیدو نو واش روم ته ورغی۔ او دَ نمانځه دَ پاره یې تیارې اوکړو ۔ هغه چې دَ کمرې نه اووتو نو په پوړو کوز شو او ډیر په تیزی سره جمات ته روان شو ۔ دَ دهرمسال په کچه برخه کښې جهارو وهلې کیدوه او دوړه الوته ۔ هغه پرې ډیر په تیزی تیر شو او جمات ته لاړو۔ هغۀ چی نمونځ اوکړو او واپس شو نو رڼا ئې لګیدلې وه ۔ کچه لاره جهارو شوې وه او ځای په ځای دَ خاؤرې ، خزلې ډهیری

پراتۀ وو۔ يو ډهيرى ته شکرۍ پرته وه ، يو پوخ عمره سړي ورته ناست وو ، په لاس يې شکرۍ ډکوله او يوه جينۍ ورته ولاړه وه ۔ چې هغه ورنـزدې شو نو هغې خپل مخ په لوپټه کښې پټ کړو خو دَ شمعې نور دَ لوپټې په فانوس کښې کله پټيديشى ۔ هغۀ چې ورته اوکتل نو هغه مهندريه وه او ناست سړى جيون رام وو۔ هغه پرې ځان پوهـ نه کړو او مخکښې تير شو ۔ چې لږ مخکښې لاړو او په شا يې اوکتل نو هغې دَ ګنډګى ډکه شکرۍ په سر کړې وه او روانه وه ۔ هغه خپلې کمرى ته لاړو او په خپل بيډ کښې خفه کيناستو ۔ هغه لا په خپلو سوچونو کښې ډوب وو چې ديوى ديپک راغله ۔ هغۀ ته يې نمسکار اووې او دا پيغام يې ورکړو چې "سرکار دَ ناشتې په ټيبل باندې امّى ستاسو انتظار کوى"۔

فرحان :۔ ديوى جى ، ماله ناشته دلته راؤړه ۔

ديوى ديپک :۔ ډيره ښه ده سرکار"دې سره هغه اووته ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس هغه پاڅيدو او دَ اشراق په نمانځه اودريدو ، هغه نمونځ کوو خو دَ هغۀ ذهن دومره ګډوډ شوې وو چې نه په رکعتونو پوهيدو او نه په قرأت ۔ هغه لا په نمانځه کښې مصروف وو چې ديوى ناشته راؤړه۔ هغۀ ته يې په ميز کيښوده او يو خو اته غلى اودريده ۔ يوه شيبه پس سوراج هم راغله او دَ ناشتې ميز ته کيناسته ۔ هغه چې دَ نمانځه نه فارغ شو نو سوراج ته يې نمسکار اووې او هغې سره دَ ناشتې ميز ته کيناستو ۔ سوراج ناشته هم کوله او دَ هغۀ تاثرات ته يې هم کتل ۔ هغه دَ هغې په نيت پوهـ شو خو هغې ته يې هيڅ توجه ورنکړه ۔



www.pukhto.net



سوراج ديوى ديپک ته دَ تلو اشاره اوکړه ۔ چې هغه اووته نو سوراج هغه ته اوکتل او تپوس يې ترينه اوکړو ، "ولې ځويه څۀ خبره ده ۔ پريشان غوندې ښکارې "۔

فرحان :۔ هن ، څۀ ، نا ، هاؤ ، ښه ښه ۔ نه ۔ نه امّى هيڅ نيشته ۔ زۀ پريشان نه يم ۔

سوراج :۔ ځويه هغه به څنګه مور وى چې دَ اولاد دَ مخ په ائينه کښې دَ هغۀ دَ خوشحالۍ او پريشانۍ اندازه اونه لګوى ۔ ماته پته ده چې تۀ دَ مهندريه په وجه پريشان يې ۔ داسې ده که نه ده ؟

فرحان :۔ هن ، هاؤ ، نه ، نه امى داسې نه ده۔ خو هغه څۀ شوه ؟ چرته لاړه ؟

سوراج :۔ تۀ چې جمات ته تلې او بيا راتلې نو جهارو په لاس او دَ خزلې شکرۍ په سر دې ځوک ليدلى وو؟

فرحان :۔ کيديشى ليدلې م وى خو پام م ورته نه دې کړې ۔

سوراج :۔ دغه جينۍ مهندريه وه او سړې ورسره جيون رام وو۔

فرحان (په لاپروائى ) دَ هغې ډيوټى بدله شوه ۔ دا ولې ؟ تاخو هغه ډيره په مينه ساتلې وه ۔ داسې دې ولې اوکړل ؟

سوراج :۔ دَ ولې تپوس ولې کوى ؟ تاهر څۀ په خپله اونه ليدل او دَ هغې خبرې دې په خپله وونه ريدلې ؟ ...دا دَ هغې سزا ده او ټول عمر به هم دغسې وى ۔

فرحان :۔ داسى مۀ کوه پليز ۔ هغه هم دَ چا اولاد دې ۔ دَ تخت نه دې تختې ته کړه او دَ تختې نه دې کچرې ته کړه ۔ لږ تحمل او برداشت پکار دې ۔

سوراج :ـ تحمل او برداشت (ترخه خندا) دا خو دَ تحمل او برداشت نتیجه شوه چې په سر باندې مِ سوره شوه ـ

فرحان :ـ امّی هغه خو ستا لور ده او په لونړو کښې درته دَ ټولو نه ګرانه ده ـ داسې توهین یې مهٔ کوه چې دَ نورو جینکو دَ خندا شی ـ څوک چې دَ بل په اولاد رحم نه کوی نو خدایې دَ هغوی په اولاد رحم نه کوی ـ ستا هم خپل اولاد شته که ستا اولاد سره داسې اوشی نو ستا به څهٔ احساسات وی ؟

سوراج :ـ دا دَ هغې دَ کبر نتیجه ده ، دغه دَ ذلت شکرې ځکه دَ هغې په سر پرته ده ـ چې زما دَ ګل په شان ځوی یې قبول نه کړو نو جیون رام یې نصیب شه "ـ

فرحان دَ ناشتې نه لاس راکاږی او هغې ته وائی ، "ښهٔ امی ماته څهٔ حکم دې ؟ سوراج (مسکې شی) ولې ځویه تنګ شوې څهٔ ؟

فرحان :ـ امّی ټوله ورځ لګه نکټو خوراک څڅاک ته پروت یم او څهٔ کارمِ نیشته ؟

سوراج :ـ ځویه ستا ابّو په چلّه کښې دې او ټوله ذمه واری یې ماته پریښې ده ـ که مناسب درته ښکاری نو ماسره لاس کوه دغه رنګې به ته مصروف هم شې ـ او دَ ذمه وارۍ احساس به هم درته اوشی ـ

فرحان :ـ امّی ، زهٔ تا سره څهٔ لاس کولې شم ؟

سوراج :ـ دَ خادمینو او ملازمینو ډیوټی چیک کوله ، دَ مندراو لارو صفائی چیک کوه ـ دَ دوی کارګردګی چیک کوه ـ میلمنو سره کینه



www.pukhto.net



پاسه ، سویمنګ پول ته اشنان دَ پاره ځه راځه ـ او که مطالعه کول غواړې نو په دغه المارو کښې ډیر مقدّس او علمی کتابونه پراتهٔ دی ، دَ هغې مطالعه کوه او په هغې ځان مشغول ساته ـ تاته اجازت دې چې څهٔ دې خوښه وی هغه کوه خو زما سترګو ته اوړه راؤړه ـ

فرحان :ـ امّی ، دیکښې کوم کوم کتابونه دی ؟

سوراج :ـ ټول خو ماته یاد نه دی البته مقدّس وید ، دهرم شاستر دهرم او پدیش ، دهرم آشما ، دَ سادهو موهن لال یو اعلیٰ او نایاب کتاب "پرمیشور" دې ـ دې نه علاوه دَ سور درس منظوم حکایات دی ـ په موسیقی او بالخصوص دَ ملار او دیپک په راګونو لیکلی شوی کتابونه دی ـ دې سره سره نورې مذهبی او علمی قلمی نسخی دی ـ ډیر کتابونه دی ځویه ـ ستا به ډیر خوښ شی ـ دَ خپلی طبعې کتابونه پکښې ګوره او خپله علمی پنګه زیاتوه ـ

دَ هغې دَ تلو نه پس هغه یوه الماری لری کړو او یو کتاب یې ترینه راواخستو ـ دَ کتاب نوم وو The hindu religion هغه کتاب په لاس خپل بیډ له ورغی ، کتاب یې کهلاؤ کړو او دَ هغې په مطالعه کښې مصروف شو ـ هغهٔ لا لس اتهٔ منټه مطالعه کړې وه چی دَ هغهٔ په موبائیل باندې رنګ راغی ـ هغهٔ چې نمبر ته اوکتل نو هغه دَ هغوی دَ کور دَ موبائیل نمبر وو ـ دَ هغه سلام علیکم سره دَ هغهٔ دَ مور اواز راغی او وې وئیل ، "ځویه ښنګه یې ، بیګاه مِ خوب کښې لږ ګډوډ لیدلې وې ، خیردې ځویه ؟

فرحان :۔ هاؤ مورې خير دې زۀ بالکل ټيک ټاک خو ستا اواز ډېر راځي۔ ولې مورې دَ زکام شکايت دې درته ۔

افروزه بی بی :۔ نه ځويه دَ زکام شکايت راته نيشته خو يو خوا مِ ستا غم ژړوی او بل خوا دَ سعيدی غم مِ دَ زړۀ نول جوړشوې دې ځويه ۔

فرحان :۔ زۀ خو زۀ يم خو سعيد يې سره څۀ شوی دې مورې ؟

افروزه بی بی :۔ ځويه ستا دَ تلو په صبا دَ هغې رور نورګل کورته راغی او مور او خور يې دواړه چرته بوتلل ۔

فرحان :۔ مورې تا ورسره هغه ولې پرېښوده ۔ هغه خو مونږ کره خوشحاله وه ۔

افروزه بی بی :۔ هغه هم خوشحاله وه او مونږ هم خوشحاله وو خو پردې اولاد وو نو ما به ورسره څۀ کړی وو۔ هغه غريبه خو نه تله او په سرو سترګو يې ژړل خو نورګل ځان سره په زور بوتله ۔

فرحان :۔ هغوی چرته لاړل مورې ۔

افروزه بی بی :۔ ځويه دا معلومه نه ده چې چرته لاړل ۔ خو نيمه کډه يې يوړه او نيمه پرته ده ۔ ځويه راځی نه ډېر مِ يادېږی "۔

فرحان :۔ زما هم ډېره يادېږی مورې خو فی الحال زۀ مصروف يم۔ دې راتلونکې هفته کښې به درشم انشاء الله ۔

افروزه بی بی :۔ څه لويه الله دې مل شه ۔

فرحان :۔ خوشحاله اوسې مورې دَ خداې په امان ۔

★★★★★



www.pukhto.net



## پنځم باب

جيون رام انتهائی بدشکله او بدنام سړې وو۔ هغه دَ ټمپل ټو دَ صفائی او دَ ټولو هريجنو او شودرو انچارج وو خو دَ خپلې بے واکه خولې ، بدعملۍ او قچرۍ په وجه څوځوځله بے عزته شوې هم وو او وهلې شوې هم وو۔ دَ خپل کاواکه او غير اخلاقی حرکتونو په وجه دَ هغۀ هم ذات او هم پيشه خلقو هم دَ هغه نه کرکه کوله ۔ هم دغه وجه وه چې دَ هغۀ عمر پنځوستو کالو ته اورسيدو خو دَ وادۀ دَ نعمت نه لا تراوسه محروم پاتې وو۔ معلومه نه ده چې دَ هغۀ دَ قسمت ستورې دَ ګردش نه اووتو که دَ مهندريه دَ قسمت ستورې په ګردش کښې راغی۔ چی هغه نه صرف هغۀ ته حواله شوه بلکه دَ هغې دَ کارنګرانی هم هغۀ ته ورکړې شوه ۔ دَ هغې په ورتلو هغه ډېر خوشحاله شو او ورته يې اووې ، " بی بی غم مۀ کوه هرڅۀ به ټيک ټاک شی ۔ ستا ډيوټی به ماسره وی او ستا برخه کار به زۀ کوم ، هيڅ فکر مۀ کوه " دَ هغۀ خبره څۀ حده پورې صحی هم وه دَ هغې ډيوټی يې ځان سره اولګوه ۔ سحر وختې يې ورته يوه نيو براند جهاړو دَ پيروزونې په طور دَ ګلدستې په شکل په دواړه لاسه پيش کړه او ورته يې اووې ، " بی بی دا زمونږ اوزار دې دا ښکل کړه او په مينه يې قبول کړه ۔ بی بی ښوک چې دَ خپل اوزار قدر کوی نو بهګوان خوشحاليږی او دَ هغۀ رزق فراخه کيږی ۔ دا هغه اوزار دې چې دَ دنيا يو طاقت يې هم زمونږ نه نشی اخستې ، رام رام .....دا هغه وسله

ده چې ايتهم بم هم د دې مخکښې عاجز دې ۔ په دې اوزار خپله لاره هم صفا کيږي او دَ بل دَ زړهٔ ګونډې هم لرې کيږي ۔ چې دا دې دَ سر دشمن ته په لاره کښې اوو هله نو دَ هغهٔ سرې سترګې خړې او ستا خړې سترګې به سرې شي ۔ چې چرته دَ دنيا ټولې وسلې پوچ شي او کار پريږدي نو دا چليږي او هر کار پرې کيږي ۔ د دنيا لوې لوې کرسۍ د دې محتاجه دي ۔ دا واخله بي بي او ماپسې راځه رام رام " هغوي دواړو به يو ځاې کار هم کوو او خپلو کښې به يې خبرې هم کولې ۔ يو ځو ورځې هغه په خپل کار شرميده او په پټ مخ به يې جهارو وهله خو بيا ورته هغه اووې ، " بي بي شرميږه مه ۔ دا زمونږ کار ، کسب دې او په کسب کښې څهٔ شرم دې ۔ شرم خو په سوال کښې دې ، په غلا ، ډاکه کښې دې او په بے روزګارۍ او چاپلوسۍ کښې دې ۔ دَ خپلې خاؤرې صفائی ، ستهرائی خو دَ ثواب کار دې ، رام رام ۔ دا خاؤره ، دا زمکه زمونږ مور ده ۔ دَ خپلې مور خدمت په مونږ فرض دې او ثوک چې دَ خپلې خاؤرې ډير خدمت کوي نو هغهٔ ته ډير عزت ملاويږي ، رام رام ۔ بي بي په جهارو وهلو کښې ډير برکتونه دي ۔ چې دَ چا کور کښې جهارو وهي نو دَ هغه کور برکتونه به راغونډ وي، رام رام ، دَ دنيا لوې لوې ليډرانو جهارو وهلې ده نو لوړ مقام ته رسيدلي دي ۔ لرې به نه ځو اوسنۍ خبره ده ، زمونږ لوې ليډر مو هن داس کرم چند به په خپل کور کښې به خپله جهارو وهله ۔ دغه رنګې د دې علاقې يو لوې ليډر به دَ تبرک دَ پاره دَ خپلو پيروکارو په



www.pukhto.net



کورونو کښې جهارو وهله ، رام رام "۔ چې هغهٔ به دَ جهارو او دَ خپل کسب صفت کوو نو مهندريه به ورته سرېکوو او غلې غلې به يې وريورې خاندل ۔ دَ هغهٔ متعلق هغې څهٔ ډيرې ګډې وډې خبرې اوريدلي وې خو چې په خپله يې ورسره روزګار شو نو هغه ټولې خبرې ورته دروغ ښکاره شوې کومې چې هغهٔ پورې جوړې شوې اوترلې شوې وې ۔ هغې هغهٔ ته دَ خپل مشر او پلار په حيث کتل او دواړه به يو ځاې ګرځيدل ۔ چې کله به په کار ستړې شو او دمه به يې کوله نو جيون رام به په زمکه بوړې بوړې سملاستو ، کله به يې دَ خپو نه فرياد کوو او کله دَ اوږو نه ۔ يو ځو ورځې خو پرې هغې غم غرض اونکړو خو اخريې پرې زړهٔ اوسيزو نو کله به يې ورله اوږې منډلې او کله خپې ۔ دَ هغې د دې محنت په بدل کښې به هغهٔ شاباشې هم ورکوو او کله کله به يې ورله خپله برخه پوړۍ هم ورکوله ۔ پوړۍ څکه چې سحر به هغوي ته په ناشته کښې يوه پيالۍ چاے او يوه سپکه پوړۍ ملاويده چې په هغې به دَ هغوي اولږه نه ختميده ۔ کله کله به غرمه ، ماښام دواړه يو ځاې کيناستل او ډوډې به يې خوړه ۔

وخت تيريدو سره دَ هغوي قربت نور هم زيات شو ۔ تر دې چې کله کله به ماسخوتن دَ هغې کمرې ته وخت بے وخته هم ورتلو او دَ هغې جائزه به يې اخسته چې هغه به پرې پوهـ شوه نو هغهٔ به ورته څهٔ انه بهانه اوکړه او غلې غونډې به اووتو ۔ هم دغه رنګې يوه شپه هغه په

درونـد خوب اوده وه چې هغې په خپل بدن دَ چالاس محسوس کړو ـ چې هغـه ويښـه شوه او ورته يې اوکتل نو هغه جيون رام وو ـ هغه دَ هغـهٔ پـه حرکت دَ غصې نه سره لمبه شوه ـ په خوله يې هيڅ اونه وې خو خوا کښې پروت دَ چهړکاؤ ټيمګې يې اوچت کړو او دَ هغهٔ سر له يې راخلاص کړو ـ ګزار سره هغه په سر لاس کيښودو او بهر ته يې منـډه کړه ـ سحر چې هغه جهارو په لاس د خپلې کمرې نه اووته او خپـل کـار يې شروع کړو نو يوه شيبه پس جيون رام هم جهارو په لاس ورغـی او خپل کار يې شروع کړو ـ هغې چې ورته اوکتل نو هغهٔ سر ترلې وو خو نه هغهٔ څهٔ اووې او نه ترينه هغې تپوس اوکړو ـ بهرحال خبـره پټـه وه او پټه پاتې شوه ـ جيوان رام يو څو ورځې بوټ وو خو په مـزه مـزه بيا ځای له راغی ـ هغهٔ ورسره خبرې شروع کړې ځکه چې هغـه خپـل مـنزل تـه دَ رسيـدو نـه مايوس نه وو او دَ جُهدِ مسلسل دَ اصولـو پـه بـنياد يې خپل کار شروع کړو ـ چې کله به هغوی ځايونه جهارو کـول نـو دَ ګـنـدګۍ ډهيری به يې ځای په ځای جوړول ـ بيا به ورتـه هغـه خاؤره او کـچره پـه شـکرۍ کښې اچوله ، شکرۍ به يې ورسره اوچتـولـه او هـغـې تـه بـه يې پـه سر ايښله ـ دَ شکرۍ په دغه اوچتـولو کښې دَ هغه لاس څو څو ځله دَ هغې دَ بدن حساس ځايونو سره اولـګيـدو خـو هـغـې بد په دې وجه اونه ګڼل چې کيديشی دا په غلطی کښې شوی وی خو چې کله هغې ته پته اولګيده نو بيا به يې تريـنـه ډډه کـولـه ـ اګر چهٔ دا دَ هغهٔ دَ پاره وارننګ وو خو هغه په دغه


www.pukhto.net



څيز پرواه نه لرله ـ چې هغه دَ خپلو غلطو حرکتونو نه منعې نشو نو هغـې پـه سـر پرته دَ ګندګۍ ډکه شکرۍ په دواړه لاسه اوچته کړه او دَ هغـه سـر لـه يـې راخـلاصه کړه ـ دې سره دَ هغه مخ ، سر او جامې په ګـنـدګۍ کـکـړې شوې ـ دَ هغې په دې حرکت هغه غصه شو او چې هغـې له يې سپيړه ورکوله نو هغې تشه شکرۍ اوچته کړه او دَ هغهٔ سر له يې راوا چوله ـ هغه ته چې پته اولګيده چې هغه هار منلو والا نـه ده نـو هـر څـهٔ يې هغې ته پريښودل اوخرې روځې روان شو ـ دې نه پس هغـهٔ دَ هغې په ډيوټۍ کښې اضافه اوکړه او دَ جهارو نه علاوه دَ فـرشـونو صفائی او رګړائی يې هم دَ هغې په ډيوټۍ کښې شامله کړه ـ هغـه به ټوله ورځ لګياوه او په چپه خوله به يې خپل کارکوو خو نه يې چانه ګيله اوکړه او نه يې چانه شکايت اوکړه ـ معلومه نه ده چې دا دَ هـغـې دَ امّی عـتـاب وو او کـه دَ خـداې عذاب وو خو دَ هغې ژوند انتهـائـی قـابـل رحم او خراب وو ـ هغې ښهٔ په نره دَ حالاتو مقابله کوه خو کـلـه کله به په دې خبره ډير افسوس ورغی ـ چې هغې لکه دَ نورو خلـقـو غـونـدې هغـوی سره پـه عبادت کښې شرکت نشو کولې ـ بهـرحـال کـله به چې هغه دَ خپل کار نه اوزګاره شوه او دَ ماښام ډوډۍ بـه يـې اوخـوړه نـو بيـا به يې په خپله کمره کښې عبادت هم کوه او تر نـاوختـه پورې به يې دَ مقدّس ويد تلاوت هم کوو ـ دې سره به دَ هغې لړه ډيره تسلی اوشوه او په سکون او اطمينان به اوده شوه ـ

هـلـتـه فـرحـان دَ مهـنـدريـه دَ پاره ډير پريشان وو ـ هغه به چې دَ هغې

بدحالۍ ته کتل نو نيم نه پاتې کيدو ـ هغه شپه ورځ دَ هغې دَ نجات متعلق سوچونه کول خو په هيڅ نتيجه نه رسيدو ـ يوه ورځ هغه لنګرخانې ته په داسې وخت ورغې چې دَ اعلیٰ طبقې خلقو ډوډۍ خوړلې وه او دَ نيچ ذات والا ټول پاتې وو ـ باورچی لګيا وو په پليټونو کښې پاتې شونې ترکاری يې دَ ترکارۍ په پتيله کښې اړوله ـ چې ټول پليټونه يې په هغې کښې تش کړل نو بيا يې پتيله او ډوډۍ بهر اوويستله ـ ټول ورته په قطار کښې اودريدل او يو يو به واره په واره مخکښې ورتلو ـ په دغه قطار کښې مهندريه هم دَ چهړ کاؤ تيمګې په لاس ولاړه وه ـ باورچې به دَ ترکارۍ دَ پتيلې نه سمسې ډکوله او هغه به يې په داسې انداز دَ پاسه وراړوله چې سمسې دَ هغوی دَ خوراک لوښی پوری اونه لګی ـ چې چابه ترکاری واخسته نو ډوډۍ ته به په قطار کښې اودريدو ـ هلته به ورته ډوډۍ په داسې انداز دَ پاس نه اونيولې شوه چې دَ هغه ګوتو پورې دَ چا ګوتې اونه لګی ـ مهندريه سره هم هغسې اوشو څهٔ چې نورو سره کيدل ـ فرحان چې هغې ته اوکتل نو سترګې يې ډکې شوې ـ هغه دَ هغهٔ دَ تسلی دَ پاره مسکې شوه او خپلې کمرې ته چپه خوله روانه شوه ـ دی سره فرحان ته دَ سوراج هغه خبره راياده شوه چې ، ”دَ هغې خوراک څخاک هم دَ نورو جينکو نه په فرق دې ـ دَ هغې خوراک نان ، شات ، شوده اګې ، سبزی ، ګل قند ، تازه او ډرائی فروټ دې“ ـ دې خيال سره هغه ډکې سترګې خپلې کمری ته روان شو ـ چې کمرې ته اورسيدو نو ور يې



www.pukhto.net



ځان پسې پورې کړو او په چغو چغو په ژړا شو ـ دَ بلوغت نه پس دَ اَدَ هغهٔ ړومبی ژړا وه ـ هغهٔ لا ژړل چې دَ هغهٔ په موبائيل رنګ راغی ـ هغه چی نمبر ته اوکتل نو هغهٔ دَ فرزانې دَ موبائيل نمبر وو ـ موبائيل کړنګيدو خو هغه اوچت نکړو او په خپله بند شو ـ دَ هغهٔ په زړهٔ به دَ مهندريه دا خبره بيا بيا راتله چی ، ”صيب جی مخکښې بهګوان دې بيا ته يې“ دې خيال سره به دَ هغه بدن اولړځيدو او ويښته به يې ببر شو ـ هغهٔ په څهٔ طريقه مهندريه د دغې عذاب نه ويستل غوښتل ـ دَ هغهٔ په زړهٔ کښې ډيرې خبرې راغلې ، يوه پکښې دا وه چې هغه دَ مټ نه اونيسی او ځان سره يې روانه کړی ـ خو څنګه او څه رنګه ؟ دَ هغهٔ امّی به دَ هغهٔ متعلق څهٔ خيال کوی ؟ دَ هغهٔ مور پلار به څهٔ وائی ؟ دَ هغهٔ خپل خپلوان او دَ کلی خلق به څهٔ وائی ؟ يعنی دا چی هغه يې متيزه راوستې ده ـ هغه هغه حرکت څنګه اوکړی چې يو خوا دَ هغهٔ دَ امی دَ پاره دَ شرم باعث اوګرځی ، بل خوا دَ هغهٔ دَ مور پلار او دَ مهندريه دَ پاره ـ که هغه داسې اوکړی نو دَ ژوند دَ اخری سلګۍ پورې به هغه دَ متيزې دَ پيغور نه خلاصه نشی او هغه به هم ټول عمر ټيټې سترګې ګرځی ـ هغه په داسې مشکله کښې ګير وو چې هيڅ په حل يې نه پو هيدو ـ چی څومره به وخت تيريدو نو هومره به دَ هغهٔ په جذباتو کښې اشتعال راتلو ـ بيا يې په زړهٔ کښې راغلل چی چا مشر کشر سره صلاح اوکړی او دَ هغې نه پس څهٔ قدم پورته کړی ـ دَ فرزانې دَ کال نه پس دَ هغهٔ په زړهٔ کښې راغله چې

هغـه پـه څـۀ طریقه دَ مندر نه اوباسی او فرزانې کره یې بوځی او چې کله حالات ښۀ شی نو بیا به یې کورته بوځی ـ دَ هغۀ په زړۀ کښې لا دَ فـرزانې خیـال ایله راغیـ ووچې هغې بیا رنګ اوکړو ـ دَ رنګ سره هغۀ چـی مـوبـائیـل اوچت کـړو نـو دَ هغـې دَ هیلو سره اواز راغیـ ، "فرحانه موبائیل دې ولې نه اوچتوو؟ مصروف وې څۀ؟

فرحان :ـ سوری بی بی زۀ واقعی مصروف ووم ـ

فرزانه :ـ نیور مانندې .....ښه وایه کنه څنګه یې ؟

فرحان :ـ زۀ بالکل ټیک ټاک یم بی بی ـ خپل حال وایه ته څنګه یې؟

فرزانه :ـ حال دا دې چې زۀ تاسره لیدل غواړم ـ

فرحان (مسکے شی ) په کومه سلسله کښې ؟

فـرزانه (په غصه ) په کومه سلسله کښې ؟ څه مطلب ؟ دَ لیدل کتـل دَ پاره سلسله پکار ده ؟

فـرحـان :ـ بـی بـی تـۀ زما په مطلب پوهـ نشوې ـ بعضې وخت لیدل کتـل مقصدی وی او بعضې وخت بے مقصده ـ

فرزانه :ـ کوم مقصدی وی او کوم بے مقصده وی ؟

فـرحـان :ـ بـی بی بے مقصده لیدل کتـل خو ډیر کیږی ، لکه په سړک ، بـازار ، هسپتـال ، کچهریـ او په ګاډو کښې لیدل کتـل اکثر بے مقصده وی ـ او پـه ارادی طـور چـاله ورتلل او هغه سره په یوه کشاله مقصدی خبـری کـول او دَ هغۀ مشوره اخستـل یا هغه له مشوره ورکول وغیره، دا مقصدی خبرې وی ـ



www.pukhto.net



فرزانه :ـ ښه نو نو زۀ تا سره دَ زیاد په باره کښې خبرې کول غواړم ـ

فرحان :ـ وایه بی بی زۀ همه تن ګوش یم ـ

فـرزانـه :ـ فـرحـانـه ، زیـاد ماته خپل وضاحت اوکړو ـ دَ هغۀ وضاحت ماقبول کړو او زمونږ ترمینځه تصفیه اوشوه ـ

فـرحـان :ـ دا خـو ډیـر ښـۀ کـار اوشو بی بی ـ ستاسو دواړو دې ډیر ډیر مبـارک شی ـ بی بی دا ډیرښۀ کار اوشو چې ستاسو ترمینځه شکوک وشبهـات ختم شو ـ زما دَ طرفه مبارکی قبوله کړه بی بی ـ زما دعا ده چې خدای تاسو دواړه تل ترتله خوشحاله کامیاب او کامران اوساتی ـ

فـرزانـه :ـ ډیـره ډیـره مهـربـانـی فرحانه ـ ستا خبره صحی وه فرحانه ، کـوم امیـل چې زمـا پـه غاړه وو هغه اصلی نه بلکه جعلی وو او هغه اصـلـی امیـل زما دَ پاره مِ مور سمبال کړې دې ـ هغې راواخستو ، ماته یې اوښودو او زما دَ پاره یې بیا سمبال کړو ـ

فـرحـان :ـ ډیر شکر دې چې ستاسو جوړه اوشوه خو اوس به ورله بدل هم خلاصوې او عذر به ورته هم پیش کوی ـ

فرزانه :ـ کوم بدل فرحانه ـ

فـرحـان (خـاندی) بی بی تا دَ هغۀ په مخ لاس راخکلې وو اوس هغه له پکار دی چې ستا په مخ دَ شرم لاس راکاږی ـ

فـرزانـه (خـانـدی ) اوه نـو ـ داسې هغۀ ته اونه وائی ګینی بیا مِ درسره کچی ده ـ

فـرحـان :ـ مـاسـره دې کـچـی ښـۀ ده خـو چې هغـۀ سره دې متهی شی

(دواړه خاندي) رشتیا دَ وادهٔ نیټه مو کېښوده که نه ـ
فرزانه (خاندي) دَ دواړو میاندو ترمینځه خبرې روانې دي ـ چې نیټه کېښودې شي نو تاسه خبرکړم ـ او ـ کے تینک یو ـ
فرحان:ـ تینک یو ـ

## دویمه برخه

دَ دهرمسال احاطه جهاروکیدو ، کمرې ښندلې کیدې ، سهرې او رنګا رنګ پرپرکې لګیدل ، دَ ګلونو ګملې لګیدې، دَ عبادت خانې بُتان صفا کیدل او په هغوی دَ خوشبوئی سپرې کیدې ـ دَ صفائی دا دومره لوې تیارې ځکه کیدو چې په دهرمسال کښې دوه وادونه وو ـ اناطولیه کمار دیوان سنګهه ته ودیده او مهانسی کپور دَ امرت سر هربجل سنګهه ته ـ فرحان ته دَ جنجیانو دَ هرکلی او دَ هغوی دَ ډوډۍ انتظام وانصرام حواله شوې وو ـ هغهٔ دَ مور په خواهش باندې یو اعلی سوټ اغوستې وو او خادمینو ، ملازمینو او دَ دهرمسال نورو رضاکارو ته به یې وخت په وخت هدایات ورکول ـ دغه رنګی سوراج هم نوې سارهی دَ ځانه تاؤ کړې وه ، خپل ډول سنهګار یې کړې وو او دَ دهرمسال دَ ارائش وزیبائش دَ نګرانۍ په کار کښې مصروفه وه ـ دَ امرت سر میلمانهٔ دَ واهګه په لاره ننکانه شریف ته رارسیدلی وو او دَ خپل مذهبی تبرکاتو دَ زیارت دَ پاره هلته ایسار شوی وو ـ نن مازیګر څلور بجې هغوی پیښور ته رارسیدونکی وو ـ دَ هغوی هرکلی ته دَ دهرمسال جینکۍ ګلونه او دَ ګلونو سهرې په لاس ولاړې وې ـ فرحان


www.pukhto.net



دَ ځهٔ کار دَ پاره ډیر په تیزۍ سره په پوړو ختو او خپلی کمرې ته تلو ـ دَ هغهٔ دَ کمرې مخې ته په پوړو باندې چالونده بوجۍ وهله او ډیره په تیزۍ روستو روستو تلله ـ دَ هغې ویښتهٔ ببر شوی ، خاؤرې خیری نه ډک شوی او خپلو کښې انختی وو ـ هغه دَ شانه لکه دَ شیشکې ببر سره لیونۍ ښکاریده ـ هغه چې په هغې تیریدو نو دَ هغې دَ لاس لونده بوجۍ دَ هغهٔ بوټانو سره اولګیده ـ هغې چې دَ هغهٔ بوټانو او هغهٔ ته اوکتل نو رنګ یې تک زیړ شو، بوجۍ یې دَ لاس نه پریوته، سترګې یې خکته کړې او مخ ته ئې ښنګل اونیوه ـ هغې په بل لاس دَ خپلې لوپټې په پسکې دَ هغهٔ دَ بوټانو صفا کولو کوشش کوو خو هغه ترینه خپې روستو کړې ـ هغه تیټ شو هغه یې دَ دواړو لیچو نه اونیوه او په مزه مزه یې اودروله ـ هغې په غټو غټو غزالو سترګو هغهٔ ته اوکتل ، په اوچو شونډو یې ژبه اووهله او هغهٔ ته یې غلې غوندې اووې ، "غلطی اوشوه صیب جی ، معافی غواړم "ـ دې سره هغه ته دَ هغې دَ ړومبۍ شپې دَ ملاقات هغه خبره رایاده شوه چې "صیب جی زهٔ نه هریجنه یم او نه شودره یم "ـ دَ هغې په مخ ، مرۍ او څټ خاؤرې او خیرې کویلې نیولی وو ـ دَ هغې سره اننګی دَ سخت محنت ، مشقت او دَ خوراک دَ کمی په وجه چاؤدې اوزیړ شوی وو ـ دَ هغې ګل پاڼې شونډې سپینې شوې وې ـ دَ هغې سپین پاغونده وجود او پاستهٔ لاسونه دَ خیری نه ډک او چاؤدې وو ـ دَ هغې دَ بدن او جامو نه دَ خولې سوړ بوئینې تلو او داسی معلومیده چې هغې ته دَ

هفتو هفتو راسی دَ اشنان موقعه نه ده ملاؤ شوې ـ دې سره هغۀ ته دَ سوراج هغه خبره رایاده شوه چی، "هلته به م پہ شاتو او دَ غوا پہ شودو غوړه کړه ، بيا به م دَ ګنګا اوجمنا پہ مکس اوبو اولامبوله "ـ دَ هغې په ټول بدن دَ يرې زلزل راغلې وو ، لکه دَ زړ يړی پاڼی رپيده او دَ هغۀ پہ لاسونو کښې تله راتله ـ هغې يو ځل بيا هغۀ ته پہ ملتجی سترګو کښې درخواست اوکړو او وې وئيل "غلطی اوشوه صيب جی ، معافی غواړم بيا بہ داسې نه کيږی "ـ هغۀ دَ هغې دواړه لاسونه اوچت کړل او بے واره بے واره يې ښکل کړل ، هغه اويريده او پہ يره يره يې خپل لاسونه دَ هغۀ دَ ګرفت نه دَ خلاصولو کوشش کوو۔ دې سره يې دَ خولې نه بے اختياره اووتل ، "نه صيب جی نه ، دا څۀ کوې ؟ داسې مۀ کوه صيب ، زۀ اوس رانده شوې يم "ـ زما وجود او لاسونه ناپاکه دی صيب جی .... .زۀ شودره يم صيب جی .....هسې نه چی څوک دې اووينی او تۀ هم لکه زما رانده شې "ـ فرحان دَ هغې خيرن لاسونه يو ځل بيا ښکلوی او وائی ، 'زما دې ستا پہ دې رانده وجود قسم وی چې يا خو بہ ستا دا رانده وجود او ستا دا خيرن لاسونه دَ خپلې غاړې هار کړم او يا به خپل سر ستا دَ معصوميت پہ تقدس نثار کړم "ـ دې سره دَ هغه سترګې ډکی شوې ـ هغه په ډکو سترګو خپلې کمرې ته روان شو او مهندريه خپلی ډکی سترګې په لونده بوجۍ اوڅڅولې او خپل کاريې شروع کړو ـ هغه په خپل بيډ کښې سملاستو او دَ مهندريه متعلق يې سوچ کوو ـ هغه مهندريه چی دَ



www.pukhto.net



سوراج پہ سينه لويه شوې وه ، پہ نازونعم پاللی شوې وه ـ او هغې دَ خپل ځوی دَ پاره ساتلې وه ، اوس دَ هغې پہ نظر کښې سپکه شوې، رانده شوې او جيون رام ته حواله شوې وه ـ هغه دَ نيچ ذات پہ هغه طبقه کښې شامله شوې وه چې دَ عبادت دَ پاره عبادت خانې ته هم تلې نشوه او دَ خپلو خدايان دَ عبادت او بندګۍ نه علاوه دَ هغوی درشن يې هم نشو کولې ـ هغه اګر چۀ دَ مقدّس ويد حافظه وه ـ دَ سورداس دَ مذهبی منظومو حکايتونو حافظه وه خو چې بامبړ يې رانده کړه نو رانده شوه ـ اوس دَ هغې دَ زړۀ دَ تسکين دَ پاره هيڅوک پاتې نشو ـ دَ دهرمسال پہ معاشره کښې هغه سپکه شوې ، بے نوا شوې او شرمنده شوې وه ـ دَ هغې هغه سهيلۍ چی دَ هغې پہ څنګ کښې ناسته به يې خپله خوش قسمتی ګڼله ، دَ هغې دَ ښکلا ، مُسکا او دَ هغې دَ خائست پہ صفت به نه مړيدې اوس دَ هغې نه کرکه کوی ـ پہ تلو تلو کښې دَ هغې نه څنګ کوی چې دَ هغوی وجودونه ناپاکه نشی ـ پہ هغې سترګې نه لګوی چې نظر يې ناپاکه نشی ـ هغه لا پہ دغه سوچونو کښې پروت وو چې سوراج سره دَ دريو جينکو دَ هغۀ کمرې ته راغله ـ دَ راتلو سره هغوی هغۀ ته پہ مُسکا مُسکا نمسکار اووې ـ فرحان هم پہ مُسکا مُسکا هغوی ته نمسکار اووې ـ سوراج مسکۍ شوه او هغۀ ته يې اووې ـ "ځويه دا درې جينکۍ ستا ليدو دَ پاره دَ انډيا نه راغلی دی هغه پہ واره واره يوې يوې ته اشاره کوی او وائی ، " دا ساوريه ده او ستا ليدو دَ پاره دَ

مهاراشټریه نه راغلې ده ـ دا بله پریانکا ده او ستا ملاقات له دَ بمبئ نه راغلې ده دا دریمه سانکیه ده او ستا ملاقات له بیکانیر نه راغلې ده ـ فرحان (مسکے شی ) امّی زما لیدو له ؟ دوی خو ډیر تکلیف کړې دې، خوش آمدید، مرحبا مرحبا، ستړې مشئ ، ټول ستړې مشئ“ـ دَ هغۀ دې خیر مقدمی الفاظو سره ټول اوخاندی۔

سوراج:ـ نورې خبرې به بیا اوکړو ، څه چی ځو ، میلمانه پیښور ته رارسیدلی دی او درنګ ساعت له به دلته راورسیږی “ـ دَ هغی خبری سره ټول روان شی ـ ساوریه ، پریانکا او سانکیه دَ فرحان ګس، ښی او شاته په ادب دَ هغۀ په قدم هغۀ پسې روانې وې ـ چی دَ پوړونه کوز شو او کچه لارې ته شول نو مهندریه تیمګې په لاس ولاړه وه او چهړکاؤ یې کوو ـ هغې چې سوراج اولیده نو اویریده ، چهړکاؤ یې پریښودو او دیوال سره غلې په داسې انداز اودریده چې دیوال سره دیوال شوه ـ سوراج هغې ته هډو اونه کتل او په هغې تیره شوه البته فرحان ورته په روانه روانه کښې اوکتل ، خپه نیولې شو خو بیا یې په زړۀ کښې څۀ راغلل ، مخ یې ترینه واړه وو او مخکښې روان شو ـ مهندریه ډیر شیبه هغوی ته کتل ـ چې هغوی لرې لاړل نو بیا یې چهړکاؤ شروع کړو ـ دَ میلمنو دَ راتلو غږ سره ټول هریجن اوشودر دَ لارو نه خپلو خپلو کمرو ته اوشړلی شو۔ چی کله میلمانۀ رااورسیدل نو دَ هغوی ښۀ زبردست استقبال اوشو او ګل پاشی او عطر پاشی پرې اوکړې شوه ـ دې نه پس هغوی په عزت سره په لوې هال کښې


www.pukhto.net



کینولې شو او ښه اعلیٰ مشروبات ورته پیش کړی شو۔ دَ مشروبات نه پس سازیان ستیج ته اوختل ـ چی کله یې ساز سُرکړو نو په ساز او سُر کښې ټولو میلمنو ته هرکلی اوویلی شو ـ لږه شیبه پس اناطولیه کمار او دیوان سنګهـ دَ وادۀ په جوړو کښې دَ جینکو په ډله کښې راغلل او په خپلو خپلو نشستونو کیناستل ـ دَ هغوی نه پس مهانسی کپور او هریجل سنګهـ دَ ناوې او زلمی په روپ کښې راغلل او په خپلو خپلو نشستونو څنګ په څنګ کیناستل ـ دَ مهانسی کپور او هریجل سنګهـ راتلو سره هغوی په سُرساز کښی هغوی له دَ وادونو مبارکی ورکړه ـ

ویلې کیږی چې موسیقی دَ روح غذا ده خو دا معلومه نه ده چې دا خبره ترکومه حده پورې رشتیا ده ځکه چې دَ ځینے عالمانو په نزد روح یو غیر مادی څیز دی او هغۀ ته دَ غذا ضرورت نه وی ـ دَ موسیقۍ تعلق انسانی روح سره نه بلکه انسانی حس او انسانی بدن سره دې البته دَ موسیقۍ په طلسماتی اثر او محرکاتو دواړه ډلې متفق دی ـ دَ موسیقی چیې دَ مختلف راګونو په ذریعه په سامع کښې مختلف تاثرات او جذبات پیدا کوی لکه جذبۀ عشق و محبّت ، جذبۀ حب الوطنی ، جذبۀ جهاد ، جذبۀ قومیت ، جذبۀ ایمان ، جذبۀ خوف وهراس جذبۀ غم او جذبۀ همدردی وغیره ـ هندی فنکاران دَ موسیقۍ په فن کښې یو ځانګړې حیثیت لری ـ هم دغه وجه ده چی هغوی دَ خپل فن مظاهره شروع کړه نو په ټولو سامعینو او ناظرینو

کښې هغه جذبات پیدا شو چې په خپلو سیټونو نشو ټینګیدې. دَ انډیا یوې طالب علمې مهیش راګنی خپل جذبات ضبط نه کړې شو. دَ خپل سیټ نه پاڅیده او خورې زلفې سټیج ته اوختـه. دَ هغې په ورتلو فنکارانو خپل راګ بدل کړو او دَ فلم ناګن راګ یې شروع کړو. دَ راګنی نه ناګن جوړه شوه او دَ راګ سره به یې لکه دَ ناګن دَ جذباتو مظاهره کوله. دَ هغې کمال ته ټول ناظرین وسامعین ګوته په خوله وو. دَ هغې نه پس ساوریه راغله. فنکارانو دَ هغې دَ نوم په مناسبت سره، دَ "ساوریه ګیت" دهن شروع کړو. دَ هغې نه پس پریانکا سټیج ته اوختـه. هغې چې دَ خپل فن مظاهره اوکړه نو دَ هغې نه پسې بیا سانکیه ورغله. دَ هغې دَ فن مظاهره لا شروع وه چې فرحان دَ هال نه اووتو. هغه پسې سوراج هم اووته او دواړه ډائننګ هال ته لاړل. هلته ملازمین لګیا وو او دَ خوراک دَ پاره یې میزونه، کرسۍ لګولې. فرحان هغوی ته اودریدو او سوراج دَ پخلی ځای ته ورغله. چې په ډائننګ هال کښې سټنګ اوشو نو فرحان ملازمینو ته دَ ډوډۍ ایښودو آرډر ورکړو. چې ډوډۍ کیښودې شوه نو میلمانۀ ډائننګ هال ته را اوغوښتلې شو. چې میلمانۀ ډوډۍ ته کیناستل نو سوراج هم یو میز ته کیناسته او فرحان ته یې دَ کیناستو او وې خو هغه خپل ځان دومره مصروف ساتلې وو چې دَ هغې خبره یې په غوږ او نه لګیده او دَ پخلی ځای ته ورغی. دَ ماسخوتن تیارۀ لګیدلې وه خو دَ بجلی دَ غټو غټو بلبونو په وجه دَ تیرې احساس نه



www.pukhto.net



کیدو. دَ پخلې دَ ځای نه په لږه فاصله باندې هریجن اوشودر راغونډ شوی وو، دَ خوراک په طمعه یې لوښی په لاسونو کښې نیولی وو او په اوږو سترګو یې دغه غوږو زیږو ته کتل. په دغه کسانو کښې نارینه هم وو، زنانه هم وې او دَ هغوی بال بچ هم وو. ماشومان اوږی شوی وو او ډوډۍ پسې یې ژړل خو باورچیانو په دې غرض نه ورکوله چې میلمانه اوخوری نو بیا به دَ هغوی ډوډۍ شروع کیږی. په دغه کسانو کښې دَ نورو نه علاوه مهندریه هم ناسته وه. فرحان چې دَ هغوی دې بدې ورځې ته اوکتل نو زړۀ ئې پرې اوسوزیدو او باورچیانو له یې آرډر ورکړو چې دَ هغوی ډوډۍ شروع کړی. دَ هغۀ په حکم هم هغسی اوشو څنګه چې هغۀ وې. هغوی ټول دَ معمول مطابق په قطار کښې اودریدل په خپل خپل وار به یو یو کس ورتلو او هغه له به خوړه ورکړې کیده. په دغه قطار کښې مهندریه هم تیمګې په لاس ولاړه وه. چې دَ هغې وار راغی نو هغۀ هغه دَ لاس نه اونیوه. دَ قطار نه یې اوویستله او ورته یې اووې، "لږ صبر اوکړه مهندریه" هغه غلې غوندې یو خوا ته اودریده او دَ هغۀ خولې ته یې کتل. چې ټولو خپل خپل لوښی ډک کړل او خپلو خپلو ځایونو ته لاړل نو فرحان مهندریه ته اووې، "راشه مهندریه باورچی ته لوښې اونیسه. دَ هغې دَ خوراک لوښې یو زوړ تیمګې وو. په هغې کښې به هغې ترکاری هم اوږه، اوبه به یې هم پکښې څکلې او دَ چینکی او پیالی په طور به یې هم استعمالوو. باور چې دَ وروژونه تامکش

ډک کړو او په هغې کښې يې اودوړوو ۔ چې هغې له يې خپله برخه ورکړه نو بيا ورته هغۀ اووې ، ”څه دانګه “۔ هغه روانيده خو فرحان دَ لاس نه اونيوه او باورچی ته يې اووې ، ”ديکښې زما برخه خوړه هم واچوه “۔ باورچی هغه ته په حيرانتيا اوکتل او وې وئيل ، ”صيب جی ، تاسو ميلمنو سره ....“ فرحان مسکے شو او هغۀ ته يې اووې ، ”نن دا زما ميلمنه ده ۔ زما برخه ديکښې واچوه “۔ باورچې ښۀ اعلیٰ اعلیٰ ډشونه راغونډ کړل او دَ هغې تيمګی کښې يې واچول ۔ چې تيمګی ډک شو نو هغه مسکے شو او مهندريه ته يې اووې ، ”څه چې څو مهندريه“ هغه هغې سره دَ هغې کمرې ته روان شو۔ په لاره کښې ورته مهندريه اووې ، ”صيب جی تاسو ماسره ....“؟ زۀ خو رانده شوې يم صيب جی “۔

فرحان :۔ کاش ستا غوندې زۀ هم رانده شوې او تاسره جوړه شوې“۔

دَ مهندريه په کمره کښې نه کټ وو ، نه کرسی وه ، نه ستهول او نه پکښې دَ بجلۍ بلب وو البته دَ ملاستی دَ پاره يو زوړ پوزکې وو او دَ شپې دَ پاره يوه زړه کينډره وه ۔ هغوی دواړه په پوزکی کيناستل او دَ خوړې تيمګې يې ځان ته مخکښې کيښودو ۔ هغې يو ځل بيا هغۀ ته غلې غوندې اووې ، صيب جی زۀ ناپاکه يم ، دَ برهمن اولاد ما سره خوراک نشی کولې ...صيب جی ته څه پليز که چا اوليدو نو زما هم خير نيشته او ستا هم “۔

فرحان :۔ مهندريه ، ډيره موده مِ په زړۀ غنی راخکلې ۔ زۀ ستا بے


www.pukhto.net



وسیٕ ته نور نشم کتې ۔تۀ ناپاکه نه يې بلکه مقدّسه يې ۔ تۀ زما دَ زړۀ ملکه او زما دَ زړۀ ميلمنه ۔ زۀ به تاله په خپل لاس نوړیٕ درکوم “ دې سره هغۀ په تيمګی کښې لاس خکته کړو۔ نوړیٕ يې جوړه کړه او هغې له يې خوله کښې ورکړه ۔ چې هغې پرله پسې يو څو نوړیٕ اوخوړې نو بيا يې ورته اووې ، ”صيب جی که په دې لوښی کښې درته خوراک کول مناسب ښکاری نو تۀ هم خوره “۔

فرحان :۔ نه مهندريه چې تۀ مړه شی او تانه پاتی شی نو بيا به خپل بدل خلاصوې ۔

مهندريه :۔ صيب چې زما لاسونه چې ناپاک دی ؟

فرحان :۔ کاش د دې ناپاکه لاسونو جوړه نوړیٕ زما په خوله کښې کيښودې شی “۔

مهندريه :۔ صيب جی که تۀ بد نه ګڼې نو نوړیٕ درله جوړه کړم “۔

فرحان :۔ هاؤ مهندريه جوړه کړه خو دَ خپلو لاسونو خواږۀ پکښې ګډ کړه ، دې سره مهندريه خپله نوړیٕ تيره کړی ، هغۀ له يې نوړیٕ جوړه کړه او هغۀ له يې خوله کښې ورکړه ۔ بيا شروع شو ، دواړو نوړیٕ جوړولې او يو بل له به يې خولې کښې اېښولې ۔ هلته سوراج په ډائننګ هال کښې دَ خوړې ميز ته ناسته وه او دَ فرحان انتظار يې کوو۔ هغۀ پسې يې ساوريه خکته پورته اوګرځوله خو چی هغه يې اونه موندلو نو واپس لاړه ۔ سوراج چې دَ هغۀ نه نااميده شوه نو ډوډیٕ يې شروع کړه ۔ فرحان او مهندريه ډوډیٕ هم خوړه او خبرې يې

هم کولې ۔ په خبرو خبرو کښې ترينه هغه تپوس اوکړو ۔ ”مهندريه ته موسيقۍ له رانه غلې ، ولې ستا موسيقي نه وی خوښخه “۔

مهندريه (دَ ناخوالۍ خندا ) صيب جی موسيقي به هم لا دَ چا خوښخه نه وی خو هلته مونږ ته دَ تلو اجازت نيشته ۔ مونږ خو د دغه پاکو خلقو خبری هم نشو اوريدې ۔

فرحان :۔ مهندريه ، تۀ چې دَ مقدّس ويد حافظه يې نو څنګه ناپاکه شوې ؟

مهندريه :۔ زۀ ناپاکه ځکه شوم چې رانده شوم او څوک چې رانده شی نو ناپاکه شی ۔

فرحان :۔ ته ولې رانده شوې ؟

مهندريه :۔ صيب جی ، تۀ زما نه ولې تپوس کوې ۔ دا هر څۀ خو ستا په مخکښې شوی دی ۔

فرحان :۔ تا خو هغې ته څۀ ويلې نه دی ۔ هغې تاله ستا دَ ژبې پريکولو دهمکی درکړه او تا دَ هغې دَ دهمکۍ په تعميل کښې خپله ژبه په خپله پريکول غوښتل ۔ دومره خبره شوې ده نور هيڅ نه ۔

مهندريه :۔ صيب جی دَ بامبړ يا بامبړې په مخکښې دومره خبره هم ګستاخی ګڼلې شی ۔

فرحان :۔ چې تاته دومره پته وه نو دا ګستاخی دې ولې کوله ۔

مهندريه :۔ صيب جی ، ماته پته وه چې دا ګستاخی ده خو دا ګستاخی دَ پردو ترمينځه ګستاخی نه وه بلکه دَ خپلو ترمينځه وه ۔


www.pukhto.net



ما هغه مور ګڼله او ما په هغې ناز کووخو ....“

فرحان :۔ ته صرف په دې خبره رانده شوې ؟ که مينځ کښې څۀ بله خبره وه ؟

مهندريه :۔ صيب جی په ظاهره خو دا خبره وه خو د دې شاته يوه بله خبره ده ، چې هغه مانه ده منلې او دَ هغې په وجه رانده شوې يم۔

فرحان :۔ هغه کومه خبره ده چې تانه ده منلې او تۀ رانده شوې ۔ دَ مذهب بدلولو په وجه ۔

مهندريه :۔ نه صيب جی ، دغه خو هغې ستا په مخکښې هسی ستا دَ خاطره اووې ګنې دَ مذهب بدليدو خو دلته سوال نه پيدا کيږی۔

فرحان :۔ ښه نو هغه خاص خبره څۀ وه چې دَ هغې په وجه تاسره داسې اوشو ۔

مهندريه :۔ صيب جی دا خبره پريږده ۔ دا تپوس رانه مۀ کوه پليز۔

فرحان :۔ دا تپوس درنه خامخا کوم او خامخا به يې جواب راکوې،پليز۔

مهندريه :۔ صيب جی يوه خبره دا ده چې هغې ماله دا ټاسک راکړې وو چې په هر طريقه چې کيږی خو چې تا خپل مذهب ته راواړوم ۔ ما ستا او ستا دَ مذهب په احترام کښې داسی اونکړې شو او هغې ته مې ځان له په ځان له اووې چې زۀ دا کار نشم کولې ځکه چې هغه خپل مذهب پريښودو ته تيار نه دی ۔

فرحان :۔ ښه نو بيا ؟

مهندريه :۔ چې هغه نااميده شوه نو ماله يې يو بل ټاسک راکړو ۔

(هغه چپ شی)

فرحان :۔ ښه وايه کنه ولې چپ شوې ؟ څۀ ټاسک يې درکړو ؟

مهندريه :۔ صيب جی هغه خبره زما په خوله نه راځی ۔

فرحان :۔ اوه مهندريه پليز ۔ وايه پليز۔

مهندريه :۔ صيب جی ، تۀ ما په هغه خبره کولو ولې مجبوره وې چې دَ هغې دَ خيال نه هم ماله شرم راځی ۔

فرحان :۔ مهندريه پليز ، منت درته کوم پليز ۔

مهندريه :۔ صيب جی چی ستا دَ مذهب پريښوده نه هغه نااميده شوه نو ماله يې دا ټاسک راکړو چې تاسره ناجائز تعلقات جوړ کړم۔ چې دغه ناجائز تعلق ثمر بار شې نو ميوه به هغې ته پاتې شی او ستا ضرورت پاتې نشو ۔

فرحان :۔ که ماتاته دَ ناجائز تعلق آفر کړې وې نو تابه قبول کړې وې۔

مهندريه :۔ نه صيب جی نه ۔

فرحان :۔ دې نه معلوم شوه چی ستا په زړۀ کښې ما دَ پاره دَ مينې ګنجائش نيشته ؟

مهندريه :۔ ګنجائش خو پکښې ځکه نيشته چې نوره پکښې ځائيدی نشی خو د دې مطلب دا نه دې چې زۀ تاسره ناجائز تعلق جوړ کړم۔

فرحان :۔ مهندريه چې دَ زړۀ خبره درته اوکړم نو تانه بغير زما ژوند نيمګړې دې ۔


www.pukhto.net



مهندريه :۔ صيب جی ، ستا ژوند به نيم ګړې وی او تانه بغير خو زما دَ ژوند تصوّر هم نيشته ۔

فرحان :۔ دا به څۀ کيږی مهندريه ؟ آيا زمونږ دَ مينې دا ډک زړونه به تل تر تله ډک په ډکه چليږی ....مهندريه که يوه خبره درته اوکړم نو خفه کيږی خو به نه ......اوه سوری څه نه کوم درته ۔

مهندريه :۔ اوس به يې خامخا کوې ۔ صيب جی ماته پته ده چې زۀ ستا مينه يم ګينی په داسی حال چې زۀ رانده شوی يم او تۀ راغلی او زما په ناپاک لوښې کښې دی ماسره ډوډۍ اوخوړه نو دا ټوله ستا مينه ده صيب جی ۔ ستا دَ پاره دَ څۀ کمې دې ؟ ستا دَ پاره دَ ريکها شاستری ، ديوی ديپک او کنوريه نه علاوه درې جينکۍ دَ انډيا نه هم راغوښتې شوې دی ۔ زما ستا په مينه ښه اعتبار دې او دَ خپلې مينې اظهار خو ځکه نشم کولې چی زۀ په انسانانو کښې شمار نه يم ۔ صيب جی زۀ تانه چرې هم نه خفه کيږم ۔ ستا هره خبره زما دَ زړۀ دَ زخمونو دَ پاره مرهم پټۍ ده ۔ وايه صيب جی وايه ۔

فرحان :۔ مهندريه ، ماستا دَ معصوميت په تقدّس قسم خوړلې دې چی زۀ به تا او ستا لاسونه دَ خپلې غاړې هار کوم ۔ آيا تۀ زما قسم پوره کولې شې ؟

مهندريه :۔ صيب جی ستا او زما په مينه کښې لوې رکاوټ مذهب دې ..صيب جی .....صيب جی ستا دَ پاره زۀ دَ خپل مذهب رکاوټ ختمولې شم ۔

فرحان :۔ اوه مائی ډیر مهندریه ۔ مهندریه زۀ تا باندې جبر نه کوم او نه تا مجبوروم ۔

مهندریه :۔ صیب جی چې رشتیا خبره درته اوکړم نو زۀ ستا دَ اخلاق نه دومره متاثره یم چې تۀ دَ ټولو انسانانو دَ پاره او بالخصوص ما دَ پاره یورول ماډل یې ۔ زۀ دا منم چې تۀ مانه مجبور وې خو صیب جی ما خپله مینه مجبوره وی چې هغه مذهب اختیار کړم کوم چې ستا دې ۔ بلـه خبره دا ده چې زما خپل مذهب خو دې خلقو زمانه واخستو۔ چې څوک دَ عبادت دَ پاره خپلې عبادت خانې ته نشې تلې نو بیا هغه سره ځان تړل خو هسې هوا په موټی کښې نیول دی ، نور څۀ نه دی ، صیب جی چې په کوم عذاب کښې زۀ مبتلا یم دا ستاسو دَ دوزخ دَ عذاب نه کم نۀ دې ۔ او چې په داسی عذاب کښې ته زما سره ملګرې یې نو امید کوم چې زه به ستا لاس چری هم پرې نه ږدم "۔ دې سره هغوی دواړه یو بل له دَ وفا او دوستۍ لاس ورکوی ۔

فرحان :۔ ته مطمئنه اوسه مهندریه ، دا لاس به همیشه ستاتحفظ کوی ۔ چې ترڅو زماله خوا تاته اشاره نه وی شوی ، تر هغې ته خپل کار کوه ۔ زۀ امید کوم چې منزل ډیر نزدې دې "دې سره هغه پاڅی او دَ هغې دَ کمرې نه بهر اوځی ۔ هغه چې دَهال په لاره خپلې کمرې ته تلـو نو سوراج اولیدو ۔ دَلیدو سره هغې اودرو او ټپوسونه یې ترینه شروع کړل ، "چرته تلې وې ؟ څۀ دې کول ؟ مادرته ډوډی بنده کړی وه ؟ هرځاې کښې مو لټولې ۔ خیر خو وو"؟ وغیره وغیره ۔ دَ دې ټولو



www.pukhto.net



ټپوسونو هغۀ مختصر جواب ورکړو او ورته یې اووې ، "امّی زړۀ مې تنګ شوې وو ۔ لږ بهر اوتې ووم "۔

فرحان :۔ اوس څنګه یې څویه ؟

فرحان :۔ اوس ښه یم امّی ۔

سوراج :۔ تاخو به ډوډۍ هم نه وی خوړلې ؟

فرحان :۔ نه امّی ډوډۍ مې خوړلی ده ۔

سوراج :۔ څه نورې خبرې به دَ دهرم آتمانه روستو اوکړو ، اوس راځه چې دَ آرتهی ننداره اوکړو ۔

فرحان :۔ آرتهی څه څیز دی امّی ؟

سوراج :۔ تۀ راځه چې هال ته ورشو نو هلته به دې پوهه کړم ، "هغوی چې هال ته ورغلل نو په سټیج باندې دَ یو بُت سر پروت وو او پنځه جینکۍ ترینه یوه یوه شمع په لاس تاویدې ۔ سوراج هغۀ ته اووې " څویه دا په سټیج درام جی سر پروت دې ۔ او دا پنځه جینکۍ چې ترینه دَ خوشبوداره شمعو سره تاویږی نو دې ته سیوا آرتهی ویلی کیږی ۔ دی سره خوا کښې یو طرف ته مهانسی کپور او هربجل سنګهه ناست دی او بل خوا اناطولیه کمار او دیوان سنګهه ۔ دا جینکۍ چې دَرام جی نه تاویږی نو د دغه جوړو دَ پاره دَ هغه نه خوشحالی او کامیابی غواړی ۔ دې رسم ته سیوا آرتهی ویلې کیږی "۔ هغه مور سره یوه شیبه ولاړ وو خو بیا یې ورته غلی غوندې اووې ، " امّی زۀ به درنه لاړ شم مانمونځ نه دې کړې " ۔

سوراج :۔ څه ورشه ځويه شب بخير۔ دَ تلو سره هغه دَ نمانځه تيارې اوکړو ۔ چې نمونځ يې اوکړو نو ښه بې غمه ، خوشحاله اوده شو۔

**دريمه برخه**

سحر چې فرحان دَ خوبه پاڅيدو نو نمونځ يې اوکړو ۔ بيا يې تر ډير ساعته پورې ذکر واذکار او تسبيحات کول ۔ دې نه پس يې دَ مهندريا دَ پاره دعا غوښتله ۔ په دعا دعا کښې هغه په ژړا شو ۔ په ژړا ژړا کښې هغه په سجده پروت وو او دا يې وې چې "ياالله دا سر به تر هغې تاته په سجده پروت وی چې ترڅو دې زما سوال نه وی قبول کړې۔ دَ هغهٔ سر واقعی تر هغې په سجده پروت وو چې سترګې يې تکې سرې شوې ۔ معلومه نه ده چې هغه به تر کومی پورې په سجده پروت وو چې ديکښې دَ هغهٔ دَ کمرې په ور ناکنګ اوشو ۔ ناکنګ سره دَ هغهٔ دَ دعا سلسله ګډه وډه شوه ۔ هغهٔ سترګې اوچې کړې او چې ور يې لرې کړو نو يو ملازم دَ رجسټرونو بنډل په سر ولاړ وو۔ دَ فرحان په تپوس باندې هغې اووې "سرکار دا رجسټرې په الماری کښې اړدم ، اجازت دې ؟ چې هغهٔ اجازت ورکړو نو هغه يوه الماری کهلاؤ کړه ۔ رجسټرې يې پکښې کيښودې او بهر اووتو ۔ دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغه هم دَ ناشتې دَ پاره ډائننګ روم ته لاړو ۔ دَ ناشتې نه پس چې کمرې ته واپس شو نو رومبې کار يې دا اوکړو چې هغه رجسټرې يې راواخستې او يو يو يې کتو ۔ دا ټولې غټې غټې رجسټرې وې ۔ په هغې کښې په قلم ليکل هم شوی وو او تصويرونه


www.pukhto.net



هم پکښې لګيدلی وو۔ په دغه رجسټرو کښې يو ډير زوړ وو۔ هغهٔ چې هغه کهلاؤ کړو نو په هغې اتهٔ بيلې بيلې برخې وې ۔ رومبۍ برخه دَ درس وتدريس دَ عملې وه ۔ دَ هر سړی ځان له خپله خپله پاڼه وه ۔ دَ پاڼې په سر به دَ هغهٔ تصوير هم لګيدلې وو او لاندې به دَ هغهٔ مکمل کوائف درج وو ۔ يعنی نوم ، ولديت تاريخ پيدائش ، سکونت، مستقل او عارضی پته ۔ شناختی کارډ نمبر او موبائيل يا فون نمبر وغيره ۔ دويمه برخه کښې دَ دهرمسال دَ ملازمينو يعنی دَ بشتی، خاکروب ، څوکيدار او مالی وغيره ۔ دريمه برخه دَ نارينه او زنانه پچاريانو او خادمينو وه ۔

څلورمه برخه دَ مقامی طلباء وطالبات وه ۔

شپږمه برخه دَ هغهٔ جينکو په باره کښې وه چې دلته نه واده شوې وې ۔ اوومه برخه دَ هغهٔ جينکو په باره کښې وه کومې چې چاسره منسوب شوې وی ۔ اتهمه برخه ، دَ هغهٔ جينکو په باره کښې وه چې دَ واده ، کويدن په انتظار کښې ناستې وې ۔ په دې برخه کښې رومبی نمبر دَ اناطوليه کمار وو۔ هغی سره دَ هغې دَ ماشوموالی او پيغلتوب دواړه تصويرونه لګيدلی وو۔ دَ هغې په کوائفو کښې دَ هغی پيدائش په دهرمسال کښې شوې وو او دَ هغې دَ مور زوړ سکونت سره مهارا شټريه ليکلی شوی وو۔ دَ هغې متعلق په وضاحتی بيان کښې ليکلی شوی وو چې دَ هغې مور جانکيه دَ هولی تقريب دَ پاره راغلې وه او دلته مړه شوې ده او اناطوليه خپل پلار دهرمسال ته عطيه کړه۔

Pukhto.Net

دَ هغې متعلق يو تازه رپورټ هم ليکلى شوى وو چې هغه په فلانکى تاريخ ديوان سنګهـ ته واده شوه ـ هغې پسې دويم نمبر دَ مهانسى کپور وو۔ دَ هغې پيدائش هم دلته شوې وو۔ هغې سره هم يو تازه وضاحتى بيان ليکلې شوې وو چې هربجل سنګهـ ته وادۀ شوه او خپل خاوند سره امرت سرته لاړه ـ

په دريم نمبر کښې ريکهاشاسترى وه ـ دَ هغې پيدائش په امرت سر کښې شوې وو او مور پلار دَ ټمبل ټو دَ بامبړ خدمت ته وقف کړې وه۔ څلورم نمبر دَ ديوى ديپک وو۔ هغه دَ امرت سر دَ يو مشهور موسيقار مُکرسنګهـ لور وه ـ هغه او دَ هغۀ ښځه دَ يو تقريب په سلسله کښې دلته راغلې وو ـ هغه دلته پيدا شوه او مور يې مړه شوه ـ دَ ښځې دَ مرګ نه پس مُکر سنګهـ خپله لور دَ دهرمسال خدمت ته وقف کړه۔ پنځم نمبر دَ کنوريه وو۔ دَ کنوريه تعلق جلال آباد سره وو او هغه دلته مذهبى تعليم حاصلولو دَ پاره راوستلې شوې وه ـ شپږم نمبر دَ مهندريه وو ـ دَ هغې په پاڼه درې تصويرونه لګيدلې وو۔ په ړومبى تصوير کښې هغه ماشومه وه او په خوله کښې فيډر پروت وو۔ تصوير سره دَ هغې عمر دوه مياشتې ليکلې شوې وو۔ په دويم تصوير کښى هغه لويه وه او دَ هغې تصوير سره دَ هغى عمر پنځه کاله ليکلې شوې وو۔ په دريم تصوير کښې هغه نوې پيغله شوې وه او دَ هغې تصوير سره دَ هغې عمر څوارلس کاله ليکلې شوې وو۔ دَ هغې په کوائف کښې ليکلى شوى وو، مهندى / مهندريه بنتِ عاليه بيګم



www.pukhto.net

ګړګوزي (پښتو ناول) پرويز شيخ

اسلام آباد ـ دَ هغې دَ مور نوم عاليه بيګم ليکلى شوې وو خو دَ پلار نوم ورسره نه وو۔ اګر چۀ دَ هغې پته مکمله نه وه خو دَ هغې په باره کښې يو وضاحتى بيان ليکلې شوې ووچې "دا ماشومه دَ دوو مياشتو په عمر کښې دَ اسلام آباد دَ يو پرائيويټ هسپتال "انمول هيلتهـ کير سنټر اسلام آباد" دَ يوې سينيرنرسې چندريه له خوا دَ عطيې په طور ټمبل ټو ته ورکړې شوه"۔ دَ هغې لاندې دَ چندريه مکمل پته ، شناختى کارډ او موبائيل نمبر وغيره ليکلى شوى وو۔ فرحان چې دا وضاحتى بيان اولوستلو نو دَيرى او حيرانتيانه دَ هغۀ بدن زيګک او وينښتۀ ببر شو ـ دَ هغې خپل نوم مهندى وو خو چندريه ورله دَ مهندى نه مهندريه کړو ـ دَ هغې دَ مور نوم "عاليه بيګم" نه ثابته شوه چې هغه مسلمانه ده ـ هغه په يو لوې سوچ کښې پريوتو۔ بيا يې هغه پاڼه دَ رجسټر نه اوويستله ځان سره يې کيښوده او رجسټر يې په الماري کښې کيښودو ـ

هغه دَ ډيرې خوشحالې نه په جامو کښې نه ځائيدو ـ هغۀ دَ کمرې ور لرې کړو او په خپل بيډ کښې پرانستې ټنى سملاستو او دَ خوشحالى نه ډډې په ډډې اوختو را اوختو ـ هغه لا په خپل بيډ کښې لنډ اوږد کيدو چې دَ کمرې ورسره يې دَ چا ښکالو ووريده۔ هغه پاڅيدو او چې ورله ورغى نو بهر مهندريه په لونده بوجى فرش صفا کوو۔ هغۀ چې هغه اوليده نو مُسکى شو او ورته يې اووې "مهندريه نمستى"۔ مهندريه هغه ته په حيرانتيا اوکتل او وې وئيل "صيب

جی نمسکار ، صيب جی نن خو ډېر خوشحاله يې ؟

فرحان :۔ هاؤ ، ولې نه ۔ نن واقعی زۀ ډېر خوشحاله يم ۔ مهندريه دا ستا دَ بيګانی صحبت دَ وړمو اثر دې چې دماغ مې معطر دې ....مهندريه کمرې ته راشه تاسره مې يو ضروری خبره ده ۔

مهندريه :۔ صيب جی ماته دَ دننه تلو اجازت نيشته ۔

فرحان :۔ زۀ اجازت درکوم ۔ يريږه مۀ راځه ...او وربند کړه ۔

مهندريه چې دننه ورشی نو وربولټ کړی ۔ هغه ته مخامخ اودريږی او په يره يره وائی ، "صيب جی ماته څۀ حکم دې"۔

فرحان :۔ تاته دا خواست دی چې راشه ، ماسره کينه "۔

مهندريه :۔ صيب جی زۀ تاسره نشم کيناستې ، زۀ ناپاکه يم ۔

فرحان :۔ څوک چې تاته ناپاکه وائی نو هغه به په خپله ناپاکه وی ۔ راځه کينه "۔

(مهندريه هغۀ ته مخامخ په قالين کينی او هغۀ ته په سواليه نظر ګوری ) "مهندريه زۀ تانه يو څو تپوسونه کوم خو صحی جوابونه به راکوې ۔ رومبې تپوس دا دې چې تاته خپله مور معلومه ده ؟ يعنی ستا هغه مور چې چانه پيدا شوې يې؟

مهندريه :۔ نه صيب جی ، خپله مور راته معلومه نه ده خو ستا مور زما روحانی مور ده ۔

فرحان :۔ تاته خپل کور ، کلی يا ښار معلوم دې ؟

مهندريه :۔ نه صيب جی ۔ زۀ په دې دهرمسال کښې پيدا شوې او



www.pukhto.net



لويه شوې يم ۔ دا زما کور کلی هم دی او ښار هم ۔

فرحان :۔ تاته خپل ذات ، قوم او مذهب معلوم دې ۔

مهندريه :۔ نه صيب جی ، دَ ذات او قوم راته معلومات نيشته او په مذهب هندۀ وه يم ۔

فرحان :۔ ښه نو مبارک شه ، ستا خپله مور هم معلومه شوه ، ستا خپل مذهب هم معلوم شو او ستا خپل کور کلی او ښار هم معلوم شو۔

مهندريه ( هغه په حيرانتيا ګوری ) هغه څنګه صيب جی ؟

فرحان دَ خپل بيګ نه هغه پرچه را اوباسی ، هغې ته يې ښائی او ورته وائی ، ستا دَ مور نوم عاليه بيګم دې ۔

مهندريه :۔ عاليه بيګم ، دا دَ مسلمانې نوم کيديشی خو دَ هندۀ وې نه۔

فرحان :۔ هاؤ مهندريه ، ستا مور مسلمانه وه .....تۀ دَ دوو مياشتو په عمر کښې يوې نرس دلته راوستې يې ....دې تصوير ته اوګوره۔ دا هغه تصوير دې چې هغه وخت کښې ستا عمر دوه مياشتې وو۔ دا اوګوره په خوله دې فيډر نيولې دې او پې څکې .... دې بل تصوير ته اوګوره ۔ دا دَ هغه وخت تصوير دې چې ستا عمر پنځه کاله وو۔ او ې دا ستا اوسنې تصوير دې چې دَ نن نه دوه کاله مخکښې ويستلی شوې دی ۔ په دې حساب ستا عمر اوس شپاړس کاله دې "۔ مهندريه تصوير ته په غور ګوری او وائی ، " اوه ، دا خو واقعی زما تصوير دې۔ داسی يو تصوير ماسره هم شته دې ۔ دا تصويرونه څه موده مخکښې مونږ دلته ويستلی وو۔

فرحان :۔ دا ټول تصویرونه ستا دی خو په رومبی کښې دَ پیو ماشومه یې ، په دویم کښې لویه ښکارې او په دریم کښې پیغله ښکاری ۔ ښه خپل کوائف تـه اوګوره ۔ دا ټول ستا کوائف دی او لاندې ورسره وضاحتی بیان دې ۔ اوس کار اوشو ، مطمئنه اوسه ۔ دې دَ پاره زۀ څۀ طریقه جوړوم ۔ تۀ خپل کار په خوشحالئ کوه او زما انتظار کوه ۔ څه ورځـه (هغه پاڅی) .....اودریږه مهندریه:۔ تاخو ماله په زیری کښې څۀ رانکړل "۔ دې سره هغه مسکئ شی او بهر اوځی ۔ مهندریه چې دَ هغـۀ دَ کمرې نه بهر اووته نو جیون رام دَ هغې لوندې بوجی سره دَ هغې په انتظار ولاړ وو ۔ مهندریه چی هغۀ ته اوکتل نو دَ هغې ګونه زیړه شوه او رپـنـدې پـرې راغـی ۔ جیون رام هغې ته هیڅ اونه وې او چپـه خولـه روان شو ۔ فرحان هغه پرچه په بیګ کښې کیښوده ، دوه رکعتـه دَ شکرانې نمونځ ئې اوکړو او دَ تی ۔ وی په مشغوله شو ۔ مازیګر سوراج دَ هغـۀ کمرې ته راغله او دَ راتلو سره یې هغۀ ته په غصه اووی ، "ستا کمرې ته مهندریه راغلې وه "۔

فرحان :۔ هاؤ امّی ، هغې بهر دَ فرش صفائی کوله ، ما دننه را اوغوښتله ۔

سوراج :۔ تاته پته نیشته چی هغه رانده شوې ده ؟

فرحان :۔ جی امّی ماتـه پتـه ده چې هغه رانده شوې ده خو هغه په خپلو کړو پښیمانه ده او تانه زما په ذریعه معافی غواړی ۔

سوراج :۔ آیا تاتـه دا معـلـومـات نیشتـه چې دَ رانده دَ پاره دَ معافی



www.pukhto.net



ګنجائش نیشته ؟ هغه به دَ ټول عمر دَ پاره رانده وی ۔

فرحان :۔ امّی هغې نه ستاسو دَ مذهب توهین کړې دې او نه یې دَ مذهبی احکاماتو منلو نه انکار کړې دې ۔

سوراج :۔ هغې دَ مذهب توهین نه دې کړی خو زما توهین یې کړې دې ۔

فرحان :۔ امّی هغه تا دَ لور په حیث لویه کړې ده ۔ زۀ ستاڅوې دَ هغی دَ پاره تاته معافی غواړم ۔ هغه جینئ ده ، ناپوهه ده ۔ تۀ دَ روحانی مور په حیث او زما په خاطر هغه معاف کړه ....امّی که تۀ بد نه ګڼې نو زۀ به هغه دلته راولم او ستا په خپو به یې اوغورځوم ۔ پلیز امّی پلیز۔ زما دَ مخه هغه معاف کړه امّی ۔

سوراج :۔ ستا دَ هغې په معافئ کښې څۀ دلچسپی ده ؟

فرحان :۔ امّی .....امّی زه ...هغې سره وادۀ کول غواړم ۔

سوراج (په غصه) هغه رانده شوې اوناپاکه سره ؟ ....نه نه داسې نشی کیدې ....او دَ مذهب رکاوټ ....دې سره به څۀ کوې ....تۀ غیر مسلم شوې او که هغه مسلمه شوه ۔

فرحان :۔ امی چې تۀ راضی شی نو په صلاح ، مصلحت به یوه خبره جوړه کړو ۔

سوراج :۔ چی ستا دا نیت وو نو مخکښې به دې ویلی وو کنه ۔ اوس هیڅ نشی کیدی ۔ هغه ناپاکه شوې ده ۔

فرحان :۔ امّی زما هغه ناپاکه قبوله ده ۔

سوراج :۔ داسې نشې کيدې ، ستا دَ پاره ما دَ انډيا نه دَ ګوتې ګوتې ښاپيرۍ ساوريه ، پريانکا او سانکيه راغوختې دی ۔ په دوی کښې يوه خوښخه کړه او وادهٔ ورسره اوکړه ۔

فرحان :۔ امّی چې وی نو هم دغه به وی ګينی نه دې وی ۔

سوراج :۔ دا ستا اخری فيصله ده ۔

فرحان :۔ جی امّی ۔ دا زما اخری فيصله ده ۔

سوراج :۔ داسې نشې کيدې بچې ۔ تـه ولې نـه پو هيږې ۔ زمونږ مذهب کښې د دې اجازت نيشته ۔ داسې چرې هم نشی کيدې ۔

فرحان :۔ چې نشی کيدې نو ماله اجازت راکړه چې ځم درنه ۔

سوراج :۔ دَ تلو نوم مهٔ اخله ځويه ۔ تهٔ خو زما روح يې ۔ زما ساه يې چې تهٔ ځې نو ساه رانه اوځی ۔ داسې مه وايه ځويه ۔

فرحان :۔ امّی چې کومه معاشره کښې دَ انسان قدر نه وی ، انسان ته دَ انسان په سترګه نشی کتې ، چې کومه معاشره کښې دَ مذهب په نوم دَ انسان او انسانيت تضحيک او تحقير کيږی ، په کومه معاشره کښې چې ظلم ، جبر او ناپسندی وی ، په کومه کښې چې دَ ذات پات په نوم انسان په انسان کبر کوی نو په هغه معاشره دَ خدای عذاب وريږی ۔ زهٔ په داسې ځای کښې نشم ايساريدې چرته چې دَ خدای قهر وريږی "۔ هغه پاځی خپل سامان په بيګ کښې اچوی ، زِپ پرې راکاږی او بيګ غاړې ته اچوی ۔ سوراج (ژاړی) ځويه داسې مهٔ کوه ...داسې مهٔ کوه ځويه .....ځويه دا خو به ډيره ګرانه شی چې زهٔ



www.pukhto.net



درته ګورم او تهٔ زما نه خفه روانيږې ۔ رام رام ۔

فرحان :۔ امی ستا په ما ډير حق دې ۔ ماتهٔ مظلومه اوګنړلې نو ستا دَ خدمت دَ پاره راغلم خو تاته زما دَ خدمت ضرورت نيشته ځکه چې تهٔ دَ ټمپل ټو ملکه يې ۔ ستا په يوه اشاره ، ستا ټول رعايه کينی پاځی ....تاته زما دَ خدمت ضرورت نيشته ۔ زهٔ درنه ځم چې دَ هغه خوارانو خدمت اوکړم چاچې زما لارې ته سترګې نيولې دی ۔ امّی زهٔ درنه لاړم نمسکار "۔

چې هغه دَ کمری نه اوځی نو سوراج ژاړی او په ژړا ژړا کښې وائی ، يه ځويه فرحانه ....فرحانه ځويه اودريږه ......اودريږه ځويه ...هائے بهګوان ۔

دَ ماښام بانګونه ويلې کيدل چې هغه کورته اورسيدو ۔ دَ رسيدو سره هغهٔ خپل بيګ په کټ کښې کيښودو او جمات ته لاړو ۔ چې نمونځ اوشو نو په جمات کښې يې زنده باد کاکا سره ليدل کتل او روغ جوړ اوشو ۔ چې کورته لاړل او افروزې بی بی هغه اوليدو نو ډيره خوشحاله شوه ۔ هغې په زاروقربان هغه داسې ښکلوو لکه دَ څو څو کالو مسافر ځوے چې مور ښکلوی ۔ هغهٔ په خندا خندا کښې مور ته اووې ، "مورې ، تهٔ خو په ما داسې مينه کوې لکه چې ما ډيره موده بهر تيره کړې وی "۔ هغه په خندا شوه او ورته يې اووې ، "ځويه ستا دَ راتلو دغه لس ، اتهٔ منټه په مالس اتهٔ کاله تير شو "۔

فرحان :۔ هغه څنګه مورې ؟

افروزه بی بی :۔ هغه داسې چې ستا بيګ مِ اوليدو او ته مِ اونه ليدې نو دَ زړهٔ ککوړې مِ پريوتو او په دواړو تشو کښې م درد شو ۔ ماوې خدايه خير کړې بيګ راغی او هلک رانه غی چې څهٔ چل شوې دې؟

فرحان (خاندی) دا ښه ده چې راغلم مورې ګينې اوس به دې بيا کټ نيولې وو"۔

زنده باد کاکا :۔ دَ شګفتې مورې ، فرحان له يوه پيالی چائے پخه کړه"

فرحان (خاندی ) بابا شګفته خور لاړه دَ خپل کور شوه ۔ دَ بال بچ مور شوه خو عجيبه خبره ده دَ هغې نوم لا تراوسه پورې چليږی او ستا ځوے تاسره ځنګ په ځنګ ناست دے ، هغه دې هير دے ؟

زنده باد کاکا :۔ يَه ځويه دا خو دې زبردسته خبره اوکړه ۔ دا خو واقعی تاسره بے انصافی ده ۔ اوس به په دې کور کښې ستا نوم چليږی ۔ ستا مور به هم ستا په نوم يادېږی او زهٔ به هم ستا په نوم يادېږم "۔ هغوی پلار او ځوی لا خپلو کښې خبری کولې چې افروزی بی بی دَ چايو پيالی راؤړه ، هغهٔ ته يې په ميز کيښوده ، او هغهٔ سره په کټ کښې کيناسته ۔ هغهٔ چې دَ پيالی نه پرله پسې دوه ګوټه اوکړل نو مور ته يې په مينه اوکتل او وې وئيل ، "يره مورې ، نن خو دې په چايو بيا کمال کړې دې ۔ دا زړهٔ مِ وائی چې هرګوټ سره مِ ستا لاسونه ښکلول " دې سره هغه دَ هغې لاسونه ښکل کړی ۔

افروزه بی بی ( مسکی شی ) "ځويه داسې خوشحاله خوشحاله ښکارې ، څه خبره ده ؟



www.pukhto.net



فرحان :۔ خبرې ډيرې دی مورې خو رومبی خبره دا ده چې دَ دهرمسال دَ قيد نه هم هميشه هميشه دَ پاره ازاد شوم او دَ امّی دَ زولنو نه هم "۔ افروزه بی بی دَ ډيرې خوشحالی نه هغه ښکلوی او وائی ، "هغه ځنګه ځويه " ؟

فرحان هغوی ته ټوله قيصه تيره کړه ۔ دَ مهندريه متعلق ټوله خبره يې ورته ټکې په ټکی اوکړه ۔ بيا يې ورته هغه پرچه او په هغې لګيدلې دَ هغې ټول تصويرونه اوښودل ۔ هغوی چې دَ هغهٔ خبرې واوريدې نو دواړو اسمان ته اوکتل او دَ هغهٔ دَ کاميابی دَ پاره يې دُعا ته لاسونه اوچت کړل ۔

ماسخوتن چې هغه په جمات کښې نمونځ اوکړو نو "غلې غوندې دَ جمات نه اووتو او دَ کلی نه بهر شاړې ته لاړو "۔ هلته يې موبائيل را اوويستلو او چندريه ته يې کال اوکړو ۔ دَ هغې دَ هيلو سره هغهٔ هغې ته نمسکار اووې ۔ دَ هغهٔ دَ نمسکار په جواب کښې هغې هم نمسکار اووې ۔ دې سره يې ترينه تپوس اوکړو ۔ "څوک خبرې کوې"؟

فرحان :۔ ميډم جی زهٔ دَ ټمبل ټو پيښور دَ بامبړ مهاراجه مها سنګهه ځوے خبرې کوم ۔

چندريه :۔ ښهٔ تهٔ څهٔ ويل غواړې ؟

فرحان :۔ ميډم نن نه خواؤ شا شپاړس کاله مخکښې چې ته په انمول هليټهـ کير سنټر اسلام کښې وې نو دَ دوو مياشتو يوه ماشومه مهندی / مهندريه بنت عاليه بيګم تا راوستې وه او ټمپل ټو پيښور

ته دې دَ عطيې په طور پيش کړې وه ـ ميډم هغه ماشومه اوس پيغله شوې ده او ستا په ذريعه خپل مور پلار ليدل غواړي ـ

چندريه :ـ سوري مسټر ، ماته دَ مهندی / مهندريه متعلق نه څه معلومات شته او نه دا جينۍ زهٔ پيژنم ـ

فرحان :ـ ميډم ، سوري څکه مهٔ وايه چې دَ هغې مکمل دستاويز ما سره شته ـ په هغه دستاويز دَ هغې تصويرونه هم لګيدلې دی ـ په هغې کښې دَ هغې کوائف هم درج دی ، په هغې کښې ستا وضاحتی بيان هم درج دې ، په هغې کښې ستا دستخط ، شناختی کارډ او موبائيل نمبر وغيره هم درج دی ـ

چندريه :ـ سوري مسټر ، ماته هيڅ معلومات نيشته ـ زه دغه جينۍ نه پيژنم ـ

فرحان :ـ ميډم ستا په سوري او انکار به دا معامله نوره هم خرابه شی ـ که تهٔ انکار اوکړې نو دا د ستاويز په اخبار کښې دَ يوی لوې سرخۍ په شکل کښې هم راتلې شی ـ ستا خلاف په مرکزی سطح باندې انکوائری هم کيديشی ـ دې نه علاوه دا دستاويز دَ حقوق انسانی ملکی او عالمی انجمنو له هم ورکړې کيديشی ، پوليس ته هم ستا خلاف شکايت کيديشی او دَ عوامی تحريک په شکل کښې ستا خلاف قوی تحريک هم پورته کيديشی ـ ميډم دا خبره اوس پټه ده او زما او ستا تر مينځه ده خو ستا په انکار دا کيس سپريم کورټ ته هم تلې شی ـ دا جينۍ دَ مسلمان والدين اولاد دې او ستا په وجه دا غير



www.pukhto.net



مسلمه شوې ده ـ ميډم که دا پټه خبره انتها پسند مسلمانانو ته ښکاره شی نو بيا ستاسو دَ اقليتی برادری کميونټی مرکزونه ، ستاسو مندرونه ، ستاسو کورونه او ستاسو بچی هم محفوظ نشی پاتيکيدی ـ ميډم ، دَ ملک حالات تانه پټ نه دی ـ دَ انتها پسندۍ او طالبانيزيشن دور دې ـ چاته چې دَ امريکې غوندې لوی طاقت نشی ټينګيدې نو تهٔ او ستاسو اقليتی برادری ورته څهٔ دی ـ نوره ستا خوښه ده ـ زهٔ تانه مجبوروم البته دا مشوره درکوم چی سترګې اوغړه وه ، سينه پرانيزه ، ذهن کهلاؤ کړه او څهٔ فيصله اوکړه او په لس منټه کښې دننه دننه ماله جواب راکړه ـ ميډم که تا څهٔ جواب رانکړو نو ستا خاموشی به ستا انکار اوګڼلې شی او ستا دَ نقصان ذمه واری به ستا په سروی ، تينک يو" ـ دی سره هغه موبائل آف کړو او دَ هغې دَ جواب په انتظار کښې ولاړ وو ـ تيک پنځه منټه پس دَ هغه په موبائيل کال راغی ـ دَ هغهٔ هيلو سره اواز راغی "بچې دَ څهٔ قدم پورته کولو نه مخکښې زهٔ تا سره ليدل غواړم پليز خو چی زهٔ درشم او که تهٔ راځی ؟

فرحان :ـ ته تکليف مه کوه ميډم زهٔ به درشم ـ

چندريه :ـ ته به کله راشې پليز ـ

فرحان :ـ که ته غواړې نو زه به صبا درشم ـ

چندريه :ـ O.k ـ صبا نهٔ بجی سنټرل پارک اسلام ته راشه ـ هلته به زهٔ ستا انتظار کوم ـ

فرحان :ـ Ok ميډم ډيره ښه ده ـ تينک يو ـ

Pukhto.Net

## شپږم باب

فرحان سحر پـه خـړه دَ کـوره اووتـو ـ دَ کلي پـه ړومبي ګاډي کښې پېښور ته لاړو او دَ پېښور نه په ړومبي ګاډي کښې اسلام آباد ته روان شو ـ دَ وعدې مطابق چې نهۀ بجې سنټرل پارک ته اورسيدو او پارک تـه يې اوکتل نو په هغې کښې څۀ کسان ځغليدل ـ چا ورزش کوو، چا واکـنګ کـوو او چا مـنډې وهلې ـ هغۀ يو خوا ته په بينچ ناسته يوه پوخ عمره ښځه اوليدو چې موبائيل يې په لاس کښې نيولې وو او يو خوا بـل خوا يې اوتر اوتر کتل ـ دَ ليدو سره پرې دَ هغۀ دَ چندريه شک راغـې ـ هغۀ يو خوا ته اودريدو او هغې له يې يو کال ورکړو ـ دَ رنګ ورتـلـو سره هغې موبائيل ته اوکتل ـ دَ هغۀ شک په يقين کښې بدل شو ـ هغـه مـوبـائـيـل آف کړو ، دَ هغې خوا له ورغې او هغې ته يې سلام اوکـړو ـ چې دواړو يـو بـل اوپيـژندل نو هغه هم ورسره په بينچ کـيـناسـتـو او دَ مهندريه متعلق خبرې شروع شوې وې ـ هغۀ چندريه تـه دَ مهندريه متعلق ټوله خبره اوکړه او دَ موجوده صورتِ حال نه يې هـم خبـر کـړه ـ بيـا يـې ورتـه هغـه دسـتـاويز اوښودلو کوم چې هغۀ دَ ټـمپـل ټو نه راؤړې وو ـ هغې چې دَ مهندريه ړومبی تصوير ته اوکتل نـو سترګې يې ډکې شوې او په ډکو سترګو يې دَ هغې دَ ماشوموالی تـصـويـر ښـکـل کـړو ـ چې دويم تصوير ته يې اوکتل نو سترګې يې اوچې کـړې او هـغـۀ يې هم ښکل کړو چې دَ هغې دريم تصوير ته يې اوکتل نو مسکې شوه او په مُسکا مُسکا يې هغه هم ښکل کړو ـ بيا



www.pukhto.net



يې ډيـره شيبـه دَ هـغـې تـصـويـرونو ، کوائفو ، خپـل وضاحتی بيان ، شـنـاختی کارډ نمبر او موبائيل نمبر وغيره ته کتل او په يو لوې سوچ کښې ډوبه وه ـ بيا يې سر اوچت کړو او هغه ته ئې اوکتل ـ هغه نه به يې دَ هـغـې متعلق دَ يوې يوې خبرې تپوس کوو او دَ هغۀ خبره به ئې ښۀ په غور اوريده ـ چې ښۀ مطمئنه شوه نو خپلې اوښکې يې اوچې کـړې او هـغـۀ ته يې اووې ، "ځويه تۀ به زما په انکار خفه شوې يې ، دَ هغې درنه معافی غواړم خو ګذارش دا دې چې نن صبا دَ اعتبار وخت پاتې نه دې ـ ماتاته انکار ځکه اوکړو چې ماته ستا دَ دومره خلوص او هـغـې سره دَ دومره مينې پته نه وه ـ زۀ ستا ډيره مشکوره يم چې تا دا پټه خبره پټه پريښوده او زما عزت دې اوساتو ـ

فـرحـان :ـ ميډم زمـا مـقـصـد دَ هغې په ازادۍ کښې دې ، ستـا پـه رسوائۍ کښې نه دې ـ دا ښۀ ده چې تا اقرار اوکړو ګينی دې نه به لويه مسله جوړه شوې وه ـ

چـنـدريـه :ـ واقـعـی ځويه ، ستا خبره بالکل صحی ده ـ زۀ يو ځل بيا ستا شکريه ادا کوم او ستا دَ کاميابۍ دَ پاره دعا کوم ـ

فـرحان :ـ ميډم چې ستا مرستـه راسره وی نو زۀ اميد کوم چې زمونږ کـامـيـابـی يـقـينی ده ـ ښه اوس راته دَ مهندريه متعلق وضاحت اوکړه چې دا څۀ قيصه ده ؟

چـنـدريـه :ـ دا جيـنـۍ واقعی مهندريه ده ـ د دې خپل نوم مهندی وو خـو مـا بـه ورته دَ ډيرې مينې نه مهندريه وې.....دا ماشومه دَ عاليه

بیگم لور ده .....قیصه داسې ده چې نعیم صیب یو بیوروکریټ وو او په صوبو او مرکز کښې ډیر په اعلیٰ عهدو پاتې شوې وو. په نوکرۍ کښې هغهٔ ډیره پیسه هم پیدا کړې وه او ښهٔ ډیره پراپرټی یې هم جوړه کړې وه . دَ قابلیت نه علاوه هغه ډیر ښهٔ سړے وو خو چې کله پیسه ډیره شی نو دَ سړی خوی بوی بدل شی . هغه دَ بال بچ پلار وو خو بے خرته پیسې سره هغه هم بدل شو . دَ ریټائرمنټ نه څهٔ موده مخکښې یوه نوموړې گلوکارې او ډانسرې سره دَ هغهٔ عشق معاشقه شروع شوه . دَ هغهٔ دا سرگرمی چلیده چلیده هنّ چې هغې سره یې دَ وادهٔ خبره اوشوه . هغې پسې یې دَ څلور کناله بنگلې انتقال هم اوکړو ، سل تولی سونا یې دَ کالی په شکل کښې مهر هم ورکړو او دَ لاکهونو روپو بینک بیلنس یې هم دَ هغې په نوم کړو . چې کله واده اوشو نو دَ هغې مور پروین بی بی هم هغوی سره ډیره شوه او دَ کور ملکهٔ عالیه شوه . مشره بی بی چی کله دَ هغهٔ دَ دویم وادهٔ نه خبره شوه نو هغې ترینه خلع واخسته . نعیم صیب چې کله دَ خپل ریټائرمنټ کاغذونه تیارول نو خپله دویمه ښځه عالیه بیگم یې خپله وارثه کړه . دَ هغهٔ دَ لاکهونو روپو کوموټیشن اوجی پی فنډ یې دَ هغې په خواهش دَ هغې په اکاؤنټ کښې جمع کړې وو . اوس هغه مطمئنه وه څکه چې دَ هغهٔ ټول جائیداد او سرمایه هغې ته منتقله شوه . چې کله هغه دَ هرڅهٔ مالکه شوه نو بیا دَ هغې سترگی هم بدلې شوې او هغه معاهده ماته شوه کومه چې دَ هغوی ترمینځه



www.pukhto.net



شوی وه هغه به نائټ کلبونو ته تله ، په شپو شپو به هلته پرته وه او هغهٔ به دَ هغې لاره سارله . دَ نعیم صیب حیثت دَ یو نوکر او څوکیدار نه کم نه وو ، دې نه علاوه دَ دوبۍ او یورپ په دورو به دَ هغهٔ دَ اجازت او تپوس نه بغیر تله راتله . نعیم صیب دَ هغې بے هوده سرگرمۍ او دَ هغې عیش ومستۍ ډیره موده برداشت کړې خو تر کومه . اخر یوه ورځ یې دَ وینو قې اوکړو او په داسې حال کښې یې ساه ورکړه چې عالیه بیگم شارجے ته دَ یوې هفتې دَ پاره کنسرټ له تلې وه . مشره بی بی چې دَ هغهٔ دَ مرگ نه خبر شوه نو هغه یې خپل کور ته راؤړو او دَ هغهٔ کفن دفن یې اوکړو . عالیه بیگم دَ پروین بی بی په وینا دَ هغې په منت او زارۍ او سپورو ستغو دَ هغهٔ دَ مرگ په څلورمه ورځ راغله . دَ راتلو سره یې دَ هغهٔ په قبر دَ گلونو سهره اوغوړوله ، دَ هغهٔ ډیتھ سرټیفکیټ یې جوړ کړو او دَ هغهٔ پنشن یې په خپل نوم کړو . په دې دوران کښې دَ هغې حمل شوې وو . زهٔ چونکه دَ هغې همرازه ووم نو هغه لکه دَ نور کله غوندې دَ سقاطِ حمل دَ پاره ماله راغله . ما دَ هغې نوره گناه په خپل سر اخستل نه غوښتل نو دَ هغې کیس مِ په نن به شی ،صبا به شی کښې تر هغې اوځانگوو چې دَ هغې حمل دَ سقاط نه اووتو . بیا هغې سره دَ بچی دَ ځیگون او دَ پالنې غم شو . ما هغې له تسلی ورکړه چې هر څهٔ به واره په واره ټیک ټاک شی . کله چې دا ماشومه زمونږ په هیلتھ سنټر کښې پیدا شوه نو لس ورځې پس یې ماته حواله کړه چې "دا

واخله ، ته پوهـ شه او ستا کار پوهـ شه " او هغه په ګاډی کښې کیناسته خپلې بنګلې ته لاړه ـ دغه ماشومه څۀ موده ماسره وه بیا په خپل ځان اوبریدم ځکه چې هغه وخت کښې زۀ غیر شادی شده ووم ـ دَ هغې دَ ځیګون په دیرشمه ورځ ما هغه ماشومه واخسته او دَ هغې بنګلې ته په داسې حال کښې ورغلم چې دَ هغې مور پروین بی بی هم کوروه ـ ما هغه ماشومه دَ عالیه بیګم په غیږ کښې واچوله او ورته مِ اووې ، " دا خپله لور دې واخله بی بی زۀ دا نوره نشم ساتلې "ـ هغې دَ مور په مخکښې په ما سترګې را اوویستلې او هغه سپورې ستغې یې راته اووی چې نه دَ ویلو قابلې دی او نه دَ اوریدو ـ هغه ماشومه یې ماله واپس راکړه او زۀ یې په بے عزتئ دَ کوره اوویستلم ـ دغه ماشومه څۀ تقریبا دوه میاشتې ما دَ یو بل په نوم پټ په پټه اوساتله خو چې اونشوه نو بیا مِ دَ چا په مشوره ټمپل ټو پیښور ته بوتله او دَ هغې انتظامیې ته مِ حواله کړه ـ دې واقعې نه درې میاشتې پس عالیه بیګم دَ بل واده په تیارئ کښې مصروف وه ـ نیته ایښلې شوې وه خو ژوند ورسره وفا اونه کړه او په مون لائټ نائټ کلب کښې دَ کثرتِ شراب نوشی په وجه ډیر په خراب حالت کښې مړه شوه ـ دَ هغې دَ مرګ نه پس پروین بی بی بالکل یواځې پاتې شوه او دَ عالیه بیګم څۀ نښخه نشانه پاتې نه شوه ـ څۀ موده پس هغې ماسره په فون رابطه اوکړه او دَ خپلې نمسئ مطالبه یې اوکړه ـ ما دَ هغې نه په دې بهانه ځان خلاص کړو چې هغه مړه شوې ده ....دا وه دَ



www.pukhto.net



مهندریه قیصه ـ

فرحان (مسکے شی ) میډم دا قیصه وه که افسانه ـ

چندریه :ـ ځویه دا حقیقت دې خو دَ افسانې ګمان پرې کیدیشی ـ

فرحان :ـ ښۀ میډم ، اوس به مونږ څۀ کوو ؟

چندریه :ـ اوس به پروین بی بی له ورځو او دَ هغې ردِ عمل ته به ګورو

فرحان :ـ میډم ، که هلته دَ تلو نه مخکښې هغې سره په موبائیل خبره اوشی نو ښه به وی ـ دغسې به مونږ ته دَ هغې دَ ردِ عمل پته هم اولګی او هغه به ذهنی طور مونږ سره خبرو ته تیاره هم شی ـ

چندریه :ـ هاؤ ، بالکل ، ستا خبره صحی ده ـ هم داسې پکار دی ـ خو هغې ته به څه دروغ رشتیا وایو او ځان به ترینه په دې خلاصوؤ ـ

فرحان :ـ نیور مائنډ ـ دَ نیکئ په کار کښې که دروغ اوویلې شی نو څۀ بده خبره نه ده ـ هنّ میډم دا زما موبائیل واخله او په دې ورسره خبره اوکړه "ـ چندریه دَ هغۀ نه موبائیل اخلی او دَ هغې نمبر ملاؤ کړی ـ چې رنګ ورشی نو اواز راځی ، "هیلو څوک خبرې کوی"؟

چندریه :ـ بی بی زۀ دَ عالیه بیګم ملګرې چندریه خبرې کوم ـ

پروین بی بی :ـ ښه ته څۀ ویل غواړې ؟

چندریه :ـ بی بی دَ نن نه تقریبا شپاړس کاله مخکښې ماسره دَ عالیه بیګم یو امانت وو ـ هغه امانت هغې دَ قبلولو نه انکار کړې وو ـ اوس هغه امانت .....

پروین بی بی :ـ زۀ ستا په خبره پوهـ نشوم ـ واضحه اوکړه ـ



Pukhto.Net

چندريه :ـ واضحه خبره دا ده بی بی چې دَ نن نه تقريبا شپاړس کاله مخکښې زمونږ په هيلتهـ سنټر کښې دَ عاليه بيگم لور ځاگيدلې وه ـ تاته ياد شی ؟

پروين بی بی :ـ هاؤ ، هاؤ ماته ياد شی ـ دَ هغې دَ غوښتو مطالبه ما تاته کړې وه خو تاوې چې هغه مړه شوې ده ـ

چندريه :ـ هاؤ بی بی ، ماته ويلې شوی وو چې هغه مړه شوې ده خو اوس راته يو هلک اووې چې هغه نه صرف ژوندۍ ده بلکه يوه حسينه پيغله ترينه اوتې ده هغه خپلې مور اونيا پسی ژاړی او هغوی سره ليدل غواړی ـ

پروين بی بی :ـ هغه چرته ده ....چندريه هغه ماله راوله ....هيلوـ هغه کوم ځاې ده ؟ تهٔ چرته يې ؟ دلته راشه پليز ـ او ماته ټول حال اووايه يې ـ زر راشه ، زهٔ ستا انتظار کوم ـ زما خو هغې پسې سترگې سپينې شوې ـ که تهٔ نشی راتلې نو ماته ځاې اوښايه زهٔ به درشم ـ

چندريه :ـ ته تکليف مه کوه بی بی ، مونږ درځو“ ، چندريه او فرحان مسکی شی ، په مُسکا مُسکا يو بل ته اوگوری او دَ پارک نه اوځی ـ هغوی چی دَ پارک نه اوځی نو په ټيکسی کښې کينی او لږه شيبه پس دَ پرون بی بی دَ کور دَ گيټ مخې ته دَ ټيکسی نه کوز شی ـ چې هغوی په گيټ دننه شو نو پروين بی بی دَ خپل کور په لان کښې دَ هغوی انتظار کوو ـ دَ هغوی په ليدو باندې هغه ډيره خوشحاله شوه ـ پروين بی بی هغوی ډرائينگ روم ته بوتلل ـ دَ کيناستو سره هغې دَ


www.pukhto.net



چندريه نه تپوسونه شروع کړل ....زما نمسۍ څنگه ده ـ چرته ده ـ لويه شوې ده ـ دَ چا غوندې ده ـ اوس به څومره وی ...ما ورله بوځه ـ چندريه ....زړهٔ مې صبر نه کوی ـ

چندريه :ـ (مسکی شی ) بی بی ستا نمسی ، ژونده ده، پيغله ده ، نوری خبرې به درته دې اوکړی (هغه فرحان ته اشاره کوی ) ـ فرحان هغې ته دَ مهندريه قيصه شروع کړی هغه يې ډير په غور سره اوری ـ په دې دوران کښې دَ پروين بی بی نوکره زهره شربت راؤړی او ټولو له يو يو گلاس ورکړی ـ فرحان خپله خبره هم کوی او کله کله دَ شربت نه گوټ هم کوی ـ چې دَ هغهٔ خبره ختميږی نو شربت هم ختم شی ـ په اخره کښې ورته هغه دا اووائی چې هغه دومره په عذاب کښې ده چې نيمه نه ده پاتې شوه ـ زهٔ ويم چې څومره زر کيديشی نو هغه دَ دغه عذاب نه ويستل پکار دی ـ

پروين بی بی :ـ بالکل بالکل ، تهٔ ښهٔ وائی ځويه ، دې له وخت ورکول نه دی پکار بلکه چې څومره زر کيديشی هومره به ښهٔ وی ـ زما زړهٔ نور صبر نه کوی ...ځويه که تهٔ تيار يې نو هله اوس به روان شو ـ

فرحان :ـ بی بی ، زهٔ خو راغلې هم دې دَ پاره يم ـ زما په زړهٔ کښې دَ هغې متعلق ډيرې وسوسې دی ـ څهٔ پته لگی ، حالات نور خراب نشی او هغې ته څهٔ نقصان اونه رسی ـ

پروين بی بی :ـ ځويه زهٔ تياره يم ( زهره ته ) ته ورشه زهره جمعه خان ته وايه گاډی تيار کړه چی ځو ـ

چندریه :- بی بی ما کور تپوس نه دې کړې ۔

پروین بی بی :- مونږ به خپل تیارې اوکړو او ته کور ته کال اوکړه او تولـه خبره ورته اوکړه (دې سره هغه پاسی او بهر اوځی )

لږه شیبه پس هغوی تول په ګاډی کښې کینی او پیښور ته روان شی۔

## دویمه برخه

دَ فرحان په مرور تلو باندې سوراج دومره خفه وه چې پوره یو شوا روز هغه په خپله بستره کښې ډبه ، ډوبه پټې سترګې پرته وه ۔ فرحان دَ هغې دَ مینې کائنات وو۔ دَ هغهٔ په تلو باندې دَ هغې امیدونه ، ارمانونه ، دَ حال او مستقبل خوشحالۍ ، هرڅهٔ لاړل او هغې سره هیڅ پاتې نشو ۔ دَ هغهٔ خبرې ، دَ هغهٔ ناسته پاسته ، دَ هغهٔ کړهٔ اوړهٔ، دَ هغهٔ خندرویه ځهره او دَ هغهٔ یوه یوه ادا به هغې ته یادیده او په هغې به کړیده ۔ دَ فرحان دَ خفګان وجه هغې مهندریه ګڼله او دَ هغې خفګان رو رو په غصه کښې بدلیدو ۔ دَ هغې په خیال کښې دَ هغې دَ ارمانونو دَ تباهی قصورواره مهندریه وه ۔ دَ هغې دَ غصې اندازه دې نه لګی چې کله دَ هغې سترګې اوغړیدې ، دَ کټ نه پاڅیده او دَ خپل ډول سنګار نه اوزګاره شوه نو جیون رام یې راؤغوښتو او دَ هغهٔ نه یې دَ هغې متعلق تفصیلی بیان واخستو ۔ دَ جیون رام زړهٔ خو هغې ته دَ مخکښې نه ډک وو نو هغهٔ ورته دَ تیرې شپې هغه واقعه هم اوویله چې فرحان دَ هغې کمرې ته ورغلې وو او هغې سره یې په یو لوښې کښې خوراک کړې وو۔ دې سره دَ هغې دَ غصې جذبات نور هم



www.pukhto.net



مشتغل شو ، هغه یې ځان سره کړو او دَ مهندریه کمرې ته په داسې وخت کښې ورغلل چې هغه دَ خپل کار نه فارغه شوې وه او دَ سر په پولۍ ویښتو کښې یې ګمنز وهله ۔ هغه چې دَ هغوی په اراده پوهـ شوه نو هغې باندې دَ یرې زلزل راغی ۔ هغه اودریده او په ولاړه ولاړه یې ځان راغونډ کړو ۔ دَ ورتلو سره سوراج هغه په دواړه لاسه دَ ویښتو نه اونیوه او ځان پسې یې راخکله ۔ په راخکلو راخکلو کښې یې دَ هغې ویښتو له چیکونه ورکول او په چیکونو چیکونو کښې یې دَ هغې سر ځنډلو ۔ هغې په قهریدلې لهجه کښې اووې "پلیتې ، تهٔ خو پلیته یې ، زما ځوے دې هم ناپاکه کړو" مهندریه په تیټو سترګو جواب ورکړو ، "ماڅهٔ کړی دی امّی ؟ ماهیڅ نه دی کړې ....ماپریږده امّی "۔ سوراج دَ هغې سر له ځنډ ورکړو او ورته یې اووې ، "هله به دې پریږدم چې دا ویښتهٔ درنه په موټو کښې اوباسم "۔

مهندریه :- ویښتهٔ رانه ولې اوباسې امّی ۔ ماڅهٔ ګناه ، خطا کړې ده ؟ ماپریږده امّی ، ماهیڅ نه دی کړې ۔

سوراج :- هله به دې پریږدم چې ساه درنه اوباسم ۔ (دَ هغې ویښتو له چیکونه ورکوی ) ۔

مهندریه :- امّی چې څهٔ دې خوښه وی هغه راسره اوکړه خو خپله ګناه خو راته اوښایه کنه ۔

سوراج (جیون رام ته) تهٔ ورته ګورې او دا ژبه چلوی ۔ دا ژبه ترینه پریکړه ۔ دَ سوراج دَ حکم په تعمیل کښې هغه مهندریه له په تشی

Pukhto.Net

کښې داسې سخته لته ورکړه چې دَ لتې سره هغه په زمکه راپريوته او دَ هغې دَ سر ويښتهٔ دَ سوراج په موټو کښې پاتې شو ـ بيا په فاتحانه انداز دَ هغې په سينه سور شو او په مخ يې داسې شړق ورکړو چې هغه يې ړنده کنه کړه ـ

سوراج :ـ ژبه ترينه پريکړه چې دَ خبرو نه پاتې شي ـ "معلومه نه ده چې هغې دا خبره ارادی طور اوکړه او که دَ هغې دَ يرولو دَ پاره يې د دپکې په طور اوکړه خو جيون رام دَ بدې نه چاقو را اوويستلو او هغې ته اووې، "*جوبان نکالو پليد کہيں کی*"۔

مهندريه :ـ جيون رام تهٔ تکليف مهٔ کوه ـ دا چاقو ماله راکړه چې ستا په مخکښې يې پريکړم او ستا په مخ يې دراولم "۔

جيون رام "ارے حبيث جوبان چلاتی هو ؟ هغه دَ هغې دَ شونډو په مينځ کښې دَ هغې په غاښونو دَ چاقو سوکه اړدی او زور ورکوی خو هغه غاښونو له دومره زور ورکړی چې هغه دَ خپل کوشش باوجود هم دَ هغې خوله کهلاؤ نکړې شي ـ البته دَ هغې لاندې باندې اوری، او شونډې زخمی شي ـ هغه دَ درد نه سمه ليونۍ شي ـ په دغه ليونتوب کښې هغه دَ هغه نه په مخ سپيړه اوباسی ـ دې سره هغه دَ لاندې نه په انتهائی طاقت ټوپ کړی او پاسی ـ دَ هغې دَ پاسيدو سره جيون رام لاندې غورځيږی ـ جيون ډير په تيزۍ سره پاڅی او په هغې دَ چاقو ګزار کوی ـ مهندريه دَ ځان بچ کولو دَ پاره چاقو ته لاس نيسی ـ چاقو چې دَ هغې په تلی اولګی نو دَ وينو فواره ترينه راوځی



www.pukhto.net



ـ چې هغه پرې بل ګزار کوی نو هغه دَ کمرې نه بهر ته منډه کړې او چغې وائی ، "مابچ کړه صيب جی جيون رام مِ وژنی ...صيب جی جيون رام رانه ژبه پريکوی ...ما بچ کړه پليز ـ هغه فرحان ته ورتر غاړه ووځی او دَ هغهٔ په اوږه سر اږدی ـ دَ هغهٔ سترګی ډکی شی او هغې ته وائی ، "يريږه مه مهندريه ـ تهٔ زما غيږ له رارسيدلې يې او دا غيږ به تل ستا حفاظت کوی "ـ پروين بی بی او چندريه دې زړهٔ بوګنونکی او روح لړځونکی منظر ته په يره يره ګوری ـ سوراج دَ مهندريه دَ ويښتو شوړې په لاس او جيون رام دَ وينو سور چاقو په لاس ولاړ وی ـ جمعه خان په خپل موبائيل دَ هغوی فوټو ګرافی کوی ـ مهندريه لا هغسې فرحان پورې انختې وی او سلګی وهی ـ پروين بی بی او چندريه دَ ډير خفګان له کبله لکه دَ بے روحه بُتانو هغوی ته په غټو غټو کتل او خاموش وې ـ جمعه خان چې دَ هغوی تصويرونه اوويستل نو بيا ورځی او دَ جيون رام دَ لاس نه چاقو اخلی ـ فرحان پروين بی بی ته ګوری او وائی ، " بی بی هغه اوشو څهٔ نه چې زهٔ يريدم ـ مادرته ويلې وو چې څومره زر کيديشی نو هغه د دغه عذاب نه ويستل پکار دی ـ پروين بی بی او چندريه په چغو چغو ژاړی ـ چندريه په ژړا ژړا کښې وائی ، "زما لورې زهٔ ستا مجرمه يم ـ ما دَ خپله لاسه دې قصاب خانې ته راوستې او دې قصابانو له مِ لاس کښې ورکړې "ـ پروين بی بی په ژړا ژړا کښې وائی ، " زور مو نصيب مه شه ـ دَ ظلم کاسه مو نسکوره شه "ـ

دَ مهندريه دَ خولې او لاس نه وينه بهيږې او په هغې دَ مهندريه جامې هم ككړيږې او دَ فرحان جامې هم ككړيږې ـ هغه مور ته ګورى او وائى ، "امّى دا ميلمانۀ تاسره ليدل غواړى ـ دَ هغۀ خبرې سره پروين بى بى او چندريه هم هغى ته ګورى ـ هغوى دواړه ورمخكښې شى دَ هغې دَ لاسونو نه دَ وينتو شوړې اخلى او خپلو لاسونو كښې يې نيسى ـ جمعه خان جيون رام دَ لاس نه اونيسى او ځان سره يې روان كړى او پروين بى بى او چندريه سوراج دَ لاس نه اونيسى ـ جيون رام او سوراج باندې دومره وارخطائى راغلې وه چې هغوى ، هغوى سره په تلو كښې هډو لم ليټ اونكړو ـ په تلو تلو كښې پروين بى بى او چندريه ، مهندريه ښكلوى او دَ هغې په حالت زار باندې اوښكې بهوى ـ چې دَ دهرمسال نه اوځى نو هغوى ټول په ګاډى كښې كينى او تانى ته لاړ شى ـ چې دَ جيون رام او سوراج خلاف رپورټ درج شى نو هغوى حوالات كښې بند كړى شى او مهندريه هسپتال ته اورسولې شى ـ دَ رسيدو سره دَ هغې پټۍ اوشى او ډريپ او انجكشنې هم ورته شروع شوې ـ دې نه پس هغه پلار ته كال اوكړه او ټوله قيصه يې ورته اوكړه ـ لږه شيبه پس هغه هسپتال ته اورسيدو ، دَ فرحان او مهندريه دَ پاره يې جامى هم راؤړې او پيسې يې هم راؤړې ـ هغه دَ جامو غوټه يوخوا ته كيښودو ، دَ جيب نه يې پيسې را اوويستلې او غلې غوندې يې هغۀ له وركړې ـ

دې نه پس هغه دَ جمعه خان په ګاډى كښى هغه سره ټمپل ټو ته لاړو



www.pukhto.net



ـ هلته نه يې دَ مهندريه ټول سامان راواخستو او په ګاډى كښې يې كيښودو ـ دَ مهندريه حالت دَ خطرې نه بهر وو ـ ټول دَ هغې دَ بيډ نه چاپيره ولاړ وو او هغې سره يې دَ همدردۍ اظهار كوو ـ دَ فرحان نه علاوه دغه ټول كسان دَ هغې دَ پاره اجنبى وو ـ دَ شونډو دَ پټۍ په وجه هغې اګرچۀ خبرې نشوې كولې خو اوكړې ښۀ وو ـ فرحان دَ هغې خوا له ورغى او ورته يې اووې ، "مهندريه اوس ستا دَ قسمت ستورې دَ ګردش نه اووتو ـ ته دومره خوش قسمته يې چې شپاړس كاله پس درته خپله نيا ملاؤ شوه "ـ

هغه پروين بى بى ته اشاره كوى او وائى "مهندريه دا بى بى ستا نيادة يعنى ستا دَ مور ، مور ده "ـ بيا چندريه ته اشاره كوى او وائى ، "دا بى بى ستا روحانى مور ده "ـ مهندريه چې دَ هغۀ خبرې ووړې نو په سترګو كښې يې ځلا او په وخكو كښې مُسكا راشى هغه هغوى ته په مينه مينه ګورى او په تندى دَ سلام لاس اړدى ـ

دَ ماښام تيارۀ خورۀ شوې وه ـ فرحان نه غوښتل چې پروين بى بى او چندريه هسپتال كښې مهندريه سره پاتې شى ځكه چې هغوى ميلمنې هم وې او سترې هم وې ـ هغوى ته دَ ارام ضرورت وو ـ دې دَ پاره دَ هغۀ په وينا هغوى ټول دَ زنده باد كاكا سره دَ جمعه خان په ګاډى كښې كلى ته لاړل ـ

دَ هغوى دَ تلو نه پس دَ هغې سترګې په هغۀ پرتې وې ـ په سترګو سترګو كښې به يې دَ هغۀ شكريه ادا كوله ـ چې كوم خوا به هغۀ تلو

نو دَ هغې نظر به ورپسې وو ۔ چې کوم خوا به هغه تاویدو نو دَ هغې سر به ورپسې تاویدو ۔ فرحان اګر څۀ دَ سوراج او جیون رام په ظلم او بربریت خفه هم وو او غصه هم وو ، خو په دې دَ الله نه شکر ګزار وو چې هغوی عین په موقعه وراورسیدل او دَ هغوی دَ مزید ظلم مخ نیوې اوشو ۔ دې خیال سره به کله کله دَ هغۀ په مخ مُسکا خوره شوه ۔ هغې ته به ورنزدې شو او په مُسکا مُسکا به یې تسلی ورکوله ۔

صبا سحر پروین بی بی او چندریه دَ هغې پوښتنې له هسپتال ته لاړل ۔ هغوی په زار وقربان هغه ښکل کړه او دَ هغې بلاګانې یې واخستې ۔ پروین بی بی غوښتل چې هغه ځان سره اسلام آباد ته بوځی ۔ هلته به یې هسپتال کښې هم داخله کړی او دَ خپلې مینی پاتې تنده به پرې ماته کړی ۔ په دې غرض هغې فرحان ته اووې ، "ځویه زۀ ویم چې دا نمسۍ م ځان سره اسلام آباد ته بوځم او هلته یې په هسپتال کښې داخله کړم ۔ ستا څنګه خوښه ده " ؟

فرحان :۔ دا خو ډیره ښۀ خبره ده بی بی ۔ زما پرې هیڅ اعتراض نیشته ۔ د دې تلو سره به زما ډیوټی هم ختمه شی او زۀ به خپلې مزدورۍ ته اوزګار شم ۔ خو د دې نه تپوس اوکړه چې دا څۀ وائی "؟

پروین بی بی هغې ته ورنزدې شوه او ورته یې اووی ، "لورې مونږ تا اسلام آباد ته بوځو ۔ هلته به دې په هسپتال کښې داخله کړو ، داسې دې خوښه ده ؟ مونږ سره ځې ؟

دَ هغې دَ اشارو او تاثراتو نه معلومه شوه چې هغه دَ فرحان نه بغیر بل



www.pukhto.net



چا سره تلل نه غواړی ۔ پروین بی بی چې دَ هغې نه نااُمیده شوه نو فرحان ته یې اووې ، "ځویه دا خو مونږ سره تلل نه غواړی ، زۀ څۀ اوکړم "۔

فرحان :۔ بی بی دا خپلې مرضی ته پریږده ۔ که تاسو تلل غواړۍ نو لاړ شۍ ۔ د دې فکر مۀ کوه چې دا ښۀ شی نو زۀ به یې په خپله درولم "۔ پروین بی بی په خپله خبره زور وانه چوو او دَ فرحان مشوره یې خوښه شوه ۔ البته دَ هغۀ نه یې اجازت واخستو او دواړه اسلام آباد ته روانې شوې ۔ فرحان هغوی په عزت رخصت کړې او مهندریه له واپس راغې ۔

په دریمه ورځ دَ وارډ انچارج ډاکټر چې دَ هغې معائنه اوکړه نو دَ هغې حالت تسلی بخش وو ۔ دَ هغې دَ شونډو پټۍ پرانستې شوې ، البته دَ لاس دَ زخم په باره کښې یې هدایات هم ورکړل ، نسخې یې هم ورته اولیکلې او ډسچارج یې کړه ۔ دَ ډسچارج کیدو نه پس هغۀ هغه په ټیکسی کښې کینوله او خپل کور ته یې بوتله ۔ افروزه بی بی دَ هغې په لیدو او راتلو ډیره خوشحاله شوه ۔ هغې ورمنډه کړه ، خپلې سینې پورې یې اونیوله او څو څو ځله یې ښکل کړه ۔ بیا یې ورته خپله کوټه کښې کټ سم کړو او په هغې کښې یې په مزه سملوله ۔ یوه شیبه پس زنده باد کاکا هم راغې او دَ هغې نه یې دَ بیمارۍ په باره کښې معلومات اوکړل ۔ فرحان هغې سره دَ خپل مور پلار پیژندګلو اوکړه ۔ دَ هغوی په پیژندګلو هغه دومره خوشحاله شوه چې دَ کټ نه

پاسيده او هغوی ته يې دَ ناستې ست اوکړو ـ افروزې بی بی هغه په کټ کښې سملوله او ورته يې اووې ،، " پاسه مه لورې ، تهٔ ناجوړه يې او زخمونه دې کچه دی ـ ستا دَ پاره پاسيدل او ګرځيدل ښهٔ نه دی "ـ افروزی بی بی به لکه دَ خپلې لور دَ هغې دَ خوراک څخاک او ارام خيال ساتو ـ چې لړه به په کټ کښې خوځيده نو هغه به ورته حاضره ولاړه وه . فرحان به چې کله دَ کار نه اوزګار شو نو هغه به هم دَ هغې خوا له ورتلو او دَ هغې اښتنه پوښتنه به يې کوله خو دَ مور په وجه ورسره زيات نه کيناستو ـ

## دريمه برخه

فرحان دَ مهندريه په وجه دَ مور نه خفه وو او هغهٔ نه غوښتل چې هغې سره بياليدل کتل اوکړی خو موربيا هم مور وی ـ که هغه هر څهٔ وی خو مور وی ـ دَ مور نعم البدل صرف او صرف مور وی نور هيڅ نه ـ هغهٔ ته به چې کله دَ مور مينه مخکښې شوه نو لکه دَ سودائی به دَ ملاستې نه کيناستو ، دَ ناستې نه به پاسيدو او دَ ولاړې نه به روان شو ـ ټوله شپه به ډډې په ډډې په کټ کښې اوخت را اوختو خو خوب به نه ورتلو او چرته اتفاقی طور که به يې سترګې اولګيدې نو هغه به ورته مخکښې شوه ـ کله کله به دَ شپې په توره تيارهٔ کښې دَ کوره اووتو او بهر به دَ هغې په خيالونو کښې ګرځيدو ـ هغه ته دا ډيره بے مناسبه او ناروا ښکاريده چې هغه په کټ کښې پروت دې او دَ هغهٔ مور په حوالات کښې بنده ده ـ چې کله دَ هغې دَ


www.pukhto.net



خيالونو او يادونو نه ډير تنګ شو نو يوه ورځ سحر وختی دَ کوره اووتو او تانې ته لاړو ـ هلته يې دَ مور تپوس اوکړو خو هغه ته اوويلې شو چې هغه چالان شوې ده او دَ پيښور په سنټرل جيل کښې ده ـ اګر چهٔ دَ هغه په مور دَ جيون رام غوندی دَ دفعه 324 لاندې رپورټ نه وو درج شوې بلکه دَ اعانتِ جرم په دفعه کښې ګيره وه او دَ هغې کيس قابلِ ضمانت وو۔ هغهٔ دَ تانې نه دَ هغې دَ کيس نقل واخستو او کچهرۍ ته لاړو ـ هلته يې وکيل سره خبره اوکړه او کيس عدالت ته مخکښې شو۔ جج چې دَ هغې دَ کيس يوه سرسری جائزه واخسته نو دَ هغې ضمانت يې منظور کړو ـ چې کله دَ هغې ضمانت اوشو نو هغه پرچه يې جيل ته يوړه او داروغه له يې ورکړه ـ هغه لا دَ هغهٔ په دفتر کښې ناست وو چې دَ هغهٔ مور دَ جيل نه را اووته ـ فرحان چې هغه اوليده نو ورمنډه يې کړه ، هغې ته ورترغاړه وتو او هغه يې ښکل کړه ـ سوراج په چغو چغو په ژړا شوه ـ په دغه ژړا ژړا کښې مور او ځوې دَ جيل دَ احاطې نه بهر شو ـ په دې دومره موده کښې دَ ټمپل ټو هيچا نه دَ هغې تپوس اوکړو او نه ورپسې تانې يا جيل ته ملاقات له ورغلل ـ فرحان ړومبې او روستې کس وو چې دَ هغې تپوس يې هم اوکړو ، دَ هغې ضمانت يې هم اوکړو او هغه يې دَ جيل نه هم اوويستله ـ سوراج به هغهٔ نه معافی غوښتله او هغهٔ به دَ هغې نه معافی غوښتله ـ په دغه معافۍ معافۍ کښې يې هغه په رکشه کښې کينوله او ټمپل ټو ته يې اورسوله ـ هغه يې دَ مندر

ګیټ سره کوزه کړه او ورته یې اووی ، "امّی خفه نشې زۀ درسره مخکښې نشم تلې". هغې هم دَ هغه تګ مناسب اونه ګڼو ـ هغه یې ښکل کړو او ډیرې دعاګانې یې ورته اوکړې ـ هغې هغه یو ځل بیا ښکل کړو او په ډکو سترګو یې هغه رخصت کړو ـ دَ هغې دَ تلو نه پس هغه ډیر خوشحاله وو چی خپله مور یې په خپلو منډو تړړو دَ جیل دَ تورو تمبو نه اوویستله ـ هغه دَ ننی ورځ دَ بزرګیت او تقدس نه ډیر مطمئن وو او دا یې دَ خپل ژوند بختوره ورځ ګڼله ـ هغه لا په دغه خوشحالی او دَ خوشحالی په خیالونو کښې خوشحاله خوشحاله روان وو چې دَ هغه په موبائیل رنګ راغی ـ هغۀ چې دَ موبائیل نمبر ته اوکتل نو هغه دَ هغۀ دَ مور افروزې بی بی دَ موبائیل نمبر وو. هغه مُسکے شو، موبائیل یې اوچت کړو او وې وئیل ، " مورې سلام علیکم ، ولې خیر خو دې ـ ځنګه دې کال اوکړو".

افروزه بی بی :ـ هسې تپوس مِ کوو ځویه چې تۀ چرته یې ؟

فرحان :ـ مورې زۀ پیښور کښې یم ، ولې خیر خو دې ؟

افروزه بی بی :ـ هاؤ ځویه خیر دې خو هسې ماوې که جیب کښې دې پیسې وی یو نو ځان سره یو دوه سیره ښۀ غوندې متهائی راؤړه ـ

فرحان (مسکے شی ) متهائی ؟

افروزه بی بی :ـ هاؤ ځویه ـ ښه سو چه متهائی راؤړه ځویه ـ

فرحان :ـ ډیره ښه ده مورې غم مۀ کوه ، هرڅۀ به اوشی ـ "هغۀ په زړۀ کښې کرل ریبل چې شاید څوک میلمانۀ راغلی دی ؟ بیا یې په زړۀ



www.pukhto.net



کښې خیال راغی چې کیدیشی پروین بی بی او چندریه راغلی وی . موبائیل لا دَ هغۀ لاس کښې وو چې بیا پرې رنګ راغی ـ هغۀ چې دَ موبائیل نمبر ته اوکتل نو هغۀ دَ فرزانې وو. هغۀ موبائیل اوچت کړو او دَ هیلو سره یې اووې ، "ماته پته ده بی بی زۀ درځم". دې سره هغه موبائیل بند کړو ـ هغۀ دَ مور دَ خواهش مطابق متهائی هم واخسته او دَ خپل طرف نه یې څۀ بیکری وغیره هم واخسته ، کور دَ پاره یې سودا هم اوکړه او کور ته روان شو ـ دَ مازیګر وخت وو چې هغه دَ کور مخې ته دَ ګاډی نه کوز شو ـ دَ ګاډی نه یې سودا هم کوزه کړه او ډکه غیږ یې کور ته یوړه ـ چې کور ته دننه شو او اوې کتل نو په غول کښې پوړ غوړیدلې وو. په هغې دوه مصلې پرتې وې او دوه زنانه نمانځۀ ته جختې ولاړې وې ـ یوه هغه اوپیژنده چې دَ هغۀ مور وه خو بله یې اونه پیژنده ـ هغه په دې حیران شو چې دَ مازیګر دَ نمانځه قرأت خفیه کیږی خو دَ هغۀ مورې په جهرولې کوی ـ هغۀ سودا بهر په کټ کښې کیښوده او دَ مهندریه لیدو دَ پاره دَ مور کوټې ته ورغی ـ هغه په کټ کښې نه وه خو په بل کټ کښې زنده باد کاکا ناست وو. زنده باد کاکا چې هغه اولیدو نو ورپاسیدو ، هغه ته ورترغاړه وتو او ورته یې اووې ، "اومبارک شه ځویه ، ستا میلمنه مهندریه مسلمانه شوه او مور سره دې په مصله ولاړه ده". دې ناګهانی زیری سره هغه دومره خوشحاله شو چې دَ هغه په خوله یې اعتبار نه کیدو خو چې کله ورته هغه مُسکے شو او بیا یې مبارکی

ورکړه نو هغه لکه دَ ماشوم په ټوپونو شو او په کوټه کښې تاويدو۔ هغوی لا په نمانځۀ ولاړ وو چې هغه دَ کوټې نه بهر اووتو او په پوړ په سجده پريوتو ۔ دَ هغۀ سجده دومره اوږده شوه چې زنده باد کاکا دَ هغۀ په ژوند اويريدو ۔ هغه ټيټ شو او چې په يره يره يې دَ هغۀ خولې ته اوکتل نو دَ هغۀ شونډې خوځيدې او اوښکې يې بهيدې ۔ زنده باد کاکا هغه په ملا اوټپوو او اودريدو ۔ هغه لا په سجده پروت وو چې دَ هغۀ مور او مهندريه سلام اوګرځوو ۔ دَ سلام ګرځولو نه پس هغوی دواړو هغه اونيوو او په دواړه کسه يې اوچت کړو ۔ دَ پاسيدو سره چې هغۀ مهندريه ته اوکتل نو په ځان پو هـ نشو او هغې ته ورترغاړه وتو۔ مهندريه دَ هغۀ په غيږ کښې په چغو چغو په ژړا شوه ۔ هغۀ دَ هغې اوښکې اوچې کړې او ورته يې اووی "مبارک شه مهندريه"۔ بيا مور ته ورترغاړه وتو هغه يې ښکل کړه او هغې له يې مبارکی ورکړه ۔ دَ هغوی ښکلول لا جاری وو چې زنده باد کاکا چائے او دَ متهائی ډبلے راؤړو ، هغوی ته يې کيښودو او په خپله هم ورسره کيناستو ۔ نن دَ هغوی دَ پاره دَ لوې خوشحالۍ مبارکه ورځ وه ۔ فرحان دَ متهائی دانه اوچته کړه او دَ مهندريه خولې ته يې اونيوه ۔ هغې دَ متهائی دانه په لاس کښې اونيوه خو دَ هغې دَ سترګو نه لا هغسې اوښکې روانې وې ۔ هغه مُسکے شو او هغې ته يې غلې غوندې اووې" نن خو دَ خوشحالۍ ورځ ده ، تۀ ولې ژاړې "؟ هغې ورته په ژړا ژړا کښې اووې ، "صيب جی ، ژاړم په دې چې دومره وخت مِ ولې



www.pukhto.net



ضائع کړو ۔ کاش زه مسلمانه پيدا وې "۔ فرحان دَ هغې دَ تسلۍ دَ پاره اووې ، "مهندريه هرماشوم مسلمان پيدا کيږی خو معاشره ترينه يو څۀ او بل څۀ جوړ کړی ۔ ته هم مسلمانه پيدا وې خو دې معاشرې بے لارې کړې وې ۔ اوس چې بيا په لار شوې نو يوې کلمې سره ستا ټول ګناهونه معاف شو "۔

مهندريه هغۀ ته په غټو غټو ګوری او وائی ، "ته رشتيا وائې صيب جی " ؟

فرحان :۔ بالکل رشتيا ، دې سره هغه مسکی شی او دَ متهائی دانه په خولې کړی ۔ دَ چائے څکلو نه پس زنده باد کاکا دوکان ته لاړو او افروزې بی بی بورقه په سر کړه او په کورونو کښې يې شيرينی ويشله ۔ فرحان او مهندريه لا هغسې په پوړ ناست وو او يو بل ته يې په غټو غټو کتل ۔ هغۀ ته داسې ښکاريده چې دَ اسمان نه ملائکه راکوزه شوې وی او هغۀ سره څنګ په څنګ ناسته وی ۔ هغوی لا هغسې دَ يو بل په سترګو کښې سترګې ورکړې وې او په خپلو خيالونو کښې اورک وو چې دَ هغۀ مور بيا راغله او هغوی سره کيناسته ۔ هغوی چې دَ هغې په راتلو پو هـ شو نو يو بل نه يې سترګی واړولې ۔افروزې بی بی فرحان ته په التجائی سترګو اوکتل او ورته يې اووې ، "ځويه دې له يو خائسته غوندې اسلامی نوم خوښ کړه ۔ دا نوم زما نه دې خوښ "۔

فرحان :۔ مورې دې له مانوم خوښ کړې دې خو ستا مشورې ته خبره

بنده ده ۔

افروزه بی بی :۔ څۀ نوم دې ورله خوښخ دې ځویه ۔

فرحان (مسکے شی) ملائکه ....څنګه نوم دې مورې ؟

افروزه بی بی :۔ ډیر ښۀ ، ډیر ښۀ ۔ دې سره بالکل مناسب دې ۔ چې څنګه دا ده نو هغسې خداې نوم هم ورکړو ۔ څه مبارک دې شه لورې ، ( دې سره یې په دواړه مخه ښکلوی ۔ )

سحر چې فرحان ناشته اوکړه او خپلې کوټې ته روان شونو ملائکې ورته اووې ، "صیب جی " دې سره هغه په روانه روانه کښې خپه نیولې شو او ملائکه چپ شوه ۔ فرحان هغې ته په مُسکا اوکتل او وې وئیل ، "ولې ملائکې په زړۀ دې څۀ دی " ؟

ملائکه :۔ صیب جی یوه خبره مِ درته کوله خو ماوې چې بد اونه ګڼې۔

افروزه بی بی :۔ بد به ولې ګڼی لورې ۔ ښه په ډاګه خبره کوه ۔ یریږه مه دا ستا کور دې ، وایه لورې ۔

ملائکه :۔ صیب جی که خفه کیږے نه نو زۀ ویم چې امّی پسې لاړ شه او هغه دَ جیل نه اوباسه ۔ زۀ دَ هغې په وجه ډیره پریشانه یم۔

فرحان (سنجیده شی) ملائکې ، تۀ دَ هغه امّی دَ پاره پریشانه یې ، چا چې تۀ رانده کړې ؟ چا چې ستا دَ سر نه په موټو موټو ویښتۀ اوویستل ، دَ چا په حکم چې جیون رام تانه ژبه پریکوله ، دَ چا په حکم چې تۀ زخمې زخمې شوی او هسپتال ته لاړې ۔

ملائکه :۔ صیب جی هغه که هرڅۀ ده خو زما امّی ده ۔ زۀ یې وړه


www.pukhto.net



لویه کړې یم او زما یې ډیر خدمت کړې دې ۔

فرحان :۔ هغه پریږده ، هغه ستا امّی نه ده ۔ ځان تیار کړه چې تا خپلې نیا له بوځم ۔ دا ځویمه ورځ ده چې کالونه کوی او ستا تپوسونه کوی ۔ بیګاه خو یې ډیره منت زاری کوله او وې یې چې هغه راوله "۔

فرحان لګیا وی خبرې کوی او هغه ټیټې سترګې لاندې ګوری ۔ "تۀ خوشحاله نشوې ؟ اسلام آباد ته نۀ ځې ؟ (هغه چپ وی) " تاته ویم کنه ملائکې ؟

ملائکه :۔ صیب جی چې تر څو امّی دَ جیل نه نۀ وی اوتې نوزړۀ مِ نه خوشحالیږی ۔

فرحان :۔ تۀ اسلام آباد ته ځې که نه ځې ؟

ملائکه :۔ صیب جی ستا حکم په سر سترګو ، چې تۀ وائې نو لاړه به شم درسره خو هلته به مِ هم زړۀ ختلې وی ۔

افروزه بی بی :۔ یَه ځویه ښه وائی درته کنه ۔ لاړ شه ورپسې ځویه ، مور دې ده ۔ دَ هغې درباندې حق دې ۔ هغه به هم خوشحاله شی او دا به هم خوشحاله شی ۔

فرحان ( ملائکې ته ) ښه نو دا خبره ده او که بله شته ؟

ملائکه :۔ نه صیب جی بله نیشته هم دا خبره ده ۔

فرحان (مسکے شی) ښَه نو ستا دَ پاره دا زیرے دې چې زۀ هغې پسې پرون تلې ووم ۔ هغه مِ دَ جیل نه راوستې ده او اوس په ټمپل ټو کښې ده ۔

ملائکه (مسکی شی) ته رشیا وائے صیب جی "؟



Pukhto.Net پښتو

فرحان :۔ هاؤ ملائکه ، بالکل رشتيا ، ملائکه دومره خوشحاله شي چې دَ ډيرې خوشحالۍ نه افروزې بی بی ته ورترغاړوځی او هغه ښکلوی ۔

فرحان (خاندی) واه ملائکه واه ۔ منډې ما اووهلے اوښکلوې هغه"؟

دې سره ملائکه او افروزه بی بی دواړه په خندا شی ۔

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★

★★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net



## اووم باب

فرحان او ملائکه دَ يو بل په مينه روک ليونی وو۔ په تمپل تو کښې هغوی ته دَ يو ځائې ناستې او خبرو موقعه ملاويده خو په کور کښې ورته نه ملاويده ۔ زنده باد کاکا او افروزې بی بی ته دَ هغوی دَ مينې هم احساس وو او دَ خپلی ذمه وارئ هم ۔ هغوی غوښتل چی دَ هغوی وادهٔ زر تر زره اوشی او دَ هغوی ذمه واری تر سره شی ۔ دَ وادهٔ په باره کښې به چې کله افروزی بی بی دَ فرحان نه تپوس کوو نو هغه به مُسکے شو او بهر ته به اووتو ۔ او چې دَ ملائکې نه به يې تپوس اوکړو نو هغه به اوشرميده او دَ څهٔ کار په بهانه به دَ هغې دَ خوا نه پاسيده او روانه به شوه ۔

فرحان اګر چه ډير سپين سترګے وو او هره خبره به يې په ډاګه کوله خو معلومه نه ده چې اوس دَ هغهٔ په خوله مهر سکوت ولې لګيدلې وو۔ بهرحال زنده باد کاکا او افروزې بی بی خپلو کښې صلاح اوکړه چې په دې کارِ خير کښې نوره سستی نه ده پکار ۔ افروزه بی بی دَ هغه ورځې په طمعه وه چې کله هغوی اسلام آباد ته ځی نو هغه به هم ورسره لاړه شی او پروين بی بی سره به دَ وادهٔ دَ نيټې خبره اوکړی ۔ چې نيټه اوټاکلې شی نو ملائکه به هلته پريږدی او هغوی به ترينه واپس راشی ۔ دَ يو څو ورځو دَ انتظار نه پس اخر يوه ورځ هغوی ته يې دَ تيارئ او اسلام آباد ته دَ تلو دَ پاره اووې ۔ څهٔ دَ هغوی انتظار وو او څهٔ موسم خوشګوار وو ۔ هغوی درې واړه په خوشحالۍ

خوشحالۍ ګاډی ته اوختل او اسلام آباد ته روان شو ـ ملائکه ډیره خوشحاله وه ـ داسې معلومیده چې هغه په ړومبی ځل دې دنیا ته راغلې ده ـ په ټوله لاره لګیا وه افروزې بی بی سره یې پټې پټې خبرې هم کولې او ځاې په ځاې به یې نظارو ته اشارې هم کولې ـ چې اسلام آباد ته لږه فاصله پاتې شوه نو فرحان پروین بی بی ته کال اوکړو او دَ ورتلو اطلاع یې ورکړه ـ پروین بی بی په دې خبر ډیره خوشحاله شوه او ډیر په شدت سره یې دَ هغوی انتظار کوو ـ چې هغوی وراورسیدل نو په هغې بے اختره اختر شو ـ هغې ملائکه ډیر په خراب حالت کښې لیدلې وه خو چې اوس یې اولیده نو هغه دومره خائسته شوې وه چې دَ ړومبی سپرلی غوړه غنچه ترینه جوړه شوې وه ـ هغې هله اوپیژنده چې ورمخکښې شوه او ورته یې اووې، "نانی سلام علیکم " او چی کله ورترغاړه وته او خپله وینه، خپلې وینې سره ملاؤ شوه نو دَ هغې زړۀ په ټوپونو ټوپونو دَ خپلې وینې ګواهی اوکړه ـ پروین بی بی ډیره شیبه دَ هغې سر خپلې سینې پورې نیولې او دَ خپلې نمسۍ په ګرمه وینه یې خپل دَ حادثو وهلې زړۀ ټکوره وو ـ هغې ډیر شیبه هغه ښکلوله او دَ خپلې مینې تنده یې ماتوله ـ بیا یې هغوی په عزت سره په ګسټ روم کښې کینول او دَ مشروباتو او خوراک څخاک دور شروع شو ـ

هغوی هلته دوه ورځې په میلمستیا هم تیرې کړې او دَوادۀ نیټه یې هم کیښوده ـ په دریمه ورځ چې کله فرحان او افروزې بی بی کلی ته دَ



www.pukhto.net



تلو تیارې شروع کړو ـ نو ملائکې هم خپله غاړه غوټه اونغښته او تیاره شوه ـ پروین بی بی چې دَ هغې په نیت پوهـ شوه نو ورته یې اووې، "لوری، تاولې غاړه غوټه اونغښته ؟ او چرته ځی؟ "ـ هغې ورته په لا پروائی اووئیل، "نانی، زۀ امّی اوصیب جی سره کلی ته ځم "ـ

پروین بی بی (خاندی) "یه لورې مونږ ستا دَ وادۀ نیټه کیښوده ـ تۀ دوی سره نشې تلې ـ تا به زۀ بازار ته بوځم، ځان له به دَ واده دَ پاره شاپنګ کوې او دَ خپلې خوښخوی څیزونه به اخلی، دوی به تا پسې په جنج راځی تابه ناوې کوی، ستا ګاډې به ناوې کوی او تابه دَ ناوې په حیث ځان سره بوځی "ـ

ملائکه :ـ نه نانی زۀ دَ صیب جی او امّی نه بغیر نشم پاتیکیدی ـ که دوی پاتې کیږی نو زۀ به هم ورسره پاتې شم او که دوی ځی نو زۀ به هم ورسره ځم "ـ

پروین بی بی (خاندی) دوی خو ځی ستا دَ وادۀ تیارې کوی ـ دوی به لاړ شی او تۀ به دلته پاتې شې، زۀ یواځې یم، ماسره به دَ وادۀ په سامان اخستو کښې مدد اوکړې ـ

افروزه بی بی :ـ یَه لورې ښه وائی درته، ته اوس پاتی شه،، مونږ به تا پسې په جنج راځو، تابه ناوې کوو او ځان سره به دې بوځو ـ

ملائکه :ـ امّی تۀ هم دَ نانی طرفداری کوې ؟

افروزه بی بی (خاندی) نه لوری نه ـ زۀ دَ هغې طرفداری نه کوم بلکه دَ خپلې لور طرفداری به کوم خو دا زمونږ دود، دستور او رسم ورواج دې

ـ تۀ دلته ایساره شه ، تۀ به مونږ ناوې کوو او ځان سره به دې بوځو“ـ
ملائکه چې دَ هغې نه ناامیده شوه نو دَ فرحان خوا له ورغله ، هغه یې دَ لاس نه اونیوو او ورته یې اووې ، ”صیب جی امّی ما ځان سره نه بوځی ، تۀ ورته اووایه کنه پلیز ، پلیز “ ـ فرحان مسکے شو او مورته یې اووې ، ”امی دا اوس نه پاتی کیږی ـ دا ماته معلومه ده چې په کومه خبره اودریږی نو ترا خره پورې ولاړه وی ـ دا خپلې مرضۍ ته پریږده که تلل غواړی نو ځی دی “ـ

پروین بی بی :ـ یَه لورې ته پاتې شه ستا تلل ښۀ خبره نه ده ـ تاله به زۀ جوړې جامې اخلم ، بنګړی به درله اخلم ، تاله به نکریزې پوری کوم۔

ملائکه :ـ نه نانی زما هیڅ نه دی پکار، څه صیب جی چی خپل کور ته ځو “ـ

فرحان (مسکے شی او هغوی ته وائی ) دې سره اوس زۀ څۀ اوکړم ـ

پروین بی بی :ـ چی خامخا تلل غواړې نو داسې خودې نۀ پریږدم ـ تاسو ټول زما کمرې ته راشۍ . . .راځۍ . . .راځۍ “ـ هغوی درې وانړه پروین بی بی پسې دَ هغې کمرې ته ورځی ـ پروین بی بی یو سوټ کیس راخلی ـ هغه کهلاؤ کړی او دَ هغې نه کالی پترې رااوباسی۔ هغه کالی ټولو ته ښائی او بیا ملائکې ته وائی ، ”لورې دا ستادَ مور کالی دی ، پوره سل تولې دی “ـ دا ستا دی۔ دا به ځان سره یوسې“ـ بیا بل سوټ کیس کهلاؤ کړی دَ هغې نه څۀ کاغذونه را اوباسی او ورته وائی ، ”لورې دا دَ دې بنګلې کاغذونه دی او ستا دَ مور په نوم دی



www.pukhto.net



ـ دا ستا حق دې او دا به ځان سره یوسې “ـ دې نه پس یو سوټ کیس ته اشاره کوی او افروزې بی بی ته وائی ، ”خورې دا سوټ کیس دَ روپو نه ډک دې ـ په دې ورله جامه پیزار او فرنیچر واخله او چې څۀ پاتې شی نو دې له به یې ورکړې ـ

افروزه بی بی :ـ نه بی بی مونږ سره دومره شته دې چې د دوی وادۀ به پرې دَ خیره اوشی ـ دا هرڅۀ ځان سره سمبال کړه ـ

پروین بی بی :ـ نه خوری نه ـ دا کالی ، دا روپۍ او دا کاغذونه زمانه دی بلکه دَ دې دَ مور دی ـ دا دَ هغې امانت دې او دَ هغې دَ مرګ نه پس دَ هغې دَ لور حق دې۔ زۀ نور د دې حفاظت نشم کولې ـ زۀ غواړم چې دَ هغې امانت دَ هغې لور ته واپس کړم ـ چې دا نه پاتې کیږی نو دا سامان ځان سره یوسی۔ اوزۀ به دَ وادۀ نه پنځه شپږ ورځې مخکښې درځم ـ که څۀ کمې وو نو هلته به یې پوره کړو“ـ هغه جمعه خان راغواړی او ورته وائی ، ” جمعه خانه دا سامان ګاډی کښې کیږده او دا میلمانۀ کلی ته اورسوه “ـ جمعه خان هم هغسې اوکړل څۀ چې ورته هغې ویلې وو۔ هغه چې سامان ګاډی کښې کیږدی نو بیا راشی او پروین بی بی ته وائی ، ”بی بی ګاډې تیار دې “ـ پروین بی بی هغوی په خندا خوشحالۍ ګاډی کښې کینوی او په زاروقربان یې رخصت کړی۔

**دویمه برخه**

یو څو ورځې مخکښې فرزانې فرحان ته کال کړې وو۔ هغه دَ هغې خبره وونه ریده او دَ کال په جواب کښې یې سم دستی اووې”ماته پته

ده بی بی ، زۀ درځم "۔ دَ هغۀ دا خيال وو چې هغه ګينې هغوی کره راغلې ده او هغه له يې دَ خپلو راتلو اطلاع ورکړه ۔ خو چې کله هغه کورته راغی او هغه يې اونه ليدله نو بيا ډير خفه وو۔ چې هغۀ دَ هغې خبره ولې وونه ريدله ۔ ماسخوتن هغۀ څو څو کالونه ورکړل خو هغې جواب ورنکړو ۔ چې کله دَ هغۀ دَ وادۀ نيټه کيښودې شوه نو بيا يې يو څو کالونه ورکړل چې هغه دَ خپل وادۀ دَ نيټې نه خبر کړی خو هغې بيا څۀ جواب ورنکړو ۔ هغۀ په زړۀ اوخوړه چې هغه دَ هغۀ نه خفه شوې ده او جواب ورکول نه غواړی ۔ بهرحال هغۀ په زړۀ کښې جوړه کړه چې هغه به ورپسې په خپله ورشی او دَ وادۀ بلنه به ورکړی ۔

دَ نيټې په دويمه ورځ افروزه بی بی، شګفتې او نګينې پسې لاړه او هغوی يې دَ فرحان دَ وادۀ دَ نيټې نه خبر کړل ۔ يو څو ورځې پس چې هغوی راغلې نو دَ فرحان کوټه يې صفا کړه ، ديوالونه يې خاړه کړل او زمکې له يې دَ خټې تلې ورکړو۔ پرپرکی او سهرې يې پکښې اولګولې او په کور کښې يې دغ دوپړه شروع کړه ۔

چې څومره به دَ وادۀ نيټه نزديکيده نو دَ ملائکې دَ مخ پاڼه به زړيده۔ هغې دَ شګفتې ، نګينې او دَ محلت نورو جينکو سره په ټنګ ټکور کښې ګډون هم نه کوو او دَ کور په کار کښې يې دلچسپی هم نه اخسته ۔ اکثر به په کوټه کښې ځان له ناسته وه او بهر ډيره نه وته۔ مخکښې خو دَ افروزې بی بی ، شګفتې او نګينې دا خيال وو چې


www.pukhto.net



هغه شرميږی نو ځکه دَ کوټې نه بهر نه اوځی خو چې يوه ورځ شګفتې دَ هغې اندازه واخسته نو هغې ژړل ۔ شګفتې چی دَ هغې دَ ژړا خبره مور ته اوکړه نو هغه ډيره پريشانه شوه او په يوه منډه هغې پسې ساه ختلی ،وارخطا په داسی حال کښې ورغله چې هغې په لوپټه کښې مخ پټ کړې وو او سلګی يې وهلې ۔ افروزې بی بی چې دَ هغې دَ مخ نه په يره يره لوپټه لرې کړه او ورته يې اوکتل نو دَ هغې په مخ لړی لړی اوښکې رارواني وې ۔ دَ افروزی بی بی په ليدو هغې خپلې اوښکی اوچې کړې او مخ يې بل طرف ته واړه وو۔ افروزې بی بی په يره يره دَ هغې نه تپوس اوکړو ، " لورې ولې ژاړې، چا درته څۀ ويلې دی ؟ چانه خفه يې ؟ " هغې ډيره واړوله راواړواله خو هغې خوله پرې نکړه ۔ هغې په زړۀ اوخوړه چې شايد فرحان ورته څۀ ويلې دی او هغه يې خفه کړې ده ۔ هغه ډيره په توندی سره دَ هغې دَ کوټې نه اووته او دَ فرحان کوټی ته ورغله دَ ورتلو سره يې هغۀ ته په غصه اووې ، يَه هلکه ، دې جينی ته دې څۀ ويلې دی چې په لپو لپو اوښکې تويوی "۔ هغه دَ مور په غصه دَ ملاستې نه پاسيدو او وې وئيل ، "کومی جينی ته مورې" ؟

افروزه بی بی :۔ کومې جينی ته ؟ ستا جينی ملائکې ته "۔

فرحان :۔ ماخو هغې ته هيڅ نه دی ويلې موری ، بلکه په تيرو دوه درې ورځو کښې ماليدلې هم نه ده " ؟

افروزه بی بی :۔تۀ ورشه ، اوګوره ، په ژړا ژړا ترينه زيړه پاڼه جوړه

شوې ده ـ ما ډيره اولټولـه خـو هيـڅ جواب يې رانکړو ـ ورشه شابه ځويه تپوس ترينه اوکړه ''ـ فرحان چې دَ مور خبره ووريده نو دَ هغۀ په زړه کښـې يـره پيـدا شوه او دا يره ورسره ملګرې شوه چې اخر څۀ وجه ده چې هـغـه ژاړي ـ هغه دَ خپلې کوټې نه اووتو او چې دَ هغې کوټې تـه ورغـې نو هغې واقعي ژړل ـ هغه دَ هغۀ په احترام کښې دَ کټ نه پاڅيـده ـ فـرحـان هغـه دَ لاس نـه اونيـوه پـه کـټ کښې بياکينوله او تپوس يې ترينه اوکړو ـ '' ملائکې ولې ژاړې ؟ چا درته څۀ ويلې دي ؟ دَ چانه خفه يې ؟ دَ شګفتې ، نګينې نه او که زما يا زما دَ مور پلار نه ؟ چادرته څۀ ويلي دي ؟

مـلائـکـه :ـ نـه صيـب جی زۀ دَ چانه خفه نه يم ـ ماته چا هيڅ نه دی ويلي ''ـ

فرحان :ـ نو بيا ولی ژاړې ـ ستا په ژړا ټول کور خفه دے ـ که داسې څۀ خبره وی نو ماته اوکړه پليز ....وايه ، وايه ، ملائکه پليز ـ

ملائکه :ـ هيڅ نيشته صيب جی ـ

فرحان :ـ چې هيڅ نيشتـه نو بيا ولې خفه يې ـ ملائکه ، که ما سره په وادۀ خـفـه يـې نـو تـاتـه اجازت دې ، تۀ انکار هم کولې شې ـ تا باندې هيـڅ زور ، جبر نيشتـه '' مـلائکه دَ هغۀ په خولې لاس اېږدی ، خپلې اوښکې اوچوی او وائی ، '' داسې مۀ وايه صيب جی ، تۀ خو زما ايمان يـې ، ستا دَ پاره ما خپل مذهب پريښودو ـ تۀ زما ارمان يې ، زما عزت او زما مان يې داسې مۀ وايه پليز ''ـ


www.pukhto.net



فـرحـان :ـ نـو بيا هغـه کومه خبره ده چې دا خوشحالی دې په ټول کور غم کړې ده ـ

مـلائـکـه :ـ صيب جی دې خوشحالۍ کښې زما هم څۀ برخه شته او که صرف ستاسو ده ـ

فرحان :ـ زۀ ستا په خبره پو هـ نشوم ؟

ملائکه :ـ صيب جی چې رشتيا خبره درته اوکړم نوخفه کيږې خو به نه ؟

فرحان :ـ نه ، نه خفه کيږم وايه ـ

ملائکه :ـ صيب جی دا څنګه خوشحالی ده او څنګه وادۀ دې چې ستا پکښې خويندې او مور پلار شته او زما پکښې هيڅوک نيشته

فـرحـان :ـ ستـانيـا پروين بی بی مونږه سره وعده کړې ده ، هغه به دې يوځو ورځو کښې راشی ـ

مـلائـکـه :ـ صيـب جی ، زۀ دَ نانی په وجه خفه نه يم، مادَ هغې هيڅ خوارۀ نه دی ليدلې ـ ماله خپله امّی راوله پليز ـ

فرحان :ـ اوه مائی ګاډ ـ

مـلائـکـه :ـ صيـب جی ـ زمـونږ وادۀ دَ هغې لوې ارمان دې ـ زۀ ويم چې دَ هـغـې دا اخری ارمـان پـوره شي ...صيب جی پليز ـ زما دَ پاره هغه راوله پليز ـ

فرحان :ـ ...ملائکه ، مائی ډير ملائکه ....نن دريمه ورځ ده چې زۀ هـغـې تـه دَ کـال کـولـو کوشش کوم خو دَ هغې موبائيل Dead دې ـ

هډو ستا په مخکښې ورته دا دې بيا دَ کال کوشش کوم "۔ هغه موبائيل را اوباسی او دَ هغې په موبائيل نمبر دَ کال کولو کوشش کوی خو کال نه ورځی ۔ افروزه بی بی هم دَ هغوی کوټې ته راشی ۔ فرحان ، مورته ګوری او وائی ، مورې تاته پته ده چې دا چا پسې خفه ده ؟ . . .دا خپلې امّی پسې خفه ده او وائی چې هغه راوله ۔

افروزه بی بی :۔ ښه وائی درته کنه ځويه ، دا يې وړه لويه کړې ده ۔ دا خو يې درته ډيره ښۀ خبره کړې ده ۔

فرحان :۔ مورې خبره خو يې ښۀ ده خو هغه په موبائيل نه ملاويږی۔ ما ډير کوشش اوکړو خو چی نه ملاويږی نو څۀ اوکړم ۔

ملائکه :۔ صيب جی چې په موبائيل نه ملاويږی نو په خپله ورپسې لاړ شه او ځان سره يې راوله ۔

فرحان :۔ يو خوا فرزانه بی بی نه ملاويږی ، بل خوا امّی نه ملاويږی نو د دې موبائيل څۀ فائده او څۀ مقصد شو بيا"۔ هغه غصه شی او موبائيل بهرغولی ته لرې کوی ۔ موبائيل په غولی کښې دَ يوې ملنګې په خپو کښې پريوځی ۔ ملنګه هغه موبائيل اوچت کړی ، کوټې ته يې راؤړی او فرحان ته وائی ، "هن ځويه دا موبائيل دې واخله" فرحان او ملائکه چې هغې ته اوګوری نودواړه په يو اواز وائی ، "امّی تۀ" ؟

افروزه بی بی :۔ بی بی تۀ ؟

فرحان هغې ته ورترغاړوځی او هغه ښکلوی ۔ ملائکه دَ هغې په



www.pukhto.net



خپو پريوځی خو فرحان هغه پاسوی ۔ افروزه بی بی هغې ته ورغاړوځی او ورته وائی ، " دا ولې بی بی تۀ خونيمه نه يې پاتې شوې"۔

فرحان :۔ امّی دا تۀ په کوم حالت کښې راغلې ؟

ملائکه :۔ امّی ته خو ډيره کمزورې شوې يې ؟ راځه دې کټ کښې سمله چی په خپو درله زور کړم ۔

سوراج ( فرحان ته ) ځويه اوبه راکړه ، دَ تندی نه مِ ژبه اوچه شوې ده"۔

افروزه بی بی (فرحان ته) ته کينه ځويه ، زۀ به ورله دَ کو هی نه تازه اوبۀ راواخلم ؟

ملائکه دَ هغې خپې منډې او فرحان دَ هغې اوږی منډی ۔ افروزه بی بی چې اوبه راؤړی نو ملائکه دَ هغې نه جام اخلی او دَ هغې خولې نه يې نيسی ۔ سوراج چی په جام خوله کيږدی نو په رومبی ساه کښې جام نيمی ته اورسوی او په دويمه ساه جام په سر راواړه وی ۔ هغه چې اوبۀ اوڅکی نو يوه لويه ساه واخلی او بيا بالخت ته ډډه شی ۔ ملائکه دَ هغې خپې منډی او فرحان دَ هغې اوږې . . . .چې کله دمه شی نو بيا وائی ، "باس بچو ، بس دې دمه شوم "۔ چی کله هغه سُر کښې شی نو فرحان ترينه تپوس کوی ، "امّی ابّو څنګه دې ؟ دَ چيلې نه راوتې دې ؟ دَ فرحان تپوس سره هغه سر اوچت کړی ، په کټ کينی وائی ، "هاؤ ځويه ستا دَ ابو چيله پوره شوه ۔ اوس پر ميشور غوښتې دې "۔

فرحان (په یره) څۀ مطلب ؟ ابو وفات شو ؟

سوراج یوه لویه ساه واخلی او وائی ، "هاؤ څویه ، زۀ لا په جیل کښې ووم چې هغه په چیله کښې د دې واقعې نه خبر شو . . .دَ خبریدو سره یې هم هلته ساه ورکړه "۔

هغه خپله غوټه سپړی ، یوه پوړۍ ترینه را اوباسی او وائی ، "څویه ما هغه اونه لیدو خو دَ هغۀ تبرک راته راکړې شو "۔ هغه پوړۍ سپړی او وائی "څویه دا دَ هغۀ دَ سوې بدن ایره ده . . .څویه دا مې دَ تبرک دَ پاره تاله راؤړه ۔ دا ځان سره کیږده او چې بهرته اوځې نو دَ سیند په اوبو کښې یې لاهو کړه "۔ فرحان پوړۍ ته یوه شیبه په ډکو سترګو ګوری ، بیا پوړۍ بند کړی او جیب کښې یې کیږدی . . . .هغه یو ځل بیا مورته وائی ، "امّی ته خو ډیره کمزورې شوې یې "۔

سوراج :۔ هاؤ څویه ، څۀ ستا دَ پلار غم وو او څۀ زما خپل غم وو۔ دې دواړو رانه دا شې جوړ کړو څویه . . . .څویه ستا دَ پلار دَ مرګ نه پس دَ هغه په ځای دَ امرت سر نه بل بامبړ راغی ۔ هغه سره خپله ښځه او بال بچ هم وو۔ ما خپل کور هغۀ ته خالی کړو خپله کله کوډه مې دَ مهانسی کپور کمرې ته یوړه ۔ هغې کښې زما کله ځای شوه خو زما دَ ناستی ملاستی ځای پاتې نشو نو زۀ به دَ اناطولیه کمار کمره کښې سملاستم . . .څویه ګزاره کیده خو زړۀ مې خفه وو۔ دَ مهندریه دَ واقعې په وجه دَ دهرمسال ټول خلق زمانه متنفره وو تر دې چې دَ خبرو مې هم څوک پاتې نشو ۔ کله مې هلته پریښوده ، بس دا یوه غوټه مې ترینه


www.pukhto.net



راواخسته او خپې مې ترینه سپکې کړې۔ خپل کور مې نه وو نو ما وې چې د یو بل په دروازو ګرځم نو خپل ځوی له به لاړه شم "۔

فرحان :۔ ډیر دې ښۀ اوکړل امّی چې راغلې ۔ نن دریمه ورځ ده چې ما تاته رنګونه کول او تۀ نه ملاویدې ۔

سوراج :۔ څویه تا به کال کړی وی په دیکښې هیڅ شک نیشته خو زۀ دَ خپل ځانه نه ووم خبر نو دَ موبائیل نه به څه خبر شوې ووم۔

فرحان :۔ دا ښۀ ده چې راغلې امّی ملائکې درپسې ژړل ۔ ته یې دې سترګو ته لږ اوګوره اوس هم سرې دی ۔

سوراج :۔ ملائکه څوک ده څویه ؟

فرحان (مسکې شی) دَ مهندریه نوم ملائکه شو امّی ۔

سوراج :۔ مهندریه مسلمانه شوه ؟

فرحان :۔ هاؤ امّی دا مسلمانه شوه ۔

سوراج :۔ څه ښۀ اوشو چې ستاسو دَ وادۀ رکاوټ ختم شو ۔ وادۀ مو کړې دې ؟

فرحان :۔ واه امّی واه ۔ تا نه بغیر به وادۀ څنګه اوکړو ، البته دَ وادۀ نیټه مو ایښې ده ۔

سوراج :۔ څویه ستاسو وادۀ زما لوې ارمان دې ۔ زۀ ویم چې ستاسو وادۀ اوشی نو بیا که زۀ یم او که نه یم خو روح به مې خوشحاله وی ۔

ملائکه :۔ داسې مه وایه امّی ماله ژړا راځی ۔

سوراج (مسکې شی) لوری ما معاف کړه ۔ ماتۀ ډیره ژړولې او

کړولې یې ۔ (هغوی دواړه ژاړي ، یو بل نه معافي غواړي او یو بل ښکلوي) ۔

افروزه بي بي راځي او هغې ته وائي ، " راځه بي بي اوبۀ مې درته غسل خانه کښې ایښلې دي چې اولامبې "۔

سوراج :۔ ډیره ښه ده خوری " هغه خپله غوټه سپړي ، جامې ترینه را اوباسي ، بیا غوټه اوتړي او ملائکې ته وائي ، "لورې دا غوټه سمباله کړه ۔

ملائکه :۔ ډیره ښۀ ده امّي ۔

دی سره سوراج خپلې جامې ځان سره واخلي او غسل خانې ته ځي۔

## دریمه برخه

دَ فرحان دَ وادۀ کارډونه چهاپ شوی وو او دَ زنده باد کاکا او افروزې بي بي هلې ځلې شروع وې ۔ دَ لرې لرې خپلو خپلوانو پسې هغوی دواړه اوګرځیدل او دَ وادۀ وینا یې ورته اوکړه ۔ البته دَ افروزې بي بي له خوا یوه سعیده پاتې وه او دَ فرحان له خوا فرزانه ، فرزانه اګر څۀ په موبائیل نه ملاویده خو هغه مطمئن په دې وو چې کور ته به ورشی او دَ وادۀ وینا به ورته اوکړي خو دَ سعیدې دَ کور معلومات ورته هم نه وو او دَ هغې څۀ رابطه نمبر هم ورسره نه وو۔

بله ورځ هغه ځان سره کارډونه واخستل او ټمپل ټو ته ورغی ۔ هلته یې دَ ملائکې سهیلو ، دیوی دیپک ، کنوریه او ریکهاشاستری سره یې ملاقات هم اوکړو، هغوی ته یې دَ ملائکې له خوا دَ وادۀ بلنه هم ورکړه او دَ خپل طرفه یې ورله دَ وادۀ کارډونه هم ورکړل ۔ هغوی سره



www.pukhto.net



یې شیبه نیمه دمه هم اوکړه او دَ ملائکې او سوراج په باره کښې خبرې هم اوشوې ۔ دَ هغوی نه یې وادۀ له دَ راتلو پخې وعدې واخستې او په خندا خندا رخصت شو ۔

چې دَ هغوی نه اوزګار شو بیا دَ میډم نسرین کور ته ورغی ۔ انور علی بابا سره یې خپل تعارف اوکړو او هغۀ کور ته بوتلو ۔ میډم نسرین په خپله کمره کښې وه ۔ انور علی بابا چې ورته دَ فرحان نوم واخستو نو هغه دَ خپل بیډ نه پاسیدۀ دَ کمرې نه بهر اووته او هغه سره یې روغ جوړ اوکړل ۔ میډم نسرین ډیره کمزورې شوې وه ۔ هغې په سرپیچک سرتړلې وو او رنګ یې تاغیر وو ۔ فرحان چې هغې ته اوکتل ۔ نو هغۀ ته داسې معلومه شوه لکه چې دَ هغې په مخ دَ غرونو توده او سپیرۀ سیلۍ الوتې وی ۔ دَ روغ جوړ نه پس هغې هغه ګست روم ته بوتلو ۔ دَ کیناستو سره فرحان هغې نه تپوس اوکړو" میډم ، فرزانه چرته تلې ده ؟ زما ورپسې په کالونو زړۀ شین شو خو دَ هغې موبائیل ډیر (Dead) دې ۔

میډم نسرین :۔ هاؤ ځویه ، دَ یو څو ورځو راسې دَ هغې موبائیل ډیډ دې ۔

فرحان :۔ هغه چرته تلې ده میډم ۔

میډم نسرین :۔ ولې ځویه تاته دَ هغې معلومات نیشته ؟

فرحان :۔ نه میډم ، ماته هیڅ معلومات نیشته ۔ولې خیرخودې میډم؟

میډم نسرین :۔ ځویه هغه او زیاد دواړه اغوا شوی دی ۔

فرحان :۔ اغوا شوی دی ؟ اوه مائی ګاډ ۔ میډم ماته خو دَ هغوی

متعلق هیڅ معلومات نیشته ـ

میډم نسرین :ـ تابه اخبار نه وی لوستلې ګینې په ټولو اخبارونو کښې درې ورځې پرله پسې دَ هغوی تصویرونه هم راتلل او دَ هغوی دَ اغوا خبر هم ـ دې نه علاوه په پی ټی وی (PTV) او صدائے خیبر هم دَ هغوی متعلق ویلې شوی دی ـ

فرحان :ـ سوری میډم ، دومره لویه واقعه شوې ده او ماته پته هم نه ده لګیدلې ـ

میډم نسرین :ـ بیاخو به دَ زیاده دَمرګ نه هم نه یې خبر شوې ؟

فرحان :ـ دَ زیاد دَ مرګ نه ؟ زیاد مړ شو ؟ میډم ماته ډیر افسوس دې چې زهٔ دې واقعات نه خبر نه یم ـ دا واقعه کله شوې ده میډم ؟

میډم نسرین :ـ نن یې لسمه ورځ ده ځویه ـ

فرحان :ـ دا واقعه څنګه پیښه شوه میډم ـ

میډم نسرین :ـ قیصه داسې ده چې دَ تیراه دَ ائی ډی پیز (IDPS) کډې را روانې وې او جلوزي کیمپ ته تلې ـ هغوی ته دَ جی ایم دَ طرفه اوویلې شو چې په دغه کډوالو ډاکو منټری فلم جوړ کړی ـ دې مقصد دَ پاره هغوی علاقه غیر ته لاړل او په هغوی یې ډاکو منټری فلم جوړه وو ـ دَ هغوی کار تقریبا مکمل شوې وو خو په اخری وخت کښې دَ عسکریت پسندو یوه ډله راغله ـ دَ هغوی کیمره او ریکارډنګ مشین یې خپله قبضه کښې واخستل ، هغه یې مات کړل او هغوی یې ګاډی کښې ځان سره کینول ـ چې ګاډې څهٔ ټوټه



www.pukhto.net



مخکښې لاړو نو زیاد دَ ګاډی نه ټوپ کړو او منډه یې کړه ـ دَ منډې سره پرې هغوی فائر اوکړو او هغه شهید شو ....هغه شهید شو او فرزانه یې ځان سره بوتله ـ دَ زیاد لاش دَ هغهٔ دَ مرګ په صبا دَ پی اے (P.A) خیبر په ذریعه صدائے خیبر ته اورسولې شو خو دَ فرزانې دَ مرګ او ژوند لا تراوسه پته نه لګی ـ (هغه ژاړی)

فرحان :ـ میډم تاسره خو زما نمبر شته کنه ـ دا دومره لویه المیه اوشوه او ماته دې هډو یو مس کال رانکړو ـ

میډم نسرین :ـ ماتاته کال کړې وو ځویه ـ زهٔ مطمئنه په دې ووم چې تاماته اووې چې "ماته پته ده بی بی ، زهٔ درځم" ـ

فرحان :ـ اوه مائی ګاډ ـ کال واقعی ماته راکړې شوې وو خو نمبر دَ فرزانې بی بی دَ موبائیل وو ستا دَ موبائیل نمبر نه وو ـ

میډم نسرین :ـ هاؤ ځویه ، په هغه ورځ دَ هغې نه خپل موبائیل پاتې شوی وو او په تیرکښې یې زما موبائیل اوړې وو ـ ځویه زهٔ ستا په طمعه ووم خو چې ته رانه غلې نو بیا دَ موبائیل نه هم نه یم خبر شوې چې څهٔ شو اوچرته دې ـ

فرحان :ـ په دغه نمبر ماخوخو ځله دَکال کوشش اوکړو خو کال اونشو ـ

میډم نسرین :ـ ځویه یوخوا دَ زیاد دَ مرګ ماتم وو بل خوا راسره دَ خپلې لور غم وو نو دَموبائیل نه نه یم خبر شوې ....بنه اوس دَ چا دَ خولې نه خبر شوې او راغلې "ـ

فرحان :ـ میډم زهٔ دَ هیچا نه نه یم خبر شوې ـ زهٔ په اصل کښې بل

څۀ مقصد دَ پاره راغلې يم خو۔

ميډم نسرين:۔ بل څۀ دَ پاره ؟

فرحان :۔ ميډم په دې راروان اتوار زما وادۀ دے ۔ دَ وادۀ کارډ مې راوړې دے "۔

ميډم نسرين (ژاړى) په دې راروان اتوار دَ هغې او زياد وادۀ هم وو څويه "۔

فرحان کارډ په ميز اږدى او وائى،"ښه ميډم زۀ به درنه لاړشم "۔

ميډم نسرين :۔ نه څويه داسى نه ، شربت اوڅکه نو بيا ځه "۔

هغوى لا خبرې کولې چې انور على بابا دَ شربت ګلاس راوړى او هغه ته يې په ميز اږدى ۔ ميډم نسرين ، انور على بابا ته ګورى او وائى ، "انور على ، دا ميلمه دې اونه پيژندو؟ دا هغه هلک دې چې ډوبه فرزانه يې دَ اوبو نه راويستى وه "۔ دې انکشاف سره انور على بابا مسکے شى او هغۀ سره په مُسکا مُسکا يوځل بيا روغ جوړ کوى ۔ بيا ورته وائى "شربت اوڅکه بچې "۔ دَ فرزانې په اغوا فرحان ته سخته ذهنى صدمه رسيدلې وه خو دَ هغوى دَ مخه يې يو دوه ګوټه اوکړل ۔ بيا يې ترينه رخصت واخستو او زوړنده سر روان شو۔ چې کور ته اورسيدو نو مور پلار ته يې دَ فرزانې او زياد متعلق ټوله قيصه اوکړه ۔

په صبا دَ سعيدې ترور کره ورغى او دَ هغې نه يې دَ هغوى دَ کور او پتې معلومات اوکړل ۔ بيا يې ځان سره درے کارډونه واخستل ۔ په يو يې دَ نور ګل نوم اوليکو ۔ په بل يې "سعيده خور" اوليکو او په دريم يې "بدرى ابى " اوليکو ۔ هغه هم په هغه ورځ تلل غوښتل خودَ



www.pukhto.net



مور پلار په مشوره پاتې شو ځکه چې ورځ دَ نيمى نه اوختې وه او ځاې ډير لرې وو۔

سحر وختى هغه دَ کوره اووتو او دَ مريى کلى په پته روان شو۔ مريى کلى ډير لرې وو۔ هغه په څو څو ګاډو کښې کيناستو او څو څو ګاډو نه کوز شو ۔ لوړ مازيګر وو چې هغه په اخرى اډه کښې دَ ګاډى نه کوز شو او دَ مريى کلى په پته پياده روان شو ۔ چې څۀ ټوټه مخکښې لاړو نو يو دوه مسلح کسان ورله راپاسيدل او په هغه يې اواز اوکړو "اودريږه زلميه "۔ دَ هغه اواز سره هغه اودريدو او دَ هغوى دَ راتلو انتظار يې کوو ۔ چې هغوى ور اورسيدل نو روغ جوړ يې ورسره اوکړل ۔ بيا ترينه يو کس تپوس اوکړو "کوم خواځې زلميه "؟

فرحان :۔ مريى کلى ته ۔

دويم کس :۔ مريى کلى کښې چاله ځې ؟

فرحان :۔ نور ګل له ۔

ړومبى کس :۔ ته نور ګل پيژنې ؟

فرحان :۔ ډيره موده مخکښې مې ليدلې وو۔ هغه لا هلک وو ۔ کيديشى اوس لوې شوى وى او پيژندګلو کښې څۀ ګرانه پيښه شى۔

دويم کس :۔ دې غوټه کښې څۀ دى ۔

فرحان :۔ دَ وادۀ کارډونه مې راوړى دى ، دا ورکوم "هغه دَ ګوتى نه کارډونه را اوباسى او هغوى ته يې ښائى ۔

ړومبې کس دَ هغۀ کارډونه ګورى او وائى ، "دې کښې خو دَ ښځو

نومونه هم دي ـ دوی پیژني ''؟
فرحان :ـ دا یوه دَ نورګل مور ده او دا بله یې خورده ـ
دویم کس :ـ ښه څه ورڅه ـ دغه مخامخ دَ نورګل کوردې خفه نشې ـ
دَ نورګل کورڅۀ لرې نه وه ـ چې لږ ساعت تیریدو نو هغۀ دَ نورګل دَ کور ور ته ولاړ وو ـ دَ ورډبولو سره نورګل دَ کوره را اووتو ، هغه سره یې روغ جوړ اوکړل او تپوس یې ترینه اوکړو ''چاسره دې کاردې''؟
فرحان :ـ نورګل سره ، نورګل په خندا شو او ورته یې اووئیل ، ''زۀ دې او نه پیژندم ؟ زۀ نورګل یم''ـ فرحان چې هغه ته په غور سره اوکتل نو په خندا شو او وې وئیل ، ''اوه نورګله ، تۀ خو دَ خیره دومره لوې شوې یې چې دَ پیژندو نه اوتې یې ـ زۀ دې اوپیژندم ''؟
نورګل :ـ هاؤ ولې نه ، تۀ فرحان لاله جی نه یې ؟
فرحان :ـ بالکل یم ، بالکل بالکل ، هغوی لا دغه خبرې کولې چې نورګل ته دَ کور نه اواز اوشو ، ''نورګله دا میلمه کورته راوله ''ـ دَ اواز اوریدو سره هغۀ فرحان ته اووې ، ''راځه لاله جی چې کورته ځو ـ مور مې وائی چې کورته یې راوله ''ـ
فرحان چې هغۀ سره کورته ورغی نو بدرۍ ابۍ هغه سره روغ جوړ اوکړل او هغه یې څو څو ځله ښکل کړو ـ بیا یې هغه کوټې ته بوتلو او په عزت سره یې کینولو ـ هغې ترینه دَ لویو وړو ، دَ مور پلار ، ګواندیانو ، دَ خپلو خپلوانو او دَ شیرخان کلی دَ نورو خلقو متعلق تپوسونه کول چې په دیکښې یوه پیغله جینۍ دَ اوبو جام په لاس


www.pukhto.net



راغله ـ دواړو چې یو بل ته اوکتل نو دَ دواړو رنګونه زیړ شو ـ هغې هغه له دَ اوبو جام ورکړو او ډیره په توندۍ سره بهر اووته ـ دَ بدرۍ ابۍ تپوسونه اوابښتنې پوښتنې لا جاری وې چې نورګل چاے راوړه او هغه ته یې پیالۍ ډکه کړه ـ په خبرو خبرو کښې هغۀ دَ بدرۍ ابۍ نه تپوس اوکړو ''تروري سعیده خور مې اونه لیدله ''ـ
بدرۍ ابۍ (خاندی) نورګل ته اشاره کوی او وائی ، ''هغه مو دَ نورګل په بدل کښې ورکړې ده ''ـ
فرحان :ـ ښه نورګل واده کړې دې ؟
بدرۍ ابۍ :ـ هاؤ دَ خیره ـ او ستاڅنګه چل دې؟ واده دې کړې دې؟
فرحان :ـ واه تروري دا تۀ لاځۀ وائې ؟ مابه واده کوو او تاسو ته به مې نه وې؟ داسې خو کیدې نشی ـ البته دې راروان اتوار له مې واده دے ''ـ
هغه دَ ګوټې نه کارډونه را اوباسی او نورګل ته وائی ، ''هن نورګله دا واخله ستا په نوم دے دا واخله تروري ستا په نوم دے او یې دادَ سعیدې خور په نوم دے ''ـ
بدرۍ ابۍ :ـ ځویه خداې دې په دے واده ډیر ډیر خوشحاله کړه چې دومره تکلیف دې اوکړو او دے تورو غرونو ته راغلې ''ـ
نورګل :ـ لاله جی چاے واخله ، یخه شوه ''ـ فرحان دَ پیالی نه پرله پسی دوه ګوټه اوکړی او بیا بدرۍ ابۍ ته وائی ، ''تروري سعیدې خور سره به څۀ کوو ـ زۀ خو مې مور هغې پسې سپیشل رالیږلی یم اووې یې چې ځان سره یې لاس نیولې راوله ''ـ هغۀ لا خپله خبره نه وه

Pukhto.Net

ختـمه کړې چې سعيده پړونې په سر کورته رادننه شو. بدرۍ ابۍ په خندا شوه او په خندا خندا کښې اووې، "عمريې ډير دې. ستا دَ خولې نـه لا دَ هغې نوم نه وو اوتې چې هغه راغله". هغه لا په غولې کښې وه او چاسره يې خبرې کولې چې بدرۍ ابۍ ورپسې سر دَ ورنه بهر کړو او ورتـه يې اووې، "يـه لـورې راشـه اوګـوره چـې مونږ کره څوک راغلي دي . کله چې هغه کوټې ته راغله او فرحان ته يې اوکتل نو په چغه يې اووې، "اوه فرحان بابو راغلې دې". هغه هغهٔ سره روغ جوړ کوې او وائې، "بابو، دے تورو غرونو ته څهٔ راؤړې""؟

بدرۍ ابۍ :۔ دَ خپل وادهٔ په صدا راغلې دے".

سعيده (خاندې) واه بابو واه . دا ښهٔ ده چې راپسې راغلې ګينې هغه جنګ بـه مِ درسره کړې وو چې غوړونه به مِ درنه بوټ ويستلې وو او بو چې به ګرځيدے".

فرحان :۔ د دې نـه نـه يريږم خو تانه يريږم . مور مِ وې چې هغه څان سره لاس نيولې راوله .

سعيده :۔ بالکل، به درځم او سره دَ خاوند به درځم . ښه ترور مِ څنګه ده او ماما مِ څنګه دے؟ شګفته، نګينه څنګه دي .

فرحان :۔ ټول ښهٔ دي او تاسو ټول ياده وې خو چې کله ستا ذکر راشي نو مـور مِ درپسې ژاړې". دې سره دَ سعيـدې پـه سترګو کښې اوښکې راشـې او وائـې، "فـرحان بـابـو هـغه زما ترور نه بلکه زما مور ده". بيا اوښکې اوچوې او خبره په بله اړوې او وائې، "دا جينۍ څوک ده، دا خو



www.pukhto.net



دَ ښځو نه هم ستر کوې ...چې زهٔ يې اوليدم نو مخ يې پټ کړو".

بدرۍ ابۍ :۔ ماته پته نيشته لورې خو نورګل راوستې ده".

سعيده :۔ دا څوک ده نورګله .

نـورګل :۔ دا ماته حواله شوې ده . کمانډر صيب وې چې دا خپل کور تـه اورسوه ....زه خپله پيښور ته تلې نشم او څوک ورپسې راغلي نه دي چې ورسره يې کـړم او څان ترينه خلاص کـړم ....خورې ته چې پيښور ته ځې نو دا جينۍ هم څان سره بوځه .

سعيده :۔ زهٔ يې څنګه بوځم . ماته د دې کورکلي څهٔ معلوم دے؟

نـورګـل :۔ تـهٔ يې کور، کلې څهٔ کوې . پيښور ته يې اورسوه بيا به په خپله ځي، څهٔ ماشومه نه ده .

فـرحان :۔ کـه پيښوره پورې رسول وې نو زهٔ هسې هم پيښور ته روان يم زهٔ به يې څان سره بوځم .

نورګل :۔ نه لاله جي ته نشې تلې ناوخته دے . شپه اوکړه، صبا له به ځې".

فـرحان :۔ نـه نـورګـلـه، پاتې کيدې نشم. ډير کار راته پروت دی . تهٔ داسې اوکړه . چې پيښور پورې يو سپيشل ګاډې اوکړه چې په اسانه اورسوو.

نورګل :۔ ګاډې اسان دے او به شي خو ناوخته دې شپه اوکړه .

بدرۍ ابۍ :۔ يَه ځويه دومره توندې ولې کوې. شپه اوکړه .

فـرحان :۔ نه تروره نشم پاتې کيدې . څه ته ورشه نورګله ګاډې راوله

(نورګل اوځي)

سعيده :۔ بابو که ته شپه کوې نو زه به هم درسره سحر لاړه شم۔

فرحان :۔ اوس راسره ولې نه ځې ؟

سعيده :۔ دَ خاوند نه مِ تپوس نه دې کړې ۔

فرحان :۔ ځه ته ورشه تپوس اوکړه ، زۀ به درته ايسار شم ۔

سعيده مورته په التجائی سترګو ګوری او وائی ، "مورې تۀ هم راسره لاړه شه ۔ ته به ورته زما دَ پاره اووې "۔

بدرۍ ابۍ :۔ ډيره ښۀ ده ځه چی ځو۔ "دې سره هغوی دواړه پړونی په سرکړی او بهراوځی ۔ دَ سعيدې کوړډير لرې نه وو ۔ چې لږه شيبه تيريده نو ګاډې هم راغی او هغوی هم راغلې ۔ دَ ګاډو راتلو سره فرحان دَ بدرۍ ابۍ نه اجازت واخستو او بهرګاډی سره اودريدو۔ هغه لا ډرائيور او نورګل سره خبرې کولې چې دوه زنانه په پړونو کښې پټې دَ کوره را اووتې او ګاډی کښې کيناستې ۔ دَ هغوی دَ کيناستو سره فرحان دَ نورګل نه اجازت واخستو او ډرائيور سره مخکښې کيناستو ۔ زيړ مازيګر وو چې هغوی دَ مريۍ کلی نه پيښور ته روان شو۔ ماسخوتن تيارۀ وو چې فرحان دَ يو کور مخې ته ګاډې اودروو ۔ دَ ګاډی نه کوز شو او دَ ګيټ په ټلې يې ګوته کيښوده ۔ لږه شيبه پس چی ګيټ لرې شو نو هغه يې دَ لاس نه اونيوه ، په ګيټ يې دننه کړه او لاس نيولې يې مورلـه په لاس کښې ورکړه ، په تلو تلو کښې يې ورته اووې "مبارک شه ميډم ستا امانت تاته دراورسيدو"۔ دې سره ډير



www.pukhto.net



په تونـدی دَ کـوره اووتـو، پـه ګـاډی کښې کيناستو او ډرائيور ته يې اووې "ځه استاذ اوس شيرخان کلی "

### څلورمه برخه

مـلائـکه په دې خفه وه چې دَ هغې په وادۀ کښې دَ هغې امّی نيشته۔ خـو هـغـه دَ الله دومـره نيازبينه وه چې دَ هغې امّی هم راغله ، دَ هغې نانی پروين بی بی هم راغله او دَ هغې يوه بله مور چندريه هم راغله۔ هغه دومره خوش قسمته وه چې دَ هغې په رسمِ نکاح کښې دَ زنده باد کاکا او افروزې بی بی نه علاوه دغه ټولو خواتينو هم شرکت اوکړو هغـه مهـندريه چې رانده شوې او ناپاکه شوې وه اوس سوراج دَ هغې په ميـنـه نـه مـړيـده او دَ هغې په تعريف نه ستړې کيده ۔ هغه دومره مـقـدسـه شوې وه چې يـو خـوا بـه افـروزې بی بی ساعت په ساعت ښکلوله او بل خوا پروين بی بی او چندريه ۔ نګينه خو لکه دَ سيوری هغـې پسې ګرځيـده خـو چې سعيده راغله نو بيا دَ هغې نه نشوه خلاصيدې ۔ هغې به دَ هغې دَ اننګو نه خوله ډکوله او چکونه به يې پرې لـګـول ۔ دَ هـغـې پـه مخ دَ نورپونه وريده او دَ هغې دَ هر اندام نه ميـنـه څڅيده ۔ فرحان هغې نه دَ ټمپل ټو دَ ميلمنو دَ دعوت خبره پټه ساتـلې وه خـو کـلـه چې دَ خالـی په مازيګر ديوی ديپک ، کنوريه او ريکـهـا شـاسـتـری سره دَ تحفو او ډالو دَ کور په ورراننه شوې او هغې اوليـدې نـو دَ خـوشحالۍ نه سمه ليونۍ شوه ۔ يوې يوې ته ورترغاړه وتـه ۔ هـغـوی يې په عزت راوستې او ټولو ميلمنو اوکړينو سره يې دَ

هغـوی پیـژندګلو اوکړه ـ دَ هغوی په راتلو سوراج هم ډیره خوشحاله شوه ـ فرحان دَ زنانه میلمنو دَ ارام او سهولت دَ پاره ډیرښه انتظام کړې وو ـ دَ هغـوی کـور کښې کوټې کمې وې نو دَ هغوی دَ پاره هغهٔ وړې وړې خیـمې لـګـولـې وی او پـه هـره خیـمه کښې یې دَ هغې په سائز خائستـه خـائسته قالینونه خوارهٔ کړی وو. دَ هغوی دَ اشنان دَ پاره یې هـم دَ کـور یـو اړخ تـه دَ اوبـو او پـړدې بـندوبست کړې وو. یوه خیمه دَ پـروین بی بی او چـنـدریـه دَ پـاره وه چې په هغی کښې هغوی خپل سامـان ایښـې وو. بـلـه دَ ټـمپـل تـو دَ میـلمنو دَ پاره وه چې په هغوی کښـی سـوراج هـم شـامله وه ـ دریمه خیمه دَ میډم نسرین او فرزانې دَ پاره وه او دوه تشې پرتې وې.

فـرحـان او مـلائـکـې دَ هغوی دَ راتلو ډیره شکریه ادا کړه ـ دَ فرحان په وینا باندې ملائکې هغوی په خپله خیمه کښې کینولې او دَ هغوی دَ خدمت ذمه واری یې سعیدې له ورکړه ـ دَ دې وړو خیمو نه علاوه په کـور کښـې لوې لوې شامیانې لګیدلې وې او په هغوی کښی دَ زنانه میلمنو دَ پاره کټونه او کرسۍ اچولې شوې وې.

دَ هغوی نه پس میډم نسرین او فرزانه هم راغلې ـ فرزانې دَ خپل وادهٔ جـوړه اغـوستـې وه ، دَ وادهٔ بـنارسۍ یې په سر کړې وه ، دَ وادهٔ کالی ، دَ اصلـی ډائمنډ هار یې اچولې وو او تازه میک اپ یې کړې وو. په دغه لباس او سنګار کښې هغه دَ شرنګاشرنګ ښاپیرۍ ښکاریده ـ داسې معلومیده چې هغه اوس دَ ډولۍ نه کوزه شوې وی یا ډولۍ ته خیژی


www.pukhto.net



ـ سعیـدې چې هغـوی اولیـدې نو مسکۍ شوه ، ورمنډه یې کړه او میـډم نسریـن لـه یـې غـاړه ورکـړه خو چې فرزانې له ورتله نو هغې دَ ځان نـه دیـکـه کـړه او ورتـه یـې اووې ، "لـرې شـه مړې ـ په خپل کور کښې چاته سترې مشی هم نه کوې او دَ بل په کور تکړه یې"؟

سعیـده ( پـه حیـرانتیـا ) په خپل کور کښې سترې مشی ...؟ اوه بی بی ، ولـې هغه جینۍ تهٔ وې چې مونږ سره ګاډی کښې دَ مریۍ کلی نه راغلې وه ؟

فرزانه :ـ دلته دې سترګې اوغړیدې ، هلته دړاندې پټې وې.

سعیده :ـ زهٔ خو دغـه لږ ساعت لـه درغلې ووم او تهٔ بـه ما ځنګـه پیژندلې وې چې زمانه دې هم ستر کوو.

فـرزانه :ـ تانه خوم ځکه ستر کوو چې تاسره م سترګې نشوې لګولې (سعیـده میـډم نسـریـن تـه ) "بی بی تهٔ په خپله انصاف اوکړه چې دا ګناه زما شوه که د دې"؟

میـډم نسرین :ـ لوری دې ماته ټوله قیصه کړې ده ـ دیکښې تاته ګناه نیشتـه".

سعیده :ـ چې زما ګناه نیشته نو خفه کیږې رانه ولې ؟

فـرزانـه (خاندی او هغې ته ترغاړوځی ) "نه سعیدې خورې ، تانه به لا ځـوک خـفـه شی ما خو درسره هسې ټوقې کولې ـ هغوی لا دا خبرې کـولـې چې فـرحـان دَ هغوی خوا له ورغی. هغوی سره یې روغ جوړ اوکړ او فرزانې ته یې اووې، "بی بی ته کله راغلې یې ؟ ما خو اوریدلې

وو چې ته اغوا شوې وې ؟
فرزانه :۔ زۀ واقعي اغوا شوې ووم خو دَ رحمت یوه فرشته دَ شیرخان کلي نه والوته ، دَ مریې کلي تورو غرونو ته راپسې راغله ، ځان سره یې راوستم او لاس نیولې یې خپلې مور ته حواله کړم ۔
میډم نسرین :۔ ځویه ته انسان نه بلکه فرشته یې ۔ ستادَ شکریه ادا کولو دَ پاره ماسره الفاظ نیشته ۔
فرحان (مسکے شی ) میډم تۀ غم مۀ کوه ، ستا ترجمانی فرزانه بی بی کوی ۔ تا سره الفاظ نیشته خو دې سره دَ الفاظو ذخیرې او خزانې دی“۔
دَ هغۀ دې خبرې سره ټول خاندی ۔ سعیده دَ هغوی سامان اوچت کړی او دَ هغوی خیمې ته یې اوړی ۔ هغې پسې میډم نسرین هم په مزه مزه روانه شی ۔ دَ هغې دَ تلو نه پس فرحان ، فرزانې ته په غټو غټو ګوری او وائی ، ”چشم بد دور ، ماشاء الله نن خو ګلونه شرموې“۔
فرزانه (مسکې شی ) ماباندې طنز کوی ؟
فرحان :۔ نه بالکل نه ۔ دا حقیقت دی ۔ داسې معلومیږی چې اوس دَ ډولۍ نه کوزه شوې یادرنګ ساعت له ورته خیژی ۔
فرزانه :۔ ډولۍ ختو ته به مِ ستا ناوې پرې نه ږدی ګینې دغه سعادت خو زۀ خپله سرلوړی ګڼم “۔ هغې لانورڅۀ ویل غوښتل خو سعیده راغله او هغې ته یې اووې ، ”بی بی ته به یخ څکې که ګرم “ ؟ فرزانه هغې له څۀ جواب ورنکړی ځکه چې دَ هغې نظر لرې په کرسو ناستې دَ ټمپل ټو په جینکو پریوځی او په هغوی کښې انخلی ۔


www.pukhto.net



هغوی بوتلې هم څکی او خپلو کښې ټوقې مسخرې هم کوی ۔ په دغه جینکو کښې یوه ملائکه هم وه ۔ هغه ملائکې ته ګوته نیسی او سعیدې ته وائی ، ”سعیدې په دغه څلورو جینکو کښې دغه لوړه دنګه جینۍ څوک ده “؟
سعیده (مسکې شی ) څوک میلمنه ده بی بی “۔
فرحان :۔ دې غریبې ته څۀ پته ده بی بی ۔ په خپله ورشه ۔ مخامخ ورته اودریږه پازیب ورته اوشرنګوه او بیا په رعب کښې ورته وایه ”یه جینۍ ته څوک یې “ ؟ دې سره هغه مسکے شی او بهراوځی ۔ دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغه دَ هغوی خواله ورشی ۔ هغوی سره په کرسۍ کینی ، خپل تعارف اوکړی او بیا دَ هغوی دَ یو یو کس نه معلومات کوی ۔ په دیکښې سعیده راشی او هغې له بوتل ورکړی هغه دَ بوتل نه ګوټ هم کوی او هغوی سره خبرې هم کوی چې کله دَ ملائکې نه تپوس اوکړی نو هغه اوشرمیږی او سترګې خکته کړی خو دَ هغې په ځای دیوی دیپک جواب ورکړی او ورته وائی ، ” دا دَ هغه زلمی ناوې ده چې تۀ ورسره ولاړه وې او خبرې دی ورسره کولې “۔
فرزانه :۔ اوه دا دَ فرحان ناوې ده ۔ ماشاء الله ، چشم بددور ( هغه ښکلوی) بی بی تۀ ډیره خوش قسمته یې چې دَ فرحان غوندې خائسته او فرشته صفت انسان درته ملاؤ شو“۔
دیوی دیپک (خاندی ) که هغه فرشته صفت انسان دې نوزمونږ جینۍ ملائکه ده ۔ (فرزانه یو ځل بیا هغه ښکلوی)۔

کنوریه (خاندی) ډیره یې مۀ ښکلوه بی بی، شونډې به دی اونخلی؟
فرزانه (مسکی شی) د دې په لیدو مِ خوله کښې دومره اوبۀ راغلې چې شونډې مِ نشی انختی (ټول خاندی)

دَ مابښام ډوډۍ چې اوخوړې شوه نو دیوی دیپک او دَ هغې سهیلو کنوریه او ریکهاشاستری دَ ټنګ ټکور پروګرام شروع کړو۔ دیوی دیپک چې دَ دیپک راګ سُر کړو نو په ټولو یې اور اولګوؤ۔ کنوریه او ریکهاشاستری ته خپلې اغوستې جامې هم اورشوې۔ دغه حال دَ نګینې، شګفتې، فرزانې او سعیدې هم وو۔ فرزانه او سعیده چې سترې شوې نو کیناستې او هغه نورې واره په واره لګیا وې۔ په دیکښې افروزه بی بی راغله او سعیدې ته یې په غوږ کښې څۀ اووې۔ دَ افروزې بی بی دَ تلو نه پس سعیدې فرزانې ته په غوږ کښې څۀ اووې۔ دواړه دَ مجلس نه اووتې او دَ پروین بی بی خوا له ورغلې۔ هلته ملائکه هغې سره ملاسته وه او څۀ خبرې یې ورسره کولې۔ فرزانې او سعیدې هغه دَ پروین بی بی دَ څنګ نه پاسوله او خپلې کوټې ته یې بوتله۔ هلته یې ورته دَ ناوې جوړه واغوستله، کالی یې ورته واچول، میک اپ یې ورله اوکړو، زلفې یې ورله خوری او دَ هغې په اوږو سورې کړې۔ بیا یې پرې دَ پرفیوم سپرې اوکړه او په پالنګ کښې یې ورته دَ ګلونو او کشمالو پاڼی اونوستلې۔ چې هغه تیاره شوه نو فرزانه ترینه اووته او سعیده ورسره پاتې شوه۔ هلته فرحان هم خپلو یارانو، دوستانو تیار کړو او دَ وادۀ جامې یې ورته



www.pukhto.net



واغوستلې۔ دَ هغۀ دَ تیاریدو نه پس دَ ټمپل ټو دَزنانه میلمنو په خواهش هغه کور ته راؤغوښتې شو او خپل دود، دستور یې پرې کوو۔ دَ هغوی دغه تونې لا شروع وی چې میډم نسرین دَ فرحان خوا له ورغله او ورته یې اووې، ” ځویه که ته خفه کیږې نه نو زۀ به درنه لاړه شم، ماځان سره ګولۍ نه دی راوړې، طبعیت مِ خراب دے “۔
فرحان :۔ میډم دَ ګولو څۀ مسله نیشته۔ ګولی دلته هم شته، که ستا اجازت وی نو دلته نه به یې راواخلو “۔
میډم :۔ نه ځویه، دغه ګولۍ دلته نه ملاویږی۔ اوس به درنه زۀ لاړه شم۔ ګولۍ به هم اوخورم او لږ ارام به هم اوکړم۔ صبا سحر به انشاء الله زۀ راځم۔ تاله او ستا ناوې له به سلامی به ورکوم او ټوله ورځ به درسره تیره کړم۔
فرحان :۔ ډیره ښه ده میډم۔ چې څنګه ستاسو خوښه وی۔
میډم :۔ ښۀ ځویه اوس اجازت راکړه۔ خداې دے په دے وادۀ ډیر ډیر خوشحاله کړه او خداې دیے ستا مور پلار ته دَ نواسه، نواسیو خوشحالۍ اوښودلې کړی “۔
دې سره هغه او فرزانه دَ صبا دَ راتلو په وعده اوځی او خپل کور ته ځی۔دَ هغوی ګیت، سنګیت او دود، دستور ترناوخته پورې جاری وو خو فرحان ترینه په څۀ بهانه ځان خلاص کړو او بهر اووتو۔ دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغوی هم خپل پروګرام ختم کړو او خپلو خپلو کټونو او بیډونو کښې سملاستل۔ ناوې سره دَ سعیدې په ځاې افروزه بی بی

کيناسته او سعيده لاړه سملاسته ـ
فرحان لا بهر وو چې دَ فرزانې دَ طرفه کال راغے ـ هغې ورته اووې،
"فرحانه تهٔ کور يې که بهر يې" ؟
فرحان :ـ زهٔ لا بهر يم بی بی ، ولې خير خو دې ؟
فرزانه :ـ خير دې فرحانه ....فرحانه کور ته لاړ شه ...ستا ناوې ستا انتظار کوی ـ ...فرحانه يو سوال درته کوم او هغه دا چې ...چې دَ ناوې کوټې ته ورشې او هغې سره په بيډ کښې کينې نو سترګې پټې کړه ....زما تصوير ځان ته مخکښې کړه او دَ هغې په ښکلولو کښې زماخيالی تصوير ښکل کړه چې روح م خوشحاله شی ـ زهٔ دومره بد قسمه يم چې ستا يوه بوسه هم زمانصيب نشوه ـ شکريه "ـ دَ هغې په خبره هغه مُسکے شو او کور ته روان شو ـ هغه چې خپلې کوټې ته دننه شو نو ملائکه لکه دَملائکې اودهٔ پرته وه او افروزه بی بی ويښه وه ـ دَ هغهٔ په راتلو افروزه بی بی پاسيده او بهر وته چې دَ هغهٔ په موبائيل کال راغے کال راتلو سره افروزه بی بی خپه نيولې شو او هغه موبائيل اوچت کړو هغه يوه شيبه موبائيل غوږ ته نيولی وو او دم ختلے ولاړ وو ـ موبائيل دَ هغهٔ دَ لاس نه پريوتو او ځان سره يې غلې غوندې اووې ، "انا لله وانا اليه راجعون "
افروزی بی بی هغهٔ ته په يره اوکتل او په ساه ختلی انداز يې اووې ـ
"څهٔ اوشو ځويه "ـ
فرحان هغې ته په ډکو سترګو اوکتل او وې وئيل " دَ فرزانې بی بی


www.pukhto.net



پلار کال کړے وو چې فرزانې بی بی خودکشی اوکړه "ـ
افروزه بی بی :ـ خو....خود ....خودکشی ؟
فرحان :ـ هاؤ ، هغې خود کشی اوکړه او ميډم نسرين دَ هغې دَ غمه مړه شوه ....ته ورشه مورې ماله څادر راوړه ، زهٔ هلته ورځم "ـ هغه دَ غاړې نه سهره اوباسی او يو طرف ته يې لړه کړی ـ چی افروزه بی بی بهر اوځی نو هغه ملائکې سره په مزه مزه کينی ....يوه شيبه هغې ته ګوری ...بيا دَ فرزانې دَ اخری خواهش پوره کولو دَ پاره دَ هغې شونډې ښکلوی ـ دَ هغې دَ شونډو حرارت سره دَ هغې شونډې موسيږی ـ لکه چې هغې سره دَ هغهٔ ملاقات په خوب کښې شوی وی ...هغهٔ روغوندې دَ هغې دَ بيډ نه پاسی ـ هغې ته ګوری او په روستو روستو ځی ـ مور هغهٔ ته څادر په لاس ولاړه وی ـ هغه مور ته په ډکو سترګو اوګوری ، په څادر خپلی اوښکې اوچې کړی ...ملائکه مورته حواله کړی او په يو شغ دَ کوټې نه بهر اوځی ـ

**ختم شو**

**د الله په آمان**

★★★★★

★★★

★★

Pukhto.Net